

رڼا
ناول
لیکوال:
نصیر احمد احمدي
رڼا
لیکوال: نصیر احمد احمدي
د لیکوال چاپ شوي اثار

# رڼا

## ناول

لیکوال:
نصیر احمد احمدي

کال: ۱۳۸۷ ل

# بسم الله الرحمٰن الرحيم

كتاب پېژندنه:

| | | |
|---|---|---|
| نوم | : | رڼا |
| ليکوال | : | نصير احمد احمدي |
| برېښناليک | : | nasirahmad_ahmadi@yahoo.com |
| موبايل شمېره | : | ۰۷۰۰۲۵۶۱۹۱ |
| د پښتې انځور | : | ن. ا. احمدي |
| د پاڼو ډيزاين | : | نصرت الله الهام |
| کمپوز | : | ن.ا. احمدي |
| د پښتې ډيزاين | : | نورعلي تسل |
| چاپ کال | : | ۱۳۸۷ل |
| چاپ چاري | : | دانش خپرندويه |

د چاپ ټول حقوق محفوظ دي

# ډالۍ

خپل ګران ورور، انجینر بشیر احمد احمدي ته !
ځوک چې زما د زړه سکون دی.

☆

بوربوکۍ له ځان سره خاورې او خځلې راټولولې ... کله چې په دښته کې ولاړې ونې ته ورننږدې شوه، یوه هلک منډه کړه او له خولې څخه یې یوه چیغه راووته:

ـ هله پیریان ![1]

یوې نجلۍ په بیړه بوربوکۍ ته وکتل، رنګ یې ژیړ شو، څو ګامه یې واخستل، ولوېده او په تاوېدونکو خاورو کې پټه شوه. بوربوکۍ څو دورې وخوړې. بیا د ډنګرو مېږو او اوزو په منځ کې تاو راتاو شوه او خپله مخه یې ونیوله.

نجلۍ ودرېده، له خپلو سترګو څخه یې خړ او سپېره ویښته لرې کړل او په بوربوکۍ پسې یې په وېره وکتل. هلک په بیړه ورننږدې شو او په حیرانۍ یې وویل:

ـ ته خو یې حلاله نه کړې !

[1] ځینې کلیوال باور لري چې په بوربوکیو کې پیریان وي او په چا چې ورغله حلالوي یې.

نجلۍ مړه وه او اوزو ته سترګې ورواړولې، کله چې روغې ورته وايسېدلې، په څېره کې يې خوښي راټوله شوه، بېرته يې دوني تني ته خپل خوار ولي ولګول، سر يې وځړېد او فکر په مخه کړه.
هلک په ځُشکه ( غوسه ) وويل !
ـ ته پمنه يې ! هيڅ بلا دې نه وهي !
نجلۍ غلې وه.
هلک زيا ته کړه:
ـ ما د بوډېو کۍ په مينځ کې د پيريانو خبرې واورېدې، ويل يې چې دا کرغېړنه په حلالېدو نه ارزي.
د نجلۍ سر ځوړند و.
هلک له خپلې غاړې څخه لينده خلاصه کړه، يوه ګيټۍ يې پکې کېښوده، د نجلۍ خوا ته يې ونيوله او و يې وويل !
ـ ودي ولم !
نجلۍ سترګو ته لاس ونيو. هلک لينده يوې ځرمښکۍ ته وروا ړوله. پر هغې يې وار وکړ، خو ځرمښکۍ په يوه ګڼه سپانده کې ننوته. شېبه وروسته يې په لوړ غږ وويل !
ـ اي چينجنې ! مالونه را وګرځوه !
نجلۍ سر هسک کړ، په بيړه ولاړه شوه، منډه يې کړه، خو يو دم ځای پر ځای کېناسته. خپلې لوڅې ښۍ پښې ته يې لاس ونيو.
د هلک سپږمې وپړسېدې او په کاوړ ( غوسه ) يې چيغه کړه !
ـ ژر کوه ! ای د سپي لورې !

نجلۍ په ربړېدلي غږ وويل:
ـ پلار ته مې مه تېرېږه !
له دې سره يې د غوږ تر څنګ د ګيټۍ د تېرېدو نرۍ شنها واورېده.
د نجلۍ په سترګو کې اوښکې را ټولې شوې، پخپلو تېرو نوکانو يې له پوندې ازغی ويست او د يوه سيرلي خواته ګړندۍ روانه شوه.
څو ځله د سيرلي مخې ته ودرېده، خو سيرلي ټوپونه وهل، نه يې نيوی ورکاوه او نه هم نورو مېږو او اوزو ته ورګرځېده. نجلۍ بې حوصلې شوه، ځمکې ته يې لاس کړ، يوه کوچنۍ ډبره په ګوتو ورغله او ورسره د سيرلي پښو ته نږدې مړه دوړه پورته شوه.
نجلۍ ستړې وه، بې سېکه وجود يې لړزېده، بېرته توت ته ورنږدې شوه او سيوري ته کېناسته، خو دې لا دمه نه وه جوړه کړې چې څنګو ته يې ګوتې ورولوېدې.
نجلۍ کوکه کړه، په تشو کې يې څو درانه دردونه تېر شول، بيا يې په ژامه يو سوک وخوړ او پر خاورو پړمخې پرېوته.
هلک چيغه کړه:
ـ تا زما پر سيرلي وار وکړ ! هغه يې په اتلس سوه غوښت، خرې، لغړې، پمنې ! ته ودرې ! مور به مې څټې دروشکوي !
نجلۍ سر هسک کړ، له پزې نه را وتلې وينه يې د لمر رڼا ته وځلېده، منډه يې کړه ، په يوه لويه ډبره کېناسته او په چيغو چيغو يې وژړل....ښه شېبه يې اوښکې تويې کړې، بيا يې په نهېلۍ دښتې ته وکتل ، لرې په يوه موټر پسې سپېره دوړه روانه وه...وروسته يې

مخامخ پرتو غونډيو تـه سترګې ورواړولې. پـه يـوه هسکه شنې، زرغونې جنډې رپېدلې ...هغې تر ډېره هديرې تـه وکتـل، بيا يـې يـو سوړ اسويلي ويست، بېرتـه يـې د ښتې خواتـه ورمېږ کوږ شو ، دوه_ درې شله ګامه لرې يوه موټر ته درې تنـه ولاړ وو ، وروستـه دوه کسه د دوی خواته ور روان شول او دريم يې د موټر بانټ ودراوه.
هلک له ځان سره وډونګېد:
_راغلل !
لـه دې سره يـې دمېږو خواتـه ګړندي ګامونـه واخسـتل...خو شـېبه وروسته يوه ښځينه غږ ځای پرځای ودراوه:
_دلته راشه ګرانه !
هلک په حيرانۍ سره شا ته وکتل. د توت سيوري ته يوه سرتور سر ښځه او يو په ونه لوړ نارينه ولاړ وو.
هلک په بيړه وويل:
_زموږ ژبه مو زده ده؟
دنګ ځوان ښځې ته وکتل، دواړه موسک شول، سړي وويل:
_زه جمال يم او دا هم ګلالۍ نوميږي ، ستا نوم؟
د هلک پترې نيولې خړې شونډې وخوځېدې:
_ بازو !
وروسته يې خپله خبره پسې وغزوله:

ـ تاسو د امریکانیانو ( امریکایانو ) غوندې ښکارئ، خو دوی بل رنګه خبرې کوي، له ټوپکو سره رائې، لمنې نه لري، نور مو فرق نه سره کیږي.
سړي په خندا وویل:
ـ د چا زوی یې؟
ـ د جانداد.
ـ کوم جانداد؟
ـ د ملک عبدالکریم د کلي.
د سړي خندا زور ونیو:
ـ ای زوروره ! ته خو کلیوال وختې !
هلک په حیرانۍ سره هغه ته وکتل، سړي خپله خرېیلي زنه وګروله او ویې پوښتل:
ـ خو پلار مې دې پر ځای را نه وړ؟
هلک په غرور وویل:
ـ پلار مې ټول خلک پېژني، د سرونو په جوړولو کې یې نوم وړی، سلامت درې کلي اولس لري.
سړي په خندا غبرږ ترې تاوه کړه. د هلک تور تندی یې ښکل کړ او په مینه یې وویل:
ـ ښه نو ! ته بازمحمد یې !
وروسته یې ښځې ته مخ وراړاوه:

ـ دی په شپږ اویایم کې پیدا شو ، ښه مې په زړه دي، پلار یې په خوشالۍ کې سینځلې ووېشلې، وروسته مو په زور ډول پرې راوویست، خو طالبان خبر شول، دی یې و ډباوه او ډول ته یې برچې ورواچولې، زه په هماغه کال له کوره ووتم.
ښځې په خپلو ژېړو او لنډو ویښتو کې ګوتې تېرې کړې، په خواشینۍ یې وویل !
ـخو دده عمر تر لسو کلونو کم ښکاري !
د سړي پرنریو شونډو یوه ترخه موسکا تېره شوه:
ـددې وطن ماشومان همداسې دي.
هلک ښځې ته وکتل او بیا یې سړي ته مخ وروا ړاوه !
ـدا دې څه ده؟
ـنامزاده؟
ـڅه؟
ـ کوژدنه !
ـ نو بیا یې ځنګه درسره ګرځوې؟
دا ځل ښځه په خبرو کې ورولوېده:
ـ ولې؟
ـتاسو خو واده نه دی کړی؟
د ښځې نرۍ وروځې سره ورغلې، اوږو ته یې ټکان ورکړ او په حیرانۍ یې سړي ته وکتل.
سړي وخندل:

ــڅلور میاشتې وخت لرې، په هر څه به پوه شې.
ښځې ته خندا ورغله، د غاړې بکس ته یې لاس کړ او یو بوتل یې را وویست.
هلک په بیړه وویل:
ــشراب دي؟
ښځه موسکۍ شوه:
ــنه! اوبه دي، دې ته معدني اوبه وایي.
له دې سره یې بوتل هلک ته ونیو او په مینه یې وویل:
ــتږی یې؟
هلک یو ــ دوه ګامه شاته شو.
ښځې دوه ــ درې غوړپه اوبه وڅښلې، بېرته یې پر بوتل سرپوښ تاو کړ او په بکس کې یې کېښود. بیا یې په رمې پسې وکتل، خو وروسته یې نجلۍ ته پام شو او له هلک نه یې وپوښتل:
ــهاغه دې خور ده؟
هلک تندی تریو کړ:
ــنه! زموږ مزدوره ده.
ــ څه نو میږي؟
ــ زه یې پمنه بولم، زموږ یوه اوزه هم پمنه ده. کټ مټ لکه دا.
ښځې د هلک په ګوړي (خرېیلي) سر لاس تیر کړ، ورو یې وویل:
ــولې یې په دې نوم بولې؟
د هلک د تندي ګونځې لا پسې ژورې شوې.

ښځه ورو د نجلۍ خوا ته روانه شوه. هلک پسې وکتل، هغې د نارینه وو غوندې لنډ واسکټ اغوستی و او لمن یې هم څلور کونجه سکښل شوې وه.
سړي وویل:
ـ ګرانه ! ته د ښه سړي زوی یې، هر څوک پخپل نامه بوله ! ښه !
هلک په لینده کې یوه ګیټۍ کېښوده. په غرور یې وویل:
ـ هاغه غوبارۍ ( ګونګټه ) در ته وولم؟
سړي وویل:
ـ څه یې کوې ! بې ازاره دی او...
دا وخت ښځې ناره کړه !
ـ جماله !وه جماله !
سړی په ګړندیو ګامونو ورنږدې شو.
ښځې په بیړه وویل:
ـ د سمال لرې؟
ـ په د سمال څه کوې؟
ـ د نجلۍ پزه وینې ده.
سړي له جېبه یو کاغذي د سمال را وویست.
ښځې د نجلۍ پزې ته د سمال ونیو. ورو یې وویل:
ـ سر دې یو څه پورته ونیسه !
نجلۍ پورته وکتل. ناڅاپه د سړي په زړه سستي راغله. د یوې اوه ـ اته کلنې نجلۍ په اوږده مخ کې تر غټو خړو سترګو، تور او اوږده

بانه‌را تاو وو. ده دا ډول سترګې پخوا لیدلې وې او په دې خړو سترګو کې یې بې شمېره یادونه پراته وو. په بیړه یې د نجلۍ نوره څېره تر سترګو تېره کړه، خو دا ډول وچ، ژېړ او ټاپي، ټاپي مخ یې د لومړي ځل لپاره لیده. نجلۍ لمر سوځولې، تور او سپېره مخ درلود او په نرۍ غاړه پورې یې یوه درې کونجه خیرن تاویذ ټال خوړ. د دې ګرین شکېدلی و او جامې یې سوالګرو ته ورته وې.

ښځې وویل:

ـ یو بل کاغذ !

سړي نجلۍ ته کتل...

ښځې خپله خبره تکرار کړه:

ـ یو بل کاغذ !

بیا یې هم ځواب وا نه ورېد.

دا ځل یې په لوړ غږ وویل:

ـ جماله !

سړي یوه جټکه وخوړه.

ښځې ورو وویل:

ـ ته ښه یې؟

سړی تلولی غوندې شو:

ـ ها ! څه دې ویل؟

ـ ته ښه یې؟

ـ هو، ښه یم.

ښځې نجلۍ ته مخ ور واړاوه:
ـلوېدلې یې؟
مخکې تر دې چې نجلۍ څه ووايي، سړي په بيړه وپوښتل:
ـد چا لور یې؟
ښځې په حیرانۍ سره سړي ته وکتل.
نجلۍ ورو وويل:
ـد ابې !
سړی په خبره کې ور ولوید:
ـاصلي نوم یې څه دی؟
ـا بې !
سړي ښځې ته وکتل ، هغې وچې سترګې ورته نیولې وې، دی وارخطا شو، بیا یې په تندي کې ګونځې پیدا شوې او په خواشینۍ یې وويل:
ـما وبخښه ! د جیمز لور را په زړه شوه.
ښځې په حیرانۍ وپوښتل:
ـکوم جیمز؟
ـته یې نه پېژنې. لور یې کرستېینا نومېده. د دې نجلۍ غوندې وچه کلکه وه، په هغې مې ډېره خوارې وکښله، خو کرستېینا سرطان درلود ، مړه شوه.
ښځې په خوابدي غږ وويل:

ـ جماله ! ته ډاکټره یې ، د دې نجلۍ تر مخ باید داسې خبرې ونه کړې !
سړي وخندل:
ـ دا خو جکه جوړه ده او بل دا ماشومان لا په دې نه پوهیږي چې سرطان لا څه بلا ته وايي؟
ښځې تندی تریو کړ، نجلۍ ته یې مخ ور واړاوه او ویې ویل:
ـ ښه زړګیه ! ژاولې دې خوښیږي؟
نجلۍ په بیړه وپوښتل:
ـ کومې دي؟
ښځې هغې ته یو درجن ژاولې ونیولې.
نجلۍ وویل:
ـ ټولې یې زما ؟
ـ هو ! ټولې یې ستا !
نجلۍ په یوې ژاولې خپل چینجن غاښونه ټینګ کړل او نورې یې په خپله لمن کې واچولې.
ښځې ورو وویل:
ـ پلار دې څه کار کوي؟
نجلۍ ټوخي واخیسته، ښه شیبه یې وټوخل او بیا یې شنو ـ زرغونو جنډو ته وکتل:
ـ هغه مړ دی.
ـ اوف ! ما وبخښه !

ـ ولې؟

د ښځې په سترګو کې اوښکې را ټولې شوې:

ـ هېڅ!

دا وخت څو تېره غږونه پورته شول.

ښځې ورو وويل:

ـ لکه چې موټر جوړ شو.

سړي نجلۍ ته کتل...

ښځې خپل غږ په زوټه (زوره) کړ!

ـ تا ته وايم!

سړی وارخطا شو:

ـ څه دې ويل؟

ـ موټروان هارنونه وهي.

ـ نو بيا؟

ښځې په حيرانۍ هغه ته وکتل.

سړي په بيړه وپوښتل:

ـ چادري، چادري دې څه کړه؟

ښځې خپل سر وخوځاوه!

ـ تا ويل چې په موټر کې يې پرېږده! ګرمي ده.

ـ هو رښتيا! ځه چې ځو!

# رنہا

☆

په یوه وړه او نمجنه تیاره کوټه کې یو سړی پروت و. یوه ښځه راغله، د سړي تر څنګ کیناسته، ښه شېبه یې د هغه د سپین مخ او پټو سترګو ننداره وکړه، بیا یې خپل ګونځې ګونځې لاس د سړي پر پراخ تندي کېښود ، خپلې نرۍ او زیږې ګوتې یې د هغه په تورو ویښتو کې تېرې کړې، ورو یې وویل:

ـجماله ! ناوخته دی !

سړي خپلې سترګې پرانیستې. یوه شېبه یې ښځې ته وکتل. پر اړخ را واوښت او سر یې د ناستې ښځې پر زنګانه کېښود. سترګې یې پټې کړې او په خوبولي غږ یې وویل:

ـاه ! مورې !تر اوسه دې لا په زړه دي !

ښځې خام دېوال ته ډډه ولګوله، موسکه شوه او خړې شونډې یې وخوځېدې:

ـهغه ورځې څنګه له زړه ایستلی شم چې ته به ویده وې او ما به ستا په ویښتو کې سپږې لټولې.

دا وخت له خندا سره ګډ، یو غږ واورېدل شو:

ـښه نو ! ته په وړکتوب کې سپږن وې ! هه !

زړې ښځې وره ته وکتل او په خندا یې وویل:

ـ او هو ! ګلالۍ ! راځه لورې ! راځه !
ګلالۍ د جمال خواته ور روانه شوه، خوسرې نېغ کيناست او په بيړه يې وويل:
ـ دلته نه ! هلته ! په هغه توشکه !
ګلالۍ تندي تريو کړ !
ـ ولې؟
جمال زړې ښځې ته وکتل:
ـ مورې ! دې ته يو څه عقل ور زده کړه ! دا د قره باغ په رواجونو نه پوهيږي !
نجلۍ پر سرې د بالښت وار وکړ.
زړې ښځې وخندل. جمال وويل:
ـ سمه ـ دمه لېونۍ ده !
زړې ښځې ګلالۍ ته وکتل:
ـ خو خوږه ده.
ګلالۍ د زړې ښځې په ټټر سر ولګاوه، جمال ته يې سترګې ور واړولې او په خندا يې وويل:
ـ له مور څخه دې، د خبرو چل زده که !
جمال موسک شو:
ـ مورې ! د هغې په چاپلوسۍ ونه غولېږې ! ته ورته وګوره ! ټکری يې په غاړه کې پروت دی !

زړې ښځې د نجلۍ په سپينه ټنډه خپلې خړې شونډې کېښودې.
هغه يې ښکل کړه، جمال ته يې وکتل او په خندا يې وويل:
ـدې خوارکۍ دا وطن څه ليدلی دی، زده به يې کړي، په هر څه به پوه شي.
جمال خپل تندي ته ځپېړه ورکړه:
ـای خواره قسمته! مور مې يې هم وروا ړوله.
له دې سره ټولو وخندل.
دا وخت د پيالو د ربړېدو غږ شو... يوې نجلۍ يو پتنوس په غولي کېښود، بېرته ولاړه شوه، پرده يې کش کړه، د جمال سترګې وبرېښېدې، په بيړه يې ګړۍ ته وکتل او په حيرانۍ يې وويل!
ـنهه بجې دي!
وروسته يې خپلې مور ته مخ ورواړاوه:
ـپلار خو مې خشکه (غوسه) نه کوله؟
زړه ښځه موسکۍ شوه:
ـسهار جومات ته تلو، خو په تا يې زړه ونه شو، ويل يې چې ستړی دی، اوږد مزل يې وهلی، پرېږده چې ويده وي.
جمال وخندل:
ـاه مورې! ستا په زړه دي! پلار جان به هر سپېده چاود، لمانځه ته را ويښولم. يو سهار دی جومات ته ولاړ چې زه بېرته خوب وړی وم او...
زړې ښځې وخندل او په خبره کې ور ولوېده:

ـاو کله چې ببرته راغی، نو زه ستا مخې ته ودرېدم او لښته زما مټ ته سیخه شوه.
جمال د خپلې مور لاس په خپل موټ کې ټینګ کړ. تازه راغلې نجلۍ ته یې وکتل، هغه په غوښه پټه وه، منځنۍ ونه یې درلوده او ویښته یې دومره تک تور وو چې د هغې پر سر، له ټکري سره یې توپیر نه کېده.
جمال ورو وویل:
ـمورې ! لس کاله څومره ژر تېر شول، زه چې له کوره تلم ، په هغه کال لا ګل غوټۍ سر تور سر د باندې ګرځېده، خو اوس چټه پېغله ده.
زړې ښځې وخندل:
ـهغه وخت خو لا ته هم سره خوله ژړکی ( هلک ) وې.
جمال وویل:
ـزه به مخ ته یو ـ دوه لپې اوبه ور واچوم.
له دې سره ولاړ شو او له کوټې ووت.
ګلالۍ وپوښتل:
ـتره مې چېرته دی؟
زړې ښځې وویل:
ـسهار وختې پټیو ته ولاړ. دهقان احوال را لېږلی و چې درمند اخلي.
ـدرمند ؟

زړې ښځې وخندل:

ـ هو زویه ! درمند ! دلته چې کله غنم پاک شي، نو دهقان یوه کوټه ( ډېرۍ ) ور نه جوړوي. بیا دا کوټه د غوړو په ټیمانو پیمانه کیږي، وروسته بادار، دهقان، ملا او ډم، هر یو خپله برخه غنم خپلو کورونو ته وړي.

دا وخت جمال کوټې ته راغی او اورسۍ ته نیږدې پر یوه خړه توشکه کېناست. خپلې خور ته یې مخ ور واړاوه او ویې ویل:

ـ که دا بوره یو څه کمه کړې.

ګل غوټۍ په بیړه وویل:

ـ ښه ده، لالا.

جمال خپلی مور ته مخ ور واړاوه او په خندا یې وو یل:

ـ د خورکۍ واده ته څو ورځې پاته دي؟

د ګل غوټۍ غمبوري سره شول، سر یې وځړېد او په بیړه له کوټې ووته.

جمال او زړې ښځې وخندل، خو ګلالۍ په حیرانتیا وپوښتل:

ـ ګل غوټۍ ولې داسې په منډه ولاړه؟

جمال وویل:

ـ هغه وشرمېده.

د ګلالۍ حیرانتیا ډېره شوه.

ـ ولې؟

ـ څو ورځې وروسته یې واده دی.

ـ نو څه !
جمال موسک شو:
ـ دا لندن نه دی، غزني دی غزني. دلته بېل رواجونه دي.
زړې ښځې وويل:
ـ ګل غوټۍ ځکه شرمېدلې ولاړه شوه چې د خپل وادہ نوم يې واورېد.
ګلالۍ په بيړه وپوښتل:
ـ په دې کې نو د شرم څه خبره ده؟
زړې ښځې وخندل:
ـ بس نو، دا وطن همداسې دی. له پخوانيو را پاته دي.
ګلالۍ يوه شيبه فکر په مخه کړه، بيا يې په بيړه وويل:
ـ نو زه هم بايد وشرمېږم؟
جمال وخندل:
ـ هو نو ! ولې ! ته بېشرمه يې که څنګه؟
بوډۍ له خپل زوی څخه د خبرو وار واخيست:
ـ نه لورې ! ته به ولې شرمېږې. دا خو ستا د تره کور دی. په خپل کور کې چا شرم کړی او بل ته خو دانګريز په وطن کې پيدا شوې يې، همالته دې عمر تېر کړی او...
دا وخت يو دروند ټوخی واورېدل شو. بوډۍ ژر پر خپلو سپينو و يښتو ټکری ورکش کړ. جمال ورو ولاړ شو او ګلالۍ په حيرانۍ سره وره ته وکتل.

په وره کې يو ګردی سړی ودرېد. دی له ونې ټيټ و، را وتلې ګېډه يې درلوده او پا سنۍ شونډه يې په ګڼو سپينو ويښتو کې پټه وه. ده وار له واره ګلالۍ ته وکتل او په خندا يې وويل:
ــ ورېره ګله خو به خپه شوې نه يې؟
ګلالۍ موسکه شوه، تورې غټې سترګې يې وځلېدې، خو څه يې ونه ويل.
نوي راغلي سړي ديوال ته ډډه ولګوله، جمال په بيړه بالښت ور ببرته کړ. سړي خپل پټکی په غولي کېښود، د ککرۍ تار، تار سپين ويښته يې په خولو لانده وو. بيا يې په خپله ګڼه ږيره کې د ښي لاس لنډې ګوتې تېرې کړې، ګلالۍ ته يې وکتل او په مينه يې وويل:
ــ څنګه ! هوا خو به بده نه يې دربانديږ لګېدلې؟
ګلالۍ وخندل:
ــ نه کاکا ! ښه يم.
سړي هماغسې په خندا کې وويل:
ــ زموږ کلی دومره بد نه دی. ښکلی کاريز لري. ګودر هر وخت له نجونو ډک وي او بل ستا له بخته سږ کال په کلي کې ودونه هم ډېر دي. سات به دې تېر شي.
سړی غلی شو، څو اوږدې ساوې يې واخيستې او بيا يې خپلې لور ته چې هماغه شېبه کوټې ته راغلې وه مخ ور واړاوه:

ـ ګل غوټۍ ! ګوره چې ګلالۍ در نه خپه نه شي ! وایم دا نن یې لا په یوــ دوو کورونو وګرځوه، پام به یې غلط شي.
زړې ښځې په عاجزۍ وویل:
ـ سړیه ! نن یې دوهمه ده، یو څه وخت دې ساه سمه کي. ترهغو به کالي هم ورته وګنډم، خلک به ورپورې وخاندي.
د سړي په لنډه تندي کې ګونځې پیدا شوې او په خشکه یې وویل:
ـ کوم د نرزوی به د ملک عبدالکریم په وربرې پسې وخاندي؟ هه !
ګل غوټۍ وارخطا شوه:
ـ ښه ده پلاره ! څه چې ته غواړې، هماغسې به وکم.
ګلالۍ خپل تره ته وکتل، شونډې یې خندنۍ شوې:
ـ کاکا ! مورې څلور میاشتې دلته یو، په کراره به وګرځو.
د ملک تندی ورین شو ، په زوره یې وخندل او ویې ویل:
ـ ښه ده وربرې ! ښه ده ! خپلې خوښې ته ګوره ! وایم پاچاهي چلوه ! پاچاهي.
ملک یوه شیبه غلی شو، یوه چونډۍ نصوار یې تر ژبې لاندې کړل او ورو یې وویل:
ـ په رواجونو پسې دومره سر مه ګرځوه ! ټول پوهیږي چې ته له لندنه راغلې یې، نه دې دلته ژوند کړی او نه هم د قره باغ رواجونه در مالوم دي. تا هیڅوک نه ګرموي، وایم سرې سترګې ګرځه، سرې سترګې.

ګلالۍ د راتګ په دریم سهار له خپلې اندرور ( ګل غوټۍ ) سره له کوره ووته. دوی نیغې ګودر ته ولاړې. د کاریز تر دنې ( د کاریز خوله ) څو نجونې را تاوې وې. چا منګې ډکول، چا جامې وینځلې او ځینو نورو راوړي غوړ لوښي په اوبو کې ایښي وو، دې ته د نجونو هر کلی په زړه پورې و. په پیل کې یوې ، یوې لاس ورکړ، خو شېبه وروسته مجلس دومره تود شو ، لکه له پخوا راهیسې چې سره پېژني، ګلالۍ ته هر څه نوي وو ، د نجونو ګڼ کمیسونه، د غوړو لوښو پر سر تاوېدونکي کبان، د نیرېدې ولاړو هسکو سپېدارو سپینې، لړځانده پاڼې او له خړ پوټي څخه راوتلې سپېرې تیرې، دا هر څه دې په لومړي ځل لیدل، ګلالۍ تر ډېره هلته ناسته وه، دې پرله پسې پوښتنې کولې، یوې پیغلې د خپل کمیس د ټټر کیسه راواخیسته چې لس کلاوې زرتار او شپږ شله ګردې شیشې پکې کار شوې دي. بلې بیا د خپلې چوڼداري لمنې په ښکاره کولو سره خپل کمال وښود او یوې پېغلې چې ډېره ټوخېده د تناره له لوګي څخه یې ښه خوله نه وهله.

له ګلالۍ څخه هم پوښتنې وشوې، ځینو د هغې بیاتي کړو وینېتو ته اشاره وکړه، یوې یې د سپینو غاښونو او روښانه پوټکي راز وپوښت او یوې بلې پېغلې یې هم د ژوند په اړه د معلوماتو غوښتنه وکړه.
ګلالۍ د خپل ژوند په باره کې لنډه وغږېده. ویل یې چې د کورنۍ د هجرت په لومړي کال په لندن کې پیدا شوې او همالته لویه شوې ده. د پلار یوازینۍ لور ده ، تېر کال یې دولسم خلاص کړ او له پلار او مور سره یو ځای اوسي.
ګلالۍ تر ډېره د کلي له نجونو سره کېناسته. له هغوی سره یې خبرې وکړې او کله چې بېرته له خپلې اندرور سره د کلا په دروازه ننوته، جمال یې له خپل تره سره د کور په چوتره کې ولید ، دوی سیوري ته ناست وو او ملک د کلي د مکتب د سوځولو کیسه ورته تیروله.
ګلالۍ د خپل تره تر څنګ کېناسته او ویې ویل چې د نجونو له مینه ناکو خبرو څخه یې خوند واخیست، دوی یوه شېبه خبرې وکړې، بیا یې یوه تور سیرلي ته پام شو چې د کلاه په دروازه کې ولاړ و. سیرلی رامخته شو ، منډه یې کړه او د چرګو د ګوډلې پر بام ودرید ، چرګو وارخطا یوې او بلې خوا ته منډې کړې ، د ملک تندی تریو شو ، خو مخکې تر دې چې څه ووایي، په وره کې یوه کوچنۍ نجلۍ ښکاره شوه.

د جمال رنګ سور شو ، د ملک د تندي ګونځې هم ژورې شوې ، خو ګلالۍ په خوشالۍ وویل:
_دا هماغه نجلۍ ده چې مور دراتګ په لومړۍ ورځ دغونډیو په لمنو کې ولیده.
وروسته یې ملک ته وکتل:
_کاکا ! دا څوک ده؟
ملک چیغه کړه !
_وباسه ! سیرلي وباسه !
د ګلالۍ غومبري سره شول، دې په لومړي ځل د خپل تره خشکه لیده. نجلۍ ته یې وکتل، هغې پخوانۍ زړې جامې اغوستې وې، په لاس کې یې یوه نرۍ لښته ښکاریدله او وارخطا وه، وروسته په لړزانده ګامونو د سیرلي خواته ورنیږدې شوه، سیرلي اخور ته ورټوپ کړل، یوې غوا خپل ځنځیر وشکاوه، په سطل کې وختته او چوترې ته نږدې یې لمر ته هوار شوي پیاز سره تیت کړل.
ملک په کاوړ( غوسه ) ولاړ شو ، خو مخکې تر هغه جمال منډه کړه او د سیرلي مخې ته ودرېد ، سیرلي لنډه دوره وخوړه او ښوی له دروازې ووت.
جمال نجلۍ ته وکتل، د هغې تر خړو سترګو را ګرځېدلو تورو ښو یې زړه ولړزاوه، د چوترې خواته یې ورمېږ کوږ کړ، ملک په راوتلو رډو سترګو ورته کتل، ببرته یې نجلۍ ته سترګې وروا ړولې، هغه

وارخطا وه، ټول بدن يې پړک (لړزې) اخيستی و او بانه يې نه رپېدل.
جمال ورو وويل:
ـ درځه!
نجلۍ په رېږدېدلو ګامونو روانه شوه، جمال هم حرکت وکړ.
ملک چيغه کړه!
ـ پرېږده يې!
جمال مخ ورواړاوه:
ـ دروازه پورې کوم.
بېرته يې نجلۍ ته وکتل، هغه د ده تر څنګ روانه وه.
جمال ورو وويل:
ـ د چا لور يې.
ـ د ابۍ.
د جمال تندی تريو شو، نجلۍ له دروازې ووته، جمال پسې وکتل، په دېران کې څو مېږو او وزو خولې وهلې.
جمال دروازه پورې کړه، شا ته يې وکتل، پلار يې د غوا ځنځير ته تېره نيولې وه او ګلالۍ په چوتره کې د ده له خور سره خبرې کولې،
جمال ور نږدې شو، ګل غوټۍ ته يې وکتل او ويې ويل:
ـ دا نجلۍ څوک وه؟
خور يې په بيړه وپوښتل:
ـ کومه نجلۍ؟

ـدا اوس چې په سيرلي پسې راغلې وه.
ګل غوټۍ وارخطا شوه:
ـلالا ! ما ونه ليده.
ګلالۍ په حيرانۍ وپوښتل:
ـد هغې پېژندل ولې درته مهم دي؟
جمال څه ونه ويل، سر يې وځړېد او د کلاه د لويديځ کونج لور ته روان شو، د کلاه په څلورو کونجونو کې هسک، هسک برجونه ولاړ وو، جمال په خړو زينو وخوت، يوه برج ته ور ننوت، هلته يوه وړه کوټه وه چې د کلي خواته يې يوه اورسۍ درلوده، د کوټې ختيځ لور ته يو مات کټ پروت و، لويديځ ديوال ته يې يو زوړ بايسکل ولاړ و او د کوټې په منځ کې څو زاړه ټيمان، د خرې يوه کته او خيرنې پلاستيکي کڅوړې ښکارېدلې.
جمال يوه شېبه د کوټې په منځ کې ودرېد، ده ته تېر يادونه ورپه زړه شول، يو وخت به په دې برج کې د ژمي لپاره مڼې ساتل کېدې، په چت کې به د انګورو کتارونه ځوړند وو او جمال به ډېر وخت په برج کې ناست او له خپل پلار ره په پټه به يې ميوه خوړه.
جمال ورو د ورسۍ خواته ورنېږدې شو. له پاسه يې کلي ته وکتل، په لس کاله کې کوم د پام وړ بدلون نه و پکې راغلی، يواځې خړ کورونه ډېر شوي وو، د جومات تر مخ د توت د پخوانيو لويو ونو پر ځای اره شوي مونډان ښکارېدل او کلي هغه پخوانی شينوالی نه درلود.

ناڅاپه یو څه ور په زړه شول، له ورسۍ څخه یې سر ویست، کیڼ لور ته یې وکتل، له کلي وتلی په دښته کې یو زوړ چمبر[2] ښکارېده، جمال ښه شېبه د چمبر ولاړو دېوالونو ته ځیر و، سرونه یې خوړل شوي وو او په ظاهره د ژوند کومه نښه نه پکې ښکاریده، بیا یې یو درب واورېد، په بېړه یې شا ته وکتل، ګلالۍ د کوټې په منځ کې ولاړه وه، جمال په وارخطايۍ وویل:

_ته دلته څنګه راغلې!

ګلالۍ وخندل:

_په خپلو پښو.

جمال تندی تریو کړ:

_دلته ستا راتګ ښه نه دی.

د ګلالۍ شونډې وځړېدې، مخ یې واړاوه، غوښتل یې چې په زینو ښکته شي چې جمال تر مټ ونیوله، ورو یې وویل:

_چا ولیدې؟

_نه

_خو ته باید پام وکړې..

ګلالۍ چیغه کړه!

_زه ستا نامزده یم!

[2] چمبر تر کلا یو څه ټیټه چاردېوالي ده چې برجونه نه لري.

جمال په بیړه د هغې پر خوله لاس کېښود ، یو ګام یې وا خیست، لـه پورته یې لاندې وکتل، په انګړ کې هیڅوک نه و ، ورو یې وویل:
ـهلته کومه خبره نه وه ، غاړه په غاړه به سره ګرځېدو ، خو دلته باید یو څه احتیاط وکړو.
د ګلالۍ سر وځړېد ، ورو یې وویل:
ـته ډېر خفه پورته راوختې.
جمال د هغې په ژېړو ویښتو کې ګوتې تېرې کړې، اوږدې غاړې تـه یې خوله ورنیږدې کړه ، خو ګلالۍ یې ټټر تـه لاس ونیـو ، شاتـه شـوه او په شرمېدلي غږ یې وویل:
ـتر اوسه خو دې ماته نصیحت کاوه.
جمال وخندل.
ګلالۍ وویل:
ـلاړم.
له دې سره یې ګام واخیست، خو بېرته ځای په ځای ودرېده.
جمال موسک شو:
ـپښېمانه شوې؟
ګلالۍ وویل:
ـپه چوتره کې دې خور پیالې ټولوي.
جمال خپله غـړۍ اوږده کـړه ، بېرتـه پـه خپـل ځای ودریـد ، ورو یـې وویل:
ـښه ! نو یوه شېبه ماتله شه !

ګلالۍ د ورسی خوا ته ورتېره شوه، کلي ته یې وکتل، د ځینو بامونو پر سرونو د ځوځو ګبندې (بارونه) ایښې وې او ځو دیوالونه په تپل شویو خوشایو ژېړ وو.
ورو یې وویل:
ـ ایا کوم بل داسې هیواد شته چې اوسېدونکي یې په خوشایو اور بل کړي؟
جمال هغې ته ورنیږدې شو، تر څنګ یې ودرېد او شونډې یې وخوځېدې:
ـ نه پوهېږم.
ګلالۍ یوه شېبه غلې وه، وروسته یې پام څو هلکانو ته ور واوښت چې سره لمر ته یې مردکۍ کولې، ورو یې وویل:
ـ پلار دې ویل چې دلته ښوونځی نشته.
ـ هو ! تېر کال چا وسوځاوه.
ګلالۍ یوه شېبه غلې وه، بیا یې یو ناڅاپه وویل:
ـ نه شي کېدای چې د کلي ماشومانو ته درس ووایو ؟
جمال په حیرانۍ سره هغې ته وکتل.
ګلالۍ خپله خبره پسې وغزوله:
ـ موږ څلور میاشتې وخت لرو ، ډېره موده ده ، یو څه خو به زده کړي.
د جمال شونډې وخوځېدې:
ـ خو زه نه شم کولای.
ـ ولې؟

دلته ناروغۍ ډیرې دي، همدا نن دوه کلیوال راغلي وو، یوه یې ژېړی درلود او بل هم په وچکۍ اخته و، ښه به دا وي چې د دوی درملنه وکړم.
ګلالۍ وخندل:
ـدا هم نېک کار دی، ته دې خپله ډاکټري کوه او زه به هم له کاکا څخه وغواړم چې د لیک لوست لپاره یوه کوټه په واک کې راکړي.

☆

ملک د ګلالۍ غوښتنې ته نه ونه ویل، د کلا لویې دروازې ته نیږدې ، د کوریوه کوټه یې د کوچنیو نجونو او هلکانو لپاره خلاصه کړه، په لومړیو کې دلیک لوست لپاره لږ شمېر ماشومان ورتلل، خو اونۍ وروسته یې شمېره پنځلسو ته ورسېده، ګلالۍ به هر سهار درې ساعته درس ورکاوه، دې له خپل کاره خوند اخیست، په پیل کې یې تر سلو پورې حساب ور زده کړ، بیا د الفبا د توررو وخت راورسېد او وروسته به یې د دوو-درېو تورو له جنګولو یو ساده نوم جوړاوه.
ماشومانو هم په لنډ وخت کې له درسونو سره زړه وتاړه، ان بازمحمد هم خپله لینده لرې کړې وه، ده به قلم او کتابچه ورسره ګرځول.
جمال ته به هم ډله ډله ناروغان ورتلل. د ده نسخه ډېرو ښه لګیده، په لنډ وخت کې تر لیرو کلیو دا اوازه وغزېده چې سړی له لندنه راغلی دی، هلته یې ډاکټري زده کړې ده او د ډېر وخت ناروغان یې په پښو درولي دي.

ملک هم خوشاله و، زوی یې خپلې زده کړې بشپړې کړې وې او وروره یې لا پسې خپله کړې وه، خو په جمال یې ډېر پام و، دی به یې نه پرېښود چې له کوم کلیوال سره یواځې کینې او یا هم ډېر وخت د باندې تېر کړي، بانه یې دا وه چې حالات خراب دي او احتیاط ښه دی.
جمال هم د خپل پلار خبره منل، ده به ډېر ناروغان د میلمنو په کوټه کې کتل او یواځې د کلي هغو ناروغانو ته به د هغوی کورونو ته ورته چې له پښو به لویدلي وو. جمال یواځې یوه تفریح درلوده، دی به هر مازدیګر کلي ته نیږدې هسکې غونډۍ ته خوت، هلته به پر یوه هواره ډبره کېناسته او د سره غروب ننداره به یې کوله.
په کلي کې یې له چا سره نه لګېده، د زلمیتوب دوه ـ درې همزولي یې په ایران کې وو او ده ته له پخوانیو ملګرو څخه یواځې د کلي نایي جانداد ور پاتې و، جانداد له عمره پوخ سړی و، وچ کلک وجود یې درلود او پخوا یې له جمال سره راز یو و، خو اوس ډېر نه ښکارېده، یواځې یو ځل د جمال لیدو ته ورغلی و او دوهم وار په کلي کې سره مخامخ شوي وو. بانه یې دا وه چې درې کلي اولس ور تر غاړه دي او دورځې تر لسو پورې سرونه جوړوي.
یو مازدیګر جمال غونډۍ ته خوت چې له لیرې یې په یوه سړي سترګې ولګېدې، دی یوه شېبه ودرېد، سړی پر بایسکل سپور د کلي خواته راته او کله چې یو څه نږدې شو د جمال په زړه کې خوشالي ور ټوله شوه، شېبه وروسته یې جانداد ته کلکه غېږ

ورکړه، بیا دواړه یو بل ته مخامخ پر لویو ډبرو کېناستل، د یو بل د ژوند په اړه یې خبرې وکړې، د رباب او د مېلو په باره کې وغږېدل، له باغونو څخه یې دانګورو او نورو مېوو د غلا کیسې راواخیستې او تېر یادونه یې تازه کړل، جانداد له خپل ژوند څخه راضي و، ویل یې چې ګذاره یې ښه ده، پر نایتوب سربېره څو مېږې او اوزې هم لري او د دریو ماشومانو پلار دی.

د دوی خبرې اوږدې شوې او جمال د لومړي ځل لپاره تر ماښامه پاتې شو.

جانداد خبرې کولې، خو جمال د مخامخ غونډۍ په لمنه کې دوو ماشومانو او څو مېږو او اوزو ته کتل چې د دوی خوا ته را روان وو، د ماښام له اذان سره سم جانداد غلی شو، شېبه وروسته یې خپل څادر هوار کړ، دواړو نیت وتاړه، فرض لمونځ یې په ارامۍ سره ادا کړ، خو په سنتو کې د زنګولو ګړنجې اورېدل کېده.

کله چې جمال ښي لور ته سلام وګرځاوه، بدن یې زیږ شو، ده ته مخامخ د څو مېږو او اوزو په مینځ کې یوه خیرنه نجلۍ ولاړه وه، د هغې تر غټو خړو سترګو تور اوږده باڼه را تاو وو او ګرین (ګرېوان) یې شکېدلی ښکارېده.

جمال یوه شېبه هغې ته وکتل، بیا یې کیڼ لور ته سلام وګرځاوه او وروسته یې پر خپله خرېیلې زنه لاس تېر کړ.

جانداد هم سلام وګرځاوه، ولاړ شو او د بایسکل له کنجوغې څخه یې یوه کځوړه را خلاصه کړه، بیا نجلۍ ته ورنږدې شو، هغه د

سوالګرې غوندې عاجزه ولاړه وه، جانداد په جګو پښو کېناست، غوته يې خلاصه کړه او څلور ـ پنځه روغ او سوځېدلي پاستي يې نجلۍ ته ونيول.
ورو يې وويل:
ـ هه ! دا واخله او خپل کور ته لاړه شه !
نجلۍ مېږو او اوزو ته وکتل.
جانداد په بيړه وويل:
ـ مالونه به بازمحمد په مخه کړي.
د نجلۍ نري او چاودي چاودي لاسونه ور وغځېدل، ډوډۍ يې سره وچرموړله، په تخرګ کې يې ونيوله او د کلي خواته ګړندۍ روانه شوه، باز محمد هم خپله رمه په مخه کړه.
جانداد جمال ته وکتل، موسک شو او ويې ويل:
ـناوخته نه دی؟
جمال د هو په نښه سر وخوځاوه، ولاړ شو او څادر يې ټکواهه.
جانداد خپل زوړ بايسکل تر ښکرو ونيو، دواړو د کلي خوا ته مخه کړه، يوه شېبه يوه هم څه نه ويل، يواځې د بايسکل د ټيم ټکاه او تر بوټونو لاندې د وړو تيږو د ښوېدو غږونه اورېدل کېدل، دواړو ځمکې ته کتل او غلي روان و، خوشېبه وروسته جمال ورو وويل:
ـدا نجلۍ څوک ده؟
جانداد هغه ته وکتل، يوه ترخه موسکا يې وکړه او پلنې شونډې يې وخوځېدې:

ــد رڼا لور.

د جمال زړه ولړزېد ، شک يې په يقين بدل شو ، خو څه يې ونه ويل.

جانداد وويل:

ــمور يې ډېره ناروغه ده، يونيم کال وشو چې ولاړېدای نه شي.

جانداد غلی شو ، د کينې سترګې له کونجه يې جمال ته وکتل، هغه هماغسې ځوړند سر روان و ، ورو يې خپله خبره پسې وغزوله:

ــيو ځل د ولسوالۍ ډاکټر ته ورغلي وه، خو هغه وريادہ کړې وه چې علاج يې دده له وسه وتلی کار دی، کابل ته دې لاړه شي، خو رڼا ډېره بېوسه ده، د بېګاه نه لري، علاج ته يې پيسې په کار وي، ځکه نو دې هم په درملنې پسې دومره سر ونه ګرځاوه، بس ! ټوله ګذاره يې د لور په مزدورۍ ده، لور يې پانه نومېږي، له تېر يوه کاله راهيسې زما رمه پيايي، خو زه پخپله بېوسه يم، ډېره مرسته نشم ورسره کولای، د ماښام له راټولو کړو پاستو څخه پنځه ــشپږ ورکوم، درې وختـه وچـه ډوډۍ يـې کيږي، دوی دوه نفره دي، لور او مور، يو څه لاس کليوال هم ور ته نيسي، ذکات، مکات ورکوي او ژوندي يې ساتلي دي.

جانداد غلی شو ، جمال هم نور څه ونه ويل، بېرته چوپه چوپتيا شوه، خو دا ځل د بايسکل د ټيم له ټکاه سره د يوه ــ نيم شغال تېره کوکه هم اورېدل کېده.

شېبه وروسته په عمر پوخ سړی يوې زړې دروازې ته چې د غوړو څو زنګن ټيمان پرې ټکوهل شوي وو ورو ګرځېد او ځوان هم د يوې

کلا خوا ته ګرځندي روان شو، دا کلا د کلي په منځ کې ولاړه وه، دیوالونه یې تر ټولو کورونو هسک وو او پنډ برجونه یې د ماښام په تته رڼا کې وېرونکي ښکارېدل.

☆

د ټولګي په توره دړه ليکل شوي و.
زموږ هېواد افغانستان دی.
موږ له خپل هېواد سره مينه لرو.
موږ سوله غواړو.
په غولي ځو ماشومانو پلتۍ وهلې وې، کله کله به يې سرونه پورته کړل، دړې ته به يې وکتل او لاندې د کتابچو په سپينو پاڼو به يې څه وليکل.
ګلالۍ د ټولګي د لويې ورسۍ تر څنګ ولاړه وه، دې تر شيشې ورهاخوا د تيز باران ننداره کوله، باران د کلا په منځ کې لوی لوی ډنډونه جوړ کړي وو، څاڅکي به پر خړو اوبو لګېدل، ډومبکي (پوکڼۍ) به يې جوړول او بيا به دا ډومبکي نورو څاڅکو له منځه وړل...
ګلالۍ ته دا خړ ډنډونه او د لرګي ناوې په زړه پورې وې، دې ته د لندن بارانونه ورپه زړه شول، هلته به ډېر بارانونه ورېدل، خو

ځاځکو به دا ډول چکړې او خړ ډنډونه، نه جوړول، هلته یو اځې شنه واښه او پاخه سړکونه وو، بوټونه به په ورځو، ورځو نه ککړېدل او له لندو خاورو څخه بوی نه پورته کېده.

ګلالۍ یوه شېبه د کړکۍ تر څنګ ولاړه وه، بیا بېرته د ړې ته ورنیږدې شوه او په لوړ غږ یې وویل:

ـښه ! ومو لیکل؟

ماشومانو سرونه پورته کړل، یوه سرتور هلک په خپله بهېدلې پوزه لستونی تېر کړ او په زوټه یې وویل:

ـخان محمد لا نه دي لیکلي.

د هغه تر څنګ د ناست هلک سترګې رډې را وختې:

ـدرواغ وایي ! هه ! دا نو څه دي؟ پخپله یې تر اوسه ټوپکونه رسمول.

سرتور هلک په خبره کې ورولوېد:

ـجېب دې له مردکیو ډک دی.

د هلک رنګ سور شو.

ګلالۍ په لوړ غږ وویل:

ـما درته ویلي و چې ښه هلکان جنګ نه کوي !

ماشومان غلي شول.

ګلالۍ تخته پاکه کړه، وروسته یې په دړه ځو د جمعې سوالونه ولیکل، خو کله چې یې ماشومانو ته مخ ور واړاوه، ټولو د وره خواته کتل.

په وره کې یوه کوچنۍ نجلۍ ولاړه وه، د هغې تر غټو خړو سترګو تور بانه را تاو وو او له شکېدلې لمنې څخه یې اوبه څڅېدلې، ګلالۍ په بیړه هغې ته ورنیږدې شوه، تر څنګ یې ودرېده، خو مخکې تر دې چې څه وواییي، د ماشومانو له منځه یوه غږ کړ:
_معلم صاحب! دا پانه نومیږي، پلار یې په زړه کلا کې پوډرو مړ کړ.
ټولو ماشومانو وخندل.
ګلالۍ په بیړه هغوی ته وکتل، د هغې تورې سترګې له غوسې ډکې وې او په پراخ تندي کې یې نرۍ ګونځې ښکارېدلې، په خشکه یې وپوښتل:
_دا کوم بې ادبه و؟
د ماشومانو سرونه وځړېدل.
ګلالۍ نجلۍ ته وکتل او په حیرانۍ یې وویل:
_او هو! ته ژاړې؟
نجلۍ ورو ورو سونګېدله..ګلالۍ د هغې په لندو ویښتو لاس کېښود، ورو یې وویل:
_څه خبره ده؟
د نجلۍ سر وځړېد، څو پرله پسې سلګۍ یې له خولې را ووتې او وړې شونډې یې وخوځېدې:
_مور مې...
ګلالۍ په خبره کې ور ولوېده:

ـولې ! په مور دې څه شوي دي؟
ـمور مې يو دم ړنګه شوه، سترګې يې رغړې، خو غړېدای نه شي.
ګلالۍ د هغې سر په خپل ټټر پورې ونيو، ورو يې وويل:
ـته په ډاکټر پسې راغلې يې؟
نجلۍ د (هو) په نښه سر وخوځاوه.
ګلالۍ د هغې تر مخ په جګو پښو کېناسته، اوس نو دواړه په ونه سره برابر وو، يوه شېبه يې د نجلۍ وچ کلک او ټاپي، ټاپي مخ ته وکتل، بيا يې شونډې وخوځېدې:
ـخوا مه بدوه، مور به دې خدای جوړه کي، ښه !
نجلۍ په حيرانۍ سره هغې ته کتل...
ګلالۍ ناستو ماشومانو ته مخ وراړاوه، له يوه نه يې وغوښتل چې جمال را وبولي، ماشوم هم په منډه له کوټې ووت، وروسته يې نجلۍ تر مټ ونيوله ،دواړه دړې ته نيږدې شول، کله چې يې نجلۍ د زده کونکو تر مخ پر پلاستيکي څوکۍ کېنوله، پښې يې په هوا کې ځړېدلې پاتې شوې، ګلالۍ له ماشومانو وغوښتل چې په دړه ليکل شوي سوالونه وليکي، وروسته نجلۍ ته مخامخ پر غولي کېناسته، هغې ته يې وکتل او ويې ويل:
ـسبق دې خوښېږي؟
نجلۍ حيرانه وه.
ګلالۍ وخندل:
ـته ولې سبق ته نه راځې؟

د نجلۍ ورې شونډې وخوځېدې:

ـ رمه پیا یم.

ـ خو سبق ته هم راځه !

د نجلۍ سر وځړېد ، یوه شېبه غلې وه ، وروسته یې په وړه ژبه وویل:

ـ ډوډۍ به له کومه کوو ؟

د ګلالۍ په سترګو کې اوښکې ورغړېدې:

ـ ورور ، تره ، خپل ، پردی ، څوک نه لرې؟

نجلۍ هماغسې په ځړېدلي سر وویل:

ـ مور لرم، مور مې هر وخت ښکلوي، وروسته بیا ژاړي.

دا وخت د جمال له خندا ډک غږ وا اورېدل شو:

ـ غلام امر ته تیار دی.

خو د هغه خندا یودم غلې شوه ، ګلالۍ په بیړه وره ته وکتل ، جمال پښه نیولې و ، څېره یې خوا شینې ښکارېده او په ځیر ، ځیر یې نجلۍ ته کتل...

ګلالۍ ورو وویل:

ـ دا پا ښه نومیږي، مور یې ناروغه ده او ته باید ورسره لاړ شې.

د جمال زړه ولړزېد ، پښې یې بې سېکه شوې او لاس یې په وره پورې ونیو. یوه شېبه غلی و ، بیا یې یو دم وویل:

ـ زه نه شم کولای.

د ګلالۍ په تندي کې ګونځې پیدا شوې:

ـ ولې؟

جمال نجلۍ ته کتل...
ګلالۍ وخندل:
ـ که له بارانه وېرېږې، چترۍ درسره واخله، ښځه ناروغه ده.
جمال وويل:
ـ ما وبخښه ! نه شم کولای.
ګلالۍ په حيرانۍ سره هغه ته کتل.
جمال يوه شېبه غلی و، وروسته يې ناڅاپه سترګې سره ورغلې او په جديت يې وويل:
ـ نه شم کولای.
ګلالۍ ته د جمال غوسه حيرانونکې وه، يوه شېبه يې څه ونه ويل، خو وروسته يې شونډې وخوځېدې:
ـ تا خو تر اوسه په دومره سخته کې څوک نه و پرېښې، د دې نجلۍ مور ناروغه ده، غرېدای نه شي او دا ستا وظيفه ده چې هغه وګورې، ته پخپله هم ښه پوهېږې.
جمال يوه شېبه غلی و، وروسته پرته له دې چې څه وو ايي له کوټې ووت، خو لنډ وخت لا نه و وتلی چې بېرته په وره کې ښکاره شو، د هغه په ښي لاس کې چترۍ او په کيڼ لاس کې يو کوچنی تور بکس ښکارېده، ده نجلۍ ته وکتل او په خشکه يې وويل:
ـ راځه !

ګلالۍ ته د جمال دې غوسې خوند ور نه کړ، خو بيا هم خوشاله وه چې نامزد يې د ناروغې ليدو ته تيار شوی و، نجلۍ هم په لړزېدلو ګامونو له ټولګي ووته.

د باندې باران په شدت سره اورېده، جمال چترۍ خلاصه کړه او د باران څاڅکو د پراشوټ له ټوټې څخه ټکا ويستله...خو نجلۍ وړاندې ځړېدلی سر چټکه روانه وه، د باران څاڅکي يې په لوڅه او نرۍ غاړه لګېدل او پلاستيکي چوټو (چپلکو) يې په ځان پسې چکړې پورته کولې...

د کلي په تنګو کوڅو کې هيڅوک نه ښکارېدل، له لرګينو ناوو څخه خړې اوبه توېدلې، دا اوبه به د تشنابونو له تورو او بويناکه اوبو سره ګډېدلې او د کوڅو د منځ ډنډونه به يې لا پسې پراخول...

دوی چوپه خوله روان وو، جمال به هڅه کوله چې په کلک ځای ګام کېږدي، کله کله به اړ شو چې ديوالونو ته نيږدې پښه ولګوي او يا له ځينو کوچنيو ډنډونو څخه ټوپ کړي.

دی خواشينی و، احساس ورولوېد چې په ژوند کې تر ټولو ستړی مزل کوي، د ده همېشنۍ هيله دا وه چې ناروغانو ته ژوند ور وبخښي، خو دا ځل يې تمه درلوده چې خپله ناروغه پټې سترګې ووينې، خو وروستي فکر يې ډېر ژر وجدان ملامت کړ، له ځانه يې ورټ وشو، هڅه يې کوله چې تېر يادونه هېر کړي او د ناروغې درملنه خپله دنده وګڼي، خو تېرو يادونو د غڼې د تارونو غوندې کلک نيولی و.

ده هماغسې ځوړند سر مزل کاوه، خو کله چې يې سر پورته کړ، زړه يې ولړزېد. دوی له کلي وتلي وو او نجلۍ په دښته کې د ګوښې ولاړ زاړه چمبر خوا ته چټکه روانه وه.
جمال يوه شېبه ودرېد، ده فکر کاوه چې په دې زړه ويرانه کې به اوس څوک نه اوسي، هلته به يوا ځې سپي بچي زېږوي او د دښتې مږو به غارونه پکې جوړ کړي وي، خو اوس هلته چا ژوند کاوه او دی بايد يو ځل بيا دې کنډوالې ته ورغلی وای، ځکه يې ببرته ګام پورته کړ، خو دا ځل يې پښې تر پخوا درنې ورته وايسېدې، احساس ورولېد لکه په پوندو پسې چې يې وزنونه تړلي وي او يا هم په او سپنيزو بوټونو کې روان وي، ده په ستونزه ساه اخيسته، خو هر رنګه چې و، دی بايد په نجلۍ پسې تللی وای.
نجلۍ په يوه وړه دروازه ننوته، جمال هم هغه تعقيب کړه او کله چې يې ځان د چمبر په منځ کې وليد، په زړه يې وېره ننوته، ده په ځينو انګرېزي وحشتناکو فلمونو کې دا ډول زړې ويرانې ليدلې وې، په داسې ځايونو کې به يوازې اروا وې اوسېدلې، دوی اوږدې داړې درلودې، انسانان به يې تښتول، بيا به يې دا ډول زړو کنډوالو ته وړل او هلته به يې د هغوی وينې څښلې.
جمال يوه شېبه په انګړ کې ودرېد، د رنګو د بوالونو سرونه لانده وو، د پخوانيو کوټو پرځای د خاورو ډېرۍ ولاړې وې، دروازې ته نيږدې کادانه رنګه وه، رالوېدلې پخڅې يې لوګي وهلې وې او

غټې تورې لوټې يې دا سې ښکاريدې، لکه يوه لويه اورلګېدنه چې پکې تېره شوې وې.
جمال فکر په مخه کړ، خو وروسته يې په ښي غوږ د باران ځاځکي ولګېدل، په بيړه يې پورته وکتل، چترۍ کيڼ لور ته کږه شوې وه، ببرته يې سر کښته کړ، په وره کې يوه نجلۍ ولاړه وه او ده ته يې د مرستې په تمه کتل، د نجلۍ شا ته تپه تياره وه، هيڅ هم نه ښکاريدل، دا خلاص ور او دا تياره ، هغو سمځو ته ورته وو، لکه پخوانيو انسانانو چې ژوند پکې کاوه.
نجلۍ يوه شېبه ولاړه وه او بيا په تياره کې ورکه شوه، جمال هم حرکت وکړ، چترۍ يې خړ او لانده ديوال ته ودروله او کله چې په وره ننوت، اړ شو چې سر ټيټ کړي.
هلته توره شپه وه، له ديوالونو څخه سوړ او نمجن بوی لټېده ، د موږکانو بچونې ورو ورو چونګېدل، جمال نه پوهېده چې پر کومه لار شي، يوه شېبه ودرېد ، سترګې يې له تيارې سره اشنا شوې، د تنګ دهليز دواړو خواوو ته دوه لرګينې زړې دروازې ولاړې وې، دی حيران و چې کومې يوې ته لاس ور وغځوي، خو دا وخت يې د نجلۍ ژړغونی غږ په غوږ ور ننوت:
ـ مورې، مورې، سترګې رڼې که، ما ډاکټر درته را ووست.
د جمال زړه ولړزېد ، خو د نجلۍ په خبرو يو څه خوشاله شو ، د هغې په وينا د ښځې سترګې پټې وې.

ورو يې دروازې ته لاس ور وغزاوه، د دروازې غنجا يې په زړه کې نرۍ څړيکه تېره کړه، جمال يوه شېبه ودرېد، د کوټې په خړه درۍ يوه ښځه پرته وه، د هغې سر ته د لرګي يو زوړ صندوق ايښی و، څنګ ته يې څو خيرنې برېستنې ښکارېدلې او له ديوالونو څخه څو ځايه کاګل را لوېدلی و، نجلۍ ژړل او په ورو لاسونو يې د ښځې ډنګرو اوږو ته ټکانونه ورکول...

_مورې! مورې! سترګې رڼې که! ما ډاکټر درته راووست... مورې...

جمال يوه شېبه دوی ته وکتل، نجلۍ د خپلې مور پر ټټر ورټيټه وه، هغې ژړل او کوچني وجود يې د ښځې څېره له ديده پټوله.

جمال ورو ورنږدې شو، خو کله چې يې سترګې د ښځې پر مخ ولګېدې، يوه شېبه يې په زړه رحم غلبه وکړه او په سترګو کې يې بې اختياره اوښکې ډنډ شوې، زړه ته يې نه لوېده چې دا دې رڼا وي، د ښځې سترګې پټې وې، په څېره يې يوا ځې خړ پوستکی پروت و او د غومبرو هډوکي يې راوتلي ښکارېدل.

جمال د هغې تر څنګ کېناست، کوچنۍ هماغسې ژړل..جمال د نجلۍ پر اوږه لاس کېښود، ګوتو يې يوا ځې راوتلي هډوکي لمس کړل، نجلۍ څنګ ته شوه، جمال د پرتې ښځې نبض وکوت، د لاس رګونه يې ورو ورو غورځېدل..بيا يې د کوچني بکس څنځير کش کړ، د فشار د آلې چسپ يې د ښځې تر ډنګر مټ را وګرځاوه، شېبه وروسته يې نجلۍ ته وکتل او ويې ويل:

_مه ژاړه! فشار يې ټيټ دی، ښه به شي.

له دې سره د پرتې ښځې ځګېروی شو ، د هغې ښي لاس حرکت وکړ ، نری او بې سیکه ګوتې یې په داسې بڼه وخوځولې لکه څوک چې په تیاره کې څه لټوي ، خو وروسته یې لاس له حرکته ولوېد ، د جمال په زړه کې یو ځل بیا تېر یادونه ور تازه شول ، د رڼا غږ یې په غوږو کې انګازې پورته کړې:

(( ستا غږ زما غوږونو نه، زما زړه ته ننوځي. ))

جمال د نجلۍ په ژړغوني غږ ټکان وخوړ:

ـ دا یې عکس دی، د ولسوالۍ ډاکټر ورکړی و.

جمال په بیړه هغې ته وکتل، ولاړ شو ، تور پلاستیک یې د کوټې د یوې ځینۍ دریځې رڼا ته پرانیست، په ځیر یې عکس ته وکتل، په تور پلاستیک کې د پښتو سپین او نري هډوکي ښکارېدل، سر یې دوه درې ځله وخوځاوه او بېرته د پرتې ښځې تر څنګ کېناست، خو کله چې یې د ښځې مخ ته وکتل، رنګ یې ژېړ شو او په زړه یې سستي راغله، د ښځې غټې خړې سترګې چې اوږده بانه تري تاو وو رڼې وې، هغې په ځیر ځیر جمال ته کتل...د ښځې په سترګو کې کوم بدلون نه و راغلی، یوازې له غمه ډکې وې ، او ښکې پکې رغړېدلې، او په څېره کې یې له دغو ځلېدونکو سترګو پرته، د ژوند کومه بله نښه نه ښکارېدله.

د ښځې شونډې څو ځله ولړځېدې، وروسته یې په سختۍ وویل:

ـ ته لا هما غسې ښکلی یې.

جمال په بیړه ولاړې نجلۍ ته مخ ورواړاوه، داسې ورته وایسېده لکه هغه چې د دې خبرې په مانا نه وي پوهېدلې، نجلۍ ورو، ورو ژړل...
بېرته یې پرتې ښځې ته وکتل، تندی یې تریو کړ او په خُشکه یې وویل:
ــ ته خو خبره یې، ما کوژده کړې !
ښځې سترګې پټې کړې، د هغې د سترګو له کونجانو څخه څو رڼو څاڅکو منډه واخیسته او د غوږ له پاسه یې په ګڼو تورو ویښتو کې پټ شول، پرته له دې چې سترګې رڼې کړي په سټړي غږ یې وویل:
ــ خو پر ما لا تر اوسه ګران یې.
د سړي رنګ سور شو، نجلۍ ته یې وکتل او ویې ویل:
ــ مور دې تبه لري، په داسې وخت کې هر ناروغ چټیات وایي.
وروسته یې بېرته پرتې ښځې ته مخ وروااړاه، د هغې پر خړو شونډو یوه ترخه موسکا پرته وه.
جمال ورو وویل:
ــ زه دومره وخت نه لرم چې ستا چټیات واورم.
له دې سره یې بکس ته لاس کړ او مېخ ته ورته یوه تېره ستن یې را وویسته، بیا یې ستن د ښځې په خیرنو پوندو څو ځله ووهله، د هغې څېرې ته یې وکتل، ښځې د چت تورو دود وهلو لرګیو ته وچې سترګې نیولې وې او په څېره کې یې د درد کومه نښه نه ښکارېده، وروسته یې پر ستن د ښځې ځنګنونه ووهل او ورو یې وویل:

ـد کوم درد احساس کوې؟

د ښځې شونډې وخوځېدې:

ـنه.

بیا یې له هغې څخه وغوښتل چې پر اړخ واوړي، ښځې په زحمت ځنګ بدل کړ، وړې نجلۍ په حیرانۍ ورته کتل.

جمال د هغې د ملا په لاندنۍ برخه څو پرله پسې ستنې ولګولې، بیا یې وپوښتل:

ـاوس څنګه؟

د ښځې ځواب منفي و.

جمال له هغې څخه وغوښتل چې بېرته ستوني ستغ پریوځي، وروسته یې له بکس نه یو امپول (پیچکاري) راوویست، پلاستیکي ستن یې له رڼو اوبو ډکه کړه او کله چې یې تېره ستنه د هغې د لاس په راوتلي شنه رګ کې ننه ایستله، ورو یې وویل:

ـدا دې د راتلونکو دردونو لپاره ښه ده.

ښځې هماغسې چت ته کتل.

جمال پر یوه کوچني کاغذ څه ولیکل، کاغذ یې نجلۍ ته ونیو، شونډې یې وخوځېدې:

ـدا دوا به یې دردونه ونیسي.

د ښځې خواشینی غږ واورېدل شو:

ـ ګرانه ده؟

جمال مخ ورواړاوه، ښځې د پخوا غوندې چټ ته کتل او خړې سترګې يې او ښکو ځلولې...وروسته يې په داسې غږ لکه له ځان سره چې خبرې کوي ويې ويل:
_دا دواوې ما نه شي جوړولی، زه لس کاله مخکې لا مړه شوې يم، لس کاله مخکې، زه سترې يم، ډېره سترې، غواړم چې ويده شم، د تل لپاره.
ښځه غلې شوه، د هغې له سترګو اوښکې وڅڅېدې، وروسته يې ولاړې نجلۍ ته وکتل، يوه شېبه غلې وه، بيا يې ورو وويل:
_تا به خدای ته وسپارم.
نجلۍ ژړل...
دا وخت د بکس د ځنځير د کشېدو غږ واورېدل شو، ښځې ورو ورمېږ کوږ کړ او په زحمت يې وويل:
_بيا به دېووينم؟
سړي لنډ ځواب ورکړ:
_نه
له دې سره ولاړ شو، ګام يې واخيست، خو يودم ودرېد، پرته له دې چې ښځې ته وګوري، ورو يې وويل:
_يوه خبره واوره! ما کوژده کړې او بيا څوک راپسې راونه لېږې!
د ښځې شونډې وخوځېدې:
_خو په يوه شرط.

جمال تر څنګ ورته وکتل، ښځه یوه شېبه غلې وه، د هغې په خړو سترګو کې اوښکې ډنډ وې، بیا یې په مړاوي غږ وویل:
ــ یو ائې یو ځل راته ووایه چې د رباندې ګرانه یم.
جمال غلی و.
ښځې وویل:
ــ یو ائې یو ځل، یو ځل را ته ووایه چې د رباندې ګرانه یم، یو ځل.
د جمال شونډې وخوځېدې:
ــ نه ! زه له تا نه ورتې ( کرکه ) لرم.
ــ ولې؟
جمال نجلۍ ته وکتل، بېرته یې ښځې ته مخ ور واړاوه:
ــ په دې ته هم ښه پوهېږې !
ښځې غوښتل چې څه ووایي، خو سر یې له کوټې وتلی و.
د باندې تېز باران اورېده...خو دا ځل د جمال په لاس کې چترۍ تړلې پاتې وه، د ده له تورو ویښتو رڼې اوبه څڅېدلې، پرته له دې چې پر کلک ځای ګام کېږدي او یا هم له خړو اوبو ټوپ کړي، ځوړند سر روان و، د هغه په سترګو کې اوښکې رغړېدلې او په سپینو پایڅو پورې یې توره او بویناکه خټه سرېښ وه.

☆

د ډول له غږ سره سم، ګلالۍ په منډه د کلاه برج ته وخته، لاندې يې وکتل، د ېوال ته نيږدې رنګارنګ موټر ولاړ وو. د موټرو له دروازو څخه خلک کښته کېدل، په دوی کې ډېری پخې ښځې پېغلې او وړې نجونې وې، د هغوی په لمنو پورې ټومبلي رنګي ځلېدل، په لاسونو کې يې شنه رومیالونه نیولي وو او له رنګه خوشاله ښکارېدلې.

د کلاه دروازې ته مخامخ څو ځوانانو څنې غورځولې، داتڼ دا دايره به یوځل پر شا ولاړه، پراخه به شوه او بيا به اتڼ کونکي بېرته له څلورو خواوو پر ډول سره راټول شول، په دوی کې د ډېرو پښې لوڅې وې، نه يې د ډېران لمنې ته کتل او نه يې هم په خاورو کې پرتو کوکيو (شيشو) ، تېرو هډوکو او اغزيو ته، دوی ګړندي حرکات درلودل او کله، کله به يې له خولو څخه يوه ګډه ناره را وته، ګلالۍ يوه شېبه کړکۍ ته نيږدې ودرېدله، هغې ته دې ننداري خوند ورکړ، زړه يې له هغه ځايه نه ته، خوشېبه وروسته د ناچارۍ له مخې له برجه کښته شوه.

د کلا منځ هم له ښځو ډک و، زړې په چوتره کې ناستې وې، پېغلې د چمبې (دریا) غاړې ته ځرخېدلې او ځو ماشومانو هم هڅه کوله چې یوه بې سیکه پیشو او یو خوار سپی په جنګ سره واچوي.
ګلالۍ په ورا ځو راغلو ښځو ته لاس ورکړ، بیا دالان ته ننوته، هلته د کلي ځو نجونې سره راټولې وې، چا تناره ته ډوډۍ وهله، ځینو پر لوښو اوبه تېرولې او یوې بلې هم تر تور چایجوش لاندې سره انګار ته پوکي ورکول.
ګلالۍ له پیالو ډک پتنوس او یو تور چایجوش ورواخیستل، له دالانه ووته او په چوتره کې یې ځو ناستو ښځو ته له چایو ډکې پیالې کېښودلې، وروسته یوې بلې کوټې ته ور ننوته، هلته تر ګل غوټۍ د کلي ځو نجونې را تاوې وې، د هغوی په لاسونو کې رنګارنګ کمیسونه ځلېدل او د ټوټو د ارزښت په اړه یې خبرې سره کولې.
ګلالۍ د نجونو تر څنګ کېناسته جامو ته یې وکتل او په حیرانۍ یې وویل:
ـ دا د چا دي؟
یوې پېغلې وخندل:
ـ دا د دې ځای رواج دی، ورا باید د ناوې جامې هم ورسره راوړي، یوې بلې د ګلالۍ سترګو ته یو کمیس ونیو او ویې ویل:

ـ دې ته جولۍ وايي، سوچه وريښم پکې کار شوي دي، هه ! دا بل کينخاب دی، هندوستانی کينخاپ، بيه يې لوړه ده، هر څوک يې نه شي اخستلای.
ګلالۍ کميسونه سره واړول، ورو يې وويل:
ـ ښکلي دي.
يوې نجلۍ وخندل:
ـ ستا وار به هم را ورسيږي.
يوې بلې وويل:
ـ ګلالۍ ! ستا واده به چېرته وي؟ دلته ! که د انګريز په وطن کې؟
ګلالۍ يو اځې وخندل، ولاړه شوه او له کوټې ووته، د کلاه په لويديځ کونج کې جمال، جانداد او دوه نور کليوال د څو لويو ديګونو تر څنګ ولاړ وو، تر ديګونو سرې لمبې را تاوې وې او يوه کونج ته د پيازو او کچالو پوټکي پراته وو.
ګلالۍ يوه شېبه د پيغلو د اتڼ ننداره وکړه، دوی په پيل کې ورو ورو څرخېدلې، خو وروسته به يې څرخېدا دومره تېزه شوه چې ان لمنې به يې د چترۍ غوندې سره خلاصې شوې او په پای کې به يوې يوې ميدان پرېښود.
ګلالۍ په ورا راغلې له يوې ښځې څخه د دې اتڼ په اړه معلومات وغوښتل، هغې وويل چې (( دلته درې ډوله اتڼ دود دی، لومړی ته يې لوی اتڼ وايي، دا اتڼ اسانه دی، څرخ نه لري، يواځې اتڼ کونکي يوه او بل لور ته مخونه اړوي او پر ډول او يا هم پر دريا

وهونكي راڅرخي، دوهم ډول يې د څرخ د اتڼ په نوم يادېږي او يواځې ښى لور ته يو څرخ لري، خو دريم يې چې تر ټولو سخت دى، الاپى نومېږي، الاپى لومړى ښي لور ته پرله پسې درې او وروسته كيڼې خواته يو څرخ لري، د دې اتڼ له اودې يواځې هغه كسان وتى شي چې ساه يې ښه پخه وي.))

ګلالۍ تر ډېره د اتڼ ننداره وكړه، وروسته يې د اودسونو لپاره دوه له اوبو ډك سطلونه او څو بدنۍ په سراى كې كېښودلې، له لمر پرېوتو سره سم په ورا راغلي نارينه خپل كلي ته لاړل او يواځې دوه سپين ږيري يې پرېښودل.

د ماخستن له ډوډۍ وروسته بېرته اتڼ تود شو، ګلالۍ د كلي له څو نجونو سره يوځاى د ناوې تر څنګ ناسته وه، وروسته ډمه او څو په ورا راغلې نجونې كوټې ته ورننوتې، دوى په نكريزو كې شمع ودروله، بيا يې اورلګيت ورته ورته كړ، او د شمعې له بلېدو سره سم يې په سندرو پيل وكړ، بيا يې هماغه نكريزې د ګل غوټۍ پر لاسونو كېښودلې او كله چې شپه پخه شوه، ډمې د ناوې تور ويښته د شاړشمو په تېلو غوړ او وروسته يې دوه اوږدې كوڅۍ ترې جوړې كړې.

سهار له چايو وروسته بېرته اتڼ تود شو او تر غرمې يې دوام درلود، ماسپښين د نارينه وو ورا راغله، يو ځل بيا د ډول غږ د كلاه د ديوالونو پر سرونو ناستې مرغۍ والوزولې او په ورا راغلو ځوانانو پښې لوڅې كړې.

ماسپښين يې جمال د ناوې کوټې ته وروغوښت، دی يې لا پخوا په رواجونو پوهولي و او ورته ويل شوي وو چې ناوې به د هغې ورور ولاړوي، جمال خپلې خور ته زرينې کپۍ ور په پښو کړې، ګل غوټۍ ژړل او له دې سره يې د ورور سترګې هم له اوښکو ډکې وې، خو ګلالۍ د کوټې په يوه کونج کې غلې ولاړه وه او په حيرانۍ سره يې دوی ته کتل.
بيا د ناوې د ولاړېدو وخت راورسېد، خو کله چې جمال خپله خور تر لاس ونيوله، نو د کلي نجونې پرې ورټولې شوې، دوی د ناوې د تلو مخنيوی وکړ او ويل يې چې تر اوسه لا د تامبو پيسې نه دي ورکړل شوي.
د جمال مور ډمې ته اشاره وکړه او هغه هم په منډه له کوټې ووته، ګلالۍ د تامبو په اړه له يوې کليوالې معلومات و غوښتل، هغې ورياده کړه چې تامبو هغو پيسو ته وايي چې خسرګنۍ يې بايد دناوې کليوالو نجونو ته ورکړي، ځکه هغوی په واده کې زيار ايستلی وي او دا خپل حق ګڼي، دوی بيا په دغو پيسو ميله جوړوي، دېګ باروي او يوه ورځ خوشاله تېروي.
د پيسو له راوړلو وروسته جمال خپله خور تر مټ ونيوله، هغې ژړل...جمال هم ژړل...او مور يې هم اوښکې تويولې... کله چې ټوله ډله له کوټې ووته، په ورا راغلې زړې ـ وړې پرې راټولې شوې. ډله ورو ورو د کلاه د لويې دروازې خواته نږدې کېدله، نجونو سندرې ويلې او له ټپو سره د ناوې د ژړا غږ هم ګډ و.

شـېبه وروسـته پـه کـلاه کـې چوپـه چوپتيـا شـوه، هيڅـوک نـه ښکارېدل، يـواځې د لويـو دېګونـو تـر څنګ ځو کارغـان، يـو خـوار سپی او يوه وړه خيرنه نجلۍ ليدل کېدله، سپي په چيچلو هډوکو بوی کېښ، کارغانو له ځمکې څخه وريجې پورتـه کولې او نجلۍ هم لـه يـوه دېګـه د ښـوروا پاتـه شوې لنده ډوډۍ پـه يـوه کاسـه کـې اچولـه، هغـې غتـې خړې سترګې درلودې او تـر سترګو يـې تـور او اوږده بانه را تاو وو.

☆

ورځې تېرې شوې، هوا سړه شوه اوبزګرانو د منې کښت ته تیاری ونیو.
د جمال په ناروغانو کې هم زیاتوالی راغی، اوس به له نږدې ولسوالیو څخه هم خلک ورتلل، ګلالۍ هم د کلي ماشومانو ته د پخوا غوندې زده کړه ورکوله، په دوی کې د ډېرو املا ښه شوې وه او د ریاضي په څلوروعملیو ښه پوهېدل، ګلالۍ خوشاله وه، د ماشومانو له پوهولو څخه یې خوند اخیست، په تره یې منلې وه چې دا کوچنی کور به نور پریوه دسترخوان سره راټول وي، وریجې به پر کاشوغو خوري او د خوشایو د تیپلو لپاره به خپلې ښځې ته دستکش راوړي، دې ته هره ورځ نوې وه، له کلیوالي ژوند سره ورو ورو بلدېدله، په خوی او جامو کې یې بدلون راغلی و او ان د ارغلي( دېګدان ) لوګی به هم دومره بد نه ورباندې لګېده، دې غم نه پېژانده، خوله به یې تل له خندا ډکه وه، ژوند ته یې په مینه کتل او فکر یې کاوه چې د دنیا تر ټولو نجونو نېکمرغه ده، خو یوه ورځ هرڅه بدل شول، خوشالۍ کډه وکړه او د ګلالۍ له سترګو په لومړي ځل اوښکې تویې شوې.

په هغه ورځ جمال د جانداد د ناروغې مېرمنې ليدو ته ورغلی و، ده په چوتره کې نسخه ليکله چې تر ځنګ يې يو ستړی ستمی واورېد، مخ يې ور واړاوه، سترګې يې پر لوڅو او خيرنو پښو ولګېدې، په بيړه يې پورته وکتل، زړه يې ولړزيد، خو بېرته په ليکلو بوخت شو.

جانداد وويل:

ـد پانې مور ناروغه ده.

جمال غلی و، شېبه وروسته يې نسخه جانداد ته ونيوله، بکس ته يې لاس کړ او ورو ولاړ شو.

جانداد په بيړه وويل:

ـچای دې سور که! سړېږي!

د جمال شونډې وخوځېدې:

ـد اخوندزاده په کور کې څوک ناروغه دی، ځم چې ناوخته کيږي.

جانداد په حيرانی هغه ته وکتل، وروسته يې د خواست په ژبه وويل:

ـکه لو مړی له دې نجلۍ سره لاړ شې، ثواب به دې وي، د هغې د مور وضع ښه نه ده، پانه وايي چې له سهاره راهيسې يې سترګې پټې دي.

جمال نجلۍ ته وکتل، هغه وارخطا وه، غټې خړې سترګې يې له اوښکو ډکې وې او له لاندنۍ چاودلې شونډې څخه يې ډومبک وينه راوتلې وه.

جمال ورو وویل:

ـ کومه دوا چې ما ورته لیکلې وه، هغه ورکړه !

د نجلۍ په سترګو او خوبولې څېره کې ګونځې پیدا شوې، ستوني یې ډک شو او یو دم یې په ژړا پیل وکړ.

جانداد وویل:

ـ وبال لري، ورسره لاړ شه !

جمال لنډ ځواب ورکړ:

ـ وخت نه لرم.

نجلۍ په ژړا کې وویل:

ـ د مور په خوله کې مې ګولۍ ور واچوله، خو تېره یې نه کړه، اوس یې هم د ژبې پر سر پرته ده.

جمال ګام واخیست، خو جانداد یې تر مخ ودرېد او په خواره خوله یې وویل:

ـ ورسره لاړ شه !

د جمال په تندي کې ګونځې پیدا شوې:

ـ نشم کولای.

جانداد د پخوا غوندې د جمال مخې ته ولاړ و.

جمال یوه شېبه غلی و، وروسته یې په ارام غږ وویل:

ـ ګوره جانداده ! ته زما پخوانی ملګری یې، لار مې پرېږده ! نه غواړم چې را نه خپه شې.

جانداد د هغه پر اوږه لاس کېښود، ورو یې وویل:

ـ خو...

جمال يې په شدت لاس پورې واهه او په چيغه يې د جانداد خبره په خوله کې ور وچه کړه:

ـ ته ولې نه پوهيږې ! زه نه شم کولای چې مړی را ژوندی کړم، هغه د هډوکو سل لري، تر ملا پورې يې هډوکي تور شوي دي، که نن وي که سبا ، مري.

د نجلۍ ژړا يو دم غلې شوه، جانداد په بيړه هغې ته وکتل، د نجلۍ سترګې رډې راختلې وې، خوله يې وازه وه، وجود يې پړک ( لړزې ) اخيستی و او په حيرانۍ يې جمال ته کتل، وروسته يې ناڅاپه منډه کړه او په بيړه له انګړه ووته.

جانداد ، جمال ته وکتل او په خشکه يې وويل:

ـ ډېر بې رحمه يې؟

جمال ځمکې ته کتل.

د جانداد شونډې وخوځېدې:

ـ تا د رڼا ژوند تباه کړ؟

جمال په کاوړ هغه ته وکتل، خو وروسته يې ناځاپه تندی ورين شو، يو دم يې وخندل او خندا يې زور ونيو...

د جانداد لړمون اور واخيست، يو ګام څنګ ته شو او شونډې يې وخوځېدې:

ـ ووځه !

د جمال خندا بنده شوه، جاندا ته یې وکتل او په خواشینۍ یې وویل:

_ته د یوې بدکارې ښځې لپاره ، د ورور غوندې ملګری خپه کوې !

یو کړس شو، د جمال مخ په چټکۍ کیڼ لور ته وګرځېد ، له خولې یې لاړې تویې شوې او په بیړه یې خپل ښي غومبري ته لاس ونیو.

دا څپېړه دومره ناڅاپي او زوروره وه چې د جانداد ګوتو درد وکړ.

چوپه چوپتیا شوه، یوه هم څه نه ویل، د جانداد پر خړو غومبرو اوښکې روانې وې او په راوتلو رډو سترګو یې جمال ته کتل، وروسته یې په مړاوي غږ وویل:

_څنګه ګونګی نه شوې !

جمال چیغه کړه !

_دا کومه پټه خبره نه ده، ته هم په دې پوهېږې چې هغه یې له چرسي خیرو سره په کا دانه کې ونیوله.

د جانداد د تندي ګونځې ژورې شوې، غاښونه یې وچیچل او خپل ټول قوت یې د یوې چیغې لپاره سره راټول کړ !

_بس !

دا چیغه دومره زوروره وه چې د جانداد ښځه سرتور سر انګړ ته را ووته، هغې په وارخطایۍ دواړو ته وکتل او په حیرانۍ یې وویل:

_څه ټکه را پرېوته !

جانداد غریو واخیست:

ـخان صیب د رڼا ژوند ور تباه کړ، اوس یې په عزت هم لوبې کوي، وايي چې هغه په پوست پاکه نه ده.

د ښځې بدن ولړزېد او په خواره خوله یې وویل:

ـوی وروره! هر څه به درسره ومنم، خو دخدای روی ومنه! داسې مه وایه، که زموږ په خبرو کې څه شک درلوېږي، له کلیوالو وپوښته، رڼا خو ملايکه ده، ملايکه!

د جمال پښو پړک واخیست، احساس ور ولوېد لکه زړه چې یې غاښونه پیدا کړي وي او خپل ځان پخپله خوري، بکس یې له لاسه ولوېد، په سترګو کې یې اوښکې را ټولې شوې، یوه شېبه زړېدلی سر بې حرکته ولاړ و، خو وروسته یې یو دم د انګړ په ترلې دروازه ور منډه کړه، له ډېرې وارخطايۍ د دوارو پلو تر منځ ونښت، دیوه را وتلي ټیم تېره ژۍ یې مټ ته سیخه شوه، خو دی یې په درد ونه پوهېد، له انګړه ووت او منډه یې کړه.

جمال په ټول قدرت منډې وهلې...خولۍ یې له سره لوېدلې وه او د مټ په برخه کې یې سپین لستوڼی په وینو سور و.

دی د کلي په تنګو کوڅو کې تاو راتاو شو، څو حیرانو کلیوالو لار ورکړه او کله چې تر کلي ووت، تر یوې وړې نجلۍ مخکې شو، نجلۍ خره پړه وه او ځوان هم له رنګه سور او سپین، خو په دوی کې یوه نښه ګډه وه، د دوارو سترګې له اوښکو ډکې وې او زړونه یې د یوه تن لپاره درېدل.

جمال ګرځندی و ، ډېر ګرځندی، خو کله چې تیاره دهلیز ته ور ورسېد ، یو دم ودرېد ، چوپه چوپتیا وه، هیڅ هم نه اورېدل کېدل، ان داخل د موږکانو بچونې هم غلي ول.
دجمال لړزانده ګوتې د وره خواته ورنیږدې شوې، د وره غنجاه یې پر زړه کې د چړې غوندې ور تېره شوه، یوه شېبه ودرید ، پښې یې مړې وې، هیڅ حرکت یې نه درلود او احساس ور ولوېد لکه له رګونو څخه چې یې وینه تښتېدلې وي.
جمال د وره په لیخک کې ودرېد ، په راوتلو رډو سترګو یې پرتې ښځې ته وکتل، شونډې یې ولړزېدې او په زحمت یې وویل:
ـرڼا !
ښځې کوم حرکت ونه کړ.
جمال ورو ورنیږدې شو ، د ښځې سرته ودرېد ، د هغې سترګې پټې وې، ښی لاس یې پر ټټر پروت و او په وازه خوله کې یې یوه سپینه ګولۍ ښکارېدله.
د جمال ځنګنونه پر غولي ولګېدل، ښځې ته یې په ځیر، ځیر وکتل او په رېږدېدلي غږ یې وویل:
ـزه یم ! جمال.
ښځې کوم حرکت ونه کړ.
جمال یوه شېبه غلی و ، پرته له دې چې سترګې پټې کړي، پر غومبرو یې رڼې اوښکې بهېدلې، بیا یې په زحمت وویل:
ـزه راغلم !سترګې رڼې کړه ! ستا جمال راغی !

د ښځې سترګې پټې وې.
د جمال شونډې ولړزېدې:
ـ ته راباندې ګرانه يې.
ښځې د پخوا غوندې کوم حرکت ونه کړ.
جمال په غريو کې وويل:
ـ سترګې رڼې کړه !
له دې سره يې يو دم د ښځې ډنګرو اوږو ته ځنډ ورکړ، خو د هغې مخ ښي لور ته کوږ شو او ګولۍ يې له خولې ولوېده.
جمال چيغه کړه !
ـ يو ځل ! يو ځل راته وګوره ! يو ځل !
خو په ښځې کې کوم حرکت نه و.
وروسته يې د ښځې تر راوتليو وليو لاس لاندې کړ، د هغې غاړه د شاه خواته کږه شوه، سر يې وځړېد، خو جمال خپل کيڼ لاس د هغې تر سر لاندې کړ، په خپل ټټر پورې يې ټينګ ونيو او په چيغو چيغو يې وژړل.
ده په ژړا کې چيغې وهلې !
ـ ته راباندې ګرانه يې... ته راباندې ګرانه يې...ته...
خو دا ځل د هغه خبرې د رڼا زړه ته نه رسېدلې، د هغې زړه له حرکته لوېدلی و او د ښې سترګې پر اوږدو بڼو يې يوه خړه اوښکه ولاړه وه.

جمال ژړل.. پـه چيغـو ، چيغـو يـې ژړل او شـېبه وروسـته دده لـه ژړا سره يوه بله ژړا هم ملګرې شوه.

پاڼه د خپلې مور پښو تـه ولاړه وه، پـر خيرنـو غـومبرو يـې د اوښـکو دوه خړې ليکې ښکارېدلې، ټول بدن يې لړزيده او وارخطا وه.

دوی دواړو ښه شېبه وژړل، بيـا جمـال د ښـځې پـر خړ تندي شونډې کېښودې، د هغې تندی يې ښکل کړ او کله چې يې ښځه بېرتـه پـرې يستله، د هغې لـه تټـر څخـه يـو عکس ولوېد ، ده پـه بيـړه عکس ور وروا خيست، پـه تور او سپين عکس کې د يـوه ځوان جذابـه څېـره ښکارېدله، لونګی يې تړلې وه، خندل يـې او د شونډو لـه پاسـه يـې يوه توره نری ليکه ښکارېدله.

جمال يـوه شـېبه عکـس تـه وکتـل، بيـا يـې ناڅاپـه کاغـذ خـولې تـه واچاوه، د ژاولـو غونـدې يـې وژدويـه او يـوې خـوا تـه يـې تـو کـړ، وروسته يې يوځل بيا پرتـې ښـځې تـه وکتـل، د هغـې د غـومبرو پـر راوتليـو هډوکو خـړ پوسـتکی پـروت و ، سـترګې يـې پټـې وې، خـو اوږده او ولاړ پاڼه يې لا ژوندي ښکارېدل.

جمال يودم ولاړ شو ، نجلی يې تر مټ ونيوله او له کوټې ووت.

☆

د کلاه په خړو دیوالونو کې د ملک دخندا غږ اورېدل کېده...
ملک، د هغه میرمن او ګلالۍ پر یوه ټغر، پیتاوي ته ناست و، د هر یوه تر مخ له شنو چایو ډکې پیالې ایښې وې او په یوه قاب کې وچ توت ښکارېدل، ډېرې خبرې ملک کولې، زړې ښځې یو اڅې غوږ ورته نیولی و، دې په او کلۍ (اونګ) کې څه شی ټکول...خو کله چې به یې خاوند وخندل، دا به هم موسکۍ شوه او د هغه له خندا به یې خوند اخیست.
ملک د خپلې ځوانۍ کیسې کولې، د ښکار کیسې، د حاصلاتو د اخستلو او برکت کیسې او دا چې لا اوس هم د شپې له خوا د بلاوو له وېرې د باندې نه شي راوتلای، وروسته د خپلو هیلو په اړه وغږېده، د جمال او ګلالۍ پر نامزادۍ یې خوښي څرګنده کړه او وروستۍ تمه یې داوه چې زوی او نږور به یې لندن پرېږدي او په قره باغ کې به له دوی سره ګډ ژوند کوي.
دا خبره په ګلالۍ بده ونه لګېده، په خندا یې وویل چې قره باغ یې خوښېږي، د دې ځای او سېدونکي له زړه پاک دي، دوی مصنوعي مینه نه پېژني، ساده خلک دي، سپین غږیږي او اخلاص یې د زړونو له تله وي.

بیا یې له خپل تره سره ژمنه وکړه چې تر واده وروسته به دلته ژوند کوي. ماشومانو ته به زده کړه ورکوي او په کال کې به یوائې یو ځل د خپل پلار او مور لیدو ته ورځي.

دا خبره د هغې په خوابنې هم ښه ولګېده، سترګې یې وځلېدې او ګلالۍ یې پر تندي ښکل کړه.

ملک خوشاله و، د ده هیلې پوره شوې وې او خوله یې له خندا نه سره تړولېده، ده خندل... خو ناڅاپه یې خندا بنده شوه، پیاله یې له لاسه ولوېده، د قاب پر ژۍ ولګېده او د توتو داني باد باد شوې.

ګلالۍ خپل تره ته وکتل، سرې یو دم پر پښو ودرېد، د هغه سترګې رډې را ختلې وې او برېتونه یې څرېدلي ښکارېدل.

ګلالۍ په بیړه د کلا د لویې دروازې خوا ته سترګې ورواړولې، جمال یوه کوچنۍ تر لاس نیولې وه او د دوی خوا ته ورو ورو را نیږدې کېدل...

ګلالۍ ور منډه کړه، جمال ته یې وکتل، د هغه سترګې له سرو رګونو ډکې وې، ویښته یې جړ–پړ وو او په څېره کې یې د قهر او غضب نښې له ورایه ښکارېدلې.

ګلالۍ وارخطا شوه او په بیړه یې وپوښتل:

_څه خبره ده؟

جمال کوم ځواب ور نه کړ، ان سترګې یې هم ور وا نه ړولې، ده یوائې خپل پلار ته کتل او هماغسې پر مخ روان و.

شېبه وروسته د ملک مخې ته ودرېد او په غریو کې یې وویل:

ـ رڼا مړه شوه.
ملک غلی و، د هغه ټول بدن لړځېده او د جمال سترګو ته یې نه شو کتلای.
ګلالۍ حیرانه وه او د زړې ښځې شونډې ځړېدلې ښکارېدلې.
ناڅاپه د زوی لاسونه د پلار ټټر ته ورنېږدې شول او ګوتې یې د هغه تر ګرېن را تاوې شوې.
د ګلالۍ خوله وازه شوه، هغه څوک چې د خپل پلار تر مخ یې ان پښې هم نه غځولې، اوس یې د هغه ګرېن ته لاس وراچولی و، دا نه پوهېده چې خبره څه ده؟ سترګې یې څو ځله ورپولې، حقیقت و، جمال د خپل پلار تر ګرېن ګوتې تاو کړې وې او هغه هم هیڅ عکس العمل نه ښوده، څه یې نه ویل او ځړېدلی سر ولاړ و.
جمال چیغه کړه!
ـ ته قاتل یې!
د ګلالۍ رنګ والوت.
جمال یوه شېبه خپل پلار ته وکتل، بیا یې یودم شونډې وځړېدې او د ماشومانو غوندې یې وژړل...
ګلالۍ دا هر څه لیدل، خو څه یې نه شو ویلای، شونډې یې څو ځله سره ټولې کړې، خو له خولې څخه یې غږ نه را ووت.
جمال هماغسې د خپل پلار ګرېن ټینګ نیولی و. بیا یې پښې بې سیکه شوې، ګونډې یې ووهلې، د ملک ګرېن څیرې شو او د سینې سپین ویښته یې ښکاره شول.

جمال په غريو کې وويل:
ـتا ما ته دوکه راکړه ! تا د دوو تنو ژوند تباه کړ، تا زما رڼا راڅخه واخيسته !
ناڅا په د ګلالۍ له سترګو اوښکې روانې شوې..په ژړا شوه او د کوټې خوا ته يې منډه کړه.
جمال چيغه کړه !
ـزما خبره واوره !
له دې سره و درېد ، د کوټې د دروازې درب شو ، منډه يې کړه، په د هليز کې لنډ را تاو شو ، دروازې ته يې غبرګ لاسونه ټمبه کړل، خو دروازه تړل شوې وه او له کوټې څخه د ګلالۍ چيغې اورېدل کېدې...
جمال په زوټه وويل !
ـدروازه خلاصه کړه !
ګلالۍ ژړل...
جمال دروازې ته اوږه ورکړه، د چارمغزو له لرګي جوړې دړې ته يې لغتې ونيولې، خو نه دړه ماته شوه او نه هم ځنځير وشکېد ، ده په سختۍ ساه اخيسته او چيغې يې وهلې !
ـدروازه خلاصه کړه ! ماتوم يې ! دروازه خلاصه کړه !
شېبه وروسته ستړی شو او د خواست ژبه يې را واخيسته:
ـدروازه خلاصه کړه ! هيله کوم، غواړم خبرې درسره وکړم، هر څه درته ووايم، هيله کوم !

خو دروازه د پخوا غوندې تړلې وه، ګلالۍ ژړل...وروسته يې په ژړا کې وويل:
_نه غواړم چې ستا څېره ووينم.
جمال د هغې له خولې څخه په لومړي ځل دا ډول خبره اورېده، په زړه يې اور بل شو، دروازې ته يې يوه لغته ورکړه او انګړ ته ووت، هلته يې نجلۍ تر مټ ونيوله، روان شو، خو مور يې تر مخ ودرېده، ملک چيغه کړه !
_پرېږده يې !
د ښځې بدن ولړځېد، څنګ ته شوه او جمال له کوچنۍ سره يو ځای له کلاه ووت.

☆

د رڼا د جنازې مراسم، د هغې د ژوند غوندې ساده و، په ملا پسې يواځې يو څو هغه کليوال ودرېدل، چې له ملک سره يې ورانه وه. قبر جمال، جانداد او دوو نورو کليوالو وکينده، رڼا يې په هماغه ورځ خاورو ته وسپارله او شپېبه وروسته د غونډۍ پر سر يواځې دوه تنه پاتې شول، يو ځوان او بله هم وړه نجلۍ، دوی ژړل...تر سر يې سرې، زرغونې جنډې رپېدلې او تر هسکو سپاندو، ترخو او اغزيو د قبرونو تېرې تيږې را وتلې وې.

☆

د کوټې دروازه وټکېده.
جمال ورو وویل:
ـ راځه!
دروازه خلاصه شوه او جانداد کوټې ته ورننوت، په تاخچه کې یې یوه غوټه کېښوده، پاڼې ته یې وکتل او د جمال پښو ته نیږدې کېناست.
ورو یې وویل:
ـ یو څه ښوروا مې درته راوړه.
کوم ځواب یې وا نهورېد.
جانداد لمپې ته وکتل، لوګي وهلې وه، ښیښه یې ور واخیسته، د خپل څادر په پیڅکه یې پاکه کړه او کله چې یې بېرته د لمپې پر سر کېښوده، تر پخوا یې ډېره رڼا کوله، وروسته یې جمال ته وکتل، هغه خیرنې بسترې ته ولي لګولي و او چت ته یې کتل، بیا یې پاڼې ته مخ ور واړاوه، نجلۍ دیوال ته ناسته وه، سترګې یې سرې وې او څېره یې ستړې ښکارېده.
جانداد ورو ولاړ شو، غوټه یې ور واخیسته، پر دېګ یې لاس کېښود، ګوتې یې تودې شوې، غوټه یې پرانیسته، د دیګ پر سر

ځو روغ او سوځېدلي پاستي ايښي و، بيا يې شاوخوا وکتل، د وچې ډوډۍ د ايښودلو لپاره يې څه ونه موندل، خپل څادر يې هوار کړ او ډوډۍ يې پرې کېښوده، وروسته يې ځلورو خوا وو ته سترګې وغړولې، وره ته نيږدې، له يوه ځيرې کارتن څخه د پيالې لاستی را وتلی و، ولاړ شو، په کارتن کې يې دوه پيالې، يو تور چايجوش او يوه کاسه وموندله، کاسه يې ور واخيسته، له کوټې ووت او کله چې بېرته په وره را ننوت، له کاسې څخه اوبه څڅېدلې.

ده په کاسه کې ډوډۍ وړه کړه، ښوروا يې پرې واچوله، ورو يې وويل:

ــ ډوډۍ تياره ده.

جمال د پخوا غوندې چت ته کتل.

جانداد يوه شېبه غلی و، وروسته يې خپله خبره تکرار کړه:

ــ ډوډۍ تياره ده.

جمال يوه جټکه وخوړه، جانداد ته يې وکتل او ويې ويل:

ــ زړه ته مې نه کيږي.

د جانداد شونډې وخوځېدې:

ــ خو تا له سهاره راهيسې څه نه دي خوړلي.

کوم ځواب يې وا نه ورېد.

وروسته يې نجلۍ ته مخ ور واړاوه:

ــ لورکۍ! ډوډۍ سړيږي:

نجلۍ ولاړه شوه، جانداد ته مخامخ کښناسته او ښی خیرن لاس یې کاسې ته ور ټیټ شو، دوه ـ درې ګولې یې ور پورته کړې او بېرته پخپل ځای کښناسته.
جانداد لنده ډوډۍ په تش دېګ کې واچوله، کاسه یې څنګ ته کېښوده او پاته شوې وچه ډوډۍ او دېګ یې په ټوټه کې وتړل، ولاړ شو، څادر یې هوار کړ او د ماخستن د لمانځه نیت یې وتاړه.
له دعا وروسته چې یې نجلۍ ته وکتل، کیڼ لور ته ړنګه وه او سترګې یې پټې ښکارېدلې، جانداد یوه خیرنه بړستن پر هغې وغوړوله او بېرته د جمال پښو ته نیږدې کښناست.
جمال د پخوا غوندې چت ته وچې سترګې نیولې وې.
چوپه چوپتیا وه، جانداد غولي ته کتل او په ښي لاس یې دواسکټ په جېب کې د نصوارو ډبلی سره اړاوه.
شېبه وروسته یې د جمال غریو نیولی غږ واورېد:
ـ خبرې وکه!
جانداد مخ وروااړاوه، جمال چت ته کتل، یو سوړ اسوېلی یې ویست او شونډې یې وخوځېدې:
ـ څه ووایم!
ـ د رڼا په اړه یو څه را ته ووایه!
جانداد غلی و.
جمال په غریو کې وویل:
ـ د هغې د ژوند په اړه خبرې وکه، څه یې ویل؟ زه یې یادولم؟

د جاندا په سترګو کې اوښکې را ټولې شوې، یوه شېبه غلی و، بیا یې شونډې وخوځېدې:
ـ ته پر هغې ګران وې، ډېر ګران، رڼا هیڅکله له تا څخه بده خوله نه وهله، تل یې په ښو یادولې، ما به کله، کله وچه ډوډۍ ور ته راوړله، زه یوازینی کس وم چې دې به خپل زړه ور ته تشاوه، کله چې ستا له کوژدې خبره شوه، بیا یې هم کومه ګیله نه لرله، ته یې ملامت نه کړې، ویل یې چې ښه شو، یوه مکتبۍ یې وکړه، له ما پمنې به یې څه لیدلي وای، بیا یې یودم را ته وکتل، سترګې یې له اوښکو ډکې وې، خو پر شونډو یې یوه ترخه موسکاه پرته وه، په خپل خیرن، تور پوړوني یې پزه پاکه کړه او ویې ویل:
"کاکا ! جمال به اوس خوشاله وي ! نه ! "
زه غلی وم، څه به مې ور ته ویل، بیا مې د هغې ژړغونی غږ واورېد:
" خدای دې یې غم نه را ویني. "
رڼا چې به کله ولیدم، یوازې ستا خبرې به یې را ته کولې، خو په وروستیو کې یې اعصابو سم کار نه کاوه، کله به له خندا شنه شوه او کله به یې هم ژړل، له ځان سره به ګډه وه، ځان او جامو ته یې هم دومره پام نه کاوه، ویښته به یې جړ وو، تخرګ به یې شکېدلی و او ټکرۍ به ور پسې کښېده، بیا یې بدلو ته مخه کړه، په لوړ غږ به یې ټپې ویلې، ډېرې دردونکې ټپې، زما نورې نه دي په زړه، خو یوه ټپه به یې تل په خوله وه.
نصیبه خاورې شې، ایرې شې

تندیه مات شي پر تا څه لیکلي دینه
وروسته خپلي لور ته اند ېښمنه شوه، پاڼه ور باندې ګرانه وه او د هغې د راتلونکي په اړه به یې فکرونه کول.
دا وېره یې هغه وخت لا ډېره شوه چې ناروغۍ پرې یستله، یوه ورځ یې په ژړا کې را ته وویل:
" کاکا ! تر اوسه خو ښه وم، ګرېوانونه به مې ګنډل، خرخول به مې او یوه ګوله به پیدا کېدله، خو اوس له پښو لوېدلې یم، هیڅ هم نه شم کولای، زه به له لوږې سره یوه ګوزاره وکم، بلا به مې نه وهي، خو پاڼه ډېر وخت وږې وي، ورځ په ورځ زېږېږي، که مړه شمه، پاڼه به څه کوي؟ "
ما ډاډ ورکړ چې خدای مهربانه دی، زړه مه خوره، جوړه به شې، خو دې یوه سړه ساه وویسته او ویې ویل:
" نه کاکا ! زه نه جوړېږم، زما هډونه خبر دي، مرم، له مرګه دومره ویره نه لرم، لا ښه ده، له غمه به خلاصه شم، خو پاڼه به څه کوي؟ هغه له ما پرته هیڅوک هم نه لري، هیڅوک "
ما یوا ځې ور ته ژړل ،یوه نایې نوره څه مرسته ورسره کولای شوای، بس ! دومره مې له وسه پوره و چې د هغې لور مې په مزدورۍ نیولې وه، نور مې هېڅ نه شو کولای، هېڅ !
جانداد غلی شو، جمال ته یې وکتل، هغه ورو ورو ژړل، وروسته یې په ژړا کې وویل:
_له خیرو سره یې ژوند څنګه و؟

ـ هغه نشه ای سړی و، په لومړیو کې یې یوائې چرس او تریاک څکول، خو وروسته یې پوډرو ته مخه کړه، کورني ژوند ته یې دومره اهمیت نه ورکاوه، په کوم سات چې به نشه ور ونه رسېده، هماغه ګړۍ به د رڼا ژوند تریخ و، په لومړیو کې یې د کور لوښي ـ کودي خرڅ کړل، بیا یې د کوټو لرګي واړول، دا پخواني لرګي وو، ګلان پکې کیندل شوي وو، ځکه یې په ښه بیه وپلورل، خو وروسته به یې له رڼا څخه د پوډرو لپاره پیسې غوښتې، هغې به چې د ستنې له کاره څه موندلي وو، مېړه به یې ورنه وړلې او که به یې پیسې نه درلودې، په هماغه ورځ به تر لغتو لاندې وه.
خپله لور یې هم بده ایسېده او کله، کله به یې په مازې خبره څپېړې ور ته نیولې وې، رڼا به ډېر وخت ما ته ژړل، ویل به یې چې له وهلو ټکولو سره یې اوس روږدې یم، دردونه تېرولی شم، خو د هغه ځینې خبرې مې سوځوي، وایي چې ته ناپاکه یې، د ملک...
جانداد یو دم غلی شو.
جمال په غریو کې وویل:
ـ وایه! وایه، هر څه را ته ووایه! هر څه!
جانداد ځمکې ته وکتل او خپله خبره یې پسې وغځوله:
ـ د ملک له زوی سره جوړه وې، خدایزده چې پانه به لا د چا له ذاته وي.
جمال په چیغو، چیغو وژړل او د جانداد خبرې پرې شوې.

پانې ستر ګې رڼې کړې، کېنا سته او جمال ته یې په حیرانۍ وکتل، هغه په زوته ژړل او د نجلۍ په څېره کې وېره ښکارېدله.
جانداد ورو ولاړ شو، غوټه یې ور واخیسته او له کوټې ووت.
نیم سات تېر شو، د جمال ژړا په سلګیو بدله شوې وه او د نجلۍ له اوښکو ډکې سترګې د لمپې رڼا ته ځلېدلې.
شېبه وروسته جمال څنګ بدل کړ، نجلۍ ته یې پام شو، د هغې تر خړو سترګو تور بانه را تاو وو او ده ته یې په حیرانۍ کتل.
جمال ولاړ شو، بستره یې خلاصه کړه، یوه خیرنه بړستن یې تر کونج ونیوله، بالښت یې د نجلۍ تر څنګ کېښود، لمپې ته یې ور پو کړل او اوږد وغځېد.
یوه شېبه چوپه چوپتیا وه، خو وروسته په تپه تیاره کې د نجلۍ خوبولی غږ واورېدل شو:
_ ته خپل کور ته نه ځې؟
جمال په غریو کې وویل:
_ نه !
د نجلۍ شونډې وخوځېدې:
_تا زما د ابۍ بړستنه درباندې واچوله.
جمال بړستنه په غېږه کې ټینګه کړه، یوه شېبه غلی و، بیا یې په غریو کې وویل:
_دا به له دې ایسته زه را باندې اچوم.

کوم ځواب یې وا نهورېد ، د نجلۍ سترګې سره ورغلې وې ، خو شېبه وروسته یې د جمال پر ټټر کوچنی لاس کېښود او په خوب کې یې وویل.
ـ ابۍ ! را بېرته شه !
جمال د هغې پر کوچني لاس خپل لوی لاس کېښود او فکر یې وو ړ، نجلۍ ویده وه، هغې په منظمه توګه ساه ایسته، خو کله، کله به یې له خولې څخه د ابۍ ټکی را ووت.

☆

د دروازې له کړپ سره، جمال بړستن له سره لیرې کړه، وره ته یې وکتل، په خیرنې دړې پورې یو زنګ وهلي ځنځیر ټال خوړ...ښې لور ته یې مخ واړاوه، نجلۍ نه وه، په بیړه ولاړ شو او له کوټې ووت، هوا سړه وه، لمر لا نه و را ختلی او په اسمان کې لا یو یو ستوري ښکارېده.
وروسته یې انګړ تر نظر تېر کړ، هیڅوک نه و، بیا په ګړندیو ګامونو له چمبره ووت، پاڼه د کلي خواته چټکه روانه وه، منډه یې کړه او د هغې تر مخ ودرېد، نجلۍ په حیرانۍ ورته وکتل، جمال په خوبولي غږ وویل:
ـ چېرته؟
د نجلۍ شونډې وخوځېدې!
ـ رمه پیایم.
جمال یوه شېبه غلی و، وروسته یې د هغې په راوتلي ښۍ اوږه لاس کېښود، ورو یې وویل:
ـ خو اوس یخني ده، وروسته به لاړه شې!

نجلۍ په خواشینۍ ځواب ورکړ:
ـزه هر سهار همدا وخت، رمه له کلي باسم.
جمال په خبره کې ورولوېد:
ـخو له دې هیسته به دا کار نه کوې !
د نجلۍ خوله وازه شوه.
جمال وویل:
ـځان ته دې وګوره ! تا یوازې یو کمیس اغوستی دی، درځه !
ناروغه به شې !
د نجلۍ په سترګو کې اوښکې را ټولې شوې، په خواره خوله یې
وویل:
ـنو ډوډۍ به له کومه کوو ؟
جمال په ځیر ځیر ورته وکتل، پر غومبرو یې د بېګانیو اوښکو
لیکې ښکارېدلې، د هغې لاس یې پرېښود، نجلۍ روانه شوه،
جمال پسې وکتل، هغې ګړندي ګامونه اخیستل، سر ته یې د کلي د
کورونو له دودکښو څخه تور دودونه پورته کېدل او له نري باد
سره د سوځېدلو ترخو بوی ملګری و.
کله چې لمر راوخوت، هوا توده شوه، مرغۍ وچونېدې او کلیوالو
خپل مالونه لمر ته وترل، جمال هم له زاړه چمبره ووت، تر غرمې
ورک و او کله چې بېرته په انګړ کې ودرېد، یوه ډکه کڅوړه ورسره
وه، ده په لوړ غږ د پاڼې نوم واخیست، نجلۍ په بیړه له کوټې را
ووته، سړي ته یې وکتل او په چوتره کې حیرانه ودرېده.

جمال کڅوړه پر ځمکه کېښوده، پاڼې ته یې مخ ور واړاوه، د هغې په لاس کې وچه ډوډۍ ښکارېدله او ژامه یې ورو ورو خوځوله، جمال کڅوړې ته لاس کړ، کېک، کلچې، چاکلیټ، څو قوطۍ او داسې نور خوراکي مواد یې پر خپل څادر کېښودل، چې نجلۍ تر دې دمه نه وو لیدلي، وروسته یې پاڼې ته وکتل او ویې ویل:

ـ دامې تا ته راوړي دي.

نجلۍ د پلاستیک په رڼو خلطو کې بندو کلچو ته وچې سترګې نیولې وې، جمال یوه غوټه خلاصه کړه، څو کلچې یې هغې ته ونیولې، نجلۍ په بیړه وچه ډوډۍ پر څادر کېښوده، کلچې یې ور واخیستې او د هغو په خوړلو لګیا شوه، وروسته یې په ډکه خوله وپوښتل:

ـ هاغه څه شی دی؟

جمال وویل:

ـ د دې قوطیو په منځ کې پخه لوبیا ده او دا نور د ماهیانو له غوښو ډک دي، یوائځې تودول غواړي او بس!

دا وخت یو زنګ واورېدل شو، جمال جیب ته لاس کړ، مبایل یې راویست او غوږ ته یې ونیو، ده خبرې کولې...پوره یو پاو وغږېد، خو پاڼه یې په خبرو نه پوهېده، دې ته دا ژبه نوې وه، یوائځې یې د جمال څېرې ته کتل، په لومړیو کې د هغه تندي ګونځې درلودې، خو وروسته یې پر نریو شونډو یوه لنډه موسکا تېره شوه، مبایل یې په جیب کې واچاوه، پاڼې ته یې وکتل او کلچو ته یې اشاره وکړه:

ـنوري غواړې؟
نجلۍ غلې وه.
جمال پلاستيک ور بېرته کړ، نجلۍ لاس ور وغځاوه، دوه کلچې يې ور واخيستې، جمال ته يې وکتل او ويې پوښتل:
ـدا بازمامد ته ورکم؟
جمال د هو په نښه سر وخوځاوه، نجلۍ کلچې په خپله لمن کې واچولې، روانه شوه او ديوال ته ولاړه نرۍ لښته يې ور واخيسته.
جمال وويل:
ـاوس خو دا دی خواړه لرې، بيا ولې رمه پيايې؟
نجلۍ د دروازې خواته حرکت وکړ.
جمال پسې ناره کړه !
ـزه به له جانداد سره خبرې وکم.
پاڼه له چمبره ووته، جمال هم کوټې ته لاړ، اوږد وغځېد او شپه وروسته خوب يوووړ، کله چې يې سترګې رڼې کړې تياره وه، ورو يې د نجلۍ نوم واخيست:
ـپاڼې !
کوم ځواب يې وا نهورېد، ولاړ شو، له کوټې ووت او بام ته وخوت، کلي ته يې وکتل، د سپوږمۍ په رڼا کې کورونه سپېره ښکارېدل او په خړ ډاګ کې هيڅوک نه و.
يوه نږدې غږ يې پر زړه لړزه راوسته:
ـ ته ولې بام ته ختلی يې !

په بیړه یې لاندې وکتل، پاڼه د بوال ته نیږدې ولاړه وه، جمال یو سوړ اسوېلی وویست، نجلۍ روانه شوه، دروازې ته یې لاس ور وغځاوه او انګړ ته ننوته، جمال یوه شېبه ولاړ و او بیا له بامه کښته شو، کله چې یې د کوټې دروازه خلاصه کړه، لمپه لګېدلې وه او نجلۍ هم د زاړه صندوق پر سر وچه ډوډۍ ایښودله، جمال ورو وویل:

ـ ولې ناوخته شوې؟

نجلۍ مخ ور واړاوه، خړې غټې سترګې یې ژیړې رڼا ته وځلېدې او په خواره خوله یې وویل:

ـ یوه مېږه لنګه شوه.

ـ نو تا څه کول؟

د نجلۍ شونډې وخوځېدې:

ـ د بازمامد پلار او مور دواړه په ګوډله (غوجله) کې وو، کله چې ورې پیدا شو، بیا یې وچه ډوډۍ راکړه.

جمال څه ونه ویل، د یوه قوطي سر یې خلاص کړ، پخه لوبیا یې په کاسه کې واچوله او کاسه یې پر خپل څادر کېښودله، وروسته یې وچې ډوډۍ ته لاس ور وغځاوه، نجلۍ ته یې وکتل او ویې ویل:

ـ لاس دې پاک دي؟

نجلۍ ولاړه شوه، له کوټې ووته او شېبه وروسته یې د سړې تر مخ پلتۍ ووهلې.

جمال په ډکه خوله وویل:

ـخوند يې بد نه دی، يو اځې سړه ده.
نجلۍ کاسې ته لاس ور تېت کړ، چوپه چوپتيا وه، د دوارو ژامې خوځېدلې، خو شېبه وروسته د جمال غږ واورېدل شو:
ـ ډېره زړوره يې؟
نجلۍ هغه ته وکتل، بېرته يې سر وځړېد.
جمال وويل:
ـ په دښته کې ونه وېرېدې، تياره وه.
نجلۍ په وره ژبه وويل:
ـله څه شي؟
جمال وخندل:
ـله بلاوو
نجلۍ له پاستي يوه کوچنۍ ټوټه ور بېله کړه، پرته له دې چې سړې ته وګوري، شونډې يې وخوځېدې:
ـما ډېرې شپې ابۍ ته دوا ورکوله، هغه د ولاړېدو نه وه، د شپې به مې اوبه ور ته راوړلې، دباندې به وتم، خو ما څه ونه ليدل.
نجلۍ يوه شېبه غلې شوه، ګوله يې تر ستوني تېره کړه او پرته له دې چې له کاسې څخه سترګې واړوي ورو يې وويل:
ـيو اځې يو وار يوه سپي وډاره کړم، هغه د هليز ته راغلی و، توره شپه وه، لکه چې يې پر لکۍ ور وختم، سپي کوړنج وهل او ما هم ناره کړه، بيا مې څه نه دي ليدلي، خو باز مامد ډاريږي، له ماښامه هيسته يې مور بولو ته بيا يې.

جمال وخندل:
ـ ته له کومه وپوهېدې؟
نجلۍ په غرور وویل:
ـ ما په خپله واورېدل، له خپلې مور سره یې جنګ و، رمه یې نه پیایله، مور یې ورته ډونګېده چې پانې ته وګوره ! تر تا وړه ده، خو بیا هم د کور ټول کارونه ور په غاړه دي، خو ته زاولن ( لټ او ډارن ) لا بولو ته ګوښی نه شې وتلای، زه درته ولاړه یم.
جمال وخندل.
نجلۍ سر پورته نه کړ.
د جمال شونډې وخوځېدې:
ـ ډوډۍ نه خورې؟
نجلۍ د سر په ښورولو سره منفي ځواب ورکړ.
جمال کاسه څنګ ته کېښوده.
پانې په حیرانۍ وویل:
ـ تا دعا ونه کړه !
جمال هغې ته وکتل.
د نجلۍ شونډې وخوځېدې:
ـ ابۍ ویل چې دعا ثواب لري.
جمال بالښت ته لاس ور وغځاوه، ستوني ستغ پرېووت او چت ته یې وکتل.
وروسته یې ورو وویل:

ـابۍ دربانديې ګرانه وه؟
نجلۍ غولي ته وکتل، خو شېبه وروسته چې يې سر پورته کړ، په خړو سترګو کې يې اوښکې رغړېدلې، بيا يې په وړه ژبه وويل:
ـزه به له ابۍ سره ګډه ويدېدم، هغې به ښکلولم، ويل يې چې راباندې ګرانه يې ، ژړل به يې، خو کله، کله به يې نکل هم را ته وايه، د ابۍ مې يو ائې يو نکل زده و.
جمال په بيړه وپوښتل:
ـد مومن خان او شيرينو نکل؟
نجلۍ په حيرانۍ وپوښتل:
ـتا ته چا ويل؟
جمال يوه ترخه خندا وکړه، يوه شېبه غلی و او بيا يې شونډې وخوځېدې:
ـپيريانو.
نجلۍ څه ونه ويل.
جمال وپوښتل:
ـنور؟
ـڅه؟
ـنو ابۍ دې دربانديې ګرانه وه ! هه !
نجلۍ لنډ ځواب ورکړ:
ـهو !

له دې سره ولاړه شوه، خیرنه توشکه یې وغوړوله او زړه بړستن یې وربانديې واچوله.
جمال وویل:
ـ خوب درځي؟
نجلۍ غلې وه.
جمال ځنګ بدل کړ، لاس یې له لمپې سره ولګېد او لمپه رڼګه شوه.
هیڅ هم نه ښکارېدل، جمال پر غولي ګوتې وتپولې، لمپه یې ودروله او کله چې یې اورلګیت ورته ورته کړ، پر خړو دېوالونو ژېړه رڼا ولګېده، نجلۍ ته یې وکتل، هغه ناسته وه، جمال ورو وویل:
ـ لاس مې ورسره ولګېد.
نجلۍ بېرته پر خپل ځای پرېوته، شېبه وروسته یې خړې شونډې وخوځېدې:
ـ ښه شو چې کور و نه سوځېد.
جمال وویل:
ـ داسې ژر؟
د نجلۍ شونډې وخوځېدې:
ـ همدې لمپې زموږ ټوله کا دانه را وسوځوله.
جمال هغې ته وکتل، نجلۍ تر غاړې پورې په بړستن کې پټه وه، اوږده بانه یې نېغ ولاړ وو او د چت تورو لرګو ته یې کتل، وروسته یې په مړاوي غږ وویل:

ـزما پلار به هر مازدیگر کا دانې ته تلو ، همدا لمپه به یې هم ورسره وړله، ما یوـ دوه واري لیدلی و ، له لمپې نه به یې شیشـه لـرې کـړې وه، اور ته به یې یو کاغذ نیـولی و ، د کاغـذ لـه سره بـه سـپین لـوګی پورتـه کېـده ، پـلار بـه مـې همـدا لـوګی د قلـم پـه نلکـې کشـاوه او کله، کله به یې ټوخل.

یو ماخستن کا دانې اور واخیست، موږ غوا نه درلوده، پـه کـا دانـه کې مو د پروړې او وچې رشقې پر ځای ځوځ ایښودل، همدې ځوځو اور واخیست، ابۍ مې ژړل، له څاه نـه یـې ژرژر او بـه را ایسـتلې او پـر اور راګرځېـده، خـو اور مـړ نـه شـو ، تـر څـو چـې کلیـوال راتلـل، کادانه پاکه وسوځېده، هېڅ هم پاتې نه شو ، سهار مې د لوټو او ایرو په منځ کې همدا لمپه پیدا کړه، شیشه یې نه وه، لمپـه هم تکـه توره ښکارېدله، خو ابۍ مې خپـل ټکری پرې تیر کړ او ویـې ویـل چې کار ترې اخیستی شو.

ابۍ مې را زده کـړل چې د کېنا ستو او ولاړېدو پـه وخت کـې څنګـه خپله لمن را ټوله کړم، ځکه لمپې شیشه نه درلوده، د ټکري پـه بـاد به هم مړه کېده او موږ ډېر پام ورسره کاوه.

بیا مې پلار مړ شو ، هغه ډېر ډنګر و ، یوه شپه کور ته نه راغی، ابۍ مې ژړل، زه یې ماخستن د ملاصیب کره ورولېږلم، هغـه د جومـات پـه لاسپیکر کې څه وویل، بیا کلیوال راغلل، له ډېرو سره لاټینونـه وو ، دوی له جوماته ووتل او زما پـلار یـې پـه زړه کـلا کـې پیـدا کـړ.

سرو سره ویل چې مړ دی، بیا یې په څادر کې کورته راووړ، ابۍ چیغې وهلې او خپل تور ویښته یې شکول.
په هغه شپه زموږ کور ته څو ښځې راغلې، لمپه به ژړ، ژړ مړه کېدله او په سبا یې د بازخان مور همدا شیشه را ته راوړه.
نجلۍ غلې شوه.
جمال وپوښتل:
ـ پلار دې درباندې ګران و؟
د نجلۍ تندی تریو شو:
ـ ابۍ یې ډېره وهله، په مازي خبره به یې تر ویښتو نیولې وه، ما ته به یې هم څپېړې را کولې، ما به ژړل، خو ابۍ به راته ویل چې خیر دی. خوا مه بدوه، هغه دې پلار دی، په زړه کې یې څه نشته.
نجلۍ وټوخل، بیا یې خپله خبره پسې وغځوله:
ـ پلار مې خشکې را ته کولې، ویل یې چې له تا مې ورټ کیږي، زه نه پوهېږم ! خدازده ! خو ابۍ به را ته ویل چې ته ورباندې ګرانه یې.
بیا به یې مخ را نه واړاوه، خو زه پوهېدم چې هغه ژاړي.
ابۍ به مې ډېر وخت د ماخستن لخوا ژړل، ما به د بړستنې له چولو ورته کتل، دې به یو کوچنی عکس سترګو ته نیولی و، له عکس سره به یې خبرې کولې، بیا به یې عکس پر خپل ټټر پورې ونیو او له سترګو نه به یې اوښکې توېدلې، ما دا هر څه لیدل، تر ناوخته به ویښه وم، خو بړستن مې له سره نه پورته کوله، پر ابۍ مې دا عکس

ډېر ګران و، د ورځې به یې په صندوق کې ایښوده او د شپې به یې ورته ژړل، خبرې به یې ورته کولې او کله، کله به یې ښکل کړ.
نجلۍ غلې شوه، بیا یې جمال ته مخ ورواړاوه، ورو یې وویل:
_تا ولې هغه عکس وخوړ؟
جمال پر خپل مخ بړستن ورکش کړه.
نجلۍ په بیړه وویل:
_ته ولې ژاړې!
کوم ځواب یې وا نه ورېد.
د نجلۍ شونډې وخوځېدې:
_ما ولیدې، تا ژړل.
سړي څه ونه ویل.
نجلۍ هم په بړستن کې خپل مخ پټ کړ، خو شېبه وروسته چې یې له یوې وړې چولې جمال ته وکتل، د هغه مخ لوڅ و، سترګې یې د لمپې رڼا ته ځلېدلې او له ځان سره ورو، ورو سونګېده.

☆

دوه ورځې وروسته جمال او پاڼه له کلي ووتل، څوک و نه پوهېدل چې دوی چېرته لاړل، یوا ځې یوه موټروان څو کلیوالو ته ویلي و چې ډاکټر او د خیرو چرسي لور یې د غزني په ښار کې د کابل تر اډې پورې ورسول، بیا یې موټر را تاو کړ او نور ونه پوهېد چې پر کومه روان شول.

خو یوه اونۍ وروسته چې کله کلیوال د سهار په خړه کې له جوماته را ووتل، د ګوښي ولاړ زاړه چمبر له یوه کونجه لوګی پورته کېده.

د هوا له تودېدو سره سم جاندا او باز محمد زاړه چمبر ته ورغلل.

جمال شکېدلي بړستني لمر ته هوارولې او پاڼې هم یوې ښایسته نانځکې ته کوچني بوټونه ور په پښو کول.

نجلۍ پاکه وه، جامې یې نوې وې، پر غومبرو یې سرخي پیدا شوې وه او ویښته یې لمر ته برېښېدل.

جمال خپل پخواني ملګري ته غېږ ورکړه، بازمحمد یې هم پر تندي ښکل کړ او درې سره پریوه هواره شوې تو شکه کېناستل.

لویانو خبرې کولې، خو د بازمحمد تندی تریو و او په خشکه یې د نجلۍ په لاس کې نیولې لوبې او ښایسته نانځکې ته کتل.

دوی تر ډېرو کېناستل، بیا جمال پر یوه کوچني کاغذ و لیکل.
" غواړم چې خبرې درسره وکړم، هیله کوم، په برج کې به د څراغ رڼا، ستا د رضایت نښه وي. "
وروسته یې کاغذ باز محمد ته و نیو او ویې ویل چې ګلالۍ ته یې ورو سپاره.
جمال ماخستن ناوخته خپل څادر تر ځان تاو کړ، له انګړه ووت، خو کله چې یې له لیرې د کلا لوید یځ کونج ته وکتل، په برج کې یې کومه رڼا و نه لیده.
یوه اونۍ وروسته یې یو بل کاغذ بازمحمد ته ونیو، خو داځل یوازې دوه ټکي پکې لیکل شوی وو.
" زه سبا ځم، غواړم چې درسره ووینم. "
ماخستن ناوخته په برج کې خپه رڼا ښکارېدله، جمال پینځه دقیقې وروسته د کلاه لویې دروازې ته ولاړ و، ده ورو دروازه خلاصه کړه، د کلا شمال دېوال ته ولاړې کوټې وېروونکې ښکارېدلې.
جمال د برج پر زینو وخوت، دړه یې ورو پورې وهله، ګلالۍ د غوړو پر یوه ټیم ناسته وه، پر اوږو یې یو پنډ کوټ پروت و، د کوټ لستوڼي ځړېدل او د څراغ تر څنګ یو پاسپورت ایښی و.
ګلالۍ هیڅ حرکت و نه کړ، ځمکې ته یې کتل او په تندي کې یې ګونځې ښکارېدلې.

جمال هغې ته مخامخ، د خرې پر زړه کته کېناست، ګلالۍ ته يې وکتل، د څراغ رڼا يې پر نيمايي مخ لګېدله او پر سپينه زنه پورې يې يوه رڼه او ښکه ځورېنده وه.
جمال پاسپورټ ور واخيست، پاڼې يې سره واړولې، پاسپورټ يې په جېب کې واچاوه، ورو يې وويل:
ـ نو ته نه ځې !
ګلالۍ غلې وه.
جمال ولاړ شو، د دريڅې تر څنګ ودرېد، په اسمان کې راڼه ستوري ځلېدل او د دوو ـ دريوو کورونو څراغونه لا بل وو، پرته له دې چې ګلالۍ ته وګوري، شونډې يې وخوځېدې:
ـ ښه مې نه ګڼله چې تا ته د خپل تېرژوند کيسه ووايم، ما پر خپلو تېرو يادونو خاورې اړولې وې، خو اوس چې را برسېره شوې، مجبوره يم چې سپين درته وغړېږم، وروسته ستا خوښه، ته پرېکړه وکړه، هر څه چې ته غواړې، زه يې منم، خو لومړی بايد زما خبرې واورې !
ګلالۍ غلې وه.
جمال يو سوړ اسوېلی ويست، ورو يې وويل:
ـ زه کوچنی وم چې زما دوه ورونه مړه شول، دوی تر ما مشران وو، يو دوه کاله او بل هم درې نيم کاله، د هغوی څېرې مې سمې نه دي په زړه، هر څومره چې فکر وکړم، د هېر شوي خوب غوندې يې په

یاد نه شم راوړلای، مور مې را ته ویل چې تاسو درې سره، په یوه وخت شري ونیولئ، دوی مړه شول او ته خدای ژوندی پاتې کړې.
زه ورو، ورو لوېدم، بیا داسې وخت هم را ورسېد چې د لمبېدو په وخت به مې پرتوګ اغوست، په پنځه کلنۍ کې مې پلار جومات ته ولېږلم او په شپږ کلنۍ کې یې د مکتب کتابونه را ته ونیول.
پلار مې جدي سړی و، ډېر یې نه خندل او زما نه په زړه کېږي چې کله دې یې زه ښکل کړی یم، خو په زړه کې ورباندې ګران وم، په دې خبره هغه وخت وپوهېدم چې یوه شپه ناروغه شوم، ښه مې په زړه دي، پلار او مور مې تر سهاره راته ناست وو او ما په لومړي ځل د پلار په سترګو کې اوښکې ولیدې.
پلار مې نالوستی و، مکتب یې نه و ویلی، خو په حساب کتاب ښه پوهېده، د خوراړونو حاصلاتو ذکات به یې د خپلو ګوتو په شمېرلو را ایست او د پیسو په ګڼلو (شمیرلو) کې تکړه و.
زموږ ځمکې ډېرې وې، ځانته کاریز مو درلود او د ځمکو کرل، رېبل او اړول د یوه دهقان له وسه وتلې خبره وه، په ځمکو کې به درې جوړې غوایي کرځېدل.
پلار مې په ځوانۍ کې ښکلې څېره درلوده، هدوړ سړی و، چنګ برېتونه یې لرل او ځان یې ښه ساته، ده یو سپین اس درلود چې خالو یې باله، دا اس پر پلار ګران و او کله، کله به ښکار ته پر اس سپور تلو، خو وروسته جګړې زور ونیو، پلار مې ټوپک وتاړه او له څو نورو کلیوالو سره غره ته وخوت.

دی به ډېر کم کور ته راته، کله کله به د شپې را ښکاره شو او سهار په خړه به له کلاه ووت، کور ما ته را پاتې و او د حاصلاتو داخستلو په وخت به د هقانانو زه پټې ته ورغوښتم، هغه وخت د نهو کالو وم، په دې کارونو دومره نه پوهېدم او دا رنګه حسابونو خوند نه راکاوه، ډېر وخت به مې په لوبو تېراوه، خو کله کله به مې د پلار له وېرې د مکتب کتابونه هم را اخيستل، موږ به د جومات ترونو لاندې سبق وايه. معلمان مو د نږدې کليو او سېدونکي وو او پلار به مې له هغوی څخه زما د سبقونو په اړه پوښتنې کولې.
يوه ورځ مې په پټيو کې يو سړی وليد او وروسته وپوهېدم چې هغه زموږ نوی دهقان دی، دی ملنګ نومېده، په عمر پوخ، جګ او هډور سړی و، لمر سوځولې څېره يې درلوده او دمټو غوښې يې سره تاو شوې وې.
څه موده وروسته نوي دهقان خپله کډه راوسته او په دښته کې يې زموږ په زاړه چمبر کې واړول.
په هغه ورځ مې مور له څو پاستو سره، يوه کټوه مستې راکړې، را ياده يې کړه چې دا د نوي دهقان کور ته يوسه، د دوی کډه نوې راغلې ده او غرمې ته به يې څه نه وي پاخه کړي.
دروازه يوې کوچنۍ نجلۍ راته خلاصه کړه، شپږ کلنه به وه، هغې غټې خړې سترګې درلودې او تر سترګو يې تور او اوږده بانه را تاو وو.
ما په لومړي ځل رڼا وليده.

جمال غلی شو ، ستورو ته يې وکتل، سترګې يې څو ځله ورپـولې او خپلې خبرې يې پسې وغځولې:

رڼا به کله، کله له خپلې مور سره زموږ کره راتلله، مـور يـې ګردی ښځه وه، پراخ تندی يې درلود او خوله يې له خندا نه سره ور تله، دې به زما له مور سره خبرې کولې، هغه ديندار ه ښځه وه، د لرګي تسبې به يې اړولې او د پيغمبرانو ځينې کيسې يې زده وې، ويل يې چې د ملا لور ده او د دين ځينې خبرې ور مالومې دي.

مور به مې غوږ ورته نيولی و او له هغې سره يې سات تېر و ، خو رڼا به له ما سره ناسته وه، هغه مې نه خوښېده، شوخه وه، خبرې يې ډېرې کولې او زه به يې لوبو او درسونو ته نه پرېښودلم.

خو وروسته به يې راتلو ته خوشاله وم، دا نه چې رابانـدې ګرانـه وه، په زړه کې مې د پخوا غونـدې نه وه ورسره جوړه، خو نجلۍ ډېره منونکې وه، هره خبره يې منله، کله به مې بيزو ورنه جوړه کړه، کله پيشو او کله هم خره، خپل کتابونه به مې پرې بارول، دې به هـيڅ نـه ويل، خندل به يې او ژړ نه مرورېده، ما به ځورولـه، څپېړې بـه مـې ورکولې، خو رڼا به خپلې مور ته څه نه ويل.

خو وروسته چې به زموږ کور ته را نه غله، له زړه به ورپسې خپه وم، بيا زه هم ور روږدی شوم، د هغوی کور ته به ورتلم، پلار يې مهربانه سړی و ، د هغه تر مخ به مو منډې وهلې، ساتيري به مو کولـه، يـو-دوه ځله مو ډ کې پيالې واړولې، خو ده هيڅ خشکه نه کوله،لويه حوصله يې درلوده او کله، کله به يې زما پر سر لاس تېراوه.

دا یوه کوچنۍ کورنۍ وه، مور، پلار او یوه لور، دوی نېستمن خلک وو، پردی ځمکې یې کرلې، خو بیا به یې هم خندل او له وچې ډوډۍ او چایو به یې خوند اخیست، ما خپل کور هیڅوخت دا سې خوشاله نه و لیدلی.

رڼا ورباندې ګرانه وه، هغه یې غم ته نه ورکوله، پاکه یې ساتله او ان د خولې ګوله به یې هم ورباندې لوروله.

زه او رڼا به کله، کله په کا دانه کې د وچې رشقې سر ته ختلو، لاندې به پروړه اوار وه او د ټوپ وهلو پر وخت به نه ژوبلېدلو، وینښته او جامې به مو له خلو ډک شول، خو د هغې مور به هیڅکله خشکه نه ور ته کوله، په ناز به یې د رڼا پر سر لاس کېښود او په لنډه شېبه کې به یې جامې ور بدلې کړې.

دوی یوه اوزه درلوده، رڼا به کله، کله پټیو ته بېوله، زه به هم ورسره وم او موږ به ډېر وخت په لوبو تېراوه.

یوا ځې یوه اوزه وه، دومره سر به مو نه پسې ګرځاوه او که به د چا پټیو ته ورګډه شوه، بیا یې هم باک نه و، خوا یې نه بدوله.

موږ خوشاله وو، غم مو نه پېژانده او کله، کله به مو په جنت کو کیو (سپینو پتنګانو ) پسې منډې وهلې، د لوبو سامان ته مو هم کوم ضرورت نه درلود، ان هډوکي به مو هم په درد خوړل کېدل او له ځمکې څخه یې د چنجیو د را ایستلو لپاره ښه کار ورکاوه.

لوږه مو نه پېژندله، منډې به مو وهلې، پوندې به مو د وښو له لاسه تکې شنې وې او د شوتلو له خوړلو به مو خوند اخیست.

مور ږ زړور وو، بمبري ( غومبسې ) به مو بوتولې ( کرولې )، بیا به د ونو تر شا غلي شوو او په هغو لاروېو پسې به مو پټ پټ خندل چې له غومبسو څخه به یې منډه اخیسته.

مور ږ ورو ورو لوېدلو، د پخوا غونډې به مکتب ته تلم او له رڼا سره به مې لوبې کولې، بیا یو وخت د مکتب له درسونو سره، زمور ږ کور ته یو معلم هم را ته، دی په انګریزي ښه پوهېده، ماشومان یې هم د کلي تر نورو هلکانو پاک وو او هر چا ته به یې سلام وایه، دی ماموړ غفور نومېده او خلکو ویل چې د کابل له جګړو څخه را تښتېدلی دی.

زه نه پوهېدم چې د پلار مې ولې یو دم انګریزي ته پام شو، ده به هڅولم چې انګریزي زده کړم، د دې ژبې مختلف کتابونه یې را ته راوړل او څه موده وروسته یې له پاکستان څخه د انګلیسي فیتې (کسټې) هم را ته راوغوښتې.

ما به ډېر وخت خپل درسونه ویل، خو بیا به مې هم لوبو ته وخت درلود، رڼا به مې لیده او تر خبرو مو خندا ډېره وه.

زه به د پخوا غونډې د دوی کور ته ورتلم، پر ملنګ او د هغې پر مېرمنې ګران وم او کله، کله به یې د اوزې یو یو ګیلاس شېدې هم را باندې څښلې.

ملنګ تکړه سړی و، ټوله ورځ به یې کار کاوه، زحمت یې ایست او ستړی به و، خو هیڅکله یې له ژونده تر خه خوله نه وهله، کومه برخه ځمکه چې به ده کرله، حاصلات به یې تر نورو دهقانانو ښه و، زمور ږ

بېګار به يې هم وور، بامونه به يې را ګلول، ژرنده به يې را کوله او په ژمي کې به يې زموږ د کوټو له سرونو څخه واوره اچوله.
دی زما پر پلار هم ګران و، په کمه بيه يې خپل زوړ چمبر ورکړ او ژمنه يې ورسره وکړه چې له دهقانۍ څخه به يې نه باسي.
جمال غلی شو، بېرته ګلالۍ ته مخامخ د خرې پر کټه کېناست، هغې ته يې وکتل، د پښوا غونډې ځوړند سر ناسته و، جمال ورو وويل:
ـ رڼا لس کلنه وه چې د هغې پلار مړ شو، هغه وخت زه په اوم صنف کې وم، تر ونو لاندې مو سبق وايه چې يو دم چيغې شوې، شېبه وروسته مو معلم رخصتي اعلان کړه، زه هم په لويانو پسې له کلي ووتم، نه پوهېدم چې څه خبره ده، خو له زاړه چمبره د رڼا د مور چيغې را تللې، کله چې هلته ورسېدم، په انګړ کې يو ځوک پروت و، پښې يې له څادره راوتلې وې او ما له خيرنو پايڅو څخه وپېژاند چې د رڼا پلار دی.
ملنګ له ونې را لوېدلی و، ده اوزې ته پاڼې را تويولې چې ښاخ مات شوی و او د دوو ولېو منځ يې يوه تيره مونډه ته برابر شوی و.
په هغه ورځ مې په لومړي ځل د رڼا چيغې واورېدلې، هغې ژړل، خړې سترګې يې سرې وې او ځان يې له ځمکې ځمکې ويشت.
له هغه وروسته د دوی کور ته غم لاره وموندهٔ، خندا ورکه شوه او د رڼا د مور تندی به تل له ګونځو ډک و.

زه به د ښخوا غونډۍ د هغوی کور ته ور تلم، خو نه د لوبو لپاره، په دې خاطر چې د رڼا پام غلط شي او د یو څو شېبو لپاره خپل غم هېر کړي، ما به هغې ته د کیسو کتابونه ویل او په ټولو کې یې د مومن خان او شیرینو نکل خوښ و.

د رڼا مور به څه نه راته ویل، خپلو غمونو په سر اخیستې وه او د هر وخت به چورتي ښکارېده، هغه په دریو کلونو کې بوډۍ شوه، سر یې سپین شو او تر سترګو یې یوه توره حلقه را وګرځېدله.

رڼا به نور د باندې نه را وته، دا به د هر وخت له خپلې مور سره ناسته وه، ګرېوانونه به یې ګنډل او له دې لارې به یې یوه ګوله وچه_لنده پیدا کوله.

وروسته یې د مور په خوی کې یودم بدلون راغی، زما ورتګ به دومره ښه نه ورباندې لګېده او کله چې به ما او رڼا خبرې سره کولې، تندی به یې تریو و.

بیا یې یوه ورځ سپین را ته وویل چې اوس ژنی یې، رڼا هم لویه ده او دلته ستا راتګ ښه نه بولم.

هغه نه وه ګرمه، په کلیوالي ژوند کې که یو شپاړس کلن زلمی له یوې دیارلس کلنې نجلۍ سره ناسته ولاړه ولري، د نجلۍ نوم بدېدی شي.

زه یوه اونۍ د هغوی کور ته نه ورغلم، دا زما لپاره د هر وخت و، نه پوهېږم چې ولې مې د خوابدون احساس کاوه، زما زړه په رڼا پورې تړلی و او د هغې له لیدو پرته پر سره انګار ناست وم.

ما یوه کلکه بانه پسې غوښته، په لومړي ځل مې له کوره غلا وکړه، ځلور ـ پنځه منه غنم مې په جوال کې واچول او یو زبېږ مازدیګر زاړه چمبر ته ورغلم، رڼا له څا څخه اوبه را ایستلې، کله چې یې راته وکتل، غټې خړې سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، په خوله یې څه را نه وړل، خو په سترګو کې یې یو کتاب خبرې وې، د هغې مور ته مې جوال ونیو او په خواره خوله مې وویل چې دا غنم مې مور درته را ولېږل، هغې جوال ورواخیست، خو څه یې ونه ویل.

بیا روان شوم، له دروازې لا نه وم وتلی چې بې اختیاره مې ورمېږ کوږ شو، رڼا هماغسې ولاړه وه، ما ته یې کتل او په سترګو کې یې پوهولم چې دا هم را پسې خپه ده.

یوه اونۍ نوره هم ووته، زړه مې نیولی و، تېکه نه راتله، رڼا به مې تل په زړه کې ناسته وه، بیا مې لمونځونو ته زور ورکړ، خو کله چې به خدای ته ودرېدم، په مسله (جاینماز) کې به مې د رڼا خړې غټې سترګې لیدلې.

زه ورو، ورو زهیرېدم، خندا مې هېره شوه، له کاسې څخه به ژر ولاړ شوم او ډېر وخت به د شپې تر ناوخته ویښ وم.

وروسته مې مور ته اندېښنه ورولوېده، پلار مې ډاکټر ته بوتلم، دوا یې راکړه، خو په ځان کې مې کوم بدلون ونه لید، ان د انګریزي معلم مې هم پلار ته شکایت وکړ چې هلک د پخوا غوندې درسونه نه وایي، ده رښتیا ویل، خو زه هم نه وم ګرم، ما چې به په ذهن کې

د انګلیسي کوم لغت سره وا ړاوه، رڼا به تـرې جوړېده، ر، ڼ، ا ( رڼا ).

پوره اتلس ورځې مې رڼا ونه لیده، ما پـه دې مـوده کې جامې نـه کړې بدلې، تر اوبو ونه وتم، وېښته مې ببر وو او لـه تخرګونو څخـه به مې سوړ بوی پورته کېده.

بیا یوه غرمه ناڅاپه له کلاه ووتم، په رڼا ورځ زاړه چمبر تـه ورغلم، دروازه خلاصـه وه او رڼا لـه خپلې مـور سره پـه چوتره کې بړسـتن ګنډله.

د دوی را تـه پام نه و، خپل کار یې کاوه، رڼا تـه مې وکتـل، تـر پـخوا ډنګره را ته وایسېده، رنګ یې ژیړ و او خیرنـه ښکارېدله، بیا یـې په یوه چرګه پسې لوټه وویشته، چرګې لـه بړستنې منډه واخیستـه او رڼا ماته وکتل.

دا وارخطـا شـوه، ژر یـې ځـای بـدل کـړ، د خپلـې مـور تـر مخـې کېناستله، د رڼـا را تـه شـا وه او زه یـې د خپلـې مـور لـه دیـده پـټ ساتلم.

یو ګام څټ تـه شـوم، بېرتـه مـې د کلي خـوا تـه مخـه کـړه ، خـو شـېبه وروسته چې مې زاړه چمبـر تـه مـخ ور واړاوه، رڼا د بـام پـر سـر ولاړه وه، ما تـه یې کتـل، ټکری یې پـه غـاړه کې پروت و او تـور وېښـتـه یـې باد یوړ او بلې خوا تـه سره اړول.

دا ځل مې څه موده نورهم صبر وکړ، خو یو تریخ صبر.

ما دومره خبرې نه کولې، غلی وم او هر چا به مې د صحت پوښتنه کوله.
کلیوالو خواخوږي راسره ښودله، یوې بوډۍ سپېلني را ته ولوګول، جانداد د یوناني دوا سپارښتنه را ته وکړه او د کلي د ملاصاحب نظر دا و چې په درنو ځایونو ختلی یې، د پیریانو تاثیر دی او یوائې د تور سیرلي تاویذ دې ښه کولای شي.
بیا به مې پر غاړه یو درې کونجه غټ تاویذ ځړېده، خو زما درد بېل و، چا مرسته نه شوای راسره کولای او خپل زړه مې په خپله خوړ.
خو دا خبره تر ډېره پټه پاتې نه شوه، کلیوال و پوهېدل او ځینو ان لاړې را تو کړې.
جمال ته ټوخی ورغی او خبرې یې پرې شوې، بیا پرته له دې چې ګلالۍ ته وګوري، خپلې خبرې یې پسې وغځولې:
ــد زاړه چمبر دروازې ته مخامخ، شل، دېرش ګامه لرې یو کوچنی خوړ و، په دې ژوره کې به د بارانونو اوبه راتلې او که به څوک پکې ودرېد، تر نامه لاندې به نه ښکارېدل، یو مازدیګر همدغه خوړ ته ورغلم، تمه مې درلوده چې رڼا به د تناره ایرې راوباسي، ما ته د هغې یو ځل لیدل هم ښه و او بیا مې یو څه وخت ګذاره کولای شوای.
زه تر ماښامه هلته ناست وم، کله کله به مې غږۍ اورېده کړه، خو د چمبر دروازه خلاصه نه شوه او په پای کې نا امیده کلاه ته راغلم.
سهار په څړه مې یوې ژړا سترګې رڼې کړې، غوږ مې ونیو، د ژړا غږ اشنا غوندې و او کله چې مې پردې ته کونج ورکړ، زړه مې ولړځېد.

د رڼا مور د کلاه په منځ کې ولاړه وه، هغې ژړل او د مور او پلار
ځيرې مې هم له غوسې ډکې وې.
ما د رڼا د مور خبرې اورېدې، ويل يې چې جمال مې له لور څخه نه
کرارېږي او تېر ماښام زمور د کور تر مخ په خوړ کې چا ليدلی و.
هغې ژړل..خپله بېکسي يې يادوله او کله ،کله به يې له خولې څخه
يوه ــ نيمه ښيرا هم را ووته.
نه پوهېدم چې زه به چا ليدلی وم، خو دا يو حقيقت و ، زه تېر ماښام
د رڼا د ليدو په هيله پوره يو ساعت په خوړ کې ناست وم.
شېبه وروسته بوډۍ په ژړا له کلاه ووته او پلار مې هم د کوټو
خواته را روان شو.
زړه مې سستي راکوله، بې واره درېږده او هغه ګړۍ مې له خدايه
مرګ غوښت.
بله چاره نه وه، بړستن مې پر سر راکش کړه او داسې مې وښودله
چې ما هيڅ هم نه دي اورېدلي.
شېبه وروسته د دروازې کړپ شو، بړستن په شدت را څخه ليرې
شوه، پلار ته مې وکتل، سترګې يې رډې راختلې وې، د خولې په
کونجانو کې يې ځګونه ښکارېدل او په لاس کې يې يوه نرۍ لښته
نيولې وه.
ده چيغه کړه !
ــ دا رښتيا ده چې تېر ماښام د ملنګ د کور مخې ته په خوړ کې
ناست وې؟

ما دروغ نه شو ویلای، پلار مې له دوو شیانو بد وړل، سوچ کوپر ورته ښکارېده، دروغ او ناحقه قسم.
یو وخت زموږ یو درمند وسوځید، لوی درمند و او خواړونه غنم ترې راوتل، پلار مې په غوسه و، دهقان یې راوغوښت، هغه لړځېده، خو خبره یې سپینه وه، ویې ویل چې چیلم یې څکاوه، شاید کوم سوه کی وړباد شوی وي.
پلار مې دهقان ته هیڅ هم ونه ویل، یواځې په دې خاطر چې خبره یې سپینه وه او دروغ نه و پکې ګډ.
ناحقه قسم یې هم نه شو ذغملای، ده له قسم څخه وېره درلوده، قسمونه یې نه خوړل، خو چې په کومه خبره کې به یې قسم له خولې را ووت، بیا یې تاوان ته نه کتل، هر رنګه چې و، قسم یې پر ځای کاوه.
ځکه نو زما سر وځړېد. پر مټ مې نری درد احساس کړ او ورسره مې ځنګ ته د لښتې ماته ټوټه ولوېده، دوهم وار یې را باندې وکړ، لښته مې غاړې ته سیخه شوه، خو کله چې یې دریم ځل لاس پورته شو، مور مې راباندې پرېوته.
پلار مې چیغې وهلې، بد رد یې راته ویل او له خولې څخه یې لاړې بادېدلې.
ما هیڅکله هم پلار دومره په غوسه نه و لیدلی، یواځې څو کاله مخکې یې یوه لښته را کړې وه، هغه هم د لمانځه په سر، خو دومره سپکې سپورې مې په لومړي ځل ورڅخه اورېدې.

پلار مې يوه شېبه ودرېد ، څه چې په خوله ورتلل، هغه يې وويل او بيا له کوټې ووت.
ما ټوله ورځ له کوره دباندې تېره کړه، په فصله کې تر يوې ونې لاندې ناست وم او پر خاورو مې ليکې ايستلې.
ماخستن مې هم پلار ونه ليد ، مور مې کوټې ته ډوډۍ راوړه او وروسته له هغه مې تر نيمې شپې سترګې رڼې وې.
سهار مې په نه زړه د مکتب کتابونه را واخستل، کله چې تر ونو لاندې کېناستم، يو همزولی مې راته موسک شو او بيا يې په ټيټ غږ راته وويل چې مزې دې وکړې، مزې. رڼا....
د رڼا د نوم اخستلو ته مې نه پرېښود ، له سوک سره د هغه له پزې وينو داره وکړه او خبره نوره هم خرابه شوه، هلک هم لاس را واچاوه او څه چې په خوله ورتلل هغه يې وويل، ده وهلم، خو زما لاس او پښې د هغه په خبرو بې سيکه شوي وو.
"ما وليدې، ته په خوړ کې غلې وې،هلته نور څه و؟ هه ! ته د کونډې له لور سره تار لرې، زما له ډېره وخته درباندې پام دی... "
زه بېرته کور ته راغلم، ښۍ ژامې مې درد کاوه او له لاړو سره مې وينه ليدل کېدله.
برج ته وختم، هغه وخت دلته يو زوړ کټ پروت و، اوږد وغځېدم او فکرونو په مخه کړم، ما د رڼا په اړه فکر کاوه، هغه بدنامه شوې وه او ددې بدنامۍ مسول زه وم.

زه تر ډېره پروت وم، فکر مې کاوه او په پای کې دې نتیجې ته ورسېدم چې رڼا به نور غم ته نه ورکوم.
ماخستن مې مور ته وویل چې له رڼا پرته ژوند نه شم کولای.
سهار وختي مې پلار خپلې کوټې ته ور وبللم، دهغه په سترګو کې د کاوړ کومه نښه نه ښکارېده او په مهربانۍ یې له چایو ډکه پیاله رابېرته کړه، دی یوه شېبه غلی و، بیا یې په خوابدي غږ وویل چې زما عزت ته وګوره، شمله مې مه را ټیټوه !
ما یوائې ورته کتل.
ده پخوانۍ خبرې راواخیستې، دخپلو مړو زامنو یاد یې تازه کړ او په ژړغوني غږ یې وویل چې ټوله تمه یې ما ته ده.
بیا یې یوه داسې خبره له خولې را ووته چې ما تر هغه وخته نه وه اورېدلې، ویل یې چې تا به د دولسم صنف له خلاصېدو وروسته لندن ته لېږم، زه له پخوا راهیسې له خپل وروره سره د لیکونو له لارې تماس لرم، موږ خو کاله مخکې لا فیصله سره کړې وه، تا ته به خپله وربېره کوم.
پلار مې خبرې کولې، د هغه شونډې خوځېدلې، خو ما هیڅ هم نه اورېدل او شېبه وروسته پخپله کوټه کې پروت وم.
جمال ولاړ شو، د خپل ځړېدلي څادر پیڅکه یې ورټوله کړه، تر ځان یې تاو کړ، وروسته د کړکۍ ترڅنګ ودرېد، سپوږمۍ نوې راختلې وه او په کلي کې لا د یوه څراغ تته رڼا ښکارېدله.

بیا یې غږې اوږه کړه، وتلی چمبر ګوښې ولاړ و او پر ختیځ د ېوال یې د سپوږمۍ سپینه ڼا لګېدله، وروسته بېرته په خپل ځای کېناست، یو سوړ اسوېلی یې ویست او ورو یې وویل:

ـزه تر هغه وخته په دې نه پوهېدم چې د پلار مې څنګه له انګلیسي سره جوړه وه، خو د هغه خبرو په هرڅه پوه کړم، ده لا پخوا زما د راتلونکي په اړه فکر کړی و.

زه هغه وخت په یولسم صنف کې وم، د منې دوهمه میاشت وه او کلنیو امتحانونو ته لنډ وخت پاتې و، خو ما پرېکړه وکړه چې هیڅکله به دولسم صنف ته ونه رسېږم، بیا مې د کتاب مخ هم ونه کوت، خو د پلار له وېرې به مکتب ته ورتلم.

زه به ډېر وخت یواځې وم، خو کله کله به مې خپل دوه ـ درې د راز همزولي او جانداد لیدل، له دوی سره به کېناستم، هغوی زما په درد خبر و او ملنډې یې نه راباندې وهلې.

بیا مې امتحان ورکړ او نتیجه یې دا وه چې په دریو مضمونونو کې پاتې وم، یوځل مې بیا پلار ته غوسه ورغله، داځل یې لښتې ته لاس نه کړ، خو په ټینګه یې را ته وویل چې د ژمي په رخصتیو کې به د مشروطۍ امتحانونو ته تیاری نیسې !

ژمی راغی، واورې اوورېدې، خو ما د کتاب پاڼه هم وانهړوله، ډېر وخت به پر توده تاوخانه پروت وم، مور به مې نصیحت را ته کاوه، په غیر مستقیمه توګه به یې د خپل خاوند طرفداري کوله،

زما راتلونکي ژوند ته به هیله منه وه او ټول ارمانونه یې په ما پورې تړلي ښکاریدل.
خو زما فکر بل لوري ته و، د ژوند لپاره مې یوه بله لاره ټاکلې وه، داسې یوه لاره چې د پلار او مور مې نه وه خوښه.
د مشروطۍ امتحانونه واخستل شول، ما سپینې پاڼې ورکړې، خو کله چې درسونه پیل شول، نوم مې د دولسم صنف په حاضرۍ کې لیکل شوی و.
حیران شوم، معلمانو ته مې وویل چې ما یوه سوال ته هم ځواب نه و لیکلی، خو دوی ویل چې ته تکړه یې او باید په دولسم صنف کې کېنې.
ما به څه ویل؟ پوهېدم چې دا مې د پلار کار دی او د هغه په خبرو کې معلمانو هیڅ هم نه شو ویلای.
ورځې تېرېدې، پوره پینځه میاشتې مې رڼا نه وه لیدلې، خو د جانداد له خولې به خبرېدم چې تر پخوا زهیره شوې ده، تل ژاړي او مور یې په تریو تندي خبرې ورسره کوي.
یوه ورځ مې د جانداد په خوله هغې ته یو پیغام ور ولېږه:
یا مرګ یا رڼا !
له هغه وروسته به جانداد راته ویل چې د نجلۍ تمه پیدا شوې ده او رنګ یې ورځ په ورځ ښه کیږي.
خو زه ورو، ورو کمزوری کېدم، په نه خبره به غوسه راتله او تر خپله وسه به مې د پلار له دیده ځان پټ ساته.

ځلورنیم میاشتني امتحانونه هم را ورسېدل، خو کله چې نتایج اعلان شول، خوله مې له حیرانۍ نه سره ټولېده، زه په یوه مضمون کې هم پاتې نه وم.
څه موده نوره هم تېره شوه او بیا یوه ورځ چا راته وویل چې زموږ څو تنه کلیوال ایران ته روان دي، بله چاره نه وه، پوهېدم چې پلار مې ضرور د دولسم صنف سند را ته اخلي، خو ما نه غوښتل چې د هغه پلان عملي شي، ځکه مې ایران ته د تګ نیت وکړ او یو خړ سپېده چاود په پټه له کوره ووتم.
له کلیوالو سره د ولسوالۍ په بازار کې ملګری شوم، زموږ موټر ډېر وځنډېد، لمر را وخوت، خو مسافر لا نه وو پوره.
کله چې موټر حرکت وکړ، یوه ټیوټا لنډه راوګرځېده او زموږ لاره یې بنده کړه، په ما پسې مې پلار څو کلیوال را لېږلي وو، خدای خبر چې دی به چا خبر کړی و، خو کلیوالو زما د سفر ملګرو ته وویل چې که مو جمال درسره بوت، نو د ملک عبدالکریم بدي مو مبارک شه.
کله چې کور ته راغلم، پلار مې په چوتره کې ولاړ ولید، تندی یې له ګونځو ډک و او په خشکه یې را ته وویل چې څه غواړې؟
ما هم لنډ ځواب ورکړ:
ــ رڼا!
پلار مې په هماغه شېبه هیڅ ونه ویل، خو د غرمې د ډوډۍ پر مهال یې په کلکه را یاده کړه چې رڼا دې له زړه وباسه! نه زموږ کور کومه

يتيم خانه ده او نه هم ديوې خوارې کونډې لور د ملک عبدالکريم خان کلاه ته را ودېدی شي.
ما يو اځې ورته وژړل، خو ماخستن مې مور ته وويل چې ډېر ژر به دا کور پرېږدم.
له هغه وروسته به مې پلار هره ګړۍ پوښتنه را پسې کوله، په ما پسې يې جاسوسان واچول او ان له ډېرې وړې خبرې به هم خبرېده، دی پوهېدلی و چې نه انګريزي وايم او نه مې هم د مکتب له کتابونو سره جوړه ده، په دې خبره ډېر ځورېده، کله کله به يې خشکه را ته کوله او چې خشکې به کار ونه کړ، بيا به يې په پسته ژبه راته ويل چې زما خير غواړي.
يوه ورځ مې پلار له کوره ووت، يوه اونۍ ورک و ، مور مې راته ويل چې پاکستان ته تللی دی، خو زه يې د تګ په علت و نه پوهېدم، د هغه په غياب کې د کور پرېښودل هم را ته ګران و، خو کله چې بېرته راغی ، په هماغه ګړۍ يې خپلې کوټې ته وروغوښتم، را ياده يې کړه چې له قاچاقبر سره غږېدلی يم، اته لکه کلدارې مې پېشکي ورکړي دي او ته بايد له امتحانه وروسته لندن ته لاړ شې !
پلار مې ډېرې خبرې وکړې، خو کله چې يې خوله سترې شوه، زما نظر منفي و.
يو ځل بيا کاوړ ورغی، سپکې سپورې يې راته وويلې او له خولې څخه يې ځګونه باد شول.

ځو ورځې وروسته یې بیا ور وغوښتم، دا ځل یې تندی غوړېدلی و او په پسته ژبه یې راته وویل چې سمه ده، رڼا به دې کور ته راشي، خو په یوه شرط !

دا چې ما هغه ګړۍ څنګه احساس درلود، نه شم ویلای، خو پوهېدم چې په ژوند کې مې دومره خوشالي نه وه لیدلې، زه د هغه هر شرط ته تیار وم.

پلار مې را یاده کړه چې لندن ته به ځې، دلیل یې دا و چې له یوې خوا یې تاوان شوی او له بل لورې یې په بهر کې د زوی لوڼې زده کړې لویه هیله ده، دا یې هم وویل چې تر اوسه لا دوادة نه یې، رڼا هم کوچنۍ ده او دوه کاله وروسته به دې کوژده او واده یوځای وي.

ما هم شرط ورته کېښود، دا چې کوژده به اوس وي، خو واده ته کلونه صبر کولای شم.

پلار مې په خندا راته وویل چې زما ژبه، ژبه ده، هیڅوخت له خپلې خبرې نه اوړم.

زه په دې پوهېدم، خو د لاډېر ټینګار لپاره مې د قسم د خوړلو ورته وویل.

د هغه په ټنډه کې ګونځې پیدا شوې، یوه شېبه غلی و، ځمکې ته یې کتل، خو بیا یې سر پورته کړ او په خشکه یې راته وویل چې سمه ده ! دغزني په اولیاوو لو ( قسم ) درته کوم.

د پلار په قسم کې مې نور څه نه شو ویلای، د هغه لاسونه مې ښکل کړل او په منډه له کلاه ووتم، جانداد مې خبر کړ، دی هم بې لـه ځنډه زاړه چمبر ته روان شو.
له هغه وروسته مې یو ځل بیا ژوند ته تمه پیدا شوه، له درسونو سره مې زړه وتاړه، تل به مې کتاب مخې ته نیولی و او د مور او پلار منونکی زوی وم.
کلني امتحانونه مې ورکړل او بیا داسې ورځ هم را ورسېده چې په سبا یې باید ما کلی پرېښبی وای.
په هغه ورځ ډېر خواشینی وم، د رڼا لرې والی مې نه شو زغملای، خو کله چې به د پلار قسم را یاد شو، ځان ته به مې تسلي ورکوله او راتلونکي ته به په تمه وم.
ماسپښین مې د جانداد په واسطه رڼا خبره کړه چې غواړم درسره ووینم.
ماخستن ناوخته له کلاه ووتم، د چمبر دروازه خلاصه وه او د رڼا لـه رالیږل شوي پیغام سره سم، باید کا داني ته ورغلی وای، همداسې مې وکړل، تپه تیاره وه، هیڅ هم نه ښکارېدل، زړه مې لړځېده، پر پروړه کېناستم او د رڼا د راتلو په تمه پاتې شوم.
ښه شېبه ووته، بیا مې د پښو ښکالو تر غوږ شو او شېبه وروسته مې یو وارخطا غږ واورېد:
_جماله!

ورو مې وټوخل، دروازه خلاصه شوه او ورسره مې سلګۍ واوریدې، ولاړ شوم، په توره شپه کې مې لاسونه وغځول، ګوتې مې له یو چاسره ولګیدې، ورو ژړا مې واوریده او شیبه وروسته مې د رڼا سر پر ټټر پورې ولګید.
ما په لومړي ځل رڼا په غېږ کې ونیوله، دواړو ورو، ورو ژړل، بیا زه غلی شوم، خو رڼا لا اوښکې تویولې او شیبه وروسته مې ټټر د هغې په اوښکو لوند شو.
وروسته مې د رڼا سر ورو له خپل ټټره بېل کړ، دواړه پر پروړه کېناستو، خو د رڼا سلګۍ نه درېدلې، ښه شیبه نوره هم ووته، رڼا ورو، ورو ژړل او بیا یې په غریو کې وویل چې کاشکې تل وړکتوب وای.
زړه مې درد وکړ، یو ځل مې بیا د رڼا سر خپل ټټر ته رانیږدې کړ او له دې سره د نجلۍ ژړا زور ونیو، ژړا یې نه تم کېده، زما هم سترګې ډکې وې او په دې ژړا کې ډېر وخت ووت.
وروسته رڼا ولاړه شوه، اورلګیت یې ولګاوه او په کونج کې مخکې ایښودل شوې لمپه یې بله کړه.
په بیړه مې وره ته وکتل، د دړې له چولو څخه رڼا وتله، ولاړ شوم او خپل څادر مې په وره پورې را وځړاوه.
بېرته پخپل ځای کېناستم، نجلۍ ته مې وکتل، ډنګره شوې وه، خو ښکلې ښکارېده او تر غټو خړو سترګو یې تور او اوږده باڼه را تاو وو.

زه تر ډېرو هلته کېناستم، له رڼا سره مې خبرې وکړې، په وار، وار مې د خپل پلار قول وریاداوه او ډاډ مې ورکاوه چې یوائې دوه کاله نور هم صبر وکړه.
ما رڼا ته ترهغو خبرې وکړې چې سلګۍ یې په موسکا بدلې شوې، له کا دا نې د راوتو پر مهال مې هغې ته خپل یو عکس ورکړ، دا د لستونیې د کمرې په واسطه اخستل شوی تور او سپین عکس و، هغې عکس پر ټټر پورې ونیو او کله چې یې دوروستي ځل لپاره راته وکتل، غټې خړې سترګې یې له اوښکو ډکې وې.
سهار په خړه مې کلاه پرېښوده، له کلي ووتم، ښه شېبه مې مزل وکړ، بیا مې شا ته وکتل، له کلي د راوتلي ګوښې ولاړ چمبر د بام پر سر یو څوک ولاړ و.
جمال غلی شو، څراغ ته یې وکتل، پلته سوځېدلې وه، څراغ یې ورپورته کړ، له تېلو تش و، بېرته یې پر خپل ځای کېښود، پلته یې پورته کړه او ویې ویل:
ــ موږ څلور تنه وو، په سترو لارو مو مزل وکړ، له پاکستانه ایران ته واوښتو، هلته مو د پولیسو لخوا وهل وخوړل، د ترکیې په غرونو کې مو لار غلته کړه، له یونانه وروسته سمندر توپاني شو او په پای کې له یوې میاشتې سترې او خطرناک سفر وروسته لندن ته ورسېدو.

هغـه مهـال پـه افغانسـتان کـې د طالبـانو واکمنـي وه، جګـړې زور نیولی و او په غربي هیوادونو کې به افغانانو تـه دومـره سـتونزې نـه پیدا کېدلې.
ستا پلار هم مرسته را سره وکړه، مکتب ته یې بوتلم، انګلیسي مې یوڅه ښـه وه، امتحـان یـې رانـه واخیسـت او پـه لسـم صـنف کـې یـې ونیولم.
هلته ما یو واقعي ښار ولید، هوایي سړکونه، تر ځمکې لاندې روان اورګاډي، ښکلي تعمیرونه، دا هرڅه عصري جوړ شوي وو، خو مـا دومره خوند نه ورڅخه اخیست، زما په زړه کې به تر کلي وتلی زوړ چمبر ولاړ و او ډېر وخت به مې د رڼا په اړه فکرونه وهل.
زه به غلی وم، خپل درسونه به مې ویل او زړه تـه بـه مـې ډاډ ورکـاوه چې دوه کاله دومره وخت نه دی، له رڼا سره به وعده وکړم او هڅـه بـه مې دا وي چې هغه هم لندن ته راولم.
یو کال ووت او زه یولسم ته کامیاب شوم، تر دې دمه مې انګلیسي ښه شوې وه او په درسونو کې هم بد نه وم.
هغه وخت په ټول غزني کې ټلیفـون نـه و، مسـاپرو تـه بـه لیکونـه یـا فیتې (کسټې) ورلیږل کیدې او که به خبره ډېره بیړنۍ وه، نو د یوه ټیلفون لپاره به خلک پاکستان ته تلل، پـه یـوه کـال کـې مـې یـو ځـې یوځل پلار له کویټې تیلفون را ته وکړ، دی ډېر وغړېد، د کـور ټـول احوال یې راکړ، خو کله چې مې د رڼا پوښتنه ورنه وکړه، اړیکه پرې شوه.

اته میاشتې نورې هم ووتې، دوه درې لیکونه مې د پېښور لـه لارې د خپلو خپلوانو په پته، کور ته ولېږل، خو ځواب یې را نه غی، زه خواشینی وم، زړه مې له اندېښنو ډک و، خو بیا به مې هم ځان تـه ډاډ ور کاوه چې پلار مې ژبه راسره کړې او دی به لـه خپلې خبرې نـه اوړي!

یوه بله میاشت هم ووته، ما دولسم نوی خلاص کړی و او پوهنتون ته مې تیاری نیوه، چې یو مازدیګر ستا پلار یو پاکټ را تـه و نیو، پـر پاکټ د پاکستان او لندن د پوسټ ټاپې لګېدلې وې، خپلې کوټې ته لاړم، په بیړه مې پاکټ خلاص کړ، یوازې یوه فیته پکې پرته وه، فیته مې ټیپ ته ور واچوله، ښه مې په زړه دي، د عبدالله مقري یوه سندره وه:

هرڅه به هېر شي نه هېرېږي وطن

د مساپرو به یادېږي وطن

بیا یودم ساز قطع شو، پلار مې د السلام علیکم په ویلو سره خبرې پیـل کـړې، غـږ یـې خواشـینی و او د کـور د حـال احوال پـه اړه لنـډ وغږېد، وروسته یې په غریو کې یوه خبره له خولې را ووته:

"زویه! رڼا ناپاکه وخته، هغه یې له خیرو چرسي سره په کا دانه کې ونیوله."

ما به څه حال درلود! په دې زه هم نه پوهېدم، لېوني وم، پـه سد وم که نشه؟ خدای خبر، دومره پوهېدم چې هیڅ هم نه وینم، پـه زړه کـې بیداره وم، خو لاس او پښې مې له حرکتـه لوېدلې وې، وخت هم نـه

راته مالومېده، سهارو، غرمه وه، که ماخستن ! هرڅه تک تور برېښېدل، زړه مې راته ويل چې چيغه کړه ! خو له خولې څخه مې غږ نه راووت، پر مټ مې خوله ولګوله، خو د درد احساس راته پيدا نه شو، نه پوهېدم چې څومره وخت به وتلی و، خو يو وخت مې يو تت ساز غوږو ته راته او چې کله مې سترګې رڼې کړې، پر کيڼه خوا ړنګ پروت وم.

په زړه کې را تېره شوه ، ايا خوب مې ليد ؟ ژر مې د ټايپ پر بټڼه ګوته کېښوده، فيته مې مخکې تېره کړه او کله چې مې د سر لخوا پر دوهمه بټڼه فشار راووړ، د پلار غږ مې واورېد:

" هغه يې له چرسي خيرو سره په کا دانه کې ونيوله، د غزني په اولياوو لو ( قسم ) درته خورم، که زما په ويلو کې کوم شک درلوېږي، د خپلې مور خبره خو به منې ! "

په فيته کې يوه لنډه وقفه راغله، بيا مې مور يوا ځې يوه خبره وکړه !

"رښتيا وايي ! " وروسته يې يودم وژړل.

بيا ټيپ بند شو، يو لنډ ساز راغی او وروسته له هغه د ريکارډ سويچ وهل شوی و، لومړی مې د غوا رمباړه واورېده، بيا د ماشومانو د لوبو شورماشور، ورپسې د چيلم د ګکولو غږ، ټوخی او دا جملې:

" زه خيرمحمد يم، د کونډې لور چا نه کوله، هيله يې ختلې وه، زه وربانديې مهربانه شوم، رڼا اوس زما ښځه ده. "

له دې وروسته هيڅوک هم نه و غرېدلي، د فيتې دواړه خواوې د مقري له سندرو ډکې وې.
ما ماته خوړلې وه، له ځانه، له رڼا او له وطنه مې ورتې وشو، په خيال کې مې رڼا څو ځله تر غاړې ونيوله، هغې به لاس او پښې وهلې،له حرکته به ولوېده، خو ما به بېرته راژوندۍ کړه او بيا به مې د هغې غټې خړې سترګې په ګوتو را وويستې.
ماته ژړا راتله، خو ژړلی مې نه شوای او دا تر ټولو تريخ درد و.
جمال يوه سړه ساه واخيسته او خپلې خبرې يې پسې وغزولې:
ـله هغه وروسته مې په زړه کې د رڼا په ځای تياره خوره شوه، ان د قره باغ نوم هم بد راباندې لګېده او فکر مې وکړ چې خدای زما لپاره کومه خوشالي نه ده ليکلې.
جمال خپل تندي ته لاس ونيو، يوه شېبه غلی و، خو بيا يې يودم وژړل، ګلالۍ په بيړه هغه ته وکتل، جمال په ژړا کې چيغه کړه!
ـخو دا هرڅه دروغ وو، پلار مې دوکه راکړه، ده خپل قسم مات کړ، رڼا پاکه وه، پاکه وه، پاکه...
جمال د يوه ماشوم غوندې ژړل... او د ګلالۍ سترګې هم له اوښکو ډکې وې، ښه شېبه ووته او بيا جمال په غريو کې وويل:
ـدا زما د پلار لخوا يوه جوړه شوې ډرامه وه، بله چاره يې نه ليده، چرسي خيرو ته يې دوه لکه روپۍ ورکړې وې، يواځې په دې خاطر چې له رڼا سره واده وکړي، کونډې هم څه نه و ويلي، دا يې خپله پرده ګڼله، هغه پوهېده چې يوه بدنامه نجلۍ له چرسي خيرو پرته

بل ځوک نه کوي، بوډۍ د غمونو له لاسه دومره بې سېکه شوې وه چې د خپلې لور د واده په دوهمه یې ساه ورکړه.

اه رڼا ! ته به ما وبښې !

جمال پــه زوره وژړل او خبــرې یــې پــرې شــوې، ده تــر ډېــرو ژړل...وروسته یې د څادر پیڅکه پخپلو سترګو تېره کړه، پرتـه لـه دې چې ګلالۍ ته وګوري، ورو یې وویل:

_په دې خبره ټول کلیوال پوهېدل، خو زما د پلار له وېرې چا څه نه راته ویل، ځان ته یې جنجال نه پیدا کاوه، خبره هم تېره وه او زه وروستـه پـوه شـوم چې پـلار مې ولـې لـه کلیوالـو سـره ګوښـې نـه پرېښـودم، حـالات نـه و خـراب، دی وېرېـده چـې ځـوک بـه د رڼا نـوم منځته را واچوي او دده دروغ به سپین شي، ان کله چې په لندن کې وم، لا قره باغ ته زما پـه راتـګ نـه و خوشـاله، بانـه بـه یـې دا وه چـې حالات ښه نه دي، خو کله چې مې لـه تـا سـره کـوژده وکـړه، بیـا هـیڅ خبره نه وه.

جمال ولاړ شو، ګلالۍ ته یې وکتل، د سوځېدلې پلتـې سره او تتـه رڼا یې پر مخ لګېدله، ورو یې وویل:

_ کومـه بلـه پټـه خبـره نشـته، پـه څـه چـې زه پوهېـدم اوس تـه هـم پوهېږې، ستا خپله خوښه، ترسهاره وخت لرې، فکر وکـړه، تصـمیم دې خپل دی، زه به تر اتو بجو درته ماتله یم.

جمال ګام واخیست، وره ته یې لاس ور وغزاوه، خو یـودم ودرېد او ویې ویل:


ـهو رښتیا ! یوه خبره مې هېره شوه، پانه هم راسره بیایم.
ګلالۍ په حیرانۍ ورته وکتل.
جمال زیاته کړه:
ـما لندن ته څو ځله ټیلفون وکړ، ملګري دې خدای ژوندي لري، دوه اونۍ مخکې مې رڼا ته پاسپورټ جوړ کړ، اوس شپږ میاشتنۍ ویزه ورته راغلې ده، بیا به یې یوه دایمي چاره وکړم، غواړم چې پانه د خپل اولاد غوندې وروزم، خدای مهربانه دی، ګوندې رڼا به مې د هغې په خاطر وبخښي.
جمال دا وویل، مخ یې واړاوه او پر زینو کښته شو.

☆

سهار په اته بجې يو کوچنی موټر له کلي ووت، شېبه وروسته د يوې ټيټې غونډۍ خوا ته ور تاو شو، له موټره درې تنه کښته شول، جمال، ګلالۍ او پاڼه.
ګلالۍ د موټر ترڅنګ ودرېده، خو وړه نجلۍ او ځوان د غونډۍ سر ته ور وختل.
دوی لنډه شېبه ديوه قبر ترڅنګ کېناستل، د قبر پر سر ترلې سپينه ريتاړه ( ريښکۍ ) لا پاکه وه او پر خړه خاوره يې د نورو قبرونو غوندې بوټي نه وو را شنه شوي.
جمال او پاڼې يوه شېبه اوښکې توېې کړې او بيا مخ پر ځوړ د موټر خوا ته ګړندي روان شول، خو نجلۍ به کله، کله شا ته مخ واړاوه او شنو زرغونو جنډو ته به يې وکتل.
په برج کې دوه تنه ولاړ وو، يو په عمر پوخ، چاغ او ګردی سړی او بله هم يوه سپين سرې ښځه، د دوی سترګې له اوښکو ډکې وې، ورو، ورو يې ژړل او په موټر پسې يې تر هغو کتل چې تر يوې غونډۍ پنا شو.

پای

د ۱۳۸۲المريز کال د حوت اتلسمه_ کابل_ خبرخانه




په یوه تنګه دره کې درې خړ پوځي موټر روان ول، په دوی پسې سپېرې دوړې پورته کېدلې ، ځای ځای به ودرېدل، بېرته به د ماشین غږ پورته شو، پنډ او په دوړو لړلو ټایرونو به حرکت وکړ، پر لوړو ژورو به وختل او د سړک غاړو ته پر سپېړو ډبرو به خړ پوټي پرېووت...

ناڅاپه د ورو ماشینګنو ډزو ازانګې خورې کړې، موټرې ودرېدلې، دروازې خلاصې شوې ، د یوه موټر ترمخ د توغوندي ګولۍ ولګېده، دوړې پورته شوې، په غره کې د الله اکبر چیغو زور ونیو او لاندې وېرېدلو تیرو کوکو دره په سر واخیسته...

عسکرو د غټو تیږو شا ته مورچې ونیولې، له ډبرو سپین سوکې بادېدل او د درې پر سر، ډېر پورته یوه خړ ټپوس وزرونه غوړولې وو.

جګړه په شدت روانه وه، له پورته پر سړک مرمۍ اورېدې ... له لاندې مشینګنو پورته خولې نیولې وې، له میلونو څخه یې اورونه بادېدل.

ناڅاپه د هلیکوپټرو دروند غږ دره ولړزوله، د غره پر ډډه پرله پسې راکټونه ولګېدل، لویې، ورې تیږې بیلې شوې، د تیرو چرو نرۍ شنهارۍ واورېدل شو، عسکرو منډه کړه، د موټرو دروازې پسې پورې شوې، ټایرونه تاو شول او په لنډ وخت کې خړه دره له شور ماشوره تشه شوه..

تر ډېره چوپه چوپتیا وه، وروسته یوه کارغه ناره کړه ، کاغ ...کاغ .. کاغ... بیا د ورو تیږو دښوېدو غږ پورته شو، لس دولس تنه یو په بل پسې لیکه روان وو، ټولو اوږدې ږیرې درلودې، پټکې یې تړلې وو او د ماشینګنو خولې یې لاندې د سړک خواته اړولې وې.

دوی په کوزېدو کې احتیاط کاوه، کله کله به یې په لویو تیږو پسې لاسونه نیول، هر یوه هڅه کوله چې د خپل بدن توازن وساتي.

وروسته دوه تنه پورته ودرېدل، نورو ځانونه لاندې سړک ته ورسول. دوی وارخطا وو، شاوخوا یې کتل، یو ټیټ شو، له خاورو یې توپانجه ورپورته کړه، بل یوه مشینګنه وموندله، دربیم هم یوې اوسپنیزې خولۍ ته لاس کړ.

دا وخت یوه چیغه کړه!

_وینه ، وینه شته؟

ټولو ورته وکتل، څېرې یې نهیلې وې.

سړي لاړې تو کړې:

_تو، لعنت دي وي په دې سرکوزو، بچ شول.

د یوه بل شونډې وخوځېدې:

_دلته پاتې کېدل خطرناک ده، باید لاړ شو.
یودم ډزې شوې، ولاړو کسانو منډه کړه، تر تیږو پټ شول، د ماشینګنو خولې یې پورته ونیولې، لوړ ولاړ ملګري یې یوې خوا ته ډزې کولې، وروسته یې چیغه کړه!
_کاپر دی، ویې ولئ!
ناره شوه!
_چیرته؟!
_لمر خاته ته، د هغې تیرې پرښې ترشا.
د ماشینګنو خولې د پرښې خواته تاوې شوې. په اوږده ولاړه تیږه لسګونو مرمی ولګېدې. یو دم چوپه چوپتیا شوه. پورته ولاړ سړي ناره کړه!
_تر اوسه لا هلته دی!
له لاندې یوه چیغه پورته شوه!
_نو څه ته ګورې! ویې وله ! مردار یې کړه!
سړي په لوړ غږ وویل:
_له دې ځایه نه ښکارې.
درې تنه له خاورو پورته شول، لمر خاته خوا ته یې منډه کړه، نورو په ولاړه پرې ښه ډزې وکړې. مقابل لورې کوم غبرګون ونه ښود.
یو ځل بیا چوپه چوپتیا شوه، یوه راکټ ته مرمی ورواچوله، بل پر اوږه لاس ورکېښود، ورو یې وویل:
_ملګري مه ژوبلوه، پرښې ته نږدې دي

داوخت د ولاړې ډېرې له یوه کونجه دوه لاسونه را ووتل، وروسته یوه اوسپنیزه خولۍ لمر ته وبرېښېده، بیا اوږې، تیتراو ځنګنونه ښکاره شول، د پرښې تر څنګ یو عسکر ودرېد.
هغه په بیړه خپل لاسونه پورته ونیول، یو دم چیغه شوه، نږدې کسانو منډه کړه، یوه د کلاشینکوپ پر کنداغ وار پرې وکړ، د عسکر له خولې وینو داره وکړه، پړمخې ولوېد، بل یې پر ملا ګونډې کېښودې، لاسونه یې شاته ور واړول، دا وخت نورو کسانو هم منډه ورواخیسته، دیوه په لاس کې چاړه وه، نورو د مشینګنو پر ماشو ګوتې ایښې وې، کله چې ډله ور ورسېده، پر پراته عسکر ور پرېوتل، د سوکانو او لغتو وار نه کېده، یو دروند سوک د عسکر ژامې ته سیخ شو، خولۍ یې له سره ورغړېده او پر خړو خاورو تورې څڼې پریوتې.
یوه چیغه کړه!
_نجلۍ ده.
* * *
نجلۍ سترګې رڼې کړې، تته رڼا وه، لږ وخوځیده، په اوږه کې یې نرۍ درد تیر شو، بېرته پرېوته، چت ته یې وکتل، تیرې ډبرې راوتلې وې، مغزی ( ورمېږ ) یې کوږ کړ، په یوه نمجنه سمڅه کې پرته وه.
د پښو دربی یې واورېد، بانه یې سره وروستل، لنډه شېبه ووته، پر مخ یې سړي اوبه تویې شوې، سترګې یې رڼې کړې، دوه تنه یې سر ته ولاړ ول، یوه مشینګنه ورته نیولې وه، د بل په لاس کې یو پلاستیکي خیرن سطل ښکارېده.
یوه چیغه کړه!
_پورته شه!
نجلۍ په راوتلو رډو سترګو ورته کتل.
بل وویل:
_زموږ په ژبه نه پوهیږي.
د توپکوال شونډې وخوځېدې:
_په زور یې ولاړه که!
سطل په لاس سړي وویل:
_نشم کولای، نجلۍ ده!
توپکوال د توپک په میل ووهله!
نجلۍ کېناسته.
سړي اشاره ورته وکړه چې له سمڅې ووځي.
نجلۍ ولاړه شوه، د ملا درد ځای پر ځای کینوله، بیا یې پر پښو زور راووست، دوه درې ګامه یې واخیستل، سر یې وګرځید، په تیږه پورې یې لاس ونیو.
سطل په لاس سړي وویل:

_نه شي تلای.
توپکوال په ملنډو ور غبرګه کړه!
_ اوس به يې لاري ته راولم.
بودم يې د مشينګنې ګيټ کش کړ، چيغه يې کړه!
_ځي که دې غلبېل کم!
نجلۍ ولړزېده، په رنګو ګامونو له سمڅې ووته
سترګې يې د لمر رڼا ته وبرېښېدې، شاوخوا يې وکتل، سپيره غر و، ېڼځه شپږ وسله وال يو ځای پر يوه هواره تيږه ناست وو، کله چې يې نجلۍ ته وکتل، سرونه يې وځړېدل، د نجلۍ ځان ته پام شو، ډګربوان پاسنۍ درې تنۍ يې شلېدلي وي او تور لانده وينسته يې پر تيتر پراته وو، ورو يې ډګربوان دواړه خواوې سره ور وستي، پر اوږه يې څه ولګېدل، يوه سپينه توټه يې پر سترګو پرېوته، اوږې ته يې لاس کړ، يو نری څادر و، شاته يې وکتل، تر څنګ يې يو په عمر بوخ سړی ولاړ و، له سپينې لونګۍ يې په نکريزو رنګ کړې سرې څنې راوتلې وې، په کيڼ لاس کې يې مشينګنه ښکارېدله.
نجلۍ په څادر کې ځان وپېچه، ولاړ سړي خپلو ملګرو ته اشاره و کړه، په ډډ نارينه غږ يې وويل:
_څه واياست؟ د کوم وطن درته ښکاري!
دوه تنه له تيږې را ولاړ شول، ولاړ سړي ته نږدې ودرېدل، يوه يې وويل:
_ما وليده، پر مټ يې د امريکايانو ټاپه ده.
بل په خبره کې ورولويد:
_نه يې منم، امريکايان د بيزو ګانو غوندې سره دي، خو دا له رنګه موړوالو ته ورته ده.
د تيږې پر سر يوه ناست ځوان ناره کړه!
_په کاپرانو کې هر ذات پيدا کيږي، يوه ګولۍ يې وولئ او سپيو ته يې واچوئ!
يوه بل وويل:
_رښتيا وايي، تر څو به يې راسره ګرځوو
د سرو څنو لرونکي سړي وويل:
_موږ بايد خپل مشران خبر کړو، پرېکړه د هغوی په لاس ده، که يې وژله ، که يې له نورو بنديانو ورونوسره تبادله کوله، ما اورېدلي چې کوپارو ته خپل کسان ډير ارزښت لري.
د يوه شونډې وخوځېدې:
_هر رنګه چې وي ، خو له دې ځايه يې ورکه کړئ، په مرکز کې د دې ښځې موجوديت ښه نه دی..
د نګ سړی په خبره کې ورولوېد:
_ابادی ته يې نه شو وروستی، خطر لري.
يوه شېبه غلی شو، وروسته يې سر پورته کړ، ورو يې وويل::
_يوه چاره به يې وکم!
* * *
سپي وغپل...
يوه ځوان برستن له سره لرې کړه، غوږ يې ونيو، ورو يې وويل:
_چغه!
بېرته يې سر پټ کړ، د سپي غپېدا ډيره شوه، ځوان کېناست، سپي غپل...
يوې ښځې په خوبولي غږ وويل:
_څوک نا رې وهي؟
ماشوم وژړل...
ځوان سر ته اينبی شل ډزي ته لاس ور وغځاوه، ولاړ شو، له خيمې ووت، د باندې سوړ باد چلېده...
شاوخوا يې وکتل، سپي مخامخ منډه واخيسته، ځوان د توپک ګيټ کش کړ، يوه چيغه کړه!
_خپل يو.
ځوان ور مخته شو، د سپوږمۍ په رڼا کې درې تنه ولاړ وو، سپي غپل...
ځوان په زوټه ( لوړ غږ ) وويل:
_څه غواړئ؟!
ډډ نارينه غږ يې واورېد:
_يو امانت راسره دی.
_د چا؟
_د پلار دې.
ځوان ورو وويل:

_راځئ!
دریو تنو په ده پسې حرکت وکړ، سپي ترې راګرځېده، غپل یې...
ځوان خیمې ته ننوت، ورو یې وویل:
_څراغ بل کړئ!
اورلګیت ولګېد، په کېږدۍ کې تته رڼا شوه، درې وارخطا ښځې په خپلو ځایونو کې ناستې وې، دوه ځوانې وې، بله هم بوډۍ، ماشوم هماغسې ژړل.
د ځوان شونډې وخوځېدې:
_میلمانه لرو.
ښځو په خپلو ببرو ویښتو څونې (ټکرې) ورکش کړې.
ځوان په زوټه (زوره) وویل!
_راځئ!
کېږدۍ ته درې تنه ور ننوتل.
بوډۍ په ویره وویل:
_عسکر!
ځوان په بیړه میلمنو ته وکتل، دوو یې ټوپکونه تړلي وو، تر دریم یې یو سپین څادر تاو و، پښې یې په لویو خړو عسکري بوټونو کې پټې وې، لاسونه یې شاته تړلي ښکارېدل.
یوه وسلوال وویل:
_په جګړه کې مو ونیوله.
په کېږدۍ کې ناستو ښځو په حیرانۍ ورته کتل...
بوډۍ وویل:
ښځه ده؟
هو!
_دلته مو ولې راوسته؟!
_زوی دې راولیږله.
ځوان میلمنو ته د کېناستو اشاره وکړه.
یوه یې وویل:
_نه شو ماتل کېدای، امر دی! باید په شپه کې ځانونه مرکز ته ورسوو.
ځوان له وسلوالو سره د باندې ووت..
سپي غپل...
ځوان وویل:
_دا بلا به ترڅه وخته دلته یې؟
د یوه شونډې وخوځېدې:
_نپوهیږو! خو احتیاط کوئ! څوک باید کوم بوی یونه سي!
سړو حرکت وکړ...
سپي منډه پسې واخیسته...
ځوان بېرته کېږدۍ ته ورننوت، ښځې تر نابللې میلمنې راګرځېدلې وې، هغې ته یې په حیرانۍ کتل، میلمنه وارخطا وه، د څراغ ژېړې رڼا ته یې غټې سترګې ځلېدلې، پر لاندنۍ ډکه شونډه یې وچه وینه پرته وه.
بوډۍ یو سوړ اسویلی ویست، ځوان ته یې وکتل، ویې ویل:
_شېرګله! دا خو خبرې نه کوي!
ځوان موسک شو، شونډې یې وخوځیدې:
_زموږ په ژبه نه پوهیږي، پرنګۍ ده.
ښځو په یوه خوله وویل!
_څه؟!
ځوان وخندل، ټوپک یې د کېږدۍ ټاټ ته ودراوه، د باندې ووت، لنډه شېبه وروسته بېرته راغی، یوې نجلۍ په حیرانۍ وویل:
_لالا! د خرې پړۍ دې ولې راووړ؟!
ځوان د پړي یو سر د نابللې میلمنې تر تړلو لاسونو تاو کړ، کلکې غوټې یې ورواچولې، بل سر یې په کېږدۍ کې د ولاړ موټرسایکل په ټایر پورې وتاړه.
ښځو په حیرانۍ ورته کتل.
ځوان په خپله بستره کې ننوت، ټوپک یې له ځان سره پټ کړ، ورو یې وویل:

_شپه پخه ده، سبا به سره غږېږو.
ماشوم ژړل.....
* * *

د نجلۍ پر مخ یوه توده ساولګېده، بیا یې په ښي غومبري تود لوندوالی احساس کړ، په بیړه یې سترګې رڼې کړې، تور وربوز یې ولید، یوه زوروره چیغه یې تر خولې راووته، سپي کوړنج وهل، نجلۍ ټکان وخوړ، پړی کش شو، موټرسایکل ړنګ شو، ځوان په منډه کېږدۍ ته ورننوت، یو اوږد ډانګ په ګوتو ورغی، سپی په کوړنجیدا د باندې ووت..
بوډۍ غږ کړ!
_څه خبره ده؟
ځوان وویل:
_سپي وډاره کړه!
بوډۍ کېږدۍ ته ور ننوته، په لاس کې یې له شیدو ډک جام ښکارېده، په ملنډو یې وویل:
_سپي دا وډاره کړه، که دې سپی وډار که! ته ورته وګوره! سمه دمه بیزو ده، د سپي بلا دې سل واره ورباندې وګرځي.
نجلۍ په راوتلو رډو سترګو ورته کتل...
شېرګل وویل:
_ورانګه چیرته ده، وربندار هم نه شته؟
بوډۍ سوړ اسویلی ویست:
_اوبه نه وې، یوه ګړۍ مخکې دواړه چینې ته ولاړې.

له دې سره له کېږدۍ ووته.
شېرګل نجلۍ ته وکتل، هغې ژړل...دی هم د باندې ووت.
نجلۍ شاوخوا سترګې واړولې، کېږدۍ لویه وه، یوه څنګ ته څو خیرنې بړستنې پرتې وې، بل لورته ناولي لوښي ایښي وو او مخامخ د یوه ماشوم نرۍ پښې تر لانده اوړنې راوتلې وې.
وروسته ټوخي واخیسته، سپین لوګی یې تر سترګو تیر شو، د کېږدۍ له یوې چولې یې د باندې وکتل، لمر نوی راختلی و، بوډۍ اور ته ور پوه کول..تر څنګ یې یوه توره کټوه ایښې وه، لږ لرې څو خرو په وړو تیږو کې خولې وهلې، پښو ته یې لنډ پړي ور لوېدلي وو، لوی ګامونه یې نه شوای اخیستلای.
بیا یې دوو کوچیو ته پام شو، ګړندی تګ یې کاوه، ګڼی ګردی لمنې یې خوځیدلې، شېبه وروسته یې کېږدۍ ته نږدې، له یوې شاتورې خرې له اوبو ډک ژی کښته کړ.
وروسته یوه سیرلې منډه واخیسته، تر نغري یې ټوپ کړل، بوډۍ تیږه پسې وویشته.
څو ګامه هاخوا، شېرګل د یوې اوښې ورانه ته جارو نیولې وه، وچ خوشایي یې ترې لیرې کول، دی هډور ځوان و، لمر سوځولې څیره یې درلوده او په زنه پورې یې تار تار مږه ویښته ښتې وو.
ناڅاپه ټاټ پورته شو، کېږدۍ ته ژیړه رڼا ور ولوېده، اوس نو شمال لور ته پرتې ټیټې غونډۍ ښکارېدلې، په لمنو کې یې ګڼې سپاندې ولاړې وې، یواځینې زاړه توت ته نږدې یوه رمه پنډه وه.
وړانګه کېږدۍ ته ور ننوته، نابللې میلمنې ته یې وکتل، ورمخته شوه، د موټرسایکل له ټایره یې پړی خلاص کړ.
نارینه غږ یې واورېد:
_په دې پړنګیانو دومره زړه سوی مه کوه!
کوچۍ ور وکتل، په خواره خوله یې وویل:
_وبال لري.
شېرګل وخندل:
_موږ هم اوبو نه یو راوړي.
بېرته یې پړی په ټایر پورې وتاړه.
وړانګې څه ونه ویل.
نابللی میلمنې په حیرانۍ ورته کتل...
بوډۍ کېږدۍ ته ورننوته، یوه توره چایجوشه یې پر زاړه لیمڅي کېښوده، د چایجوشې له څوښکې تاو پورته کېده...

شېرګل وپوښتل:
_انا! ډوډۍ پخه ده؟
بوډۍ وویل:
_ سره ډوډۍ ډېره وه.
شېرګل پر سپیره لیمڅي پلتۍ ووهله، خور یې دسترخوان هوار کړ، له شلېدلو پاستو سره لوی او واړه هډوکي پراته وو..
_بوډۍ د ځوان تر څنګ کېناسته، لمسۍ او نږور یې هم پلتۍ ووهلې.
نابللي میلمنې په حیرانۍ ورته کتل...
د بوډۍ سپین ویښته له ټکري راوتلي وو، نږور یې هم خیرنه او ډنګره وه، خو نجلۍ په غوښنه پټه ښکارېدله، په غنم رنګه زنه یې درې شنه خالونه وهل شوي وو، توري ډبلي وروځې یې لرلې او تر خړې پاسنۍ شونډې یې واړه، نري تور ویښته راتاو وو.
وروسته یې په څلورو خیرنوګیلاسونو کې بوره واچوله، چایجوشه یې ور پورته کړه، ګیلاسونه د شیدو له خړو چایو ډک شول.
شېرګل په ډکه خوله وویل:
_میلمنې ته مو ننګ ( ست ) ونه کړ
د بوډۍ شونډې وخوځېدې:
_خاورې دې وخورې.
شېرګل د پاستې یوه ټوټه ور ورغورزوله، ډوډۍ د میلمنې پېنو ته نږدې ولوېده.
وړانګې وویل:
_وبال لرې، رزق ده.
میلمنې په حیرانۍ ورته کتل..
شېبه وروسته کېږدۍ ته نږدې یو موټرسایکل ودرېد
سپې وغپل...
شېرګل ولاړ شو، څو ګامه لیرې دوه تنه ولاړ وو، سپی ترې راګرځیده، شېرګل په سپي پسې تیږه وویشته، سپي منډه کړه، دی ورمخته شو.
ښځو ورته کتل...
شېرګل یوه شېبه له سړو سره ودرېد، بېرته کېږدۍ ته راغی، په کونج کې ایښی زوړ ګیلن یې ورپورته کړ.
بوډۍ وپوښتل:
_څوک دي؟
د شېرګل شونډې وخوځیدې:
_راځم.
د باندې ووت، څوګامه یې واخیستل، ګیلن یې د موټرسایکل پر ټانکۍ ورپورته کړ، یوه شېبه له سړو سره ودرېد، وروسته موټرسایکل حرکت وکړ، شېرګل کېږدۍ ته راغی، ګیلاس یې ورپورته کړ، ویې ویل:
_بې خوبه وو.
بوډۍ وپوښتل:
_نو څه یې کول؟
_نیمه شپه سړک ته تللي ول، ویل یې چې ځمکه کلکه وه، د ماین ښخولو ډېر وخت ونیو.
خور یې په خبره کې ورولوېده:
_چیرته؟
شېرګل ګوله تیره کړه، ویې ویل:
_د پاخه سړک پر غاړه،زړې ژرندې ته نږدې.
وروسته یې میلمنې ته مخ ورواړاوه ، په خوند یې وویل:
_دوه ساعته باد ستا دوطنداړانو کتار تېرېږي، درز به یې واورې!
میلمنې په حیرانۍ ورته کتل..
_ښه شېبه ووته، په دسترخوان کې یواځې هډوکي پاتې شول.
بیا کېږدۍ تشه شوه.
ځوان په رمه پسې روان و، بوډۍ نغري ته نږدې په ولاړ څګ کې مستې اچولې، دوو نورو کوچیو ناولي جامې پر یوه شاتوره خره بار کړې وې او چینې ته یې د تګ تیاری نیوه.

غرمه وه، په کېږدۍ کې تود باد چلېده، ماشوم لغتې وهلې، پښې یې ککړې وې، بوډۍ د چکې د جوړولو په تمه په یوه ژېړه تیکه یې کڅوړه کې شړومبې اچولې.
لاس تړلې نجلۍ په کېږدۍ کې ناسته وه، سر یې درد کاوه، پښو ته نږدې یې وچه ډوډۍ پرته وه، وروسته یې یوه لوی غونډل ته پام شو، غونډل ګړندۍ روان و، بیا د ماشوم په بوغبند کې ور ننوت.
د نجلۍ سترګې ردې راوختې، په بیړه ولاړه شوه، پړی کش شو، بېرته کېناسته، تړلې لاسونه یې ټایر ته ور وغځول، هڅه یې وکړه چې پړی خلاص کړي، پاتې راغله، پرېوته، په خیرن پړي یې غاښونه ټینګ کړل، جټکه یې ورکړه، یودم یې وېښته د شا خواته کش شول، بوډۍ چیغه کړه!
_چیرته تښتې!
پړ مخ یې یوکلک شی ولګېد، سر یې وګرځېد، بوډۍ ته یې وکتل، په لاس کې یې توره چایجوشه نیولې وه.
نجلۍ ماشوم ته اشاره وکړه، شونډې یې سره سرېښ شوې:
_ام م م م م م م م م م م ....
بوډۍ ناره کړه!
_بلا بلا، څه رمباړې وهې؟!!
نجلۍ په راوتلو ردو سترګو ماشوم ته کتل، هغه پښې وهلې...
بوډۍ مخ واړاوه، نجلۍ پسې وکتل، د موټرسایکل ټانکۍ ته یې تړلې سوکان ونیول، بوډۍ ګام واخیست. نجلۍ چیغه کړه!
_غونډل، د ماشوم بسترې ته غونډل ورننوت.
بوډۍ منډه واخیسته، ماشوم یې پورته کړ، پر سینه یې لوی غونډل روان و.
غونډل یې په لاس وواهه، ماشوم چیغه کړه، غونډل پر لیمڅې ولوېد. بوډۍ اوکلۍ پرې کېښوده.
لاس تړلې نجلۍ سترګې سره وروستې، سړه ساه یې واخیسته، ورپسې یې یو سوړ اسویلی ویست.
بوډۍ په بیړه د ماشوم کمیس لرې کړ، د هغه لوخ ځان ته یې وکتل، په زوته یې وویل:
_یا پیره دستګیره ! رارسېږه!
داوخت زنګولې وشرنګېدې، ډېر کوچیانی غږ پورته شو:
_اررړې، اررری....
بوډۍ ماشوم ورواخیست، په منډه له کېږدۍ ووته.
نجلۍ پسې وکتل، د رمې په سر کې یو ښکرور سیرلی روان و.
بوډۍ چیغه کړه!
_شېږګله، وه شېږګله!
ځوان ناره کړه!
_څه خبره ده؟!
بوډۍ ورمخته شوه، په لوړ غږ یې وویل:
_د بنګل په بوغبند کې غونډل و.
ماشوم ژړل...
ځوان په بیړه ماشوم ور واخیست، ورته ځیر شو، یوې او بلې خواته یې سره واړاوه، په خندا یې وویل:
_انا! زړه مه خوره، د نیش وهلو ځای نه ښکاري، روغ رمټ دی!
له دې سره یې ماشوم ښکل کړ، بوډۍ ته یې ونیو، په رمې پسې روان شو.
بوډۍ په یوه لویه ډبره کېناسته،ماشوم ژړل...
لاس تړلې نجلۍ وچې سترګې ورته نیولې وې...
ښه شېبه ووته، بوډۍ همالته ناسته وه، ځوان دیوه پسه وړی سکوللې...وروسته وړانګه او د هغې وربنداره ښکاره شول، دوی په یوې خرې پسې روانې وې، د خرې پر شا له پړتو جامو څاڅکي څاڅکي اوبه څڅېدلې...
بوډۍ مخې ته ورغله، لنډه شېبه سره ودرېدل، لاس تړلې ښځې ور کتل... د بوډۍ نږور خپل زوی ور واخیست، په سینه پورې یې ونیو،وروسته یې د هغه له مخه څو پرله پسې مچې واخیستې.
بیا درې واړه د کېږدۍ خواته روانې شوې، وړانګې له غوړې کاسې یوه توره چاړه ور واخیسته، لاس تړلې نجلۍ ته ورنږدې شوه، د نجلۍ سترګې ردې راختلې وې، وړانګې پړي ته چاړه ونیوله او د هغې لاسونه یې خلاص کړل.
داوخت ځوان کېږدۍ ته ورننوت، په ښي لستوني پسې یې سپینې وړۍ نښتې وې، په غولې پړاته شلیدلې پړې ته یې وکتل.
بوډۍ وویل
_ها! دا دی!

ځوان سترګي ورواړولې، په ليمڅي پوري يو تور غونډل چختاړى و، يواځي يوه ببره پښه يې خوځېدله...
ځوان وويل:
_په پرنګيانو کې هم ښه خلک پيداکيږي.
کوچيانو وخندل.
ځوان د لرګي له زاړه صندوقه يو څټک ور واخيست.
وړانګي وويل
_څه يې کوې؟
د ځوان شونډې وخوځيدې:
_د يوه پسه ګړنجونى خراب دى.
ګام يې واخيست، خو يودم ودريد، بوډۍ ته يې وکتل، په حيرانى يې وويل:
_انا! تا څه ويل؟
بوډۍ وخندل، شونډې يې وخوځيدې:

_څه وخت؟

_تا ويل چې دې پرنګى خبره کړې، د دې خو...

د بوډۍ سترګي رډې راوختې، په خبره کې يې ورولويده:

_هو رښتيا! دې خو زموږ ژبه وويله!

ځوان نابللي ميلمني ته وکتل، شونډې يې وخوځېدې!

_ته په پښتو وغږيدې؟!

نجلى په ريږدېدلي غږ وويل:

_هو.

د کوچیانو خولې وازې شوې...

نجلۍ وويل:

_نوم مې ماريا ده. په امريکا کې پيداشوې يم.

بوډۍ په خبره کې ورولوېده:

_نو له کوپارو سره دې څه کول؟

د ماريا سر وځرېد، ورور يې وويل:

_زه په اصل کې افغانه يم، خو د امريکا تذکره لرم، هلته مې د عسکرۍ درس ويلی، له يوه کاله راهيسې افغانستان ته راغلې يم.

بوډۍ په بيړه وپوښتل:

_بوسلمانه ( مسلمانه ) يې؟

ماریا د(( هو )) په نښه سر وخوځاوه.

_نو بیا دې څه مخ تور دی چې له کوپارو سره ولاړه یې؟

د ماریا سر وځړید.

وړانګي وویل:

_هر رنګه چې وې، زما وراره یې بچ کړ، د زړه رحم لري.

ځوان وویل:

_خورې! جامې یې وربدلې کړه! دا عسکري کالي یې ښه نه دي، خطر لري.

بیا یې ماریا ته وکتل، په خندا یې وویل:

_د ترښتي پکر ونه کړې، سپی دیر خړولی ( خوړونکی ) دی.

ځوان ګام واخیست، بېرته ودرېد، ښځو ته یې مخ وروااړاوه، ورو یې وویل:

_هغه ماين يې ويست، نپوهيږم چې له کومه وپوهېدل، ما رمه پيايله، د غونډۍ له سره مې ورته کتل، خو کتار تر زړې ژرندې يو څه ليرې ودرېد، دوه تنه له يوه موټره کوز شول او ماين ته نيغ ودرېدل.

* * *

ځوان سلام وکړ ځاوه، څادر يې ټول کړ، ولاړ شو، سترګې يې رډې راوختې.

ماريا د کېږدۍ څنګ ته ولاړه وه، ګڼ کوچيانی کميس يې په تن و، د کميس په لمنې پورې يې سپينو روپيو ټال خوړ، لستونو ته يې ګونګروګان ور لوېدلي وواو ټټر يې له شنو مريو ډک و.

ځوان نږدې ورغی، نجلۍ ته يې په لومړي ځل په ځير وکتل، ښه ورته ښکاره شوه، هسکه غاړه يې درلوده، ټټر يې راوتلی و او په ډکو سرو شونډو يې يوه خوږه موسکا پرته وه.

ځوان جټکه وخوړه!

_ څنګه مې جوړه کړه، څوک به دا ووايي چې کوچۍ نه ده؟ هه!

ځوان خپلې خور ته وکتل، تر څنګ يې ولاړه وه، ويې خندل:

_بلا يې بلا!

وروسته کېناست، د سپي په غټ سر يې لاس تېر کړ، ماريا ته يې وکتل، په خندا يې وويل:

_خو دومره ازادي مه ورکوه!

د ورانګې تندی تریو شو:

_لالا! وبال لري، چیرې به لاړه شي، یوې خواته دښته ده، بل لور ته غونډۍ.

د ځوان شونډې وخوځېدې:

_احتیاط یې هم ویلی!

مخ یې واړاوه ، درمې خواته روان شو.

وروسته یې یو لوی پسه له ځمکې پورته کړ، پرې یې ایست او د پسه دوړیو په سکوللو بوخت شو.

ښه شېبه ووته، بیا یو سیوری ورباندې ورغی، پورته یې وکتل، ماریا وه، بېرته یې سر وځړېد.

نجلی وویل:

_مننه!

د ځوان شونډې وخوځېدې:

_څه؟

_مانا، کور ودان.

_د څه له پاره؟

_زه دې دوهم ځل ونه ترلم.

ځوان وخندل، ورو يې وويل:

_په دې شرط چې منونکې و اوسې!

ماريا په خبره کې ورولوېده:

_قول دی!

ځوان وويل:

_ځه! سمه ده! باور به وکم، خو!

غلی شو، پسه یې په بل مخ واړاوه.

نجلی وویل:

_خبرې کولی شم؟

ځوان وخندل:

_اوس دې هم خوله نه ده ګنډلې.

نجلی یوه شېبه غلې وه، بیا یې یودم وویل:

_ورور دې چیرته دی؟

ځوان نیغ ورته وکتل، بېرته یې سر وځړېد، پسه ناره کړه، یو موټی سپینې وړی په وینو سرې شوې، ځوان ځمکې ته لاس کړ، خاوره یې ورواخیسته، د پسه په ټپ یې واچوله.

وړو یې وویل:

_ماین ته یې ځمکه کېښدله، پام یې نه و، په خپل ماین والووت..

نجلی وویل:

_ما وبخښه

ځوان غلی و، وروسته یې شونډې وخوځېدې:

_هغه ته مو تیر کال ښځه راوړه، زوی یې پس مرګې پیدا شو.

نجلی وویل:

_پلار دې؟

_پلار مې کوماندان ( قوماندان ) دی، ډیر وخت په غره کې وي، کور ته کم راځي.

سپی وغرېد، ځوان ورته وکتل، څو ګامه لرې ولاړ و.

ورو یې وویل:

_چغه!

سپي لنډه لکۍ وخوځوله . ځای پرځای پریووت.

ماریا لرې وکتل، دوه تورې کېږدۍ ښکاربېدلې، ویې ویل:

_هاغه هم کوچیان دي؟

ځوان سر پورته کړ، دښتې ته یې وکتل، شونډې یې وخوځېدې:

_هو ! هلته یې مېنه ده.

_مېنه؟

ځوان وویل:

_ موږ ژمی ګرمسیر ته ځو، اوړی دلته اړوو، د کوچیانو مېنې مالومې دي، داسې لکه د جایې ( ځایې ) وو چې کور کلی مالوم وي، څوک دا حق نه لري چې د بل یوه په مېنه کې واړوي.

ځوان غلی شو، په بیاتې پورې نښتې وړی یې لرې کړې، ورو یې وویل:

څړ ځایونه مو هم سره ویشلي دي، هر قوم خپل څړځای لري، بل ځای رمې نه شي بیولی.

ځوان غلی شو.

نجلۍ وویل:

_لاړم!

ځوان وړی سکوللي...

نجلۍ یوه شېبه ودرېده، ځوان ور ونه کتل، وروسته روانه شوه.

سپي سر پورته کړ، نجلۍ ته یې وکتل، بېرته یې د مخکنیو غزېدلو پښو په منځ کې وربوزکۍ ښود.

ماریا یوه جونګي ته وروګرځېده، جونګي هسکه غاړه نیولې وه، ژامه یې خوځېدله، شخوند یې واهه...

یوه شېبه له جونګي سره ودرېده، بیا یې وړانګې ته پام شو، پیاز یې وړول، ورغله، د هغې تر څنګ کېناسته. ورو یې وویل:

_په اشپزي کې څنګه یې؟

_څه؟!

_دیک کولای شي؟

ورانګي وخندل، لندې غټې سترګې یې ور واړولې، ورو یې وویل:

_په ښوروا کې تکړه یم.

ماریا کاسې ته وکتل، د پیازو په غوټو شویو ځایونو باندي د چاړې توري خیرې ښکارېدلې.

داوخت یو غږ شو، دوې تېټې هلیکوپترې راغلې، ځوان منده کړه، ماریا یې ترمټ ونیوله، دواړه کې‌ږدی ته ننوتل. دروند غږ کې‌ږدی ولړزوله.

ماشوم وچونګېد!

ځوان سوړ اسویلی ویست.

د ماریا سترګې رڼې راختلې وې.

بوډی، د هغې نږور او ورانګه کې‌ږدی ته ورننوتې، دوی وارخطا وې.

ځوان ماریا ته مخ ورواړاوه، ورو یې وویل:

_ته به مو په بلا وخورې!

ماریا په حیرانۍ ورته کتل.

وړانګې په خواره خوله وویل:

_طیارې وې، تیرې شوې.

ځوان چیغه کړه!

_پلار مې ولې خپله کورنۍ په بلا خوري؟ بل ځای نه و؟

یوه شېبه غلی شو، بیا یې ورو وویل:

_باید احوال ورکړم، دا نجلۍ دلته نه شي پاتې کېدی!

ماریا په منډه له کېږدۍ ووته، لاړه، لرې په یوه لویه ډبره کېناسته. ډبنتې ته یې وکتل، لویه ډبنته وه، پای

*یې نه مالومېده، تر یوه ځایه خړې سپاندې ولاړې وې، وروسته سپېرې شګې ښکارېدلې، بېرته یې سر وځړېد، تر یوې ورې تیزې د څرمښکې خړه لکۍ راوتلې وه، څنګ ته یې تور میږیان لیکه، روان وو.*

*یودم یې پر اوږه لاس ولګېد، ورمېږ یې کوږ کړ، څنګ ته یې وړانګه کېناسته. تر ډېره غلې وې، وروسته ماریا په ژړغوني غږ وویل:*

*_هغوی به مې ووژني.*

*وړانګې د نجلۍ پر ورانه لاس کېښود، شونډې یې وخوځېدې:*

*_غم مه کوه! زه خو یم.*

*ماریا د هغې پر اوږه سر ولګاوه، یو دم یې وژړل...*

*وړانګې د نجلۍ  په تورو ویښتو کې ګوتې تېرې کړې، ورو یې وویل:*

*_زړه دې غټ ونیسه!*

*ماریا ژړل...*

*   *   *

ورانګې په حیرانی وویل:

_ولې دې لاس ونیو؟!

د ماریا شونډې وخوځېدې:

_وډې نه یم.

_خو تا هیڅ هم نه دي خوړلي، سهارنی ډوډۍ مې ماسپښین له غولي راټوټه کړه.

ځوان په ډکه خوله وویل:

_څه یې کوې! زړه ته به یې نه کیږي.

ماریا ولاړه شوه، دوه درې ګامه لیرې کېناسته. دباندې یې وکتل، اسمان له سپینو ستورو ډک و. بېرته یې په کېږدی کې ناستو کسانو ته سترګې وروااړولې، تر دسترخوان څلور تنه را تاو ول، ځوان له لندې ډوډۍ ګوله جوړوله، بوډۍ د ښې لاس ګوتې په خوند څټلې، دوو نورو کوچیو هم ډوډۍ خوړه...وروسته د غوښې د ویشلو وار ورسېد، ځوان په یوه پاستې څلور برخې کې‌ښودې، ورانګې په بیړه وویل:

_ماریا دې هېره شوه؟

د ځوان شونډې وخوځېدې:

_مړه ده!

بوډۍ وويل:

_ماته سپينه غوښه راکه!

ځوان د ښځو تر مخ په پرتو پاستو يوه يوه برخه کېښوده، وړانګې پاستې ته لاس کړ، ولاړه شوه، د ماريا ترڅنګ کېناسته، ورو يې وويل:

_غوښه دړواخله!

ماريا په مړاوي غږ ځواب ورکړ:

_مړه يم.

ځوان هغې ته وکتل، د مخ پر يوه خوا يې د لمپې رڼا لګېدله، بېرته يې سر وځړېد، ورو يې وويل:

_دومره يې مه نازوه!

ښه شي‌به ووته، کاسي پورته شوې، دسترخوان ټول شو، وړانګې هډوکي او اتامونه ( ماته ړوډی ) د باندې ویستل، د غوړو په یوه سکنل شوي زاړه ټیم کې یې واچول، ورو یې وویل:

_تو، تو ، تو

سپي منډه ور واخیسته.

کوچی بېرته کېږدی ته ننوته، ځوان ولاړ شو، موټرسایکل یې وښوراوه، په ټانکی کې تیل وچړپیدل.

بوډی وویل:

_چیرته ځې؟

ځواب یې ورکړ:

_مرکز ته.

غلی شو، ماریا ته یې وکتل، ویې ویل:

_پلار ته وایم چې دا بلا له دې ځایه ورکه کړي!

وړانګه په خبره کې ورولوېده:

_نه! دا ځای ورته ښه ده، په کومه بلا یې ونه خوري!

ځوان ورو وویل:

_په مور یې څه! که یې وژني که یې بل ځای بیایي، خو دلته نه شي پاتې کېدای.

د وړانګې سر وځړېد:

_وبال لري!

د بوډۍ ګونځې شونډې وخوځېدې:

_شېرګله زویه! خور دې بده خبره نه کوي، تور سرې ده.

وړانګې په بېړه د خبرو وار ورنه ونیو، په خواست یې وویل:

_خدایکه یې د طیارو پلار رانه وپېژني! ته ورته وګوره! سمه دمه کوچۍ ده.

ځوان یوه شېبه ودرېد، موټرسایکل یې پرېښود، له کېږدۍ ووت.

وړانګې ماریا ته وکتل، د هغې په سترګو کې اوښکې ولاړې وې...

ورو یې وویل:

_له وروره مې خوا مه بدوه! په زړه کې څه نه لرې، بس! لږ کاوړي ( غوسه ناک ) دی.

یوه شېبه غلې وه، بیا یې د نجلۍ لاس ونیو، ویې ویل:

_راځه چې دباندې ووځو! ښه باد لګیږي، پام به مو غلط شي.

ماریا ولاړه شوه، دواړه له کېږدۍ ووتې، څو ګامه لیرې په یوه لویه ډبره کېناستې، نرم باد چلېده،چوپه چوپتیا وه، یوازې کله کله به په غاښونو د هډوکو د ماتېدو کړسا پورته شوه او ډېر لرې به یوه شغال ناره کړه.

دواړه تر ډېره غلې وې، بیا ماریا سوړ اسویلی ویست ، په مړاوي غږ یې وویل:

_مور مې ډیره یادیږي!

وړانګې په غاړه کې لاس وراچاوه، یوه شېبه غلې وه، بیا یې سوړ اسویلی ویست، په خوابدي غږ یې وویل:

_ته بختوره يې، مور لرې، خو زه...

غلې شوه، ماريا ور وکتل، پر تندي يې د ستورو تته رڼا پرته وه، ورانګې خبره پسې وغزوله:

_...خو زه مور نه لرم، هغه دوه کاله مخکې غونډل وچېچله، انا مې رنګارنګ بوټي ورته وتپکول، ښه نه شوه، دوهم سهار ته مړه پرته وه.

ورانګه غلې شوه، يو دم يې په غږ کې بدلون راغی، په خندا يې وويل:

_اوس دا دغم خبرې پريږده! زړه مه خوره، خدای مهربانه دی.

په لنډه فاصله کې کوکه شوه، ماريا جټکه وخوړه، سپې وغپل، منډه يې واخيسته، تر يوه ځايه لکه سيوری داسې ښکارېده، وروسته په تياره کې ورک شو.

ماريا وويل:

_دا غږ د څه و؟

ورانګې وخندل:

_د شغال، دلته شغالان ډېر دي، د ورځې په غونډيو کې د ډېرو سيورو ته پراته وي، ماښام تياره، هوارې ته راځي ، تر سپيده چاوده بوی کاږي. تېر ځوړموني ( پسرلي ) يوه شغال...

ماريا په خبره کې ورولوېده، ويې ويل:

_ورور دې ځنګه سړی دی؟

وړانګه يوه شېبه غلې وه، وروسته يې وخندل:

_ډېره ورنه ډارېږې؟

ځواب يې وانه ورېد.

وړانګې وويل:

_زړه مه خوره! بد سړی نه دی، ځو کاله له کوره ورک و ، په مدرسه کې يې سبق وايه، بيا په کور کېناست، په چا کار نه لري، خپله رمه پيايي، تير کال يې يوځه وخت توپک ګرځاوه، ځو ځله سړک ته لاړ، يو وار پر مټ ولګېد، نه منع کېده، خو کله چې مې مشر ورور پر ماين وخوت، پلار مې توپک ورنه يووړ، ويل يې چې په کور کې يواځې تور سرې دي، ده هم ځه ونه ويل او د پلار خبره يې ومنله.

وړانګه غلې شوه، يودم يې وپوښتل:

_خوب درځي؟

د ماریا شونډې وخوځېدې:

_هاغه ستوری وینې؟

_کوم؟

_لمر لوېدو ته! تر نورو یو څه غټ دی.

وړانګې وخندل:

_هو! موږ یې د ماښام ستوری بولو.

ماریا وویل:

_تر اوسه مې دومره روڼ ستوری نه و لیدلی، ښکلی دی، دلته ستوري څومره رانه دي!

وړانګه په خبره کې ورولوېده:

_موږ کله کله د شپې له خوا مزل کوو، غرونه، دښتې او دریابونه مخې ته راځي، خو لاره نه غلطوو، لالا مې د ستورو په حساب ښه پوهیږي، لار د ستورو له مخې مالوموي. ځو؟

دواړه ولاړې شوې، کېږدۍ ته ور ننوتې، ځوان د راډیو ستن تاووله... بوډۍ ته له چایو ډک ګیلاس ایښی و، نږور یې د ماشوم ککرۍ پښې پاکولې...

نجونې یوې خواته کېناستې، چا ور ونه کتل، ماریا ګیلاس ته لاس وروغزاوه، تر نیمایي یې له تورو چایو ډک کړ، ولاړه شوه، ګیلاس یې د باندې تش کړ، بېرته په خپل ځای کېناسته، چایجوشه یې ورپورته کړه.

ځوان راډیو یوې خواته کیښوده، ولاړ شو، توشکه، بړستنه او بالښت یې وروا‌خیستل، بوډۍ وویل:

_څه کوې؟

د ځوان شونډې وخوځېدې:

_خوب راغی.

بوډۍ په حیرانی وویل:

_کېږدۍ خو لویه ده، یوه څنګ ته پریوزه!

ځوان ماریا ته وکتل، بېرته یې مخ واړاوه، پرته له دې چې څه ووایي، د باندې ووت.

ښځې تر يو څه وخته ناستې وې، وروسته وړانګه ولاړه شوه، توشکې يې هوارې کړې، ماريا ته يې وکتل، ورو يې وويل:

_ راځه!

ماريا له تکرې سره پرېوته، برستن يې پر سر ورکش کړه، د وړيو سوړ بوی يې په سږمو ننوت، بېرته يې مخ لوڅ کړ، پورته کېږدۍ ته يې وکتل، د يوه زاړه غلبيل تر څنګ د غوښو څو بڅرې راځړېدل.

وروسته وړانګې لمپې ته ور پوه کړل، تپه تياره شوه.

چرچرک نارې وهلې....

* * *

اسمان برګ و، دوه نجونې په يوه پراخه دره کې روانې وې، تر مخ يې يوې خرې خرې په ډبرو کې چټک ګامونه اخيستل، د خرې پر شا د اوبو تش ژی پروت و. دوی ښه شېبه مزل وکړ، بيا د يوې چينې پر غاړه ودرېدې، اوبه له يوې تيږې راوتلې..د نرې لښتې دواړو غاړو ته شنه واښه ولاړ وو.

وړانګې د خرې له شا ژی کښته کړ، ماريا ته يې مخ ور واړاوه، هغه څو ګامه ليرې ولاړه وه، ورو ورو غړېدله...

وړانګې په خندا وويل:

_ولي له ځان سره ګډه یې؟!

د ماریا شونډې ورپېږدې:

_څه؟!

_ما ولیدې، ډېر ګریوان ته دې خوله نېولې وه،تا خبرې کولې.

ماریایوه شېبه غلې وه، بیا یې یو دم وخندل:

_ما دعا ویله.

ورانګه له خندا شنه شوه:

_خدای که دې په یوه خبره پوه شوې یم!

_انګریزي وه.

ورانګې هماغسې په خندا وویل:

_په انګريزي د عا ويل کيږي!

ماريا غلې وه.

_وړانګې وويل:

_ موږ په اوبو پسې څومره لرې راغو! هه!

ماريا سړه ساه واخيسته، د لښتي پر ژۍ کېناسته، تر رڼواوبو لاندې زيږه شګه پرته وه، د شګې پر سر د ګوتې په اندازه کوچنيو خړو ماهيانو لکۍ وهلې...

وروسته يې اوبو ته لاس ور وغزاوه، سړې وې، يوه لپه يې مخ ته ور واچوله، له سپينې لنډې زنې يې رانه څاڅکي و څڅېدل...

اوږدې ګوتې يې په تورو ويښتو کې تيرې کړې، بله لپه يې مخ ته ور واچوله، نرۍ وروځې يې لندې وې.

بيا يې وړانګې ته وکتل، ژي ته يې په لپه اوبه ور اچولې...

ماريا وويل:

_وبربږم!

وړانګې وخندل:

_ولې؟

_که دې ورور خبر شو، نو بيا؟

_نه خبرېږي!

ماريا يوه شېبه غلې وه، بيا يې وويل:

_اوس به يې رمه راوستې وي، ناوخته شو!

د وړانګې شونډې وخوځېدې:

_دا دی! ژی ډکېدو ته نږدې دی!

ماريا مخامخ وکتل، غونډۍ تيټې وې، ځای ځای سپاندې او هسک اغزي باد ښورول...لرې پر يوه غټه ډبره دوه سارايي کوترې ناستې وې. په ټوله دره کې چوپه چوپتيا وه، يواځې يوې کوترې غومبرې وهلې، ځای پرځای راګرځېده...

ماریا کین لور ته وکتل، دا غونډی هم تر ډېره  هغې بلې ته ورته وه، یوازې کوترې نه وې.

ښي لور ته یې مخ واړاوه، رنګ یې والوت، په بیړه یې وویل:

_وړانګې!

وړانګې وخندل، پرته له دې چې سر پورته کړي، شونډې یې وخوځېدې:

_دا دی، ډک شو!

ماریا چیغه کړه!

_ورور دی!

وړانګې په بیړه سر پورته کړ، شېرګل منډې ور وهلې...ولاړه شوه، د ماریا مخې ته ودرېده، په رېږدېدلي غږ یې وویل:

_زړه دې غټ ونیسه! تاته څه نه وایي!

لنډه شېبه ووته، شېرګل ور ورسېد، ساه یې لنډه لنډه کېده، سترګې یې رډې راختلې وې، لاس یې پورته کړ، چیغه یې تر خولې راووته!

_تاته چا ویل چې دا پلیته دلته راوله!

کوترې والوتې.

یو کړس شو، وړانګه کښې لورته رنګه شوه، شېرګل دوهم ځل لاس پورته کړ، ماریا پر نجلی ورپرېوته، چیغه یې کړه!

_مه!

شېرګل لاس ونیو، په زوره یې وویل:

_هاخوا شه! که نه نو!

ماریا په بېړه ولاړه شوه، بوګام یې واخیست، د سرې تر مخ ودرېده، چیغه یې کړه!:

_که نه نو څه؟ ها! په ښځو لاس پورته کوې! بې غیرته!

یوه شېبه دواړو یوبل ته وکتل، د ځوان سترګې سرې وې، د نجلی په سترګو کې اوښکې رغړېدلې. ..

شيېرګل په زوره وويل!

_خوله دې وتړه!

د ماريا شونډې وخوځېدې:

_ته هم ځانته نارينه وايې!

وروسته يې ورانګه تر مټ ونيوله، د هغې لاندنۍ شونډه وينې وه، په سترګو کې يې وېره ښکارېدله...

ماريا سرې ته وکتل، ورو يې وويل:

_شونډې ته يې وګوره! ډېر زوروور يې، داسې نه ده؟!

د شيېرګل سر وځړېد.

ماريا چيغه کړه!

_تا وليدل ! زه نه يم تښتېدلې!

شېرګل غلی و.

ماریا د وړانګې لاس ونیو، ورو یې وویل:

_راځه!

وړانګې په اوبو کې پړاته ژې ته وکتل، ماریا تر لاس کش کړه، دواړه روانې شوې.

خره د غونډۍ نیمايي ته رسېدلي وه، په سپاندو او اغزیو کې یې خوله وهله..کوچی ځړېدلی سر ولاړ و.

*    *    *

بوډۍ د کېږدۍ سیوري ته ناسته وه، وړۍ یې ریسلې، وروسته یې سر پورته کړ، نجونې ولاړې وې.

بوډۍ په بیړه وویل:

_شېرګل ته خشکه ( غوسه ) ورغلې وه، مخې ته مه ورځئ!

وړانګې د خپلې انا غېږې ته ځان ور واچاوه، بوډم یې وژړل...بوډۍ ورته وکتل، د لاندنی شونډې پر سر یې ډومبک وینه پړته وه.

وروو يې وويل:

_ ځار ! بلا دې راباندې وګرځه!

د وړانګې ژړا زور ونيو...

ماريا يوه شېبه ولاړه وه، بيا کېږدۍ ته ور ننوته.

کوچۍ خېل زوی کراراوه، ماريا يې ترڅنګ کېناسته، ماشوم ته يې وکتل، تک ژېړ و، نرۍ پښې يې درلودې، د ملا هډوکي يې راوتلي ښکارېدل.

ماريا وويل:

_څه شی ورکوې؟

د ښځې شونډې وخوځېدې:

_د وزې شيدې.

_ولې خپلې؟

_کمې دي، مړولی یې نه شم.

ماریا یوه شېبه غلې وه، بیا یې وپوښتل:

_د ځلورو میاشتو دی؟

کوچی وویل:

_دا یې اومه میاشت ده.

_په کور کې وریجې لری؟

کوچی ورته وکتل، ورو یې وویل:

_خدایزده! موږ وریجې ډېرې نه پخوو.

ماریا وویل:

_که ماشوم له ځلورو میاشتو وروسته شوله، په شیدو کې لنده ډوډۍ او داسې نور پاسته خواړه وخوري، ګټه ورته لري.

کوچی هماغسې په حیرانی ورته کتل.

ماریا بیا اوږه لاس ورکېښود، ورو یې وویل:

_ یوځل یې واز مایه!

ولاړه شوه، د باندې یې وکتل، بوډۍ د پخوا غوندې څرخی تاواوه... وړانګه لیرې د مېږو او پسونو په مینځ کې د توت سیورې ته ناسته وه.

ماریا ورغله، وړانګې ته یې وکتل، اوږده بانه یې سره سریښ وو، تر څنګ یې کېناسته، تر ډېره دواړه غلې وې، وروسته د وړانګې ژړغونې غږ چوپتیا ماته کړه، ورو یې وویل:

_ورور مې کاوړې سړی ده، خو تر اوسه یې په ما لاس نه و پورته کړی، دا یې ړومبی څپیړه وه.

د ماریا شونډې وخوځېدې:

_ زما له لاسه!

وړانګې وویل:

_ته نه يې ملامته!

ماريا مېږو او پسونو ته سترګې ورواړولې، ټول پراته وو، ځمکه له وچو او لندو پچو ډکه وه، ځای ځای له ونې رالوېدلي توتان ښکارېدل، د څو لويو شنو مچانو بنګی خوت...

وروسته يې مخامخ وكتل، ورو يې وويل:

_راغی!

وړانګې سر پورته کړ، شېرګل په خرې پسې روان و، شپېه وروسته د کېږدی تر څنګ ودرېد، بوډی ور پورته شوه، لاسونه يې خوځېدل، خو غږ يې نه راته.

يوه شپېه سره ودرېدل، بيا شېرګل کېږدی ته ننوت، بېرته راووت، نېغ د توت خواته ور روان شو.

شپېه وروسته د خپلې خور تر څنګ کېناست، سر يې وځړېد، له خاورو يې يو خلکی ورپورته کړ، پر ځمکه يې څو کرښې وېستې، ورو يې وويل:

_له ما خپه يې؟

وړانګه غلې وه.

شېرګل سر پورته کړ، وړانګې ته يې وکتل، د هغې غتې سترګې لندې وې. ورو يې د نجلۍ سر په خپل ټټر پورې ولګاوه، نجلۍ ژړل...

شېرګل وويل:

_بيا به داسې نه کيږي.

د نجلۍ ژړا زور ونيو.

شېرګل وويل:

_زړه مې مه راخوره!

نجلۍ هماغسې ژړل، ښه شېبه يې اوښکې تويې کړې، وروسته ورو ورو کراره شوه.

ماريا دواړو ته کتل.

شېرګل وويل:

_ورشه! مخ ته دې يو دوه لپې اوبه ورواچوه!

وړانګه ولاړه شوه. شېرګل پسې کتل... نجلۍ کېږدۍ ته نږدې اېښي ګړي ته ور وګرځېده.

شېرګل په ځړېدلي سر وويل:

_تاته ام پړ يم.

ماريا غلې وه.

د شېرګل شونډې وخوځېدې:

_ته خو پوهېږې! ستا وطنداران ډېر کلک زړونه لري، په چا صرفه نه کوي.

ماريا غلې وه.

شېرګل وويل:

_زه مې په خور وبرېدم.

ماريا په خبره کې ور ولوېده:

_ما خو نه وژله!

د شېرګل سر وځرېد، ورو يې وويل:

_تېرکال د توتانو په وخت کې يوه طياره راغله، هغه وخت چيني ته نږدې يوه کېږدۍ ولاړه وه، نه پوښتنه، نه بازخواست، لوی بم يې پرې واچاوه، د پسونو او انسانانو غوښې مو نه شوی سره بېلولی.

ځوان غلی شو، نجلۍ ورته وکتل، ځېره يې نيولې وه.

ځوان وويل:

_دا اندېښنه به تر هغو راسره وي، تر څو چې ته دلته يې!

ماريا وويل:

_ژمنه کوم، کورنۍ به دې له خطره لرې وي.

شېرګل ورته وکتل، شونډې يې وخوځېدې:

_له کومه داسې ډاډه يې؟

نجلۍ وارخطا شوه، یوه شېبه غلې وه، بیدم یې وخندل:

_نه پوهیږم! زړه مې همداسې راته وایي.

څوان وخندل.

ماریا وویل:

_ته دومره بد هم نه یې، په خندا کې ښکلی ښکارې.

د دواړو سترګې سره وجنګېدې، د شېرګل سر وځړېد.

ماریا ولاړه شوه، ورو یې وویل:

_په ما باور وکه! نه تښتم.

شېرګل پر خاورو لیکې ایستلې...شېبه وروسته یې سر پورته کړ، ماریا روانه وه، ده تر هغو پسې کتل چې نجلۍ کېږدۍ ته ننوته.

*     *     *

د سهار خره وه، وړانګې ورو وویل:

_انا!

بوړۍ کوم حرکت ونه کړ.

د وړانګې شونډې وخوځېدې:

_پورته شه! ناوخته ده.

بوړۍ په بړستن کې پټه وه.

وړانګې ورو بړستن لرې کړه، د بوړۍ له خولې سپین ځګونه روان وو...وړانګې چیغه کړه!

_انا!

ماریا جټکه وخوړه، سترګې یې رنې کړې، کېناسته، بوړۍ ته یې وکتل، سترګې یې سپینې راختلې وې.

شېرګل او د هغه وربندار په بیړه کېږدۍ ته ور ننوتل، تول تر بوړۍ راتاو شول، وړانګې ژړل، نور وارخطا وو.

ماریا ور مخته شوه، د بوډۍ پر ګونځې ګونځې غاړه یې ګوتې کېښودې، ورو یې وویل:

_ژوندۍ ده.

یوه شېبه غلې وه، وروسته یې شونډې وخوځېدې:

_لږ ځای راکړئ!

کوچیان یوې خواته شول.

ماریا وویل:

_تر دې مخکې یې څه تکلیف درلود؟

وړانګې په ژړغوني غږ ځواب ورکړ!

_جګه جوړه وه!

شېرګل وویل:

_یوځل یې پر زړه درد راغلی و، بس!

ماریا د بوډۍ د ښي لاس زیږې ګوتې و موښلې، ورو یې وویل:

_ما ته د زړه حمله ښکاري.

کوچیانو په حیرانی ورته کتل...

ماریا وویل:

_د پښو تلې یې ور ومښئ!

کوچي د بوډۍ پښو ته ور وښویدې.

ماریا څو ځله د بوډۍ پر سینې زور وکړ، کوچیانو په حیرانی ورته کتل...

بوډۍ وټوخل.

ماریا وویل:

_د پښو مبنلو ته دوام ورکړئ!

بوډۍ ورو سترګې وغړولې، وړانګې په ژړا کې وخندل.

ماریا هغې ته وکتل، ورو یې وویل:

_لږ د بورې شربت ورته جوړ کړه!

وړانګه ولاړه شوه، شېبه وروسته یې د بوډۍ په خوله کې خوږې اوبه وڅڅولې، ورو یې وویل:

_انا! څنګه یې؟

بوډۍ په حیرانی ورته کتل، وروسته یې شونډې وخوځېدې:

_څه خبره ده؟

شېرګل وخندل:

_هیڅ! طبیعت دې یوڅه خپه و.

بوډۍ په ګیلاس کې پاتې شربت پر سر واړول، شېبه وروسته کېناسته ورو یې وویل:

_سر مې درد کوي!

وړانګه په خبره کې ورولوېده:

_ښه کیږي.

ماریا له کېږدۍ ووته، لمرخاته خواته اسمان ژېړ و، نرۍ باد چلېده...

نجلۍ پر یوه تیږه کېناسته، تیږه سړه وه، سپۍ ورغی، لکۍ یې ووهله، پښو ته یې پرېوت.

ماریا د هغه پر غټ سر لاس تېر کړ، د سپي لکۍ له ځمکې نرۍ دوړه پورته کړه...

ښه شېبه ووته، لمر راوخوت، د غونډیو یوه خوا ژیړبخونه ښکارېدله، بل لوري یې سیوری و.

بیا یې د شېرګل غږ واورېد:

_ته خو سمه دمه ډاکټره یې!

ماریا وخندل.

شېرګل مخامخ په شکو کې ورته کېناست، نجلۍ ته یې وکتل، د لمر وړانګې یې پر سپین مخ لګېدلې، ښکلې ورته ښکاره شوه.

نجلۍ ناڅاپه وویل:

_حاجي خداینور پېژنې؟

شېرګل په حیرانۍ ورته وکتل، شوندې یې وخوځېدې:

_څنګه دې دا پوښتنه وکړه؟

ماریا وخندل:

_هسې، د هغه د زړورتیا کیسې مې اورېدلې وې، تیرکال یې په رڼا ورځ یو امریکایي ټانک وویشت.

شېرګل یوه شېبه غلی و، وروسته یې په خوند وویل:

_حاجي خداینور لوی زړه لري، ما دوه درې ځلې لیدلی دی، د راکټ په ویشتلو کې یې نوم وړی.

_اوس چیرته دی؟

شېرګل وخندل:

_خدای خبر.

ماریا یوه شېبه غلې وه، بیا یې وویل:

_پوهېږې چې د امریکا حکومت د هغه پر سر پنځه میلیونه ډالره انعام ټاکلی! مړ یا ژوندی.

شېرګل وخندل:

_هو! خو د هغه نیول دومره اسانه خبره نه ده.

_ته له کومه پوهېږې؟

_حاجي خداینور هوښیار سړی دی، نن دلته سبا بل ځای، ځای بدلوي، تېره میاشت مرکز ته راغلی و، بیا چا نه دی لیدلی.

ځوان غلی شو، ماریا غوندېو ته کتل، شېرګل هغې ته وچې سترګې نېولې وې...وروسته یې یو غږ واورېد:

_چای نه سوروئ؟!

دوارو د کېږدۍ خواته وکتل، وړانګه وه، ولاړ شول، کېږدۍ ته ورننوتل، پر غوړ دسترخوان  د شیدو له چایه ډکې پیالې پرتې وې، ځای ځای وچه ډوډۍ ایښې وه، ماریا د بوډۍ ترڅنګ کېناسته، د هغې پر اوږه یې لاس کېښود، ورو یې وویل:

_اوس څنګه یې؟

د بوډۍ شونډې وخوځېدې:

_ښه یم.

وړانګې په خندا وویل:

_ډاکتره خو به نه یې؟

ماریا وخندل:

_نه، خو په ځینو لومړنیو مرستو پوهېږم.

بوډۍ په خبره کې ورولوېده:

_څه؟!

_مانا دا چې له سوځېدلې، بېسده او په اوبو کې له ډوب شوي انسان سره کومک کولی شم.

شېرګل ولاړ شو.

وړانګې دسترخوان ته وکتل، د ورور پیاله یې تر نیمايي ډکه وه، له پاستي هم کومه ګوله نه وه پورته شوې، ورو یې وویل:

_څه کوې؟

د شېرګل شونډې وخوځېدې:

_رمه سارا ته بیایم.

وړانګې وویل:

_یو وار خو دې چای سور که!

شېرګل په خبره کې ورولوېد:

_زړه ته مې نه کيږي.

له دې سره له کېږدۍ ووت.

بوډۍ وويل:

_نورکله خو په دريو پاستو نه مړېده، نن څنګه داسې ژر ولاړ سو؟!

د ورانګې شونډې وخوځيدې:

_خدايزده!

لنډه شېبه وروسته شېرګل بېرته کېږدۍ ته ور ننوت، ښځو په حيرانۍ ورته وکتل، کوچۍ وارخطا و، نيغ زړو بړستنو ته ورغی، شل ډزی ټوپک يې ور واخيست، ورانګې په بيړه وويل:

_څه خبره ده؟

شېرګل په لړزانده غږ وويل:

__عسکر دي!

د تیولو رنګونه والوتل، وړانګه د خپل ورور مخې ته ودرېده. په وارخطایی یې وویل:

_د خدای له پاره، موږ ته وګوره؟

شېرګل چیغه کړه!

_ مخه مې پرېږده.

بوډۍ په بیړه وویل:

_خور دې ښه وایي.

شېرګل په خشکه وویل!

دوی به مو تر تېغ تېر کړي.

ماریا د کېږدۍ له چولې دښتې ته وکتل، په دریو رینجرو موټرو پسې سپیرې دوړې پورته کیدلې...

وړانګې چیغه کړه!

_تر اوسه خو لا نه ده مالومه چې دوی چېرته ځي؟

شېرګل ماريا ته وکتل ، ورو يې وويل:

_دوی په دې نجلی پسې راغلي، له هغه پرته هم نه بچ کيږو، ښه دا ده چې په دوی هم مېندې بورې کم.

د ماريا شونډې وخوځېدې:

_ته هوښيار سړی يې، کورنی دې مه ژوبلوه!

شېرګل وويل:

_خو...

ماريا په خبره کې ور ولوېده:

_ په ما پسې نه دي راغلي.

سپې وغپل...

شېرګل د توپک ګېټ کش کړ.

ماریا وویل:

_په ما باور وکه، زه ستا د کورنۍ بربادي نه غواړم.

موټر دوه درې شله ګامه لرې ودرېدل، سپي ترې راګرځېده...

ماریا د شېرګل له لاسه توپک ونیو، بېرته یې تر بسترو لاندې کړ.

یو غږ واورېدل شو!

_را ووځه!

وړانګې ژړل، وربندار یې هم سونګېدله، بوډۍ وارخطا وه.

شېرګل ماریا ته وکتل، په مړاوي غږ یې وویل:

_تا غواړي.

ماریا په خپل تندي تېکرې ورکش کړ، له کېږدۍ ووته، شل پنځه ویشت وسله وال ولاړ وو، ځینو یې عسکري دریشی اغوستې وې، نور یې په شخصي جامو کې ول، برگ رومالونه یې تر سرونو تاو وو، په دوړو لړلي ښکارېدل.

ماریا په لوړ غږ وویل:

_څه غواړئ؟!

یوه ناره کړه!

_سړی راوباسه!

_له هغه سره مو څه کار دی؟

_ولې یې زموږ په لیدو منډه واخیسته؟!

ماریا یوه شېبه غلې وه، وروسته یې ورو وویل:

_شېرگله، راووځه!

_کوچی له کېږدۍ ور ووت:

دوه وسله وال د دوی خواته ور روان شول، ماریا کېږدۍ ته ننوته. شېبه وروسته عسکر د شېرګل تر څنګ ودرېدل، یوه یې کېږدۍ ته سر ور ننه کړ، شاوخوا یې وکتل، یواځې ښځې وې، بېرته یې شېرګل ته مخ ور واړاوه، ورو یې وویل:

_ته دلته اوسې؟

شېرګل په وارخطایي ځواب ورکړ:

_هو!

_ولې دې زموږ په لیدو منډه واخیسته؟

د کوچي ژبه بنده شوه:

_ما، ما

هماغه عسکر په غوسه وویل:

_بیا داسې بې عقلي ونه کړې! یوه شوې!

شېرګل غلی و.

عسکر روان شول، شېبه وروسته موټرو حرکت وکړ، سپي تر يوه ځايه منډه پسې واخيسته، کله چې دوړې کيناستې، ځای پرځای ولاړ و، په موټرو پسې يې غپل...

شېرګل کېږدۍ ته ور ننوت، کوچيانو خدای ته شکرونه ايستل...

شېرګل ماريا ته وکتل، ورو يې وويل:

_تا کولای شوای چې له هغوی سره لاړه شې.

ماريا غلې وه، کوچيانو په حيرانۍ ورته کتل...

وړانګې وويل:

_لا لا ريښتيا وايي! ولې دلته پاتې شوې؟!

ماريا يوه شېبه غلې وه، وروسته يې وويل:

_ما نه غوښتل چې تاسو ته کوم تاوان در ورسوم، که ما ځان ور پېژندلای وای، نو...

بوډۍ ورمخته شوه، ماریا یې پرتندې ښکل کړه، وړانګې ژړل...

ماریا د باندې ووته، پر یوه لویه ډبره کېناسته، دښتې ته یې وکتل، موټر ډېر لیرې لمر خاته خواته روان وو، سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، له ځانه یې ورتې (کرکه) وشو، شنه اسمان ته یې وکتل، ورو یې وویل:

_خدایه! ما وبخښه!

*　　*　　*

شېرګل د یوې ګڼې بیدې سیورې ته ناست و، پر ځمکه یې لیکې ایستلې، تر مخ یې د غنمو شنه وربیاد یولاس ښورول...رمه څو ګامه لیرې څرېدله.

وروسته یې د یوه سیرلې نرې غږ واورېد، سر یې پورته کړ، د سیرلې لکۍ له شنو غنمو راوتلې وه، شېرګل ولاړ شو، په سیرلې پسې یې څو تیرې وویشتې، سیرلې د رمې خواته منډه کړه.

یو غږ یې واورېد:

_یاره کوچیه مرداره مو کړه!

شېرګل کین لورته وکتل، یو ځوان ور روان و، سپینه خولې یې پر سر وه، په لاس کې یې بیلچه ښکارېدله.

شېرګل په ډېر کوچیاني غږ وویل:

_ولې؟ څه مو کړي چې داسې په کاوړ کې یې!

ځوان د شېرګل تر څنګ ودرېد، ورو یې وویل:

_اجب خلک یاست! د جایي وو( ځایي خلکو) سلامت فصلونه مو وخوړل، بیا وایې ...

شېرګل په خبره کې ورولوېد:

_چا؟

_تېره شپه کوچیانو زما د تره رشقې ته رمه ور پرېښې وه، سهار ته ډکې نه و پاتې.

شېرګل په بیړه وویل:

_زار دې شي، ما خو خدایکه تر اوسه مرداره پرې خوړلې وي.

ځوان یودم وخندل:

_تاته نه وایم، ته ښه سړی یې، زما درباندې پام و، سیرلی دې له غنمو وشاړه.

شېرګل روان شو، ځوان هم په هغه پسې ګامونه واخیستل، دواړه د ونې سیوري ته کېناستل. یوه شېبه غلي وو، وروسته شېرګل مخامخ وکتل، ورو یې وویل:

_دا غنم ستاسي دي؟

ځوان ختیځ لورته لاس ونیو، شونډې یې وخوځېدې:

_هاغه هسکه تیږه وینې!

_کومه؟

_ هاغه چې ټپوس پرې ناست دی.

_هو!

_تر هغه ځایه موږ کرلي، ورهاخوا د هغې ټیټې غونډۍ تر لمنې پورې مو بیا د ترونو فصلونه دي. هماغه تیږه ټک ( پوله ) ده.

شېرګل څه ونه ویل، ځوان یوه شېبه غلی و، وروسته یې شونډې وخوځېدې:

_ای کوچیه! خپه راته ښکارې.

شېرګل غلی و.

ځوان وویل:

_پوروړی یې؟

شېرګل هغه ته وکتل، شونډې یې وخوځېدې:

_نه!

ناروغه یې؟

_نه!

کوم تاوان دې کړی؟

_نه!

مالونه دې ناجوړه دي؟

_نه

د ځوان تندی تریو شو:

_نو بیا څه تکه درباندې پرېوتې ده چې داسې خپه یې؟!

شېرګل غلی و.

ځوان یو دم وخندل:

_مین یې؟

شېرګل هغه ته وکتل، بېرته یې سر ځوړند شو.

ځوان وویل:

_خوب دې څنګه ده؟

_دا دوه شپې مې سترګې نه دي سره وروستي.

_اشتها؟

_څه؟

_ډوډۍ ډېره خورې که کمه؟

_خدایکه مې له پرونه راهیسې ګوله هم راپورته کړې وي.

ځوان یوه شېبه غلی و، وروسته یې وویل:

_د خلکو خبرې بدې درباندې لګیږي؟

_هو!

له څه وخته راهیسې؟

_دا دوه ورځې کیږي.

ځوان وخندل:

_مین یې نو تور وي که سپین؟!

شېرګل هغه ته وکتل.

ځوان وویل:

_ته مین شوی یې.

شېرګل په حیرانی ورته کتل...

ځوان وویل:

_سپینه راته وکه!

د شېرګل شونډې وخوځېدې:

_څه؟

_ څوک دې خوښيږي؟

شيرګل کوم ځواب ورنه کړ.

ځوان وويل:

_ کوچی ده؟

_ نه

ځوان د هغه ولیو ته یو سوک ورکړ، په خندا یې وویل:

_ تو کومې جايې زړه درنه وړی؟

_ نه

ځوان په حيرانی وويل:

_ نه کوچی ده ، نه هم کلیواله، نو څوک ده؟

د شيېرګل زړه ولړزېد

ځوان وويل

_نه راته وايي

_نه

ځوان وخندل
_سمه ده، مه راته وايه! خو زه هم مين يم، دا ټول په ما تېرېږي، نه خوب لرم او نه هم اشتيا، هيچ شي خوند نه راکوي، بس نو! مينه همداسې وي..
شيېرګل يوه شېبه غلی و، وروسته يې وويل:
_رښتيا وايې؟
د ځوان شونډې وخوځېدې:
_ای کوچيه! خدای خبر ته به پوه شې که څنګه؟! خو زه به د مينې په باره کې څو خبرې درته وکم، بيا ته په خپله فکر وکه چې مين يې که نه؟
ما په يو چا زړه بايللی، کله کله بې اختياره ژړا راځي، اوښکې تويول راته ښه دي، د سکون او ارامۍ احساس کوم، کله چې شپه شي، لکه هغې چې له ما سره پر يوه بالښت سر ايښی وي، د ورځې يې په ياد تېې بولم، زړه مې راته وايي چې هرځای راسره وای، هغه څه مې ورته ويلي وای چې نورو ته يې نه شم ويلای، له خپلو کاميابيو مې خبره کړې وای او د هغې په ليدو مې په زړه کې پراته دردونه هېر کړي وای.
ځوان غلی شو، کوچي ته يې وکتل، بېرته يې شونډې و:خوځېد
_په خبرو مې وپوهېدې
شيېرګل په حيرانی ورته کتل..
ځوان وويل:
_ګوره! که دې د هغې په ليدو د زړه دربېدا ډېرېږي، نو مين يې!
که غواړې چې خپل پټ رازونه يواځې له هغې سره شريک کړې، نو مين يې!
که يې په نه ليدو د خواشينۍ احساس درته پيدا شو، نو مين يې
که دې له زړه، نه وته، نو مين يې!
اوس پوه شوې؟!
کوچی غلی و.
ځوان وخندل:
_نه غواړې چې هغې ته دروغ ووايې، داسې نه ده؟
کوچي په حيرانی ورته کتل...
ځوان وويل:
_ساده به درته ووايم! غره ته وګوره! کاڼو ته وګوره، بوټو ته سترګې ور واړوه، که دې په هرڅه کې هغه وليده،نو مين يې، مين ته ټوله دنيا، يواځې خپله مينه ښکاري.
ځوان غلی شو، ناڅاپه يې وخندل، د شيېرګل وليو ته يې يو دروند سوک ورکړ، په خندا يې وويل:

_پوه شوې که نه؟!
شېرګل غلی و.
د ځوان شونډې وخوځېدې؟
_نوته په کوم یوه کې راځې
شېرګل وویل
_خدایزده!
ځوان ولاړ شو، په زوته یې وویل:
_ای کوچیه! فکر وکه! که زما غونډې احساس کوې، نو پوه شه چې مین یې، هو رښتیا! له رمې سره دې پام کوه، للمو ته ورګډه نه شي، زه درنه لاړم
ځوان حرکت وکړ، شېرګل پسې وکتل، ځوړند سر روان و، ښه شېبه ووته، لمر د ونې سر ته راغی، د غنمو د سنو وږو پر سر یوې سرپوټکې ( یو ډول مرغه دی ) په هوا کې خپل وزرونه خوځول، ځای پرځای ولاړه وه، هغې نارې وهلې....
* * *
شېرګل تر زاړه توت لاندې رمه پنډه کړه، کېږدی ته یې وکتل، خور یې ولاړه وه، ورغی، وړانګې وویل:
_نور کله خو به وختي راتلې!
شېرګل غلی و.
وړانګې وویل:
_زه به ډوډۍ درته راوړم.
د شېرګل شونډې وخوځېدې
_زړه ته مې نه کیږي.
وړانګې په حیرانی وویل:
_سهار دې هم ګوله درپورته نه کړه، اوس د ماسپښین سیوری ړنګ دی.
شېرګل یوه شېبه ودرېد، وروسته کېږدی ته ورننوت.
بوډۍ پرته وه، نږور یې ماشوم ته شوله ورکوله، ماریا یې هم ترڅنګ ناسته وه..
شېرګل خیرن بالښت ته ډډه ولګوله، ماریا ته یې وکتل، د زړه دربا یې ډېره شوه، د کلیوال ځوان خبره یې په زړه کې راوګرځېده (( که دې د هغې په لیدو د زړه دربا ډرریږي، نو مین یې. )) سر یې وځړېد، یو ژېړ میږتون د زاړه لیمڅي په وړیو کې ننبتی و، ناڅاپه پر مېږتون غوړ دسترخوان هوار شو. شېرګل پورته وکتل، خور یې پر دسترخوان څو پاستي او یوه ډکه کاسه مستې کېښودې.
شېرګل له پاستي یوه ټوټه ور بېله کړه، مستو ته یې وروړه، کله چې یې ګوله خولې ته پورته کوله، ماریا ته یې پام شو، هغې ماشوم ته کتل، وروسته د دواړو سترګې سره وجنګېدې، شېرګل لاندې وکتل، کاسه یې ورپورته کړه، له مستو یې غوړپ وکړ، کاسه یې بېرته پر دسترخوان کېښوده.
ولاړ شو، خور یې پسې غږ کړ:
_ډوډۍ دې ونه خوړه!
شېرګل له کېږدۍ ووت، لاړ، د توت سیوري ته کېناست. دښتې ته یې وکتل، غونډۍ یې تر سترګو تېرې کړې، خوند یې ورنه کړ، هرڅه یې پر زړه ولاړ وو.
ښه شېبه ووته، چرتونو په مخه کړ، په ذهن کې یې یواځې د ماریا څېره ولاړه وه. یو دم یې وخندل، خپل ورانه ته یې سوک ورکړ، له ځان سره یې وویل:
_خوار سړی، خر یې سپی، خپله رمه دې پیایه!
بېرته یې د ماریا سرې شونډې او سپین غاښونه سترګو ته ودرېدل، تندی یې تریو شو، سترګې یې ډکې ډکې کېدې، د کلیوال ځوان خبره ور په زړه شوه (( که د له زړه، نه وته، نو مین یې.))
یو دم یې غبرګ لاسونه غوږونو ته وروړل، شونډې یې وخوځېدې:
_توبه خدایه، توبه!
رمې ته یې وکتل، څلور ورځې مخکې ژوند ور په زړه شو، نه یې غم پیژانده او نه یې هم په چا پوري زړه تړلی و، ټوله دنیا یې یواځې په خپله کورنۍ کې لیده، د وریو حساب یې ټینګ نیولی و، منی به شل یو نیم شل مېږې وپلورم، پیسې یې تر خولې تېرې دي، تر څوړموني د کور ښه چلاو پرې کیدی سي، خدای مهربانه دی، مېږې به وري پیدا کړي، هو رښتیا! سږ کال بارانونه ډېر دي، ژمی به ګرمسیر ته ځو، واښه به ډېر وي، مېږې او پسونه به غوښه ونیسي، د خپل زړه پیسې راته جوړولی سي.
یوې میږې رمباړه کړه، شېرګل ورته وکتل، ورو یې وویل:
_ته څه غم لرې؟!
یودم یې وخندل:

_ لېونی شوم که څنګه؟!
ولاړ شو، د توت یوې ټیټې څانګې ته یې لاس کړ، څو تور توت یې خولې ته واچول، خوند یې ور نه کړ، بېرته کېناست، دښتې ته یې وکتل، تر یوه ځایه خړه وه، وروسته د یوې اوږدې تراډې ولاړو اوبو غونډې ځلېدله...
هوا دپه وه، ډېر لیرې غرونه خوځېدل....
بېرته یې سر وځړېد، پر خړه پایڅه یې تور لوی مېږتون روان و، مېږتون یې د ښي لاس په ګوتو کې ونیو، سترګو ته یې ورنیږدې کړ، مېږتون پښې وهلې...یوه شېبه یې ورته وکتل، شونډې یې وخوځېدې:
_ کاشکې مېږتون وای.
خندا ورغله، مېږتون یې پرخاورو پرېښود، مېږتون منډه کړه، د یوه پراته پسه د تټر په سپینو وړیو کې ننوت.
شېرګل یوه شېبه د ونې سیوري ته کېناست، وروسته یې سترګې درنې شوې، خوب ورغی، پټکی یې په څادر کې ونغاړه، تر سر یې کېښود، دوه درې ځله یې د یوې مېږې توخې واورېد، بیا یې بانه سره ورغلل.
* * *
لمر په لوېدو و، د کېږدۍ تر څنګ یو په دوړو لړلی سراچه موټر ودرېد، شېرګل د باندې ووت، په سپې پسې یې لوټه وویشته، دوو وسلوالو ته یې غېږ ورکړه، هغوی اوږدې ږیرې درلودې، په دوړو سپېره ښکارېدل.
درې سره کېږدۍ ته ننوتل، بوډۍ په یوه کونج کې ناسته وه، په اوکلي ( هاون ) کې یې بادیان ټکول...
وسله والو خپلې ټوپکې زړو بړستنو ته ودرولې، شاوخوا یې وکتل، بوډۍ یواځې وه، تر څنګ یې ماشوم لغتې وهلې...
شېرګل په زوته ( لوړ غږ ) وویل:
_ چای!
یوه وویل:
_ ادې! څنګه یې؟
بوډۍ سوړ اسویلی ویست:
_ ښه یم! ژوند ده، تیرېږي.
شېرګل وخندل:
_ انا! ته اوس هم د زلیخا ځوانې غواړې!
نارینه وو وخندل...
بوډۍ اوکلی ټنګوله...
یوه میلمه شېرګل ته وکتل، په خندا یې وویل:
_ پرنګی چیرته ده؟
بوډۍ وویل:
_ پرنګی یې ولې بولې! سمه دمه بوسلمانه ده!
مېلمنو وخندل...
شېرګل وویل:
_ ودې نه لېده؟
_ چیرته؟
-د باندې، له تورسرو سره.
مېلمنو یوه بل ته وکتل، یوه یې وویل:
_ ترنغرې خو یواځې درې کوچې راګرځېدلې وې.
شېرګل وخندل:
_ یوه یې پرنګی ده.
د مېلمنو خولې وازې شوې، یوه یې وویل:
_ ډېره ازادي مو ورکړې!
بوډۍ په خبره کې ورولوېده:
_ ګلالۍ ده، چاته یې بد نه رسیږي.
مېلمنو وخندل...بوډۍ اوکلی ټنګوله...
شېرګل وویل:
_ په مرکز کې څه کیسې دي؟
یوه میلمه وویل:

_كراره بده ورځ، بيګاه طيارې راغلې، دوه درې دورې يې وخوړې، خو بمبارد يې ونه كړ.
د بوډۍ شونډې وخوځيدې:
_شكر
شېرګل وويل:
_پلار مې څنګه و؟
بوډۍ بله پوښتنه وكړه:
_څه وخت راځي؟
يوه ميلمه ځواب وركړ:
_غږ يې نه دی كړی.
د بوډۍ تندی تريو شو:
_داسي هم نه وايي چې كور ده، اور ده، څوک جوړ دي، څوک ناجوړ، شل، يونيم شل ورځې يې ووتې، يو وار رانه غی.
يوه ميلمه وخندل:
_رابه شي، زړه مه خوره!
بوډۍ سوړ اسويلی ويست، شونډې يې وخوځيدې:
_اولاد دښمن دی.
داوخت وړانګه كېږدۍ ته وردننوته،د مېلمنو تر مخ يې يوه تور ه چايجوشه او دوه ګيلاسونه كېښودل،
شېرګل  ته يې وكتل، ورو يې وويل:
_لمبات ( بوره ) خلاص شويدي.
يوه ميلمه وخندل:
_لمبات پرېږده، پرنګی ته ووايه چې تياره شي.
د اوكلی تنګاه غلې شوه.
د وړانګې رنګ والوت، شېرګل په حيرانی وويل:
_ولې؟!
د مېلمه خندا زور ونيو!
_بيايو يې! نور به يې له شره خلاص شئ.
شېرګل په بيړه وويل:
_چيرته؟
_اوس خو يې مركز ته بيايو!!
بوډۍ د خبرو وار ونيو:
_وژنئ يې!
_خدای خبر!
شېرګل په خبره كې ورولوېد:
_پلار مې غوښتې؟
_هو!
وړانګې خپل ورور ته وكتل، د هغه سر وځړېد، نجلی چيغه كړه!
_نه!
يودم يې منډه واخيسته، له كېږدی ووته!
بوډۍ وويل:
_زه به مې زوی ته ووايم!
مېلمنو په حيرانی ورته وكتل.
د بوډۍ شونډې وخوځېدې:
_تاسي يې نه شی بېولای!
شېرګل وويل:
_انا!  تاته خو مې پلار مالوم دی، هغه...
بوډۍ په خبره كې وروليېده:
_هغه زما خبره مني.
يوه ميلمه وويل:
_حاجي خداينور  غوښتې ده.
د شېرګل غوني زيږه شول.

بوډۍ غلې وه.

شېرګل په زوته وويل:

_ورته ووايه چې تياره شي!

د ورانګې د ژړا غږ پورته شو...

يوه مېلمه دوه ګيلاسه ډک کړل.

چوپه چوپتيا شوه، يوه هم څه نه ويل، کله کله به د ورانګې د ژړا غږ اوربېدل کېده...ښه شېبه ووته، وروسته ماريا کېږدۍ ته ور ننوته، په کونج کې ايښې تاو شوې عسکري دريشي يې وروا خيسته، بېرته د باندې ووته.

بوډۍ پسې غږ کړ:

_ته به چيرې نه ځې!

د ورانګې ژړا زور ونيو...

شېرګل په زوته وويل:

_دريشي دې نه اغوندي، خطر لري.

يوه مېلمه د تاييد په علامه سر وخوځاوه.

شېرګل خپلې انا ته وکتل، په نا اميدۍ يې وويل:

_مور، څه نه شو کولای.

ماريا ور غږ کړ!

_راځئ!

بوډۍ په بيړه له کېږدۍ ووته.

مېلمانه ولاړ شول.

لمر لوېدلی و، لوېديځ ته پرتې تار تار وريځې سرې وې، لرې غزيدلي غرونه تور ښکاريدل.

ورانګې ژړل، بوډۍ او د هغې نږور هم خوابدې وې، خو ماريا زړورې خبرې کولې، په څېره کې يې ويره نه وه پرته.

شېرګل غلی ولاړ و، سپي غپل، يوه سيرلي ټوپونه وهل...وسله وال په موټر کې ناست ول.

ماريا اغوستي کوچياني کميس ته اشاره وکړه، ورو يې وويل:

_ستا کميس مې راسره يووړ.

ورانګې کوکه کړه!

ماريا د ماشوم مورته مخ وروا ړاوه، شونډې يې وخوځېدې:

_ښنګل ته وګوره! ښه شوی دی، نرم خوراک ورکوه!

کوچۍ خپلو سترګو ته ټکری ونيو.

بوډۍ غلې ولاړه وه،اوږدې لرګينې تسبيح يې اړولې...

ماريا حرکت وکړ، د شېرګل د زړه دربا ډېره شوه.

ورانګه د خپل ورور مخې ته ودرېده، سترګې يې سرې وې، په خواره خوله يې وويل:

_لالا!

شېرګل غلی و..

ماريا د شا په سيټ کې کېناسته، د موټر د ماشين غږ پورته شو، د شېرګل پښې ولړزېدې، په سترګو يې تياره راغله، يودم يې منډه کړه، د موټر تر مخ ودرېد.

مخکينۍ دواړه دروازې خلاصې شوې. سپی تر موټر راګرځېده، غپل يې...وسله وال کښته شول، دوی په حيرانۍ شېرګل ته کتل...

شېرګل ورمخته شو، شاتنۍ دروازه يې خلاصه کړه، ورو يې وويل:

_کښته شه!

ماريا په موټر کې ناسته وه.

يوه وسله وال وويل:

_ته دا سې نه شې کولای.

شېرګل چيغه کړه!

_کښته شه!

وسله وال د ټوپک ګېټ کش کړ.

شېرګل برګ برګ ورته وکتل، د ټوپک ميل کښته شو.

وسله وال وويل:

_دا به دې په خیر نه وي.
بوډۍ په خبره کې ورولوېده:
_خدایکه مو رانه بوتله.
وسله وال شېرګل ته وکتل، په کاوږ یې وویل:
_دا حاجي خداینور غوښتی.
د ماریا شونډې وخوځېدې:
_زه ورسره ځم.
ورانګې په غریو کې وویل:
_لیونی یې!
شېرګل چیغه کړه!
_هغوی به دې ووژني!
ماریا وویل:
_خو زه تاسو ته جنجال نه شم جوړولای.
شېرګل لاس ور وغزاوه، تر مټ یې ونیوله او له موټره یې کښته کړه!
یوه وسله وال وویل:
_ښه دې ونه کړل!
شېرګل مخ واړاوه، لاړ او تر توت لاندې کېناست. موټر یوه شېبه ولاړ و، وروسته یې حرکت وکړ، ښځې کېږدۍ ته ننوتې، د ماشوم د ژړا نرۍ غږ اورېدل کېده.
* * *
ورانګې دسترخوان هوار کړ، له مستو ډکه کاسه یې کېښوده، ورو یې وویل:
_راځئ!
یوه هم حرکت ونه کړ، بوډۍ پرته وه، شېرګل بلې لمپې ته وچې سترګې نیولې وې، وربندار یې ماشوم مړاوه، ماریا هم یوه کونج ته ناسته وه.
ورانګې څه ونه ویل، د ماریا ترڅنګ غلې کېناسته، بوډۍ ته یې وکتل، د کېږدۍ پر تاټ یې د جړو ویښتو او تیرې پزې اوږد سیوری ښکارېده
تول غلي ول، یوه هم څه نه ویل، کله کله به ماشوم د وریجو په ګولې پسې چیغه کړه!
ماریا ورو ولاړه شوه، له کېږدۍ ووته، د باندې سوړ باد چلېده، سپوږمۍ نوې راختلې وه، نرۍ ښکارېده، خو بیا یې هم پر دښته خړه رڼا پرته وه.
ماریا پر یوه هواره تیږه کېناسته، سپی ورغی، لکۍ یې وخوځوله، پښو ته یې پریووت.
ښه شېبه ووته، سپي سر پورته کړ، وغرېد، منډه یې کړه، ماریا پسې وکتل، څو ګامه لیرې یې یو سیوری ولید، حرکت یې درلود، د سپي غپا یودم غلې شوه، ماریا په ځیر ځیر ورته وکتل، سپی او سړی دواړه ور روان ول.
ماریا په بیړه کېږدۍ ته ننوته، یوه هم ورته ونه کتل، تول غلي ول، پر دسترخوان له مستو ډکه کاسه ایښې وه.
ماریا وویل:
_د باندې یو سړی دی.
شېرګل په بیړه کېناست، توپک ته یې لاس ور وغزاوه، بوډۍ خپلې پښې ورټولې کړې.
توخی واورېدل شو...
ورانګې وویل:
_ابا!
کېږدۍ ته یو په ونه دنګ سړی ور ننوت.
شېرګل ولاړ شو، ورانګه او د هغې وربندار ه هم ودرېدې، بوډۍ کېناسته، ماریا په حیرانۍ ورته کتل...
دې دا لمر سوځولې څیره او له سپینې لونګۍ په نکریزو رنګ شوې راوتلې سرې څنې په غره کې لیدلې وې.
سړي ماریا ته وکتل، پرته له دې چې مخ ورنه واړوي په ملندو یې وویل
_دا خو مو سمه دمه په کور راګډه کړې ده
د ورانګې پښو پړک واخیست..
سړي خپل زوی ته سترګې وراواړولې، یوه شېبه غلی و، وروسته یې یودم چیغه کړه!
_څنګه دې دومره زړه وکړ؟
د شېرګل سر وځړېد.
بوډۍ په مړاوي غږ وویل:

_هلک ته خشکه مه کوه!
سړي چيغه کړه!
_ده حاجي خداينور ته ځواب ورکړی دی!
ماريا په بيړه ورته وکتل
وړانګې ژر له غولي ورونی ورپورته کړ، سپخيدلی زوړ بالښت يې کېښود، خپل پلار ته يې وکتل، هغه ولاړ و.
بوډۍ په سړه سينه وويل:
_کېنه! سا سمه که! هرڅه به خدای سم کړي.
سړي بالښت ته ډېره وو هله. تندی يې ګونځي و، له سپين پټکي يې په دوړو سپيرې سرې څنې راوتلې وې، څېره يې د لاتين ژيړې رڼا ته نيولې ښکارېدله...
وړانګه ورمخته شوه، له تورو چايو ډک ګيلاس يې سړي ته نږدې کېښود.
چوپه چوپتيا وه، يوه هم څه نه ويل، تول خواشيني وو، شېبه وروسته سړي سر پورته کړ، شېرګل ته يې وکتل ، ورو يې وويل
_د تورې غونډۍ تر شا يوه زړه کلاه ده، څوک نه پکي اوسي، خو ديوالونه يې روغ دي، حاجي خداينور او نور ملګري به يې سبا سهار اته بجې هلته درته ماتله وي، نه وخته او نه هم ناوخته، پوره اته بجې، پرنګی وروله او ور ويې سپاره!
وړانګې وويل:
_نه
سړي ړډ ړډ ورته وکتل، وړانګه په بيړه له کېږدی ووته
بوډۍ ماريا ته اشاره وکړه!:
_دا به هيچيري هم نه ځي!
ماريل په بيړه وويل:
_نه! زه ځم
شېرګل چيغه کړه
_چپ!
سړي په حيرانی ورته وکتل، د شېرګل سر ځوړند شو.
سړي په خشکه وويل:
_نه پوهېږم! دې پرنګی په دومره لنډ وخت کې څه کوډې درباندي کړې دي!
د شېرګل شونډې وخوځېدې
_هغوی به يې ووژنی
سړي په خشکه وويل
_بلا مو ورپسي، مرداره دې کړي! ولي مو دومره زړه پسې تړلی؟ هه؟
د باندي د وړانګې د ژړا غږ پورته شو
ماريا په منډه له کېږدۍ ووته
سړي شېرګل ته مخ ور واړاوه، په خشکه يې وويل:
_بله نه کيږي! وخته به حرکت کوی، پوره اته بجي بايد زړې کلا ته ور ورسيږی! نه وخته نه هم ناوخته! يوه شوې
شېرګل غلی و.
چوپه چوپتيا شوه، کله کله به د وړانګې د سونګېدا غږ پورته شو، ماريا به ډاډېنه ورکوله، ډېر پورته د يوې ښکنې طيارې نری غږ اورېدل کيده...
* * *
ماريا مخ واړاوه، د سهار په خړه کې يې شا ته وکتل، د غونډۍ په لمنه کې يوه توره کېږدۍ ولاړه وه، درې تورسرو پسې کتل، بيرته يې ورمېږ کوږ کړ، مخ په ځوړند روانه شوه، يو ځل يې بيا شا ته وکتل، له هسکو تيږو راوتلې شنې سپاندې، ګونګلان ( يو ډول غرنی بوټی دی ) او تېږه اغزي يې تر سترګو شول، کېږدی تر غونډۍ پټه شوې وه، هيچ هم نه ښکارېدل.
ماريا يوه سړه سا واخيسته، شېرګل ته يې وکتل، څو ګامه ليرې ځوړند سر روان و...خړ پړ ښکارېده، ټوپک يې تړلی و، ګړندي ګامونه يې اخيستل...
ماريا پښو ته زور ورکړ، څو ګامه يې واخيستل، يودم يې چيغه کړه!
_وای!
شېرګل په بيړه ور وکتل، د نجلی پښو ته نږدې يوې سوی منده واخيسته، شېرګل ټوپک پسې ونيو، سوی تر

یوې لویې ډبرې ټوپ کړ، په سپاندو او بوټو کې یې منډه کړه، تر غونډۍ واووښت.
ماریا یودم وخندل:
شېرګل په حیرانۍ ورته وکتل...
ماریا غلې شوه.
شېرګل ټوپک غاړې ته واچاوه ، ورو یې وویل:
_اجبه نجلۍ مې ولیده! مرګ ته روانه یې، بیا هم خاندې!
ماریا څه ونه ویل، شېرګل خپل تګ ته دوام ورکړ.. نجلۍ په هغه پسې ګړندۍ روانه وه...
نرۍ باد چلېده، پاس یوه غوټه توره وریځ ولاړه وه، نور اسمان شین و.
ښه شېبه ووته، دوئ یوه غونډۍ تر شا پرېښوده، د دوهمې په نیمایي کې د بوټوانو ( هغوی چې په غره کې بوټي وهي ) له خوا په جوړه شوې نرۍ لاره کې مخ پورته روان ول. .. پاو وروسته د غونډۍ سر ته وختل، شېرګل په یوه اواره ډبره کېناست، ماریا ور ورسیده، شېرګل وویل
_سا به سمه کو!
نجلۍ دوه، درې ګامه واخیستل، سرې ته مخامخ په یوه بله ډبره کېناسته. شاوخوا یې وکتل، هسکې او ټیټې غونډۍ وې، ژوندۍ ساری نه ښکارېده.
ماریا وویل
_څو بجې دي؟
شېرګل ګړی ته وکتل، شونډې یې وخوځېدې:
_پاو کم شپږ!
د ماریا پرمخ د اوبو څاڅکې ولګېد، پورته یې وکتل، پر سر یې توره پنډه وریځ ولاړه وه. دوهم څاڅکی یې سترګې ته برابر شو، ځمکې ته یې وکتل، د مار سپین پوستکې پروت و.
د شېرګل غږ یې واورېد:
_ډېر وخت نه لرو.
له دې سره ولاړ شو.
ماریا وویل
_څومره لاره پاتې ده؟
د شېرګل شونډې وخوځیدې:
_ایله اتو بجو ته ورسیږو.
ماریا په سرې پسې روانه شوه. پاو نور ووت، دوئ د یوې ټیټې غونډۍ په لمنه کې ګامونه اخیستل... د باران څاڅکې ډېر شوي وو، په نرۍ باد کې د لندې خاورې بوی تاوېده او ډېر لرې یوې زرکې نارې وهلې. کړکه کړکه کړکه....
دوئ ښه شېبه مزل وکړ، تر یوې بلې غونډۍ واوښتل، ماریا وویل
_څو بجې دي
شېرګل په مړاوي غږ ځواب ورکړ
_شپږ نیمې!
د ماریا شونډې وخوځېدې:
_دمه نه کوو؟
کوم ځواب یې وانه ورېد، سرې هماغسې پورته خوت..
دوه درې دقیقې یې نور هم مزل وکړ، شېرګل یو ناڅاپه ودرېد، پرته له دې چې ماریا ته وګوري، ورو یې وویل:
_څه نه اورې!
ماریا غوږ ونیو، د یوې ښکنې ( بې پیلوټه ) الوتکې نرۍ غږ اورېدل کېده، ورو یې وویل:
_نه!
د شېرګل شونډې وخوځېدې:
_طیاره نه ده؟
ماریا وویل:
_نه پوهېږم!
سرې روان شو، ماریا هم ګام واخیست، شېبه وروسته د غونډۍ سر ته وختل.
شېرګل وویل:
_دمه کولی شې، خو لنډ وخت.
ماریا په یوه لویه ډبره کېناسته، ورو یې وویل:

ـ څومره لاره پاتې ده؟
سرې ورته وکتل، د نجلۍ له خړ تکري راوتلې تور پيکي لوند و، پر سپين تندي يې څو تاره لانده ويښته سريښ ول او پر زنه پورې يې د باران يو روڼ څاڅکی ځړېده.
شېرګل ځمکې ته وکتل، ويې ويل:
ـ دومره وخت نه لرو، بايد اتو بجو ته ځانونه ورسوو، يا الله!
له دې سره ولاړ شو، پښه يې وښوېده، پر کيڼ اړخ پرېووت، خو بېرته ژر ودرېد.
ماريا په بېړه وويل:
ـ ژوبل خو نه شوې؟
شېرګل تشې ته لاس ونيو، خو څه يې ونه ويل.
لاندې تر بلې غونډۍ څه کم يو پاو لاره هواره وه، بوټې کم ول، ځای ځای به يوې مړې منډه واخيسته، د غار تر څنګ په پر دوو پښو ودرېده، شاوخوا به يې وکتل، غار ته به ننوته.
دوئ په هوارۍ کې پټه خوله روان ول، يوځای د ماريا د ګڼ کوچياني کميس لمن په يوه تېږه اغزي کې بنده شوه، لاس يې ور وغځاوه، په ګوته کې يې نرۍ درد احساس کړ، روانه شوه، ګوتې ته يې وکتل، دومبک وينه ترې راوتلې وه.
لمر راختلی و، د وريځو يوه څنده ژېړه ښکارېده، ختيځ لورته شنه زرغونه ولاړه وه، ښه ښېښه ووته، د ماريا ګامونه ورو شوي وو، خو شېرګل ګړندی تګ کاوه، لوړې ژورې يې نه ليدې، نېغ روان و، د دواړو تر منځ دوه، درې شله متره واټن پروت و.
کوچي شا ته وکتل، سر يې وخوځاوه، يوه هواره ډبره يې د ناستې له پاره خوښه کړه، کېناست، نجلۍ ور ورسېده، سرې ولاړ شو.
ماريا وويل:
ـ ستړې يم!
شېرګل بېرته کېناست، ماريا ته يې وکتل، تکری يې په غاړه کې پروت و، نري باد يې تور ويښته يوې، بلې خواته اړول.
شېرګل ګړۍ ته وکتل، ماريا په بېړه وويل:
ـ څو بجې دي؟
شېرګل يوه شېبه غلی و، وروسته يې سړه سا واخيسته:
ـ درې پاوه وخت لرو!
ماريا په خواره خوله وويل:
ـ دمه کولی شم؟
کوچي د هو په نښه سر وخوځاوه.
ماريا وويل:
ـ مننه!
د شېرګل سر وځړېد. ماريا مخامخ وکتل، باران درېدلی و، د لمر وړانګې پر لندو غونډيو لګېدلې...هرڅه پرېولې ښکارېدل، پر سپاندو او اغزيو پورې رڼو څاڅکو تال خوړ...
شېرګل په مړاوي غږ وويل:
ـ يالله!
ماريا ولاړه شوه. دواړو حرکت وکړ، شېبه وروسته د غونډۍ سر ته وختل، د غونډۍ سر تر ډېره هوار و، تګ دومره زور نه غوښت، دوئ په اسانۍ سره ګامونه اخيستل...په لنډ وخت کې يې ډېره لاره ووهله، خووروسته يې يوه هسکه مخې ته ودرېدله، دا غونډۍ تر تېرو غونډيو لوړه وه، تېرې ډبرې يې درلودې، تکې تورې، رنګ يې د سکرو غونډي و.
ماريا په بېړه وپوښتل:
ـ څومره لاره لا پاتې ده، ډېر وخت...
شېرګل په خبره کې ورولوېد:
ـ دا وروستۍ غونډۍ ده، شا ته هواري لري، کلا همالته ده، د غونډۍ له سره يې ليدی شې.
د ماريا سر وځړېد، مخ پورته روانه شوه، يوه شېبه يې مزل وکړ، خو کله چې يې شاته وکتل، داځل شېرګل پاتې و.
نجلۍ ماتله شوه، کوچي ور ورسېد، د ماريا تر څنګ تېر شو، خو ګامونه يې بېسېکه ول، د پخوا غونډې يې پياوړی تګ نه کاوه.
ماريا په سرې پسې روانه شوه، دواړه غلي ول، يواځې د وړو ډبرو د ښوردو او لاندر رغړيدو غږ اورېدل کېده...

د غونډۍ نیمایي ته رسیدلي وو چې شېرګل یو دم ودرېد، نجلۍ ورته وکتل، حیرانه شوه، د سرې سترګې له اوښکو ډکې وې.
ماریا په بیړه وویل:
_څه خبره ده؟!
د شېرګل سر وځړېد، کېناست.
ماریا وخندل:
_کوچیان په تګ کې غښتلي وي، خو...
شېرګل په خبره کې ور ولوېد:
_ستړی نه یم
_نو بیا څه خبره ده؟
شېرګل غلی و.
ښه شېبه ووته، یوه هم څه نه ویل، خو وروسته د شېرګل شونډې وخوځېدې:
_ته تلی شې!
ماریا په حیرانۍ وویل:
_چېرته؟
_نه پوهیږم! هرچېرته چې دې زړه وي، خو له دې ځایه لاړه شه!
نجلۍ د هغه تر څنګ کېناسته، سرې ته یې وکتل، له سترګو یې اوښکې روانې وې.
ماریا په حیرانۍ وویل:
_ته ژاړې؟
شېرګل مخ ورنه واړاوه.
ماریا وویل:
_څه خبره ده؟
شېرګل یوه شېبه غلی و، وروسته یې پر پزه لستونی تېر کړ، په مړاوي غږ یې وویل:
_تا به ووژني.
نجلۍ د هغه تر څنګ کېناسته، شونډې یې وخوځېدې:
_ته ولې خواشینی یې؟
_د کوچي بدن پړک واخیست.
نجلۍ وویل:
_ته ښه سړی یې، زما له پاره دې خپله کورنۍ خطر ته ورکړه، زه ...
شېرګل چیغه کړه!
_په خبره پوه شه! دوئ به دې مړه کړي!
ماریا غلې وه، وروسته یې وویل:
_خدای ته به یې پرېږدو، راځه!
له دې سره ولاړه شوه، دوه درې ګامه یې واخیستل، شېرګل چیغه کړه!
_ته لیونۍ یې!
ماریا ورته وکتل، سړی ځای پرځای ناست و، ورغله، د کوچي تر څنګ ودرېده، ورو یې وویل:
_زه تا او ستا کورنۍ ته غم نه شم پرېښودلای.
شېرګل یو سوړ اسویلی ویست، شونډې یې وخوځیدې:
_ځم، وطن پرېږدم، خو ته له دې ځایه لاړه شه!
ماریا یوه شېبه غلې وه، وروسته یې په حیرانۍ وویل:
_ولې؟ ته زما له پاره ولې دومره لویه قرباني ورکوې؟ هه !
د شېرګل سر ځوړند و.
ماریا وویل:
_ته خو پوهېږې! زه هیڅ نه لرم، تاته پیسې نه شم درکولای!
شېرګل رډ رډ ورته وکتل، یودم یې چیغه کړه!
_پیسې په بلا وهم!
_نو بیا ولې ځان خطر ته ورکوې؟ هه!
د شېرګل سر وځړېد.
ماریا وویل:
_راته ووایه!

شېرګل غلی و.
ماریا خپله خبره تکرار کړه:
_راته ووایه!
شېرګل چیغه کړه!
_ته مې خوښېږې!
د نجلی رنګ والوت.
شېرګل منډه کړه، په یوه سا څو متره پورته وخوت، ځنګنونه یې پر ورو تېږو ولګېدل، سر یې ځوړند شو.
ماریا تر ډېره لاندې ولاړه وه، زړه یې سستې کوله، سترګې یې له اوښکو ډکې وې، ښه شېبه ووته، وروسته یې ټوپک ور پورته کړ، روانه شوه، د سړي تر څنګ ودرېده، هغه ژړل...
ماریا کېناسته، شېرګل ته یې وکتل، سر یې ځوړند و، د ماشوم غوندې یې سلګی وهلې...
شېرګل په غریو کې وویل:
_زه څه خبر وم، ماته خو یوه کلیوال ځوان را پام کړل، ویل یې چې ته مین یې، هغه رښتیا ویل، ټولې خبرې یې سمې وختې، زه خپه یم، ډېر خپه، له تا پرته به څه کوم؟! هه! ته ووایه! زه...
ویې ژړل او خبرې یې پرې شوې.
د نجلی سترګې ډکې ډکې کېدې...
ښه شېبه ووته، شېرګل سونګېده، نجلی غلې وه...وروسته ماریا د کوچي پر اوږه لاس کېښود، ورو یې وویل:
_راځه! ناوخته شو!
شېرګل په پښو ودرېد، سر یې ځړېدلی و، مخ پورته روان شو.
ماریا ټوپک اوږې ته کړ، په سړي پسې روانه شوه، شېبه وروسته د غونډۍ سرته وختله، شېرګل ځوړند سر ناست و.
نجلی مخامخ وکتل، تر ډېره هواره دښته وه، وروسته شنې کرونډې ښکارېدلې، وریسې خړ کورونه پراته ول.
ماریا غړۍ اوږده کړه، غتو ډبرو د غونډۍ لمنه پټه کړې وه، زړه کلا نه ښکارېده.
نجلی د کوچي تر څنګ کېناسته، هغه ورو ورو سلګی وهلې...نجلی په مړاوي غږ وویل:
_زه ستا په درد پوهېږم، ستا مینه دې هم نه شم هېرولی، خو...
نجلی غلې شوه.
شېرګل په غریو کې وویل:
_ما نه غوښتل، خو بس نو! زړه دی، پام مې نه و، نه پوهېږم ولې! خو ته مې ښه ایسې!
ماریا په خبره کې ورولوېده:
_خو...
غلې شوه.
شېرګل پر خپله پزه لستوڼی تېر کړ، ورو یې وویل:
_اوس هم وخت لرې، له دې ځایه لاړه شه! زه به لاره در وښیم، لنډه لار، بس! یو، یونیم ساعت مزل غواړي، هلته عسکري پوسته ده.
نجلی د سړي تر لاس تړلې ګړۍ ته وکتل، لس کمې اته وې، ورو یې وویل:
_اوس ناوخته دی، هر څه پای ته ورسېدل.
شېرګل سر پورته کړ، سترګې یې سرې وې، بیرته یې لاندې وکتل، ورو یې وویل:
_هیڅ هم پای ته نه دي رسېدلي، هغوی لاندې په کلا کې دي، خدای خبر! یا به اوس را رسېږي، راځه! بېرته له غونډۍ کښته شو، څوک مو وینې! هه!
ماریا ولاړه شوه، ورو یې وویل:
_نه!
شېرګل په حیرانی ورته وکتل، نجلی ټوپک غاړې ته اچولی و، دښتې ته یې وچې سترګې نیولې وې.
شېرګل په بېړه وویل:
_که په تا څه وشول، نو زه
ماریا د خبرو وار ورنه ونیو:
_په ما هیڅ هم نه کېږي!
دا یې وویل، روانه شوه.
شېرګل منډه کړه، نجلی ته مخامخ ودرېد، د هغې اوږو ته یې ټکان ورکړ، په لوړ غږ یې وویل:
_ته لیونی یې!
د ماریا په تنده کې ګونځې پیدا شوې.

کوچي په حيرانۍ ورته کتل...
نجلۍ د سړي لاس ونيو، ګړۍ ته يې وکتل، پنځه کمې اته وې، لاس يې پرېښود، روانه شوه...
شېرګل پسې کتل...

ماريا ګړندي ګامونه واخيستل، سترګې يې له اوښکو ډکې وې، سا يې لنډه لنډه کېده... شېبه وروسته لاندې يو خړ دېوال ښکاره شو، ور مخته شوه، د غونډۍ له سره يې يوه زړه کلاه سترګو ته ودرېده.

هسک سره بخون ديوالونه تر يوه يوه نيم جريب ځمکې راتاو ول، په منځ کې يې زړې کوټې ښکارېدلې، دوو يې بامونه لرل، نوري يې ړنګې وې.

ماريا ځای پر ځای کېناسته، شېرګل ور ورسېد، د خواست په ژبه يې وويل:

_داسې مه کوه!

ناڅاپه د ډيک بخار د شپيلۍ غونډي نری شنهاری واورېدل شو، دواړو په بيړه پورته وکتل، په يوه توره ګړندۍ اوږدې اوسپنې پسې سپين لوګی روان و، لوګی ټيټ شو، ځمکه ولړزېده، تر کلا سرې لمبې راتاوې شوې...سر يې تورو لوخړو ونيو...

د کوچي رنګ والوت، پر ځمکه اوږد وغځېد.

دروند غږ يې په غوږو ننوت، يوه جيټ الوتکه پر کلا ور ټيټه شوه، درب شو، لويې وړې ډبرې ورغړېدې، توره لوخړه پورته شوه...کلا نه ښکارېده

له لوګي يو څوک راووت، سرې لمبې ترې تاوې وې، چيغې يې وهلې...څو ګامه يې واخيستل، ولوېد، سره لمبه ترې راوګرځېده...

دروند غږ يې واورېد، شمال شو، په بيړه يې شا ته وکتل، يواځې څو ګامه ليرې اوږده څرخونه تاوېدل، تر غونډۍ سلامت چورلکه(هليکوپټره) راپورته شوه، سر ته يې ودرېده، په پرانيستې دروازه کې يې يو عسکر ناست و، مشينګنه يې کوچي ته نيولې وه...

دوهمه چورلکه راپورته شوه، دا ټول د سترګو په رپ کې پېښ شول.

شېرګل ماريا ته وکتل، نجلۍ داده ناسته وه، له ځايه نه وه خوځېدلې، خوشاله ښکارېدله.

د کوچي زړه اور واخيست، پر سترګو يې تياره راغله، ولاړ شو، نجلۍ يې د وليو په مينځ کې په لغته ووهله، پړمخې پرېوته، ټوپک يې له ورنو وښوېد.

شېرګل ټوپک ته لاس ور وغځاوه، ټک شو، کوچی شا پرتخته ولوېد، د ماريا له خولې ځګونه باد شول، چيغه يې کړه، په انګليسي يې څه وويل، پر کوچي ورپرېوته.

سړي تر څنو ونيوله، په ښی اوږه کی يې نری درد تير شو، لاس يې له حرکته ولوېد، کيڼ لاس يې پر ځمکه وتپاوه، تيږه په ګوتو ورغله، ماريا يې لاس ټينګ ونيو، چيغه يې کړه!

_هغوئ به دي ووژني!

عسکر ور ورسېدل، د شېرګل لاسونه يې شاته ور واړول، عسکرو چيغې وهلې، څه يې ويل، خو کوچی يې په ژبه نه پوهېده.

شېبه وروسته يې د سړي لاسونه ور وتړل، يوه چورلکه څو ګامه ليري ناسته وه، څرخونه يې تاوېدل، بلې د کلا پر سر دورې وهلې...وروسته له ناستې چورلکې څو تنو ټوپ کړل، ټول له رنګه سره ول، ژېړ وېښته يې درلودل، جګ او هدور ښکارېدل.

يو دنګ سړی تر مخ و، د هغه په ټټر پورې سپينو او ژېړو روپيو ټال خوړ، نجلۍ ته يې کلکه غېږ ورکړه، د هغې لاس يې ټينګ ونيو، خوله يې له خندا، نه سره ټولېده، په انګريزي يې څه وويل، بيا له څو نورو عسکرو سره لاندې د کلاپه لور کښته شو.

د غونډۍ پر سر درې عسکر پاتې شول، يو يې چورلکې ته نږدې ولاړ و، دوو نورو د مشينګنو خولې کوچي ته ور اړولې وې...

د شېرګل له خولې ځګونه باديدل، پوچ پاش يې ويل، ښی اوږه يې په وينو سره وه.

ماريا يوه عسکر ته څه وويل، هغه منده کړه، کله چې بېرته راغی، په لاس کې يې يو تور بکس ښکارېده.

عسکر ټيپي ته مخامخ کېناست، بکس يې خلاص کړ، له رنګارنګ دواوو، پلسترونو او سپينې پختې ( پنبې ) ډک و. وروسته يې پر يوه ټوټه سلامت بوتل تش کړ، ټوټه يې د کوچي اوږې ته ورنږدې کړه، کوچی شا ته شو، ماريا وويل

_پرېږده چې زخم دي پانسمان کړي، مرمۍ وتلې ده، جوړېږې!

شېرګل تو کړل، د نجلۍ له سپينې زنې لاړې وڅڅېدې.

کوچي چيغه کړه!


_تا ماته دوکه راکړه!

ماريا خپل لستونی پر زنه تېر کړ، کلا ته يې وکتل، تور لوګی ترې پورته کېده، ورو يې وويل:

_ما يواځې خپله دنده تر سره کړه، حاجي خداينور د امريکې ګټو ته ستر ګواښ و، ده زموږ پر ضد جنګيالي

روزل، د جنګ پلانونه يې جوړول، تېرکال يې څلور امريکايان ووژل، نن زموږ وار و، غڅ مو واخيست. نجلۍ غلې شوه.
شېرګل په حيرانۍ ورته کتل...
ماريا عسکر ته اشاره وکړه، عسکر د شېرګل د تپ په پاکولو بوخت شو، کوچي کوم غبرګون ونه ښود، ماريا وويل:
زه پوځۍ نه يم، تر اوسه مې ماشې ته ګوته نه ده وړ وړې، زه د امريکې استخباراتو ته کار کوم، تېر کال افغانستان ته راغلم، پوره لس مياشتې مې بېلابېل تمرينونه وليدل، نيمه هېره شوې ژبه مې له سره زده کړه، له خلکو سره وغږېدم، په دود، دستور مې ځان پوه کړ، مختلف کتابونه مې ولوستل.
نجلۍ وټوخل، بېرته يې شونډې وخوځېدې:
يوه ورځ مې چادرې پر سر کړه، له نظامي اډې ووتم، يواځې وم، سړک ته وختم، يوه کرايي موټر ته مې لاس ورکړ، د نږدې ولسوالۍ کلينيک ته ورغلم، کليوالې ښځې وې، خبرې مې ورسره وکړې، سمه دمه پښتنه وم، کليواله پښتنه، يوې هم کوم شک وانه خيست، يواځې يوې پيغلې زما د رانه پوستکي او پستو ويښتو راز راڅخه وپوښت، نور هيڅ خبره نه وه.
ماريا غلې شوه، کوچي په حيرانۍ ورته کتل... نجلۍ وويل:
ماته يواځې يو ماموريت راکړل شو، د حاجي خداينور پيداکول، د هغه په موندلو پسې امريکې ډېرې هڅې کړې وې، انعامونه يې ټاکلي ول، جاسوسان يې پسې اچولي وو، خو کومه ګټه يې نه کوله، حاجي خداينور مرموز سړی و، درک يې نه لګېده.
دوئ دا ماموريت ماته راوسپاره، پوهېدم چې له خطره ډک دی، مرګ ورسره تړلی دی، خو بله چاره مې نه ليده، امر و، بايد پر ځای شوی وای.
ماريا يوه شېبه غلې شوه، بېرته په خبرو راغله:
بخت ياري راسره وکړه، لس ورځې مخکې زموږ استخباراتي سرچينو ته خبر راغی چې حاجي خداينور په همدې سيمه کې ليدل شوی دی، دا زموږ له پاره ښه چانس و، بېړنۍ غونډه دايره شوه، پر پلان مو کار پيل کړ، نقشه مو مخې ته واچوله، د حاجي خداينور د پيداکېدو احتمالي ځايونه مو په نښه کړل، هره خوا مو وسنجوله، کار د کاغذ له مخې سم جوړ شو، له پلان سره سم، زه بايد د مخالفو وسلوالو مينځ ته ورغلې وای، خو داکار تر ټولو ستونزمن و، پوره دوه ساعته مو خبرې وکړې، بله چاره نه وه، ما بايد اسارت ته ځان ورکړی وای.
درې ورځې وروسته يې د جوړ شوي پلان له مخې په يوه پوځي موټر کې کېنولم، دريو موټرو حرکت وکړ، په هغه لار لاړو چې له خطره ډکه وه، زموږ پلان سم وخوت، د درې په مينځ کې ډزې راباندې وشوې، موټر ودرېدل، له عسکرو سره کښته شوم، تر يوې لوړې پرښې مې ځان پټ کړ، مرمۍ مې پر سر تېرېدې، مرګ مې په سترګو ليد، خو پلان له نقشې سره سم پرمخ لاړ، عسکر د چورلکو په مرسته وتښتېدل او زه اسيره شوم.
لومړی مې وهل وخوړل، بيا يې غره ته بوتلم او وروسته يې تاسو ته وروسپارلم.
ماريا غلې شوه، د خپل کوچيانې کميس ګريوان ته يې لاس کړ، بېرته يې راويست، په ګوتو کې يې د قلم د سر غونډې نری اوسپنه ښکارېده، څوکې يې غمی درلود، کله کله به خپه سره رڼا ترې راووته...
نجلۍ ورو وويل:
ما په کېږدۍ کې څو ورځې تېرې کړې، خو له مرکز سره مې تماس درلود، د دې دستګاه په برکت يې زما ټولې خبرې اورېدلې، له هرڅه خبرېدل، زړې ژرندې ته نږدې ماينونه ځغوئ ويستل، زه هم ډاډه وم، د خطر په وخت کې رارسيدل، بخت ياري راسره وکړه، هرڅه سم پرمخ لاړل، کېږدۍ له مصنوعي سپوږمۍ څخه کنټرولېده، کله کله به بې پيلوټه الوتکې هم دورې وهلې، هرڅه تر کنټرول لاندې ول.
نجلۍ غلې شوه، کوچي هيڅ نه ويل، سترګې يې سرې وې، په تنده کې يې ګونځې ليدل کېدې، څېره يې تېولې وه.
ماريا ولاړه شوه، له کلا څخه هماغسې لوګي پورته کيدل، سرتيري په کنډوالو کې ګرځېدل...
نجلۍ کوچي ته وکتل، پر اوږه يې سپينه ټوټه تړل شوې وه.
ماريا ورو وويل:
ته له زړه صاف سړی يې، خو خور دې ډېره خوږه ده، هغه...
کوچي چيغه کړه!
خو تا غلط کړو!
ماريا يوه ترخه موسکا وکړه، شونډې يې وخوځېدې:
ته څه فکر کوې؟! که طيارې نه وای راغلې، دوی به ژوندی پرېښې وای، ته په خپله پوهېږې، په جګړه کې هر لوری خپلو ګټو ته ګوري، که يې ونه وژنې، نو وژني دې، ما يواځې خپل ماموريت تر سره کړ، په

*خپل قول ودربدم، تاسو ته مې هيڅ تاوان در ونه رساوه، د اوربې تپ دې هم له خپله لاسه، که تا ټوپک ته لاس نه وای ور غځولی، هغوئ نه ويشتې، ما ورته ويلي وو چې تاته کوم تاوان در ونه رسوي.*
*تېز شمال شو، نجلۍ پورته وکتل، پر سر يې چورلکه ولاړه وه، شېبه وروسته د هغې بلې چورلکې تر څنګ کېناسته، څرخونه يې تاوېدل... سپاندې او غرني بوټې يوې خواته رنګ پراته ول...له چورلکې څخه څو سرتېر وټوپ کړل، دوئ خوشاله ښکارېدل، خبرې يې کولې، خندل يې...ماريا ټولو ته لاس ور اوږد کړ، يوه له ونې دنګ شين سترګې ځوان د نجلۍ ګڼ کوچياني کميس ته اشاره وکړه، څه يې وويل، ټولو وخندل.*
*يوه بل له ځمکې شل ډزی ټوپک ورپورته کړ، د چورلکې خواته ګړندی روان شو، شېرګل پسې کتل، په سترګو کې يې کرکه پرته وه...*
*شېبه وروسته نور سرتيري هم پورته ور وختل، د يوه په لاس کې توره پلاستيکي کڅوړه وه، ډکه ښکارېدله، دوو نورو سوځېدلي مشينګنې خپلو ملګرو ته ورښودلې....*
*يو سرتيری ور دمخه شو، کوچې يې د مشينګنې پر ميل وواهه، دالوتکې خواته يې اشاره وکړه، ماريا په بيړه ور نږدې شوه،سرتيري ته يې څه وويل، هغه يوې خواته غلی ودرېد.*
*پنځه دقيقې نورې هم تېرې شوې، وروسته ټول د چورلکو خواته روان شول، ماريا او دوه نور سرتيري کوچي ته نږدې ولاړ وو.*
*ماريا ورو وويل:*
*پاته شوه د مينې خبره، ته ښه سړی يې، خو...*
*شېرګل لاړې تو کړې، چيغه يې کړه!*
*دروغ وو، ټول دروغ وو، ته مې د سپي غوندې بده ايسې!*
*ماريا وخندل، ورو يې وويل:*
*هر رنګه چې دې زړه وي، خو ما کوژده کړې، واده ته مې دوې مياشتې پاتې دي.*
*د شېرګل سترګې له اوښکو ډکې وې...*
*ماريا يوه سرتيري ته اشاره وکړه، هغه ټيټ شو، د کوچي لاسونه يې خلاص کړل. شېرګل په بيړه يوې ډبرې ته لاس ور وغځاوه، ولاړ شو، پرله پسې ډزې شوې، د کوچي پښو ته يوه ليکه مړه دوړه پورته شوه، بل سرتيري د کنداغ وار پرې وکړ، کوچی پر کيڼ اړخ پرېوت.*
*ماريا ورته وکتل، د کوچي خوله وينې وه.*
*نجلۍ د چورلکو خواته روانه شوه، دوو نورو سرتېرو هم حرکت وکړ، مشينګنې يې د کوچي خواته نيولې وې...*
*نجلۍ دروازې ته نږدې پر څوکۍ کېناسته، سترګې يې له اوښکو ډکې وې، کوچي ته يې کتل...*
*چورلکې ټکان وخوړ، له ځمکې پورته شوه، کوچي پر پښو ودرېد، په چورلکې پسې يې منډه کړه، چيغې يې وهلې، تيږې يې ويشتلې، څه يې ويل، خو غږ يې نه اورېدل کېده، سرتېرو خندل...*
*چورلکه پورته وختله، ډېره پورته، خو نجلۍ له کوچي څخه سترګې نه اړولې، هغه ولاړ و، شاوخوا غو ندۍ ترې راګرځېدلې وې، له کلا تور لوګي پورته کېدل....*
*چورلکې څنګ بدل کړ، ليرې يوې بوړبوکۍ دورې خوړلې، نېغه د شنو فصلونو خواته ور روانه وه.*
*پای*
*۱۳۸۸ لمريز کال ، د سرطان شپږمه*




# د واورې سرې

# لنډې کيسې

ليکوال : نصيراحمد احمدي

۱۳۸۸ل

# د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | : دواوړې سړی |
| لیکوال | : نصیراحمد احمدي |
| د لیکوال تلیفون شمیره | : ۰۷۰۰۲۵۶۱۹۱ |
| د لیکوال ایمیل ادرس | : nasirahmad_ahmadi@yahoo.com |
| چاپ شمیر | : ۱۰۰۰ ټوکه |
| خپرندویه ټولنه | :مومند خپرندویه ټولنه |
| چاپ کال | : ۱۳۸۸ ل |
| کمپوز | : په خپله لیکوال |
| ډیزاین | : جمال الدین جمال |

# دالی

ګران کاروان صاحب ته !

بسم الله الرحمن الرحيم

# جنایت

دسهار په خړه کې د پولیسو یو موټر لنډ راتاو شو، وښوېد او ودرېد. دروازې خلاصې شوې، عسکري بوټونه تر ښنګرو واورو پټ کړل، ولاړو خلکو لار ورکړه، عسکر تر یوه ځوارلس کلن هلک را تاو شول. هلک یوه پوخ دیوال ته ولي لګولې وو، سر یې کیڼ لور ته ځوړند و او پر تورو ګاږګوتي ویښتو یې نرۍ پرخه پرته وه.
یو عسکر پر ملا کړوپ شو، د هلک پر سپینه غاړه یې ګوتې کېښودې، خپلو ملګرو ته یې وکتل او دوه درې ځله یې په منفي بڼه سر وځوځاوه.
چوپه چوپتیا وه، ولاړو خلکو پنډ کوټونه اغوستي وو، ځېرې یې نیولې وې او له خولو څخه یې مړه تاوونه پورته کېدل.
یوه عسکر وپوښتل:
ــځوک یې پېژنئ؟
د خلکو ځواب منفي و.
عسکر خپلو ملګرو ته اشاره وکړه، دوی ټوپکونه غاړو ته واچول، وچ کلک جسد یې له واورې پورته کړ او د موټر په باډۍ کې یې ترپال پرې وغوړاوه.

شېبه وروسته موټر پاخه سړک ته وخوت، خلک هم په خپلو کارونو پسې لاړل، خو په واوره کې د یوچا د ناستې ځای ، نږدې ګڼ پلونه او د موټر لنډه راتاو شوې توره لیکه لا ښکارېدله.

❋ ❋ ❋

د پولیسو څارنوال ( ب ) یوه دوسیه راپورته کړه، پاڼه یې واړوله، عدلي طب د هلک مړینه طبیعي ښودلې وه، لیکلي یې وو چې د یخنۍ له لاسه مړ شوی دی، د جرم او جنایت کومه نښه یې نه ده موندلې او د خپلوانو د نه پیداکېدو په خاطر د ښار په عمومي هدیره کې خاورې پرې واړول شوې.

څارنوال ولاړ شو، دوسیه یې په الماری کې کېښوده، بیرته پرڅوکۍ کېناست، د مېز پر سر ایښې بټن یې ټینګه کړه، له زنګ سره یو وچ، کلک سړی په وره کې ودرېد ، به بیړه یې وویل:

ـصاحب !

څارنوال چای وغوښت، سړی په منډه له دفتره ووت. څارنوال د مېز له سره یوه بله دوسیه راپورته کړه، څو پاڼې یې واړولې، خو ډېر ژر یې بیرته پر مېز کېښوده، یو اوږد اسوېلی یې ویست، خپله پکه ککرۍ یې وګروله، ریموټ ته یې لاس کړ، د تلویزیون چاینلونه یې واړول، په یوه کې کارتونو، په بل کې څو مستې نجونې نڅېدلې،

دربیم چاینل هم یو تود سیاسي بحث خپراوه. ځارنوال ببرته دوهمه بټنه ټینګه کړه، د تلویزیون پر پرده د نجونو نڅا راغله.
دا وخت یې مبایل وشرنګېد ، ځارنوال د خپلې کورتۍ جیب ته لاس کړ، مبایل یې غوږ ته ونیو ، ورو یې وویل:
ـمهرباني وکړئ، ځارنوال (ب)
له مقابل لوري لړزانده غږ واورېدل شو:
ـیوه مهمه خبره درته لرم.
ـامر کوئ !
ـیوه اوونۍ مخکې سینما ته نږدې یو لیسو یو مړی وموند.
ځارنوال په بیړه وویل:
ـهو ! یو هلک یخنۍ وژلی و.
په تیلفون کې ټوخی واورېدل شو ، وروسته مقابل لوري وویل:
ـپه ظاهره یخنۍ وژلی و ، خو تر شا یې یو لوی جنایت پټ دی.
ځارنوال په بیړه وپوښتل:
ـتاسو څوک یاست؟ له کوم ځایه خبرې کوئ؟
تلیفون قطع شو.
ځارنوال ژر د مېز پر سرا ېښې ګوشکۍ ورپورته کړه، یوه لنډه نومره یې ووهله، ویې ویل:
ـزما دفتر ته راشئ !

لنډه شېبه وروسته په دفتر کې یو په ونه لوړ سړی ولاړ و، څارنوال دوه - درې ځله د خپل مبایل سکرین ته وکتل، په کاغذ یې یوه نومره ولیکله، کاغذ یې ولاړ سړي ته ونیو، ویې ویل:
_غواړم پوه شم چې د تلیفون دا نومره د چا ده، له مخابراتو پوښتنه وکړئ، ژر!
سړي کاغذ ور واخیست، په بیړه له دفتره ووت، تر غرمې ورک و. کله چې بېرته راغی څارنوال (ب) ډوډۍ خوړله. څارنوال سړي ته د کېناستو بلنه ورکړه، وروسته یې په ډکه خوله وویل:
_څه درک دې ولګاوه؟
_هو صاحب! تلیفون له یوې پې سي او ځخه شوی و، تیلیفونچي ویل چې د نهو بجو په شاوخوا کې دوکان ته درې تنه ورغلي وو، لومړی یوه پښغله وه چې پوره لس دقیقې یې خبرې کړې، بیا یو ځوان په خارج کې له چا سره غږېدلی و او وروسته له هغه یوه بوډا ته وار ور رسېدلی و.
څارنوال له مستو ډکه کاشوغه ورپورته کړه، سړي ور وکتل، د برېتونو لاندې تور وېښته یې په مستو سپین وو.
څارنوال وویل:
_د بوډا په اړه یې نور څه مالومات درلود؟
_صاحب! ویې ویل چې دورځې لسګونه تنه ورځي، دی د هر یوه څېره ذهن ته نه شي سپارلی، خو دومره یې په زړه و چې بوډا

کڅوړنې سترګې درلودې، پوزه يې غټه وه او کله چې يې د تيليفون پيسې ورنه اخيستلې، نو تيليفونچي د کباب بوی احساس کړی و.
څارنوال وويل:
ـ پيدا به يې کړو؟
ـ صاحب! ګرانه خبره ده، دا ښار دی، دلته يې شميره خلک ژوند کوي.
څارنوال يوه شېبه غلی و، ورو سته يې د مېز پر سر لوېدلې يوه يوه ورېجه ور ټوله کړه، په غاب کې يې واچوله، ورو يې وويل:
ـ رښتيا وايې، موندل يې ګران کار دی، بايد صبر وکم، شايد بيا تلفون وکي.
د څارنوال وړاندوينه سمه وخته، ماسپښين يې موبايل وشرنګيد، مقابل لوري وويل:
ـ زما خبره مو زړه ته ولوېده؟
څارنوال وويل:
ـ خو موږ ثبوت غواړو.
ـ کيسه اوږده ده، په تليفون کې نه ويل کيږي.
ـ نو چيرته سره ووينو؟
مقابل لوری يوه شېبه غلی و، په تليفون کې يو اځې د موټرو هارنونه اورېدل کيدل، وروسته يې وويل:
ـ خو په يوه شرط!
ـ څه؟

ـ زه غریب سړی یم، ماته به کوم جنجال نه پیدا کوې.
ـ سمه ده، ژمنه کوم.
مقابل لوري وتړوخل، بیا یې وویل:
ښاروالی ته نږدې یو کوچینی پارک دی، سباسهار نهه بجې هلته راشئ ، په دې واورو کې پارک تش وي، ما په اسانۍ موندلی شئ.
تلیفون قطع شو.
څارنوال فکر یوووړ، بیا یې د اطمینان لپاره عدلي طب ته تلیفون وکړ، هغوئ خپل استول شوی رپوت سم وګاڼه، ویې ویل چې په څېړنه کې کومه تېروتنه نه ده شوې، د هلک مرګ طبیعي دی او کوم جنایي اړخ نه لري.

❊ ❊ ❊

څارنوال ( ب ) لس کمې اته بجې په پارک کې و، له خولې څخه یې سپین تاوونه پورته کېدل او لاسونه یې د اوږده تور بالاپوښ په جېبونو کې پټ کړي وو.
په کوچني پارک کې څوک نه ښکارېدل، د هسکو ونو تور، نري او اوږده سیوري پر سپینو واورو پراته ول او تر پارک له راګرځېدلو کتارو ور هاخوا پر تور سړک یو یو موټر تېرېده.

پينځه دقيقې نورې هم ووتې، بيا د پارک په شمالي دروازه کې يو سړی ودرېد، دی بوډا و، له پطلون سره يې شنه لونګۍ تړلې وه او يو پنډ زوړ جمپر يې په تن و.
شېبه وروسته يې څارنوال ته لاس ورکړ، دواړه پر يوه اوږده څوکۍ کېناستل، يوه لحظه غلي ول، وروسته څارنوال وويل:
ــ چرتې دې کړم.
بوډا هغه ته وکتل، برېتو يې سپينه پرخه نيولې وه، د اوږدې پزې تيره څوکه يې سره ښکارېده.
بوډا لنډ ځواب ورکړ:
ــ بايد چرتې شې.
څارنوال مخ ورواړاوه:
ــ خبرې وکه، ما ژمنه درسره کړې، له ستونزو به لرې يې.
بوډا يو سوړ اسويلی ويست، لاندې يې پرخپل بوټ واوره تخته کړه، ورو يې وويل:
زه کسبګرسړی يم، دېرش کاله کيږي چې اشپزي کوم، ما په بېلابېلو هوټلونو کې کار کړی، لاس مې ښه دی، خو تر ټولو د کباب په پخولو کې ډېرتکړه يم، تېره مياشت مې په يوه هوټل کې کار ونيو، دا هوټل د موټرو په اډه کې دی، هلته ډېره ګڼه ګونه وي، ولاياتو ته بسونه ځي او ښه چليږي. دا يو کوچنی هوټل دی، د شپې تيرولو ځای نه لري، خو مشتريان يې ډېر دي او خاوند يې په مزو کې دی.

بوډا غلی شو ، یو سوړ اسویلی یې ویست ، ویې ویل:
دا د اتو ورخو مخکې کیسه ده، ما کباب پخاوه، وروسته مې یوه دیارلس یا څوارلس کلن هلک ته پام شو، له نانوای نه یې ډوډۍ غوښته، خو نانوای په غوسه شو، هلک ته یې بد رد وویل او له هغه ځایه یې وشاړه. زه حیران شوم، هلک ته مې وکتل، نه یې جامې د سوالګرو وې او نه هم څیره او نور ظاهري جوړښت. ورغږ مې کړ، راغی او زما تر څنګ ودرېد. پوه شوم چې وږی دی، ما د کباب دوه سیخه ورته ونیول، ده مننه وکړه او په بیړه د کباب په خوړلو بوخت شو.
دی له رنګه ښایسته و، سپین پوست یې درلود او داسې نه ښکارېده چې تر دې مخکې دې کومه سخته پرې ورغلې وي.
وروسته مې وپوښت:
_ولې سوال کوې؟
هلک راته وکتل، غټې تورې سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، ویې ویل:
_وږی یم، پیسې نه لرم.
_کور دې چېرته دی؟
هلک یوه شېبه غلی و، بیا یې سر پورته کړ، شونډې یې وخوځېدې:
_په ایران کې.
حیران شوم:
_نو دلته څه کوې؟

هلک په خواشینۍ وویل:

ـ مورې لس کاله مخکې ایران ته مهاجر شوو، په کور کې پنځه تنه یو، زه، پلار، مور او ز ما دوه وړې خوېندې، پلار مې په یوه ساختماني شرکت کې کار کاوه، زه هم په یوه مغازه کې مزدور وم، خلکو ته به مې سودا ورکوله، کارتنونه به مې له یوه ځایه بل ځای ته وړل، ستړی به وم، خو بیا هم ښه و، مازدیګر به ټول سره یوځای شوو او د ورځې ستړیا به مې هېره شوه، یو سهار مغازې ته تلم، پولیسو ودرولم، د مهاجرت کارت یې رانه وغوښت، خو مورې د زرګونو نورو افغانانو غوندې غیر قانوني مهاجر وو، اسناد مو نه درلودل، هماغه و چې لومړی یې د سنګ سفید په نوم یوې بندیخانې ته ولېږلم، یوه اوونۍ مې هلته تېره کړه، بیا یې تر مرزه ( سرحده ) را واړولم. اوس دا دی شپږمه ورځ ده چې سرګردانه ګرځم، له کوره هم احوال نه لرم، نه پوهېږم چې څه وکړم، قاچاقبر پیسې غواړی، خو زه په ګېډه نه یم مورې، ایران ته د تګ لپاره پیسې په کار دي، ډېرې پیسې.

ما ور نه وپوښتل:

ـ ولې دلته، په افغانستان کې څوک نه لرې؟

هلک وویل:

ـ نه، ترونه مې پخوا لا پاکستان ته کډه شوي دي، دومره پوهېږ م چې په پېښور کې اوسي، نور یې درک نه را مالومېږي.

ـ نو دا شپږ ورځې دې چیرې تېرې کړې؟

ـ تر پرونه یو څه پیسې راسره وې، په یوه مساپر خانه کې به مې ډوډۍ خوړه، د شپې د تېرېدو پیسې یې نه رانه غوښتې، همالته به پر تخت ویدېدم، پرون مې ټوله ورځ څه ونه خوړل، بانه مې داوه چې په نس مې درد دې، خو نن سهار د مساپرخانې خاوند راباندې پوه شو او زه یې له هغه ځایه وشړلم، ما په ژوند کې خواست نه دی کړی، خو وږی وم، ټیکه نه راتله، ځکه مې له نانوایه یوه ډوډۍ وغوښته.

بوډا د ماشومانو په شور او زوږ غلی شو، له جنوبي دروازې څخه یوه ډله ماشومان پارک ته ور ننوتل، دوی منډې وهلې، یو بل یې دواورو په غونډوسکو ویشتل، وروسته پرته له دې چې په پارک کې ماتله شي، په بیړه د پارک له شمالي دروازې څخه ووتل.

د بوډا سر وځړېد، یوه شېبه غلی و، بیا یې ورو وویل:

ـ هلک یوه لحظه له ماسره ودرېد، فکر کوم چې د کباب بوی ښه پرې لګېدلی و، خو زه پردی مزدور وم، نوره لوربینه مې نه شوای ورباندې کولای، داوخت د هوټل خاوند راغږ کړ!

ـ څلور خوراکه کباب!

ما نور سیخونه د انګار له پاسه کېښودل، کباب ته مې پکه وهله چې د هوټل خاوند راغی، ده د یو بل خوراک فرمایش راکړ، ویې ویل چې یو نږدې دوست یې راغلی، غوښې ته څه مصاله هم ورګډه کړه او په سیخونو کې سپین بخرکي مه پېیه! وروسته یې هلک ته

پام شو، ما ته یې په پوښتونکي نظر وکتل، ومې ویل چې مساپر دی، له ایرانه یې را اړولی، دلته ځوک نه لري.
د هوټل خاوند په ځیر ورته وکتل، مخ یې را واړاوه، ویې ویل:
ــ وبال لري، ډوډۍ ورکړه، بیا به نوره مرسته هم ورسره وکم.
له دې سره بیرته هوټل ته ننوت.
د هوټل خاوند په ظاهره بد سړی نه و، په غریبانو یې پام کاوه، هر سهار به یې د سلو روپو نوټ د سوالګرو لپاره ماتاوه، هوټل ته به ډېر ګدایګر راتلل یو یې هم نا امېده نه پرېښوده، یو دوه اوغانۍ به یې ورته نیولې، دی به پر دخل ناست و او کله کله به یې له مساپرو پاتې ډوډۍ پر غریبانو ویشله.
هلک ته مې ډوډۍ ورکړه، دی تر ماسپښینه ماتل شو، ما لمونځ وکړ، په هوټل کې هیڅوک نه و، هلک پر تخت ناست و، دی چرتي ښکارېده، زه پخلنځي ته لاړم، غوړ لوښې مې پریمینځل او د ماخستن لپاره مې غوښه پر سیخونو وپېیله، کله چې بېرته ورغلم، د هوټل خاوند مې د هلک تر څنګ ولید، دوی خبرې کولې، ښه شېبه وغږېدل، د هوټل خاوند ډاډ ورکړ چې دی ځینې قاچاقبران پیژني، هر څه به سم شي.
هلک په هوټل کې پاتې شو، د ماخستن له خوا خلک کم وو، ډوډۍ مو ژر ورکړه، وروسته د هوټل شاګردان هم خپلو کورونو ته لاړل او په هوټل کې درې تنه پاتې شوو، زه، د هوټل خاوند او کوچنی مساپر.

موږ تر ناوخته ویښ وو، د هوټل خاوند دورځې حساب کاوه، هلک د بخا ری تر څنګ غلی ناست و او ما هم د سبا لپاره غوښه وړوله، ښه شپبه نوره هم ووته، هلک ته مې وکتل، سترګې يې له خوبه ډکې وې، ولاړ شوم، د بخا ری تر څنګ مې ځای ورته جوړ کړ. د هوټل خاوند هم خو ګامه لرې د تخت په بل سر کې پریووت، ما ته هم خوب راته، خپله بستره مې هوا ره کړه، د ګروپ ساکټ ته مې لاس ور وغځاوه او سترګې مې پټې کړې.
زه هم دلته مسا پر یم. کورنۍ مې په کلي کې ده، یوه میاشت کېده چې کور ته نه وم تللی، په هغه شپه مې خپله کوچنی لور تر ډېره په ذهن کې وه، خو وروسته خوب وړی وم.
بوډا غلی شو.
څارنوال په بیړه وویل:
_بیا؟
د بوډا شونډې و خوځېدې:
_ یوه شورماشور مې سترګې رڼې کړې، د بخارۍ د سره انګار په تته رڼا کې مې هوټلي ولید چې د هلک تر څنګ ناست و، هلک سرې ته سوکان نیولې وو، سپکې سپورې يې ور ته ویلې، خو هوټلي غلی و، هیڅ يې هم نه ویل او سر يې ځړېدلی ښکارېده، وروسته هلک په بیړه ولاړ شو، بوټونه يې په پښو کړل، خو کله چې يې د دروازې دستګیر ته لاس ور وغځاوه، ور کولپ و، بیا یو

کړنګ شو، لویه شیشه دړې وړې شوه، هلک په توره شپه کې د باندې لاړ او هوټل ته سړه هوا راننوته.
بوډا غلی شو.
څارنوال وویل:
ـ دا یو لوی جنایت دی، دا پست هوټلي باید سزا وویني، باید.
بوډا وویل:
ـ ما بل څه نه شو کولای، کار مې پرېښود او قانون مې خبر کړ، نور نو تا سو ښه پوهیږئ.
څارنوال وپوښتل:
ـ غواړې چې چیرته لاړ شې؟
ـ نپوهېږم، بل ځای به په کار پسې ګرځم، ما درته وویل، زه یو تکړه اشپز یم، روپۍ کمه یا ډېره، کار پیدا کولای شم.
څارنوال وویل:
ـ خو که تا ته ضرورت پېښ شو بیا به دې چیرې پیدا کوم؟
د بوډا شونډې وخوځېدې:
ـ تا ژمنه کړې وه چې ما ته به کوم جنجال نه پیدا کوې.
څارنوال وخندل:
ـ زه په خپله خبره ولاړ یم، خو دا زما وظیفه ده، باید د شاهد ادرس ولرم.
بوډا وویل:

ـ دلته څوک نه پېژنم، خو د کلي ادرس مې درسره ولیکه، قول دی، که مې کار وموند، په تیلیفون کې دې خبروم.
ځارنوال د سړي د کلي او د هوټل دواړه ادرسونه واخیستل.
شېبه وروسته په پارک کې هیڅوک نه و، د ونې پر یوه لوڅ ښاخ یو کارغه ښکارېده او د سپینو واورو پر سر څو وچې پاڼې باد رغړولې.

❋ ❋ ❋

ماسپښین دوه بجې وې، ځارنوال پر یوه خیرنه څوکۍ ناست و، پر غوړ مېز ایښی له تورو چایو ډک ګیلاس یې ور پورته کړ، هوټلي ته یې وکتل، ده د ټایپ د یوې جړ شوې کسټې راوتلې کولمې خلاصولې.
وروسته یې ورمېږ کوږ کړ، د تخت پر سر ناستو دوو تنو خبرې سره کولې او دوی ته نږدې یوه ځوانکي پر تېرو سیخانو غوښه پېیله.
نور هوټل تش و.
ځارنوال هوټلي ته اشاره وکړه، هغه راغی او ځارنوال ته مخامخ ودرېد. ورو یې وویل:
ـ څه شی غواړی؟

څارنوال د لاس په اشاره هوټلي وپوهاوه چې مخامخ ورته کينې.
هوټلي حيران شو.
څارنوال جيب ته لاس کړ، يو کارټ يې راويست، د هوټلي سترګو ته يې ونيو، ويې ويل:
_څارنوال (ب)
د هوټلي رنګ والووت، پر څوکۍ کېناست او څارنوال ته يې په وېره وکتل.
څارنوال ورو وويل:
_کاروبار دې څنګه دی؟
هوټلي وارخطا شو:
_صيب! ښه دی، ګذاره کوي.
څارنوال له چايو غوړپ وکړ، شونډې يې و خوځېدې:
_يو څو پوښتنې درنه کوم.
_امر کوئ، صيب!
_تا څو ورځې مخکې يو ميلمه درلود.
هوټلي په ماته ګوډه ژبه وويل:
_صيب، زه، زه خو ډېر ميلمانه لرم، ته، ته کوم يو يادوې؟
د څارنوال شونډې وخوځېدې:
_خو ته د شپې ميلمه نه لرې.
د هوټلي رنګ سور شو.
دا وخت د مېز ترڅنګ دوه تنه ودرېدل، يوه يې وويل:

ـدوه چایه، څو روپۍ شوې؟
ـپنځلس اوغانۍ
هغه د مېز پر سر پیسې کېښودې او دواړه له هوټله ووتل.
څارنوال پسې وکتل، هوټلي ته یې مخ ورواړاوه، په ملنډو یې وویل:
ـپه زړو شیشو کې دا یوه شیشه نوې ښکارې، دا دې ولې بدله کړېده؟
هوټلي پرتخت ناست ځوانکي ته وکتل، له هغه نه یې وغوښتل چې پاتې کار په اشپز خا نه کې وکړي، وروسته یې څارنوال ته مخ ور واړاوه، شونډې یې ورپېدې او په لړزانده غږ یې وویل:
ـماته شوه.
ـڅنګه؟
هوټلي چیغه کړه !
ـ له ما څه غواړې؟
څارنوال ور مخته شو، د دواړو سترګې سره وجنګېدې، څارنوال وویل:
ـته ډېر پست سړی یې، تا هغه هلک ته لاس ور اچولی و، د شپې یې په برستن ور ننوتی وې، ته پوهېږې ! هغه مړ دی، یخني وژلای.
ـدا دروغ دي.
ـزه شاهد لرم، زوړ کبابي.

## د واورې سړی

هوټلي په بيړه ولاړ شو ، منډه يې کړه، خو ښارنوال تر لمنې ونيو ، سړی پړمخې ولويد ، سر يې پر يوې څوکۍ ولګيد او له تندي يې وينه روانه شوه.

* * *

خارنوال (ب) په خشکه وویل:
ــ اقرار وکه، تا هغه هلک ته لاس وراچولی و.
هوتلي سرې لاړې تو کړې، څارنوال ته یې وکتل، شونډې یې وخوځېدې:
ــ نه، ما هیڅ نه دي کړي.
څارنوال تر ګرین ونیو، ورو یې وویل:
ــ تا زه نه یم پیژندلی، ما د ډېرو مجرمینو ژبه خلاصه کړېده، ته به اقرار کوې، ضرور.
هوتلي څه و نه ویل.
څارنوال ولاړ شو، د بند په سړه او نمجنه کوټه کې یې څو ګامه واخیستل، ودرېد، سړي ته یې وکتل، په کاوړ یې وویل:
ــ ته د بخښلو نه یې، تا جرم کړی، یو نه بخښونکی جرم، ته د لوند سپي غونډې د کرکې وړ یې، پوهېږې، ته به پانسي شې.
هوتلي ولړزید. سړه سا یې واخیسته، ورو یې ویل:
ــ راځه، یوه معامله سره وکړو.
څارنوال په حیرانۍ ورته وکتل.
د هوتلي شونډې وخوځېدې:
ــ زه یې پانسی، ته به کومه ګټه وکړې؟
څارنوال وویل:

ـد مقصد خبره کوه !

ـګوره، د هلک دوسيه تړل شوېده، ټول په دې قانع دي چې هغه يخنۍ وژلی، ته دوه لکه اوغانۍ واخله او ما خوشی که.

د ځارنوال سترګې رډې راوختې، ټيټ شو، هوټلي يې تر ګرېوان ونيو، په خشکه يې وويل:

ـته ماته رشوت راکوې؟

هوټلي وارخطا شو.

ځارنوال يوه شېبه غلی و، بيا يې شاوخوا وکتل، د بند د کوټې ور پورې و، وروسته يې هو ټلي ته مخ ور واړاوه، دهغه غوږ ته يې خوله ورنږدې کړه، ورو يې وويل:

ـزه دومره احمق نه يم، پوره پنځه لکه !

پای

# د واورې سړی

د دلوې د میاشتې لومړی مازدیګر و چې اسمان سپینو وربځو ونیو، واوره پیل شوه او په لنډ وخت کې یې یوه لویشت پوټې سپین کړ. وریدا اوږده شوه. یوه ورځ، دوه ورځې، درې ورځې... تر دې دمه کلیوال ورته خوشاله وو، واوره یې کاریزونو ته سره زر ګڼله، خو وروسته د بامونو پاکولو ستړي کړل، خلق یې تنګ شو او چې په څلورمه او پنځمه ورځ یې هم لمر ونه لید، خدای (ج) ته یې د اورښت د دریدو خواستونه شروع کړل.

واوره ډېره اوریدله، ما په خپله متر ورسره ونیو، نوي سانتیوو ته رسیدله، څوک د باندې نه شو وتلی، ګشت وګام نه کېده، ان د نږدې کلیو لارې هم بندې وې، نه پوله ښکاریدله او نه هم پټی، ټوله سیمه یو لاس، تکه سپینه وه. ځکه به نو د جومات تر څنګ اوږده کوټه له کلیوالو ډکه وه او د تاوخانې په تاوده ځای به ځای نه کیده.

ماشومان به هم په دې خونه کې سره راټول وو، په جيبونو کې به يې له پرتو مردکيو ټکا ايسته او کله کله به يې له لويانو په پټه جفت او تاق کاوه.

په کليوالو کې يو پردی سړی هم ښکاريده، دی يو ژېړ مازديګر کلي ته راغی، شل دېرش افغانۍ يې ټولې کړې، په جومات کې يې شپه شوه او کله چې سهار وختي د باندي ووت، واوره په شدت سره اورېدله.

بوډا د ناچارۍ له مخې په جومات کې پاتې شو، کليوالو به ډوډۍ ورته راوړله، دی ډير نه غږيده، غلی سړی و، چورتونه به يې وهل، خو کله کله چې به د واورې بڅرکي غټ شول، د ده سترګې به وځلېدې، په څېره کې به يې خوشالي راټوله شوه او له خړو شونډو به يې څو ځله د ( شکر ) کلمه راووته. په پېل کې به د بوډا دا شکرونه په غوږونو ښه لګېدل، خو وروسته يې کليوالو ته دومره خوند نه ورکاوه او ځينو شوخو ځوانانو به لا ټوکې پسې کولې.

دوئ به په ټيټ غږ ويل " بوډا ته خدای ورکړه، په توده تاوخانه پروت دی، مفته ډوډۍ ور رسيږي، نو واورې ته به ولې نه وي خوشاله. " بل به په ملنډو ورغبرګه کړه: "څه يې کوې ! ځمکې به يې ډېرې وي ".. ماشومانو هم "د واورې سړی " نوم پرې کېښود.دوئ به بوډا ته اشاره کوله، له نوي نوم نه به يې خوند اخيست او پټ پټ به يې خندل.

په پنځم سهار واوره ودرېده، کليوال بامونو ته وروختل او د درېيم ځل لپاره يې واوره واچوله، خو کله چې سترګي ستومانه جومات ته راغلل، اوربنت بيا پېل وکړ. بوډا تاويدونکوسپينو بخرکو ته وکتل، په خوند يې وويل:
ـمه کوه ! مه کوه چې اووري !
دې خبرې ځينو سترو کليوالو ته خوند ور نه کړ، يو ځوان بې حوصلې شو او په خشکه يې وويل:
ـ کاکا ! څه دې پکې ليدلي دي، کرار پروت يې، دا ځل به دې يوه بام ته ور وخېژوم، بيا به دا خبره ونه کړې.
يوه بل په ملنډو ورغږ کړ:
ـ څه يې کوې ، ځمکې به يې ډېرې وي، د وچکالۍ غم ورسره دی.
په دې خبره څو ځوانانو وخندل.
بوډا يوه شېبه غلی و، مايې سترګو ته وکتل، اوښکې پکې رغړيدلې، وروسته يې يوې ترخې خندا شونډې سره وبړې کړې ، ورو يې وويل:
ـبچيانو ! زه نه ځمکه لرم، نه کور او نه هم کوم خپل پردی. اوياوو کلونو ته رسيدلی يم، ځکه نو د واورو د اچولو تمه هم مه را ته کوئ، وچکالۍ ته هم دومره زړه نه خورم،خدای مهربانه دی، له لوږې به نه مرو ،خو زه دا سپين بخرکي د بل څه لپاره غواړم.

بوډا غلی شو، کلیوالو ته یې وکتل،هغوئ حیرانې سترګې ورته نیولې وې، بیرته یې سر وګرځید ، یوه سړه ساه یې وایستله، په خوابدي غږ یې وویل:

ـ تېر ژمی واوره کمه اوورېده، یوائې یوه میاشت پرته وه، خو بیا هم ښه و، د کلیو لارې بندې وې، تګ راتګ نه کېده، پښه یې نیوله، د موټرو، موټرسایکلو او ټانکونو سینې یې راګرځولې، کراره کراري وه، خو کله چې واوره ولاړه او لارې تورې شوې، ګولۍ اووریدې، زما ځوان زوی یې را وویشت او وینو یې د دیوال سیوري ته پرته واوره سره کړه. د واورې اوریدو ته مه خپه کیږئ، دعا وکړئ چې ډېره وورېږي، هومره چې لارې د ډېر وخت لپاره بندې کړي، ژر ویلې نه شي او ځو ورځې د وینو د توېدلو مخه ونیسي.

پای

# د خير کار

د ورځپاڼې مدير راته وويل:
ـد دفتر بوديجه کمه ده، غواړو چې څو تنه اضافه بست کړو، خو ته وروستی چانس لرې، دا يو امتحان وګڼه، که دې زموږ په خوښه مرکه راوړه، کار ته دوام ورکولای شې.
چرت مې خټه شو، فکر په مخه کړم، په ښار کې مې د مرکې لپاره وړ څوک و نه موند، خپلې کوټې ته لاړم، يوه ملګري ته مې تليفون وکړ، ده يو داسې ځای راوښود چې شتمن خلک ډېر پکې پيدا کېدل. ما هم بکس وتاړه، سهار وختې په موټر کې کېناستم او ماسپښين قضا ټاکلي ځای ته ورسېدم.
په يوه مساپرخانه کې مې کوټه ونيوله، بېرته لاندې راکوز شوم، د ولسوالۍ په بازار کې وګرځېدم، خړ دوکانونه وو او خلک کم

ښکارېدل، څنګ ته يو لنډکروزر موټر ولاړ و، ور وګرځېدم، موټروان غټه لونګۍ تړلې وه، نېغ په نېغه مې وپوښتل:
ـداسې څوک مې په کار دی چې د خير يو کار يې کړی وي.
سړي په حيرانۍ راته وکتل، ورو يې وويل:
ـسپين وږيره، مطلب دې څه دی؟
ـمانا داچې يا يې کوم پل جوړ کړی وي، يا يې کوم مکتب يا هم کلينيک ته ځمکه ورکړې وي، يا يې د خلکو لپاره د پاکو اوبو غم خوړلی وي او يا يې کوم بل داسې کار کړی وي چې عامو خلکو ته يې ګټه رسېدلې وي.
سړی يوه شېبه فکر په مخه کړ، بيا يې د يوه کلي نوم واخيست، ويې ويل چې هلته يوې موسسې يو مکتب جوړ کړيدی.
په خبره کې ورولويدم:
ـموسسې پرېږده، عامو خلکو څه کړيدي؟
نېغ يې راته وکتل، تندی يې تريو شو او په خشکه يې وويل:
ـلېونی خو به نه يې؟
خوله مې خبرو ته جوړوله چې موټر حرکت وکړ.
يوه شېبه ودريدم، بيا د خوراکي موادو د خرڅولو يوه دوکان ته ور ننوتم، دوکاندار پيسې شميرلې، له سلام وروسته مې خپله کېسه ورته تېره کړه، برګ يې راته وکتل او ويې ويل:
ـحکومت څه بلا وهلی چې په خلکو يې جوړوې، ځه بابا له کاره مې مه باسه.

نا امېده مسا پرخانې ته را ستون شوم.
یوه شېبه مې پخپله کوټه کې سر ولګاوه، د ماښام له لمانځه وروسته ډوډۍ ته ورکښته شوم، په هوټل کې ګڼه ګوڼه وه، خلک د یوه شل، دېرش متره غوړ او خیرن دسترخوان دواړو خواوو ته ناست وو، چا ډوډۍ خوړه، چا د کباب فرمایش ورکاوه او ځینو نورو قابلي پلو غوښت. یواځې ځلورو سپین ږیرو ته د ښوروا کاسې ایښې وې، دوئ خوشاله ښکارېدل، د خوراک په وخت یې خبرې سره کولې او له غږېدا څخه یې پوه شوم چې حج ته روان دي.
زه هم دوئ ته نږدې په یوه خالي ځای کې کېناستم، وریجې مې راوغوښتې، د ډوډۍ له خوړلو وروسته سپین ږیرو ته ورنږدې شوم، د طبعې خلک راته وا یسېدل، و مې ویل:
ـزه په داسې چا پسې ګرځم چې دخیر یو کار یې کړی وي.
یوه وویل:
ـڅه یې کوې؟
ـغواړم چې د اخبار لپاره مرکه ورسره وکړم، د دفتر مشر شرط راته ایښی، که مې داسې څوک وموندل خپل کار ته دوام ورکولای شم، که نه شړي مې.
د خندا غږ پورته شو، ځلورو واړو ښه شېبه وخندل، وروسته یوه له نصوارو په ډکه خوله وویل:
ـبېکاره دې بولم.

یوه بل له خپلې خولې ساختګي غاښونه راو ایستل، د څادر پیڅکه یې پرې تېره کړه، بېرته یې د وریو پر سر کېښودل، ورو یې وویل:
ـهسې ځان مه پازابوه، که زما منې، لاړ شه او په کوم بل کار پسې وګرځه.
مخ مې ور واړاوه:
ـ خو ما اورېدلي چې په دې ځای کې ډېر آباد خلک اوسي، زیاتره یې په بهر کې دي او ښه عاید لري.
ـ ته سم وایې، زما خپله درې زامن په خارج کې دي، د الله فضل دی،کار یې جوړ دی، دوکانونه لري، خو هرڅه چې وي، پخپله یې پیداکړیدي، زحمت یې ایستلی، خلک په بلا وهې، څه یې کوې؟ هه !
زه غلی شوم، دوئ یوه شېبه د حج د ثوابونو په اړه خبرې وکړې، وروسته لمانځه ته روا ن شول.
خواشینی وم، تمه مې ختلې وه، خپل کار مې له لاسه وتلی راته ښکارېده، خو وروسته مې یو سړی تر څنګ کېناست، له رنګه تور و، په غاښونو کې یې خلی واهه، ورو یې وویل:
ـما ستاسو خبرې واورېدې، زه خپله ددې ځای یم، خو د سورلیو موټر لرم، ډېر وطنونه مې لیدلي دي، داسې سړی دلته نه شې موندلی.
په حیرانۍ مې وپوښتل:

ـولې ! په ټوله سیمه کې داسې څوک نشته چې نورو ته یې خیر ور رسیدلی وي؟ دلته خو پیسه داره خلک ډېر دي.
سړي هوټلي ته ورغږ کړل ! ما ته یې وکتل، ورو یې وویل:
ـچای درته راوغواړم؟
ـهو
ـشین که تور؟
ـفرق یې نشته
هوټلي ته یې مخ ور واړاوه، چیغه یې کړه !
ـدوې شنې
وروسته یې را ته وکتل، ورو یې وویل:
ـپه دې خبرو پسې مه ګرځه، ما درته وویل، که په ټول ولایت کې وګرځې داسې څوک به ونه مومې.
سړی غلی شو، د سدرۍ ( واسکټ ) جېب ته یې لاس کړ، سګرټ یې راو ایستل، قوطی یې را ته ونیو او ویې ویل:
ـسګرټ؟
د سر په اشاره مې پوه کړ چې نه یې څکوم.
ده یوه سګریټ ته د اورلګیت دانه ونیوله، له خولې یې سپین لوګی ووت او ویې ویل:
ـ پښتانه چې شتمن شې دوه کاره کوي، دوهم واده او بدي، یوه بله به درته وکم، هر یو یې دوه درې موټره لري، نور خیر یې ونه رسید، خو کلیو ته غزیدلي ټول سړکونه یې خراب کړل.

خواشيني مې نوره هم ډيره شوه، فکر په مخه کړم، د سړي په غږ مې جټکه وخوړه، ويې ويل:
ـ په ياد مې شو، تېر منی مې يوه ځای ته مساپر يوړل، په يوه کور کې مې شپه شوه، د کور خاوند د خپل يوه کليوال صفت راته کاوه، ويل يې چې د خير سړی دی، د ثواب لپاره يې يوه ژوره څاه کيندلې، ټول کليوال اوبه ورنه وړي.
په زړه کې مې خوشالي راټوله شوه.
موټروان وويل:
ـخو ځای يې ليرې دی، بل ولايت ته به پسې ځې، شپږ ساعته مزل غواړي.
په بيړه مې وويل:
ـپروا نه کوي، ته يې ادرس راکه.
ادرس مې وليکه، له سړي مې مننه وکړه او خپلې کوټې ته لاړم.
د شپې تر ناوخته ويښ وم، د خوشالۍ له لاسه خوب نه راته او ځان مې ببرته په دفتر کې ليد.
سهار وختي دموټرو اډې ته لاړم، ټوله ورځ مو په سترو لارو مزل وکړ او غرمه د ولايت په مرکز کې له موټره کښته شوم. تر کلي مې دربست موټر ونيو، کله چې ټاکلي ځای ته ورسيدم، د کلي نيمايي اوسيدونکو د څښاک د اوبو د نه درلودلو له امله کډه کړې وه.
حيران شوم، په پوښتنه مې ژوره څاه وموندله،خو د واټرپمپ کوټې ته غټ کولپ ور لويدلی و. چا راته وويل چې په دې کلي کې ټول

خپل سره پراته دي، درې میاشتې مخکې د څاه خاوند له خپلو تربرونو سره په یوه کوچینۍ خبره وخوړل، له هماغه راهیسې یې ماشین ته کلپ وراچولی او هیچاته اوبه نه ورکوي.
حیران وم چې څه وکړم، خواشینی وم، سترګې مې ډکې ډکې کیدې، خو نه پوهیدم چې دا خپګان مې د خپلو خلکو او وطن د بدبختۍ له لاسه و، که مې خپل کار په خطر کې لید.

پای

# کېله

اووه کلنې نجلۍ کېلو ته وکتل، له خونده ډکې ورته ښکاره شوې، خپل نیکه ته یې سترګې ورواړولې، هغه د کراچۍ (ریړۍ) پر یوه څنډه ناست و، پښې یې ځړېدلې وې او خپلو پلاستیکي شکېدلو چوټو (څپلیو) ته یې کتل. نجلۍ ورو یوې کېلې ته لاس ور وغځاوه، خو په خیرنو ګوتو یې یوه نرۍ لښته ولګېده او په بیړه یې لاس ور ټول کړ.

بوډا چیغه کړه!

_مه!!!

نجلۍ مخ واړاوه، ګڼې ګونې ته یې وکتل، خلک یوې او بلې خوا ته روان وو، یوه ماشوم آیسکریم ته ژبه را ایستلې وه او په خوند یې څاټه.

بیا یې ترڅنګ یوې بلې کراچۍ ته وکتل. له کېلو ډکه وه او د یوې غټې کېلې پر یوه تور ځای یوه بمبره (غومبسه) ښکارېدله. نجلۍ له ځان سره وویل:

_کاشکې چې بمبره وای!

دا وخت یې د خپل نیکه غږ واورید:

_ګوره بچو! دا کېلې د خرڅلاو لپاره دي، که یې په خپله وخورو، په تاوان کې به روان یو.

نجلۍ بوډا ته وکتل، مخ یې له ننوتو ګونځو ډک و، سترګو یې چخړي را ایستلې وې او په زنه پوري یې څو تاره سپین وېښته ځړېدل.
نجلۍ په خوابدي غږ وویل:
ـ وږې یم!
بوډا یو سوړ اسویلی ویست، خوله یې خبرو ته جوړوله چې ترڅنګ یې یو کړنګ شو. د تلې (ترازو) یوه پله لنډه را تاوه شوه، څو ځله په خپل ځان راوګرځیده او د سړک څنډې ته په یوه خوسا ډنډ کې ړنګه شوه. بوډا په بیړه خپلې پښې پر ځمکه ولګولې، په ټول قوت یې کراچۍ ټېله کړه، څنګ ته شو او پیاده رو ته نږدې یې کراچۍ ودروله. نجلۍ هم په لاس کې نیولې څپلۍ بېرته په پښو کړې، یوه ترافیک ته یې اشاره وکړه، نیکه ته یې وکتل او په ستړي غږ یې وویل:
ـ ده ولې په خلکو پسې لښته را اخیستې ده؟
د بوډا خړې شونډې وخوځیدې:
ـ ځکه چې کراچیو د موټرو لاره بنده کړېده.
ـ نو خلک ولې وهي، هاغه هلک وینې! ژاړي، تله یې په اوبو کې پرته ده.
بوډا غلی و.
نجلۍ کېلو ته وکتل، په کوچنیو او مړاوو کېلو کې یې تر ټولو غټه کېله په نښه کړه، نیکه ته یې وکتل او په خواره خوله یې وویل:

ـ یوه کېله را واخلم!
بوډا غلی و.
نجلۍ څه و نه ویل، خو شېبه وروسته یې د نیکه پوست غږ واورید:
ـ قول ده، که مې دوه درجنه خرڅې کړې، یوه یې ستا.
نجلۍ کېن لور ته وکتل، نورو میوو پلورونکو چیغې وهلې او په لوړ غږ یې روان خلک د میوو اخیستلو ته وربلل.
نجلۍ خپل نیکه ته وکتل او ورو یې وویل:
ـ ته ولې چیغې نه وهې!
بوډا چیغه کړه!
ـ کېلې واخلئ، کېلې! ارزانه شوې، درجن په څلوېښت او غانۍ!
دا وخت ټوخي واخیست او غلی شو.
نجلۍ وپوښتل:
ـ څلوېښت او غانۍ ډېرې روپۍ دي؟
بوډا هغې ته وکتل:
ـ هو، بچو! د پنځو ډوډیو بیه ده.
ـ نو دا کېلې به په دومرو ډېرو روپو خرڅې شي؟
بوډا یوه فاتحانه موسکا وکړه، یوې او بلې خوا ته یې وکتل، په ټیټ غږ یې وویل:
ـ اصلي بیه یې دیرش اوغانۍ ده، که درجن پنځه ویشت راته جوړې کړي، بیا هم په ګټه کې یو. خو ګوره بچو! دا تجارت دی، بیه به ورو ورو را ټیټوو.

داوخت یو تنکی ځوان د کراچۍ ترځنک ودرېد. د نجلۍ سترګې وځلېدې، ځوان د کېلو بیه وپوښتله، بوډا په بیړه وویل:
_ څلویښت اوغانۍ.
ځوان روان شو.
بوډا پسې ناره کړه!
_ پنځه دېرش! راشه! دېرش. خو ځوان یوې بلې کراچۍ ته ودرید او شېبه وروسته یې پلاستیکي کڅوړه له کېلو ډکه کړه.
د نجلۍ په تندي کې یوه نرۍ ګونځه پیدا شوه. د کېلو پلورونکي ته یې په کرکه وکتل. هغه پیسې شمیرلې او تندی یې ورین ښکارېده.
نجلۍ یو غږ واورید:
_ درجن په څو دی؟
مخکې تر دې چې بوډا خوله خبرو ته جوړه کړي، نجلۍ په بیړه وویل:
_ پنځه ویشت.
بوډا هغې ته وکتل، په سترګو کې یې غوسه ښکارېدله، خو په خوله یې څه را نه وړل.
سړي د یوې پلاستیکي کڅوړې غوښتنه وکړه.
بوډا د خواست په ژبه وویل:
_ لو یه که وړه؟
_ چې دوه درجنه پکې ځای شي.

د نجلۍ سترګې وځليدې، په بيړه يې کېلو ته وکتل، مخکې په ننبه کړې کېله يې ور واخيسته، بوډا څه و نه ويل، سړی د کېلو په شميرلو بوخت و چې يوه په عمر پخه ښځه يې تر څنګ ودرېده.
هغې په غوسه وويل:
_څه کوې !دا هم کيلې دي !ميلمنو ته مې شرموې که څه !
سړي کيلې په خپل ځای کېښودې او له ښځې سره يوځای روان شو.
بوډا نجلۍ ته وکتل، د هغې خوله ډکه وه، سترګې يې نه رپيدې او په وېره يې خپل نيکه ته کتل.
بوډا يوه شېبه غلی و، بيا يې شونډې يوې خوږې موسکا سره وېږې کړې او په مينه يې د نجلۍ پر خړو او خيرنو ويښتو لاس تېر کړ.

پای

# اوسپنه

موټر ودرېد ، مسافر کښته شول، تر بس را تاو شوم، موټروان پنچر ټایر ته کتل.
شاوخوا مې سترګې وغړولې، سپېره دښته وه، شمال لور ته خړ غرونه پراته وو ، په لمنو کې يې خام کورونه خوځېدل، حرکت يې درلود او داسې ښکارېدل لکه په هوا کې چې ولاړ وي.
ګرمي ډېره وه، له ځمکې تاو پورته کېده او سړک ته نږدې سپاندې په دوړو سپېرې وې.
شل- يو نيم شل ګامه ليرې، د سړک د تورې ليکې پر غاړه درې خړې کوټې ولاړې وې، څو مسافر هغې خواته روان وو، زه هم ورسره ملګری شوم، په دې خړو کوټو کې خوراکي مواد خرڅېدل، يوه دوکان ته ور ننوتم، يو بوتل اوبه مې واخيستې، هوا دپه وه، بېرته د باندې ووتم، د ماشومانو خنداوې مې واورېدې، تر دوکان راتاو شوم، دوه واړه ماشومان د دېوال سيوري ته ناست ول، دوئ هندوانه خوړه او تر ځنګ يې په ډېران کې يوې تورې خرې خوله وهله..ماشومانو ته مې وکتل، يو هلک و او بله هم نجلۍ، دواړه خيرن وو ، څپولي ويښته يې درلودل او په سپېرو څېرو کې يې تر خولو را تاو شوې لنډې ليکې ښکارېدلې.
دواړو په خپلو تېرو نوکانو هندوانه جلا کوله، کله چې به يې لاسونه خولو ته کړل، له خيرنو ګوتو به يې سرې اوبه وڅڅيدې.
وروسته يې په هندوانه جنګ شو ، هلک د نجلۍ څڼو ته لاس ور واچاوه، هغې چيغه کړه، پر ځمکه يې ګوتې وتپولې، يوه وړه تيږه

په ګوتو ورغله، هلک د هغې څنې پرېښودې، سر یې ټیټ کړ او تیږه زما پر ورانه ولګېده.
دواړه غلي شول.
ومې ویل:
ـ ولې جنګ کوئ؟
سرونه یې وځړېدل، یوه شېبه غلي ول، وروسته بېرته د هندوانې په خوړلو بوخت شول.
خرې ته مې وکتل، له ځولې تېرې او سپنې راوتلې وې.
د هلک له کاوړه ډک غږ مې واورېد !
ـ سوکه سوکه یې خوره !
سترګې مې وروا ړولې، نجلۍ ته یې برګ برګ کتل..له هلک نه مې وپوښتل:
ـ دا دې څه ده؟
پرته له دې چې راته وګوري، شونډې یې وخوځېدې:
ـ خور
ـ نو بیا یې ولې وهې؟
کوم ځواب مې وانهورېد.
و مې ویل:
ـ چېرته اوسی؟
نجلۍ د غره لمنو ته اشاره وکړه.
ومې پوښتل:

ـ نو دلته څه کوې؟
نجلۍ خرې ته وکتل، په وره ژبه يې وويل:
ـ اوسپنې مو راوړي، خرڅوو يې.
خرې ته ورنږدې شوم، ځولۍ د مرميو له پوچکو، تېرو چړو او د چاودلو راکټونو له کړو وړو اوسپنو ډکه وه.
ومې ويل:
ـ دا مو له کومه کړې؟
دواړو يوبل ته وکتل، هلک وويل:
ـ څو ورځې مخکې د حسن خېلو په کلي کې جنګ و، دا مو له هغه ځايه راټولې کړې.
نجلۍ په خبره کې ورولويده:
ـ دروا غ مه وايه ! دا خو مو د ابو له کلا راوړې.
ومې ويل:
ـ له هرځايه چې وي، خو د دارنګه اوسپنو ټولول خطرناکه دي، کيدای شي کوم ماين يا روغه مرمۍ پکې وي.
دواړه يوبل ته موسک شول، د هلک شونډې وخوځيدې:
ـ موږ يې پېژنو، دا ډېر وخت کيږي چې دا کار کوو.
په حيرانۍ مې وپوښتل:
ـ ډېر وخت !
هلک د غره په لمنو کې پرتو کليو ته اشاره وکړه، په خوند يې وويل:

ـ هلته هر وخت جنګونه وي، طیارې راځي، بمبار کوي، ټول کلي له اوسپنو ډک دي، که سل خرې ورنه بار کړې ام نه خلاصیږي.
یو ځل مې بیا اوسپنو ته وکتل، یوه تېره چره په وچو وینو سره وه، په حیرانۍ مې وویل:
ـ دا مو له کومه کړه؟
د هلک غږ مې واورېد:
ـ د یوه پسه په ورانه کې بنده وه.
نجلۍ په خشکه وویل:
ـ درواغ وایي! د یوې ښځې له نسه یې راوایسته، هغه مړه وه.
بدن مې زیږ شو، یو دروند غږ مې واورېد، دوه ټیټې هلیکوپترې مو پر سر تېرې شوې، ماشومانو په ځیر ځیر پسې کتل، هلیکوپترې د غره خواته ګړندۍ روانې وې، موټروان هارنونه وهل.

پای

# اوږد فکر

حیران شوم. زما ملګري دوهمه کوژده کړې وه. کله چې مې له دوو کلونو وروسته دهغه دکور د دروازې ځنځیر وشرنګاوه، ده کلکه غېږ راکړه. بیا یې لاس نیولی کور ته بوتلم. پر یوه پلاستیکي فرش تېر شوم. پر زړه توشکه کېناستم او ملګری مې له کوټې ووت. خو شېبه وروسته څلور ماشومان له څو مچانو سره یوځای کوټې ته راننوتل. دوئ په ونه کې دومره توپیر نه سره درلود. له رنګه هم سره ورته وو. ټول خوار، ډنګر او خیرن ښکارېدل. دیوه پزه بهېدلې وه. دوهم پرتوګ نه و اغوستی. د دریم غاړه او غوږونه له سرو دانو ډک وو او دڅلورم په غاړه هم څو پېیلي ژېړ پیاز را ځړېدل.
دوئ ټول زما تر څنګ کېناستل. لومړی یو څه ارامه وو، خو وروسته یې خوځیدا ډېره شوه. بیا پر ما راټول شول. یوه مې لاسي

بکس ته لاس ور وغځاوه. بل مې دکورتۍ په جېب را اخته شو او نورو دوو هم هڅه کوله چې ګړۍ رانه خلاصه کړي.
ما خپل جېبونه سره راټول کړل. ثو ځله مې کوچني کوچني لاسونه پورې وهل او بیا مې تندی ورته تریو کړ، خو ددوئ تمه نه رانه خته. زړه مې په تنګ و، بیا مې خپل جېبونه ولټول. ثو د نخود دانې مې وموندلې. کله چې مې له جېب نه لاس را ویست، لاس ته مې په هوا کې لاسونه را ولوېدل.
چاره نه وه. نخود مې په غولي تیت کړل، دوئ هم په بیړه حمله پرې وکړه. یو په ثو دانو ورپرېوت. بل تر خیرنو څنهو ونیو. او دوو نورو هم په بیړه بیړه لیرې لویدلې دانې خپلو خولو ته اچولې.
په کوټه کې یو شور و. چا ژړل.. چا دبل پر مخ نوکراغې لګولې او بل هم هڅه کوله چې ډېرې دانې تر خپل ټټر لاندې کړي.
دې ننداره ډېر وخت دوام ونه کړ. کله چې زما ملګری په وره کې ښکاره شو، دهغه یوې چیغې ماشومان غلي کړل:
ـ ووځئ د سوډر زامنو !
ماشومانو منډه کړه او له کوټې ووتل. ملګري مې زما ترمخ یوه توره چاېجوشه کېښوده. د پیالو د ډکولو پر مهال یې په خندا وویل:
ـ باد له ډېره وخته !
ما وخندل:

ـڅنګه یې کیې؟ ښاري ژوند دی. مصروفیتونه ډېر دي. اوس مې هم ترور ناروغه ده. باد له دوو کلونو دهغي د پوښتنې لپاره کلي ته راغلم.
په خبره کې راولوېد:
ـاو فکر دې وکړ چې راځه، له زاړه یاره دې هم یو احوال واخله.
ومې خندل:
ـهمداسې ده.
یوه شېبه غلی وم، خو بیا مې په خندا وویل:
ـوه هلکه! دوهم واده ته دې څنګه زړه ښه کړ؟
ده یو سوړ اسویلی ویست:
ـڅه یې کیې، مجبوري ده، که نه اوس مې هم ځمکه ورته وپلورله.
حیران شوم:
ـڅه مجبوري؟
په خواشینۍ یې وویل:
ـکډه مې ناروغه ده، نور ماشومان نه شي راوړلی.
خوله مې وازه پاتې شوه:
ـڅه کیې ظالمه! په پنځو کلونو کې خدای څلور ماشومان درکړل. نور څه غواړې؟!
ده وخندل. ژېړ غاښونه یې ښکاره شول او خړې شونډې یې وخوځیدې:
ـزوروره! خدای دې د سړو کمی نه راولي.

ومې ویل:
ـولې؟ همدا څلور زامن دې بس نه دي؟ دوئ سم وروزه، مکتب
وربانديږ ووایه او د کار خلک ورنه جوړ که.
خندا یې زور ونیو:
ـته هم اجبې خبرې کوې. په تربرونو کې له سړو پرته ژوند نه شي
کیدای. څلور تنه به نو څه وکړي؟
حیرانتیا مې لاپسې ډېره شوه. ده له چایو یو غوړپ وکړ او زیاته یې
کړه:
ـډېر جنجالونه مې تر مخ پراته دي.
په حیرانتیا مې وپوښتل:
ـڅه جنجالونه؟ اوس خو دادی ارام ژوند لرې او بیا دجنجالونو یې
له ډېر اولاد سره څه؟ ډېر ماشومان خو لا ډېر جنجالونه لري.
داځل یې په زوره وخندل. په اوږه یې لاس راکېښود او هماغسې یې
په خندا کې وویل:
ـای ساده ګله! دعا کوه چې خدای نور زامن راکړي، ډېرې دعوې
مې مخې ته پرتې دي.
یوه شېبه غلی شو. پتکی یې له سره لیري کړ. په خپلو تورو څڼو کې
یې ګوتې تېرې کړې او په جدي لهجه یې وویل:
ـکه خدای کول، لومړی به د حاجي بازو ملا ورماتوم. دی په خپلو
څخړنو زامنو ډېر غره دی. بیا به دکلي میراو دکاربزه په اوبو کې
منډم، ډېره ژبه وهي. وروسته به له ملک سره حساب کتاب کوم،

ځمکه يې مفته رانه واخيسته او بيا به ټول کلي ته وايم چې اوس مو نو لاس خلاص او توره مو تېره.

ملګري مې له وروستۍ خبرې سره په ملا يو دروند سوک راکړ او په خندا يې وويل:

ـتل اوږد فکر وهه ! چې سړي مې ډېر وي، بيا به کوم د نر زوی زما مخې ته ودرېږي؟ هه ! !

پای

# قاتل

(( یو قاتل په اعدام محکوم شو ! ))
دا عنوان د ورځپاڼې په لومړی مخ کې لیکلی و.
نوره لیکنه مې ولوسته:
(( تېره میاشت یوه بېسواده کلیوال د ښار مشهور ډاکټر ...پر سګرټ دانې وویشت، ډاکټر پر سر ولګېد، ځای پر ځای یې ساه ورکړه، قاتل له مقاومته پرته پولیسو ونیو، پرون یوې محکمې د پانسي حکم ورته واوراوه. ))
ورځپاڼه مې پر مېز کېښوده، له ځان سره مې وویل:
_آفرین! دې ته وایي عدالت، دا وحشي باید خپله سزا وویني!
نور مې سر پسې ونه ګرځاوه، وږی وم، کانتین ته لاړم، دیوه برګر فرمایش مې ورکړ، تیارېدا یې دوه_ درې دقیقې وخت غوښت، ماتله شوم، ملګری مې مخامخ پر څوکۍ راته کېناست، چپس یې راوغوښتل، ورځپاڼه یې پر میز وغوړوله، ماته یې وکتل، ورو یې وویل:
دا خبر دې لوستی دی؟
سترګې مې وروا ړوولې، ګوته یې پر هماغه عنوان ایښې وه:
(( یو قاتل په اعدام محکوم شو ! ))
ورو مې وویل:

ـهو !عدالت باید همداسې وي!!
دی یوه شېبه غلی و، وروسته یې شونډې وخوځېدې:
ورور یې راغلی و، ویل یې چې وکالت یې په غاړه واخلم!
دوی دبلې محکمې غوښتنه کړې!
یوه هلک د اخبار په کاغذ کې تاو شوی برګر راته ونیو.
خوند یې بد نه و، خو ترشي یې ډېره پکې اچولې وه.
په ډکه خوله مې وویل:
ـنوڅه ته ګورې؟
ملګري مې اوږې پورته وا چولې، شونډې یې وخوځېدې:
ـنه شم کولای!
ومې خندل:
ـغوړه ګوله نه ده، که څنګه؟
ویې ویل:
ـنه! ښې پیسې راکوي، خو وخت نه لرم، درې دوسیې راته
پرتې دي!
داوخت یې ناره کړه!
ـچپس نه شول، د غوايي غوښه شوه!
د هلک غږ مې واورېد:
ـدا دی له کړايي مې راویستل!
ملګري مې سر وخوځاوه، ماته یې وکتل، ورو یې وویل:
ـپه دې ورځو کې کومه دوسیه پرمخ وړې؟

ځواب مې ورکړ:
_هیڅ ! بېکاره یم !
ویې ویل:
_نو څه ته ګورې ! دا دوسیه ته واخله !
د هغه وړاندیز مې خوښ شو، دقاتل دورورد مبایل شمېره مې ورنه واخیسته، برګر مې وخوړ او په بیړه پورته دفتر ته وختم.

* * *

په یوه اوږد او تنګ دهلېز کې په یوه عسکر پسې روان وم، دواړو خواوو ته نمجن سمیټي دیوالونه وو، سوړ بوی ترې لګېده...عسکر ښي لورته وګرځېد، په هغه پسې مې ګړندي ګامونه واخیستل... زینې ښکته شوې وې، لاندې ځوړ شوم، تپه تیاره وه، د عسکري بوټونو په ټکا پسې تلم، د یوې درنې دروازې د خلاصېدو غږ پورته شو، عسکر وویل:
_دې خواته !
ور مخته شوم، یوه شېبه ودرېدم، سترګې مې له تیارې سره اشنا شوې، یوه وړه کوټه وه، کوچنۍ دریڅه یې درلوده، په دریڅه کې پنډ سیخونه ولاړ ول.

عسکر وویل:
ـ یو پاو وخت لرې!
له کوټې ووت، دروازه پورې شوه.
کونج ته مې وکتل، یو ه سړي تر ځان پټو تاو کړی و، غولي ته یې وچې سترګې نیولې وې...
مخامخ ورته کېناستم، ورو مې وویل:
ـ زه وکیل یم، ما ستا له ورور سره خبرې وکړې، هغه غواړي چې ستا پر دوسیه له سره غور وشي.
ماتله شوم، خوسړي کوم غبرګون ونه ښود، هماغسې ځړېدلی سر ناست و.
ورو مې وو یل:
ـ ګوره! موږ دومره وخت نه لرو! زه ستا وکیل یم، په محکمه کې باید له تا څخه دفاع وکړم، کېدای شي چې سزا دې راکښته شي، خو اول باید په خبره پوه شم، کیسه څه وه؟ تا ولې ډاکټر وواژه؟
نېغ یې راته وکتل..پوخ ځوان و، سترګې یې پړسېدلې ښکارېدلې، ګڼه توره ږیره یې درلوده، لونګۍ یې تړلې وه.
ورو یې وویل:
ـ څه ګټه به وکي؟ ما...
په خبره کې ورولوېدم:

ـدا قانون دی، ته د دوهمې او درېمې محکمې غوښتنه کولای شې، زه به هڅه وکړم چې د اعدام سزا دې په قید واوړي، پنځلس کاله، شل کاله، فرق نه کوي، ژوندی خو به یې !
ویې خندل، خو خندا یې ډېره ترخه وه.
حوصله مې سرته راغله، په کاوړ مې وویل:
ـتا ولې د ښار مشهور ډاکتر وواژه؟
خندا یې زور ونیو، ښه شېبه یې وخندل، ما په حیرانۍ ورته کتل، سړی د اعصابو له خوا سم نه شو راته ښکاره، خو وروسته یو دم غلی شو، ورو یې وویل:
ـهغه قاتل و !
په حیرانۍ مې ورته وکتل، ومې ویل:
ـته څه وایې؟! هغه د ښار مشهور ډاکټر و، ښه نوم یې درلود، په عزت یادېده !
یوه شېبه یې راته وکتل، وروسته یې یودم وخندل، په ملنډو یې وویل:
ـڅه وکیل صیب! څه! زما غم مه کوه! نه مې یې په کار!
دې سپکاوي خوند رانه کړ، په غوسه مې وویل:
ـزه له ډېرو مجرمینو سره غړېدلی یم، خو ته په ټولوکې ناپوه یې، په خپل خیر نه پوهېږې!

له دې سره ولاړ شوم، خو سړي د پطلانه تر پايڅې ونيولم،
ورو يې وويل:
ـ کېنه ! دومره تيزي مه کوه !
کېناستم.
سړی يوه شېبه غلی و، وروسته يې وويل:
ـ زه دهقان سړی يم، په چا مې کار نه درلود، يوه ګوله وچه،
لنده رارسيده، قناعت مې کاوه، له خپل ژونده راضي وم.
دوه مياشتې مخکې مې د ژنې زوی په ګېډه درد شو، اول
يې درد کم و، دومره سر مو پسې ونه ګرځاوه، خو وروسته
يې له درده ټوپکې شروع کړې، مور يې باديان ورته
وټکول، ، توده خښته يې پر نامه ورکېښوده، د کلي له ملا
يې تاويز ورته راوړ، خو ګټه يې ونه کړه، هلک لټ په لټه
اوښت، ټوله شپه ترې راګرځېدو، مور يې ژړل، تر سهاره
ويښ وو.
په سپېده چاود کې مو ګاونډيان خبر کړل، له بل کلي يې
موټر راووست، هلک مو د ولسوالۍ بازار ته ورساوه،
هلته يوائې يو ډاکتر و، د غاښونو ډاکتر، ويل يې چې د
اپنډيسي علايم لري، بايد ژر تر ژره ښار ته ورسول شي.
له هماغه موټر سره مې خبره خلاصه کړه، پاخه سړک ته
وختو، پوره يو ساعت مو مزل وکړ، لمر نوی راختلی و چې

ښارته راورسیدو ، یه یوه درملتون کې مو د یوه تکړه ډاکټر پوښتنه وکړه، ادرس یې راکړ، هلک مو ډاکټر ته راورساوه.
سړی غلی شو، ما ورته وکتل، د دریځې په تته سپینه رڼا کې یې سترګې له اوښکو ډکې وې... وروسته یې پزه پورته کش کړه، ورو یې وویل:
هلک مو په یوه اوږده څوکۍ څملاوه، ډاکتر یې سرته ودرېد ، د هلک ګېډه یې څو ځله کېکاږله..وروسته یې د هغه له مټه وینه واخیسته، پر کوچني کاغذ یې څه ولیکل، را یاده یې کړه چې وینه د معاینې له پاره لابراتوار ته یوسم!
هلته یې پوره پنځلس سوه اوغانۍ رانه یووړې، بېرته پورته وختم، ډاکتر نور ناروغان کتل، پاو وروسته نوبت راورسید ، کاغذ مې ورکړ، سر یې وخوځاوه، ورو یې وویل:
_هلک اپنډ کس دی،. باید ژر تر ژره عملیات شي.
بیا یې یو کاغذ راته ونیو ، اوږد لیست و ، ویې ویل چې دا سامان د عملیات له پاره دی،لاندې دواخانې ته ورشه!
په دواخانه کې یې یوه غټه پلاستیکي کڅوړه له ستنو ، پختې، پلسترونواو... راته ډکه کړه، پاتې پیسې مې ورکړې، کله چې پورته وختم، ډاکتر بل کاغذ راته ونیو ، کاغذ ته مې وکتل، په یوه ځای کې له دولسو سره درې ټکي لیکلي وو ، نور پرې پوه نه شوم.

ډاکتر وويل:
ـ ته بايد د عمليات له پاره دولس زره اوغانۍ تحويل کړې !
خوله مې وازه پاتې شوه، په بيړه مې خپل جېبونه ولټول، يو نيم سل اوغانۍ راسره پاتې وې.
په منډه د هليز ته ووتم، هلک لټ په لټه اوښت، مور يې ژړل...
له مور سره راغلو دوو کليوالو ته مې د پيسو وويل، دواړو جېبونو ته لاس کړ، يواځې دوه نيم زره اوغانۍ برابرې شوې.
بېرته ډاکتر ته ورغلم، ده يو ناروغ کوت...په خواره خوله مې وويل:
ـ ډاکتر صيب ! له مور سره يواځې دوه نيم زره اوغانۍ دي.
برګ يې راته وکتل
د خواست په ژبه مې وويل:
ـ خير دی، ته عمليات شروع کړه ! زه به له کلي پيسې راوړم.
پر ته له دې چې راته وګوي، ورو يې وويل:
ـ کاکا جانه ! دا شخصي کلينيک دی !
غوني مې زيږه شول، ډاکتر مې تر خربلې زنې ونيو، هغه شاته شو، په خشکه يې وويل:

ـ ته ولې نه پوهېږې، دا شخصي روغتون دی، دلته هر څه په پیسو دي.
له دې سره یې ګړی ته وکتل، شونډې یې وخوځېدې:
ـ وخت نه لرم، که پیسې برابرولی شې، نو هلک به عملیات کړم، که نه بل ځای مې وعده ده، باید د یوه ناروغ لیدو ته ورشم!
د هلک چیغه مې واورېده...کېناستم، پښو ته ور ولوېدم، خو هغه یو ګام څټ ته شو، لاړ، خپله سپینه چپنه یې ویسته، بکس ته یې لاس کړ، تر مخ یې ودرېدم، په خواره خوله مې وویل:
ـ د خدای له پاره! درې، څلور ساعته وروسته دې پیسې وغواړه، خو...
په خبره کې راولوېد:
ـ ته ولې نه پوهېږې! وخت مه ضایع کوه! لاړ شه او هلک یوه دولتي روغتون ته وسوه!
دا وخت یو تیلیفون ورته راغی، له سلام وروسته یې یودم وخندل، په خبرو خبرو د ورسی خواته روان شو.
په بیړه دهلیز ته ووتم، هلک ارام پروت و، سترګې یې سپینې راختلې وې، لنډه لنډه ساه یې وهله...
د ګاونډیانو په مرسته مو تر پښواو لاسو ونیو، پر زینو مو کښته کړ، هلک مو د موټر په شاتني سیټ کې پرېیست، په

بیړه دواخانې ته ورغلم، د یوه نږدې دولتي روغتون ادرس یې راته ولیکه، د باندې را ووتم، تر موټر ګڼ کسان راتاو ول، ورغلم، مېرمن مې پر پاخه سړک پرته وه، له خولې یې سپین ځګونه توېدل، موټر ته مې وکتل، یوه ګاونډي زما د زوی ژامه ورتړله..پر سترګو مې تیاره راغله، ساه مې بنده بنده کېده، سر مې دروند و، منډه مې کړه، پر زینو وختم، ډاکتر له شیشې څخه د باندر کتل، په تیلیفون کې یې خبرې کولې، خندل یې....لړمون مې اور واخیست، د مېز پر سر یوه سګرټ دانۍ ایښې وه، لاس مې ور وغځاوه، درنه راته واېسېدله، فکر کوم چې له ډبرې جوړه وه، سګرټ دانۍ مې پورته کړه، ټول زور مې په ښي لاس کې راټول کړ، سګرټ داني د سړي پر ککرۍ ولګېده، اخ ته هم پاتې نه شو، سپینې سترګې راواوښت.

سړی غلی شو. ما ورته وکتل، له سترګو یې رڼې اوښکې روانې وې..وروسته یې سر پورته کړ، په ژړغوني غږ یې وویل:

_قتلونه مختلف دي، څوک یې برالا وژنې او څو ک یې هم؟!!!

سړي یودم وژړل او خبرې یې پرې شوې.

پای

# وېره

ما ډېرې وېرېدلې ښځې لېدلې دي، خو کلونه وړاندې مې لاتراوسه له ذهنه نه وځي.
داپخوانۍ خبره ده، هغه وخت کوچنی وم، ډېر کوچینی، خو ښه مې په زړه دي، بدنۍ او چلمچې مې پورته کولای شوی، نېکه ته به ما لاسونه ور پریمینځل. نیکه هډور سړی و، نه مې هېرېږي، چنګ برېتونه یې لرل، چونډاره کوچیانی کمیس به یې اغوست او سپینې څڼې به یې له وربښمینې ژېړې لونګۍ راوتلې وې.
یو ماخوستن نیکه جومات ته ډوډۍ وغوښته، دا کومه نوې خبره نه وه، ده به میلمنو ته په جومات کې ډوډۍ ورکوله. جومات د کلاه دروازې ته نږدې تر برج لاندې و، یوه اضافه خونه یې درلوده، دې ته به یې د سنتو ځای وایه، خو په اصل کې د کلیوالو د ناستې کوټه وه، دوی به ترناوخته ناست ول، د ماخستن تر لمانځه وروسته به کورونو ته تلل.
په هغه ماخوستن ما ډوډۍ وروړه، په زړه مې دي، د ښوروا یوه کاسه وه. کله چې کوټې ته ورننوتم، له نیکه سره یو ډنګر سړی

ناست و ، له عمره پوخ ښکارېده ، مونډی ږیره یې درلوده او ګولې ته به یې خوله تر اندازې زیاته خلاصوله.
دوئ تر ناوخته ناست ول، خبرې یې کولې او کله کله به یې خندل. له غرېدا پوه شوم چې سړی له لیرې راغلی او نیکه له پخوا پېژني.
دوئ تر ډېره له یوې او بلې وغږېدل، بیا د دروازې کړپ شو ، تره مې له بسترې سره کوټې ته راغی، ناڅاپه د میلمه خبرې پرې شوې، ما وروکتل، څېره یې نیولې وه ، په وېره یې وویل:
ـزه دلته نه شم وېدېدای.
نیکه په حیرانۍ ورته وکتل، د میلمه شونډې وخوځېدې:
ـته خو پوهېږې ! زه بدي لرم.
نیکه وخندل:
ـهیڅ خبره نه ده ، دلته په امن کې یې، درې شوا روزه لار دې وهلې، بیا هم وېرېږې !
د سړي تندي ګونځې پیدا کړې، په خواره خوله یې وویل:
ـد خدای له پاره ! ما ته په کلاه کې ځای جوړ که، بام دې وي، غوجله دې وي، خو دلته نه شم وېدېدای.
سړی یوه شېبه غلی شو ، وروسته یې نیکه ته وکتل، د خواست په ژبه یې وویل:
ـتا بدي نه ده لیدلې، که نه دا خبره دې نه کوله.
پای

# لېونی

بوډا وويل:
ـته يې نه پېژنې ! د ملک تور لور ده، ما په پېغلتوب کې لېدلې وه، ښايسته يې نوم درلود، تورپېکۍ نومېده. پر هغې مين و.
يوې ښځې په بيړه پر خپل مخ پوړونۍ ورکش کړ، لېوني ته يې وکتل، په ډېران کې يې ګونډې وهلې وې، څپولي ږيره يې درلوده، ګرېږن يې شکيدلی و او له کثافاتو يې د سيروم کڅوړې او پلاستيکي ستنې ور ټولولې.
د ښځې سترګې له اوښکو ډکې شوې، تر ډېره يې لېوني ته وکتل، بيا يې د ټکرۍ له کونجه بوډا ته سترګې ور واړولې. هغه دوه درې ګامه ليرې د يوه ځوان تر څنګ ناست و. وروسته يې په يوه تېرېدونکي سړي پسې ، چې سپينه چپنه يې اغوستې وه، چيغه کړه !

ـډاکټر صيب ! دا زموږ د خوارانو وار به کله را رسيږي؟ ټکنده غرمه دې کړه !

سړي کوم ځواب ور نه کړ.

بوډا په لوړ غږ وويل:

ـمرداره مو کړه !

سړي په غوسه ور ته وکتل، څه يې و نه ويل او کلينيک ته ننوت.

د بوډا تر څنګ ناست ځوان وويل:

ـسړی دې يوه روپۍ کړ.

بوډا څه ونه ويل ، له ځمکې يې يو خلکی ور پورته کړ او په خاورو کې د ليکو پر ايستلو بوخت شو.

د ځوان شونډې و خوځېدې:

ـښه ځواني يې ده.

د بوډا تندی تريو شو ، په خشکه يې وويل:

ـخود نو ! د ورځې درې څلور شله مريضان ګوري، سل اوغانۍ فيس اخلي، لمر يې نه دی لېدلی، ته زموږ غوندي کولبه پرې و کړه، بيا يې ګوره چې د پالېزډاروونکی ورنه جوړيږي که نه؟ !

ځوان په خبره کې ور ولوېد:

ـڅه بابولاله وايې ! ليونی در يادوم، ته ورته وګوره، هډور ځوان دی.

ښځې بې اختياره له خپل غوږ څخه وښته ليرې کړل.

بوډا وويل:

ـاوس خو لکه لوټه خړ پړ ښکاري، که تا په ژېيتوب کې لېدلای وای، د ګوتې غمی و، غمی!

ځوان يوه شېبه غلی و، بيا يې د خپلې سدرۍ جيب ته لاس کړ، شنه پلاستيکي وړه کڅوړه يې راوښسته، يوه چونډۍ نصوار يې تر ژبې لاندې کړل، ورو يې وويل:

ـنو مره دې څوومه ده؟

د بوډا تندي ګونځې پيدا کړې:

ـنه پوهيږم، نوم يې وليکه، خو وخت ډېر ووت.

وروسته يې دوو دريو نفرو ته اشاره وکړه، ورو يې وويل:

ـدوئ ترما مخکې راغلي وو.

ځوان نصوار تو کړل، خاورې يې پرې واړولې، ليوني ته يې وکتل، ويې ويل:

ـته يې کيسه راته وکه!

بوډا يوه شېبه غلی شو، ښځې رډې سترګې ورته نيولې وې، وروسته يې وويل:

ـ درته و مې ويل چې د تور ملک په لور مين و، پلار يې نه ورکوله،نجلۍ يې د بل يوه په نامه کړه، دی هم ليونی شو، بس!

ـنو مينه څوک ليونی کولای شي؟

ـنه پوهېږم، ورشه! ليونی به درته ووايي!

دا وخت د کلينيک په دروازه کې يوه تن چيغه کړه!

ـد ملک تور لور، تورپيکۍ!

چا ځواب ور نه کړ.
سړي په لوړ غږ خپله خبره تکرار کړه !
ـد ملک تور لور تورپیکۍ !
دا وخت یوې اووه کلنې نجلۍ د ښځې او ړو ته ځنډ ورکړ، ښځې
ټکان وخوړ، په بیړه یې ورته وکتل، نجلۍ وویل:
ـمورې ! نوم دې نه اورې ! نوبت دې دی.

پای

# اولاد

کارغه په تنګه دره کې انګازې خورې کړې:
کاغ، کاغ، کاغ...
ببرته یې وزرې ولړزېدې، په خپلو ژېړو پښویې زور وکړ، له تېرې پرښې پورته شو، لاندې یې په دره کې د ولاړو کلیوالو پر سر یوه دوره وخوړه او د یوې ونې په یوه وچ ښاخ کېناست:
کاغ، کاغ، کاغ...
ولاړو خلکوسترګې ور واړولې، یوه تیږې ته لاس کړ. کارغه والوت، خو ببرته لنډ راوګرځېد اویوه هسکه یې دناستې لپاره غوره کړه. داسې ښکارېده، چې په خوړ کې یې د خوسا غوښې له بوی څخه تمه نه ختله.
وروسته په ولاړو خلکو کې یوه منډه کړه، ځای په ځای ودرېد، په بیړه یې مول خلاص کړ او په دره کې دکانګو او استفراق غږ پورته شو.
خلکو یو بل ته وکتل، ټولوخپلې لونګۍ تر پزو تاو کړې وې، په سترګو کې یې له خواشینۍ سره سره، کرکه هم پرته وه
وروسته د درې په پورتني سر کې د وړو تیږو د ښوېدو غږ پورته شو، د خلکو غړۍ اوږدې شوې، یوه سړي منډې را وهلې... پټکی

یې په غاړه کې ول ول پروت و او سپينه ږيره يې باد يوې خواته اړولې وه.
کله چې ډلې ته ور ورسېد ، ځای پر ځای ودرېد ، بيا يې څو لړزانده ګامونه واخيستل، لوڅو پښو يې د خوړ په سپينو وړو تيږو دوينو سره ټاپونه پرېښودل.
بوډا د يوه پړمخې پراته ځوان سر ته ودرېد ، لينګي يې ولړځېدل او کله چې يې خوار ځنګنونه پر وړو تيږو ولګېدل، د شنو مچانو بنګی شو. د بوډا چاودې او نرۍ ګوتې د سړي پر اوږه ولګېدې، هغه يې ستوني ستغ را واړاوه، په ځير ځير يې ورته وکتل، د سړي تور او ګاړګوتي ويښته سپيره وو، مخ يې شين او پړسيدلی ښکارېده او لوڅې تورې سترګې يې له ژېړو مېږيانو ډکې وې.
بوډا يوه شېبه په ځير ځير ورته وکتل. بيا پر پراته سړي ور پرېوت، د هغه مخ يې په ښکلولو ښکلولو لوند کړ او په تنګه دره کې يوه تېره کوکه تاو را تاو شوه !
_اه زويه !اه زويه ! اه.....

پای

# دوه شپې

تیلیفون وشرنګېد...
پر تخت پرتې ځوانې ښځې سترګې رڼې کړې، د خوب د ګروپ په سره او تته رڼا کې یې دیوالي ساعت ته وکتل، د شپې یوه بجه وه، کوچني مېز ته ور وښویده، ګوشۍ یې پورته کړه او په خوبولي غږ یې وویل:
_څوک یې؟
غوږ یې و تخنېد:
_اه ! ګرانې، زه یم.
ښځې یو اوږد اررمی ویست، ورو یې وپوښتل:
_څنګه یې؟
_ښه یم، ګرانې ! ما وبخښه، پوهېدم چې ویده یې، خو څه وکم، ډېره مې یادېدې.
ښځې خبره ور پرې کړه !
_څه وخت راځې؟
مقابل لوري وویل:

ـبس ! د طيارې ټکټ مې اخيسی دی، د تجارت کارونه دي، که خدای کول، دربيمه به په کور کې يم.
ښځې يو سوړ اسويلی ويست، تندي يې ګونځې پيدا کړې، خوله يې خبرو ته جوړوله چې سړي وار ړومبی کړ:
ـاه ! ګرانې ! پوهيږې چې څومره درپسې خپه يم، اووه ورځې مې نه يې ليدلې، دا زما له پاره ډېر وخت دی، اه د زړه سره ! ژوند له تا پرته څومره تريخ دی، هو ربښتيا ! نن مې د سرو زرو يوه ښکلې غاړګۍ درته واخيسته، ډېره قيمتي ده، الماس پکې کار شويدي، ستا له سپينې نرۍ غاړې سره ډېره جوړه ده، يوه بله به درته وکم، ما زموږ راتلونکي ماشوم ته نوم خوښ کړيدی، ښکلی نوم دی، خوښ به دې شي، درته يې ووايم !
ښځه په خبره کې ورولويده:
ـګرانه ! ستا روغتيا ته انديښمنه شوم، ستړی به يې، ناوخته دی، اوس آرام وکه، سبا به سره غږيږو.
سړي په خوند وويل:
ـدا دوه ساعته لټ په لټه اوړم، خو ستا پاکه او معصومه څېره مې تر سترګو کيږي، کله ويدېدی شم. پوهېږم، ته به هم تر ډېره زما په فکر کې وې، همداسې نه ده؟ !
د ښځې شونډې و خوځېدې:
ـهمداسې ده.
سړي وويل:

ـښه ګرانې، دادی ما ستا په یاد سترګې سره ور ورستې، په دې هیله چې په خوب کې دې ووینم، زما په اړه فکر مه کوه! ښه شپه.
ښځې په بیړه ګوشۍ کېښوده، وروځې یې سره ورغلې، په خشکه یې وویل:
ـاحمقه!!!
د هغې ترخنګ پراته ځوان څنګ بدل کړ، پرته له دې چې سترګې رنې کړې، شونډې یې وخوځیدې:
ـڅوک و؟
ـخاوند مې، ویل یې چې درې ورځې وروسته درځم.
ځوان د هغې تر نرۍ، سپینې غاړې لاس تاو کړ، د ځان خواته یې رنګه کړه، ورو یې وویل:
ـخوا مه بدوه! دوه له خونده ډکې شپې خو لا پاتې دي.

پای

# د موږکانو پاچاهي

ځوان موږک وویل:
ـ پلاره ! د پنیر دا ټوټه ډېره خوندوره ده.
زوړ موږک د پنیر ټوټه ور واخیسته، تېره غاښونه یې پرې ټینګ کړل، اوږد وغځید او بیا یې سر پورته نه شو.
د ځوان موږک کوچنۍ ګردې سترګې له اوښکو ډکې شوې، ښه شېبه یې وژړل، بیا یې پر خپله اوږده لکۍ کارټن وډباوه او شېبه وروسته څو نري موږکان په کاغذ کې له جوړ شوي کوچني سوري څخه کارټن ته ور ننوتل. ځوان موږک امر وکړ چې د ده د پلار پړسیدلی جسد له کارټن څخه وباسي او د جوارو د پټي په یوه کونج کې خاورې پرې واړوي.
په لنډه موده کې آوازه خپره شوه چې ځوان موږک خپل پلار وژلی، ده ته یې د پنیر په ټوټه کې زهر ورکړي او د جوارو د پټي اوسیدونکي موږکان یې د زاړه پاچا له ظلمه ژغورلي دي.
ځوان موږک امر وکړ چې د جوارو د پټي ټول اوسیدونکي موږکان دې لوی کارټن ته نږدې حاضر شي. د ده امر په لنډه موده کې پر ځای شو، یوه چاغ موږک د پیپسي یو زنګ وهلی ټیمي بوتل وټنګاوه او په لنډ وخت کې لوی او واړه موږکان تر کارتن را تاو شول. دوی ټول

غلي، ډنګر، عاجزه او وېرېدلي ښکارېدل. ځوان موږک د کارتن سر ته وخوت او په لوړ غږ يې وويل:

_ما د جوارو د پټي د اوسيدونکو موږکانو لپاره يوه لويه قرباني ورکړه، خپل پلار مې وواژه او تاسو مې د هغه له ظلمه خلاص کړئ. له دې هيسته به د ظلم په نوم څه نه وي، امر کوم چې د غوړو د لوی ټيم دروازه خلاصه او ټول بندي موږکان خوشي شي. هر څوک حق لري چې آزاد ژوند وکړي، خواړه ولري او ان که د پاچا په ورځنيو کارونو کې کومه نيمګړتيا ويني، خپل غږ پورته کولای شي. زما لومړی ګام به دا وي چې نوي وزيران و ټاکم، مخلص وزيران، داسې چې له عادي موږکانو سره کوم توپير ونه لري، ټول خپل غږ اوچت کړای شي او د جوارو د پټي له حاصلاتو څخه په سمه او منصفانه توګه ګټه واخلي.

خو د دې کار لپاره ستاسو مرستې ته اړتيا لرم، زما د پلار د واکمنۍ په مهال لوږه وه، د خوړو لپاره څه نه موندل کېدل، خپلمنځۍ جګړې وې او د جوارو ډنډر ورو ورو وچېدل، موږ به هڅه وکړو چې په ګډه دا پټي بيرته زرغون کړو او ټول د اسراتمند ژوند څښتنان شو، موږ د خپلو ګاونډيو نورو پټيو له اوسېدونکو موږکانو سره دوستانه اړيکي غواړو ، د دوئ کروندو ته په درنه سترګه ګورو او له دوئ څخه هم تمه لرو چې د جوارو د پټي د حدودو درناوی وکړي.

ځوان موږک د اتحاد ، د پټي د ښیا زرغونېدو او د بیان دا زادۍ په اړه اوږدې خبرې وکړې، د ده هرې خبرې ته به د جوارو د پټي اوسېدونکو موږکانو دخوشالۍ په ښه خپلې لکۍ خوځولې او ژوندی دې وي ځوان پاچا ، د ظلم او تیارې دوره نوره تیره شوه ، موږ د خپل پټي ابادي غواړو او د اسې نور شعارونه ورکول کېدل.
د ځوان پاچا لومړنی کار د دریو نویو وزیرانو انتخابول وو ، ده هغه وزیران وټاکل چې د ده له پلاره یې ښه خوله نه وهله.
د پاچاهۍ په دوهمه ورځ یې په کارتن کې پروړه هو اره کړه او کارتن یې د مهمو جلسو لپاره غوره ځای وګاڼه. د غوړو له ټیم څخه هم هغه موږکان خو شې شول چې د ده د پلار د واکمنی پر مهال د جوارو له پټي څخه د غلا ، له پاچا سره د مخالفت او د نورو موږکانو د ځورولو په تورونو نېول شوې وو.
د جوارو د پټي موږکان خوشاله ښکارېدل، دوئ د زوړ پاچا له ظلمه خلاص شوي وو او خپله راتلونکې یې ښه لیدله.
ځوان پاچا هم تمه درلوده چې د جوارو پټی اباد و ویني، موږکا ن د پټي له ابادۍ سره مینه پیدا کړي او په راتلونکې کې ارام ژوند ولري. ده د جوارو د پټي اوسیدونکو موکانو ته زیری ورکاوه چې ډېر ژر به په نس ماړه شي او هر یو به په سوله کې ژوند وکړي.
ځوان پاچا یوه اوونۍ وروسته د عمومي کندو ور خلاص کړ او په کندو کې د پرتو جوارو یوه برخه یې د پټي پر موږکانو ووېشله، دا جوار د لسو ورځو لپاره بس وو ، په دې موده کې یو موږک هم په

خوراک پسې د باندې را ونه ووت، ټول په خپلو غارونو کې پراته وو، خوراک په اسانۍ ور رسېده او بدنونو یې وازګې پیدا کړې وې، خو کله چې ذخیره جوار خلاص شول او خوبولي د باندي را ووتل، پټې تر پخوا سپېره ښکارېده.

موږکان بیا تر کارتن را تاو شول، دوئ د نورو خوړو خواست وکړ، خو ځوان پاچا د جوارو ژېړو بوټو ته اشاره وکړه او ویې ویل چې که دوئ په ګډه پټي ته له نږدې لښتي څخه اوبه ورخوشې کړي، د جوارو بوټي بیرته شنه کېدای شي،. ده زیاته کړه چې موږکان ډېر دي او په ګډه پخپلو تېرو نوکانو دا کار کولای شي، خو د موږکانو لومړی شرط په کندو کې د پاتې جوارو ورکول وو.

پاچا د دوئ خبره ومنله او له کندو څخه یې د یوې اوونۍ نور خوراک هم ورکړ، اووه ورځې نورې هم ووتې، خو پټی همداسې وچ پا تې شو.

په دریم ځل چې د پټي موږکانو د خوراک خواست وکړ، پاچا د دوئ غوښتنه ونه منله، دلیل یې دا وو چې موږکان به ترڅو په سوال چلیږي، دوی باید په خپله کار وکړي، د پټي په زرغونېدو کې برخه واخلي او د خوراک لپاره یو څه ومومي.

د ځوان پاچا دا خبره د پټي په موږکانو ښه ونه لګېده او یوه پاچاېې کفایته وګاڼه. دې سپکاوي وزیرانو ته غوسه وروسته او ګنهګار موږک ته یې د سزا غوښتنه وکړه، خو پاچا په سړه سینه وویل چې د

پتهي موږکان په ازاده خپل غږ پورته کولای شي او دا د دوئ حق دی.
دریم ځل د پتهي پر موږکانو په کندو کې پاتې ټول جوار وویشل شول، خو دوئ د پتهي له ابادۍ سره کومه دلچسپي ونه ښوده. د جوارو ډنډرورو ورو وچېدل...
څه موده وروسته بیا خوبولي موږکان له خپلو سوړو را ووتل او تر کارتن راتاو شول. داځل د ځوان پاچا په خبرو کې ناامېدي ډېره لېدل کېده، ده په عاجزۍ وویل چې په کندو کې نور څه نه دي پاتې، د جوارو د پتهي موږکان باید پخپله کار وکړي، پتهي زرغون کړي او ځانونو ته خواړه پیدا کړي.
د هغه په دې خبرو د موږکانو غوسه راوپارېده، ځوان پاچا ته یې وویل چې له دوئ سره یې کړې ژمنې پوره نه کړې، د موږکانو د خوړو غم یې ونه خوړ او د جوارو د پتهي اوسیدونکو موږکانو ته یې هوسا ژوند ور په برخه نه کړ.
وروسته دوه موږکان په چټکۍ سره د کارتن سرته وختل، یوه د پاچا پر لکۍ خوله ور ولګوله او بل یې یو بریت ور وشکاوه.
د وزیرانو سترګې رډې راوختې، خو پاچا ارامی ته راوبلل، وروسته په کارتن کې یوه عاجله جلسه ونیول شوه، پاچا خواشینی و او د موضوع په حل پسې ګرځېده. یوه زوړ وزیر د خبرو اجازه واخیسته، ویې ویل چې تر ډیره موږ پخپله ملامت یو، د پتهي موږکانو ته مو له حده تېره ازادي ورکړه، په دوئ مو مفت خواړه

ووېشل، سوالګر مو اموخته کړل او همدا علت دی چې دوی اوس پخپله په خوړو پسې نه ګرځي.
يوه بل وزير ووېل چې د جوارو د پټي موږکانو پخوا تر دې ډېر سخت ژوند درلود، لوږه وه، نېستي وه، جګړه وه، خوله پاچا څخه يې سترګه کېده، په سوال نه وو اموخته او هرڅه به يې پخپله موندل.
دريم وزير ياده کړه چې هغه وخت قانون و، حکومت و، سزا وه، پوښتنه وه او مجرمين به په بند کې لوېدل، خو اوس داسې څه نه شته، ان بديخانه هم نه لرو، هر څوک چې هرڅه غواړي تر سره کوي يې، لږ څه جديت په کار دی، تېره ورځ د جوارو تر يوې لوېې پاڼې لاندې يو موږک مړ پروت و، په غاړه يې کوم بل موږک خوله ور لګولې وه، خو چا يې پوښتنه ونه کړه.
زوړ وزير د بنديخانې د بيا جوړېدو غوښتنه وکړه، خو پاچا دا وړانديز ونه مانه او ويې ويل چې دی د سزا کلک مخالف دی.
په دې توګه ورځې تېرې شوې، حالات خراب شول، لومړی غلاوو زور ونيو، بيا وژنې شروع شوې او په پای کې د جوارو پټی په سپېره ډاګ بدل شو، د خوراک لپاره هيڅ هم نه موندل کېدل، لويو موږکانو به کوچني موږکان پټول او خوړل به يې.
نور نو د جوارو په پټي کې د سکون او ابادۍ په نوم څه نه وو پاتې، ګډوډي ډېره وه، وچې پاڼې په وينو سرې وې او ان د ګاونډ يو پټيو

موږکان به هم د جوارو پټي ته په رڼا ورځ ور تلل او کوچني موږکان به یې تښتول.
د ځوان پاچا خواشیني هم ورو ورو ډېرېدله، هره ورځ به ترخه خبرونه ور رسېدل، غلاوې او قتلونه ډېر شوي وو، ګاونډیو تېری کاوه، د پټي وچېدو یې زړه خوړ، چا یې خبره نه منله او ان وزیران هم د پاچا د خبرو په وړاندې بې اعتنا وو. د پاچا برېت په لنډه موده کې سپین شول.
په پای کې ځوان پاچا بله چاره نه لېده، اړ شو چې له ګاونډیو څخه د خلاصون په هیله له یوې پیشو څخه مرسته وغواړي، پیشو په خوشالۍ دا وړاندیز ومانه، دا به د جوارو د پټي په پولو ګرځېده او هغه موږک به یې خوړ چې له پولې به را اووښت، خو دې کار زحمت درلود، منډې یې غوښتې او بیخوبۍ ته ضرورت پېښېده، ځکه پیشو ډېره ژر ستړې شوه، خو وروسته یې اسانه چاره وموندله، دا د جوارو د پټي په موږکانو روږدې شوه او په ډېرې اسانۍ سره به یې هره ورځ د پټي درې څلور موږکان تر ستوني تېرول. د پیشو په دې کار پاچا هم خبر و، خو له وېرې یې څه نه ویل.
ځوان پاچا په لنډه موده کې غمونو زوړ کړ، ملا یې کږه شوه او کله چې یو سهار وزیران کارتن ته ور ننوتل، پاچا په یوه کونج کې ستوني ستغ پروت و، سترګې یې پټې وې، زړه یې غمونو درولی و او بدن یې پړسیدلی ښکارېده.

پای

# بدمرغي

نجلۍ پر کټ ستوني ستغ پرته وه، کله کله به يې چيغه کړه، لاسونو ته ور لوېدلي ځنځيرونه به يې وشرنګېدل، سر به يې پورته کړ او بدن به يې ټکان وخوړ. تر هغې راګرځېدلي کسان خواشيني وو،

دوئ په راوتلو رڼو سترګو ځوانې نجلۍ ته کتل او په څېرو کې یې ګونځې ښکارېدلې.
په ولاړو کسانو کې یوه چیغه کړنه !
ـتور کوډګر ناوخته شو !
تر څنګ ولاړ سړي په عاجزي وویل:
ـد پاچا عمر دې ډېر وي، په تور کوډګر پسې مو عسکر لېږلي دي، دوئ د سهار په خړه کې حرکت وکړ،اوس باید را ورسېږي، سپېره غره ته تګ، یوه ورځ مزل غواړي.
پاچا خپله اوږده چپنه ورټوله کړه، روان شو، پر تخت کېناست، ځلېدونکی ژېړ تاج یې له سره لیرېکړ او په خپلو اوږدو سپینو څنګو کې یې ګوتې تېرې کړې. یوه شېبه غلی و، وروسته یې ډډ غږ د ماڼۍ په لوی او هسک سالون کې انعکاس وکړ:
ـکه زما په لور څه وشول، تاسو به تر تېغ تېر کم.
دولاړو درباریانو سرونه وځړېدل، په څېرو کې یې وېره ښکارېدله او وزیرانو خپل ژوند په خطر کې لېد.
یو ساعت نور هم ووت، له اوږدو شیشو څخه ماڼۍ ته ژېړه رڼا رالوېدلې وه او د درباریانو اوږدې زرینې چپنې ځلېدلې.
د پاچا غوسه ورو ورو ډېرېدله، خولې یې څګونه پیدا کړي وو او د خپلې اوږدې تورې تر طلایي موټ یې د ښي لاس ګوتې تاوې وې.

چوپه چوپتیا وه، کله کله به د نجلۍ لاسونو او پښو ته ور لوېدلو ځنځیرونو شرنګ وکړ، چیغه به یې له خولې را ووته او بېرته به بېسده پرېوته.

لمر په لوېدو و چې د ماښې یوه عسکر د تور کوډګر د رارسېدو خبر ورکړ، پاچا ودرېد، وزیرانو د سالون لویې دروازې ته وچې سترګې نېولې وې او ټولو د تور کوډګر د راتلو انتظار اېست. شېبه وروسته یو زوړ سړی راښکاره شو، دی تک تور و، ګڼه ږیره یې درلوده او پر نرۍ غاړه پورې یې په خړسپېنسي پیېلو څو هډوکو ټال خوړ.

پاچا او درباریانو د احترام په ښه خپل سرونه ټیټ کړل، خو تور کوډګر مخ ور وا نه ړاوه، لاړ او د نجلۍ تر څنګ پر کټ کېناست. ښه شېبه یې هغې ته وکتل، د نجلۍ اوږده بانه نېغ ولاړ وو، تر سترګو یې یوه توره حلقه راګرځېدلې وه او پر سرو شونډو یې سپین ځګ پروت و. تور کوډګر خپلې زړې خورجینې ته لاس کړ، د انسان ککرۍ، د پښو دوه اوږده هډوکي او یو خیرن جام یې راویستل، وروسته ودرېد، له ځان سره یې څه وویل او ترکټ څو ځله را تاو شو.

پاچا په خواره خوله وویل:

ـزه په تور کوډګر باور لرم.

تور کوډګر هغه ته وکتل، خو څه یې ونه ویل، هماغسې یې شونډې خوځېدلې او دا سې کلمات یې تر خولې راوتل چې ولاړ خلک نه پرې پوهېدل.

د کوډګر شونډې تر ډېره خوځېدلې، بیا د نجلۍ تر څنګ کېناست، خورجین ته یې لاس ور وغځاوه، یو سپین بوتل یې راویست او کله چې یې د بوتل اوبه په جام کې واچولې، له جام څخه یو تور لوګی پورته شو، له دې سره د نجلۍ سترګې رڼې شوې، ځنځیرونه وشرنګېدل او تور کوډګر چیغه کړه!

_اې شیطاني اروا! ته څه غواړې؟

د نجلۍ خوله له ځګونو ډکه شوه، تورو سترګو یې سوروالی پیدا کړ او شېبه وروسته یې سترګې سرو وینو ونېولې. نا څاپه یې له شونډو یو ډډ نارینه غږ راووت، دې غږ په سالون کې د ولاړو کسانو زړونه ولړځول.

غږ وویل:

_تر ټولو بدمرغه انسان!

له دې سره د ځنځیرونو شرنګا پورته شوه، تور کوډګر په چټکۍ سره تر نجلۍ راوګرځید، په لاس کې نېولې ککرۍ یې کښته پورته کړه او نامفهومه کلمات یې له خولې را ووتل. د نجلۍ رنګ ورو ورو خپل عادي حالت ته راوګرځېد، سترګو یې توروالی پیدا کړ او شېبه وروسته بېسده پریوته.

پاچا ور مخته شو، د چپنې لستوڼی یې د خپلې لور پر خوله تېر کړ او بېرته په خپل ځای ودرېد

تور کوډګر وویل:

ـد پا چا پر لور جادو شوی، نجلۍ هغه وخت رغېدی شي چې تر ټولو بدمرغه انسان ووويني.

پاچا یوه شېبه غلی و، بیا یې وزیرانو ته مخ ور واړاوه او امر یې وکړ چې ترټولو بدمرغه انسان ور ته پیدا کړي.

له لمر ختو سره ډولونه ودربېدل، جارچي په ښار کې کوڅه په کوڅه وګرځېد، ده یو لوی ښکر خولې ته نیولی و او چیغې یې وهلې چې ترتولو بدمرغه انسان دې په دربار کې حاضر شي.

په ماښام کې پاچا او وزیران بې خوبه او خواشیني ښکارېدل، په ټولو سرونه ځړېدلي وو او د تور کوډګر له خولې څخه نامفهومه کلمات را وتل.

د هوا له تودېدو سره عسکرو احوال راوړ چې تر ټولو بدمرغه انسان یې موندلی دی. پاچا امر وکړ چې دا بدمرغه انسان دربار ته حاضر کړي. شېبه وروسته په یوه کټ کې داسې سړی راوړل شو چې لاسونه او پښې یې نه وو، پر مخ یې یو لوی پرهر ښکارېده او تر ډېره د غوښې یوې لوبې بوټۍ ته ورته و.

سړي وویل چې دی یو پوځي و، له دښمن سره په جګړه کې یې لاس او پښې غوڅې شوېدي او د مخ لوی پرهر یې هم د تورې نښه ده.

د هغه د خبرو له ختمېدو سره ځنځیرونه وشرنګېدل، د نجلۍ سترګې سرې شوې او له خولې یې ځګونه وبهیدل. تور کوډګر د سړي د ایستلو امر وکړ او ویې ویل چې ده د ازادۍ په جګړه کې

برخه اخیستې او تر ټولو نیکمرغه انسان دی. وروسته یې څه نامفهومه کلمات تر خولې را ووتل او نجلۍ ارامه پرېوته.
نیم سات نور هم ووت، بیا د یوې ښځې ژړا او کوکې واورېدل شوې، په سالون کې یوه ځوانه ښځه او درې خوار او ډنګر ماشومان ودرېدل،ماشومان ناروغه ښکارېدل ، دوئ د خپلې مور لمن ټینګه نېولې وه او وارخطا وو.
ښځې په ژړا کې وویل چې خاوند یې له غره څخه د خرڅلاو لپاره بوټي راوړل چې ځناورو وخوړ، اوس دوئ څه نه لري، دوه ماشومان یې له لوږې مړه شول، نورو ته یې یو مړ سپی موندلی دی، د هغه غوښه ور ته پخوي او ژوندي یې ساتلي دي. دوئ په یو ه وېرانه کې اوسي، یوائې څلور دیوالونه دي، نه چت لري او نه هم دروازه، خو بیا هم څوک کوم غرض نه ورباندې لري.
ځنځیرونو شرنګ وکړ او د پاچا په امر ښځه او ماشومان له مانۍ ووتل.
تور کوډګر وویل:
ژوند یې تریخ دی خو بدمرغه نه شو ورته ویلای، ځکه دا ځوانه ده، تر ستورو لاندې شپه تېروي او د پاچا له وېرې څوک په سپکه نه شي ورته کتلای.
شېبه وروسته یو په ونه لوړ بنیادم په سالون کې ودرېد ، ده ښکلې جامې اغوستې وې، له رنګه هم سپین و او په ظاهره د بدمرغۍ کومه نښه نه پکې ښکارېدله. دده په لېدو د پاچا او درباریانو په

څېرو کې ګونځې پیدا شوې، خو تور کوډګر وویل چې خبرې دې وکړي.
د سړي سر وځړېد او له خولې څخه یې یوازې یوه جمله را ووته !
ـزموږ خاوره پردیو لاندې کړېده او خپلواکي نه لرو.
ناڅاپه د ماڼۍ لویې شیشې ولړځېدې، له کټ څخه یو تور لوګی پورته شو او یوې ویروونکې چیغې په سالون کې انعکاس خپور کړ !
وسوځیدم !
لوګی په لمبه بدل شو او له لمبې څخه هم د ځناورو شکلونه جوړ شول، کله به یې د پړانګ کله د لیوه او کله هم د زمري بڼه خپله کړه، شېبه وروسته یوه وحشتناکه انګولا پورته شوه، یوې سپېڼې رڼا ولاړ خلک اړ ایستل چې خپلو سترګو ته لاسونه ونیسي، چوپه چوپتیا شوه او شېبه وروسته د نجلۍ حیرانه غږ واورېدل شو !
ـپلاره ! زه مو ولې تړلې یم؟
تور کوډګر وویل:
ـتر ټولو لویه بدمرغي، د خپلواکۍ نه درلودل دي.

پای

# تور سرې

يو مړی وشو ، مرکه کېناسته، خو د مقتول پلار د غچ اخېستلو قسم ياد کړ او زامنو يې د مقابل لوري دوه تنه ووژل. بيا مرکه سره راټوله شوه، داخل بل پلار د انتقام خبره کوله.
کلونه تېر شول، سينې غلبېل شوې، د يوې کورنۍ پر اوو تنو خاورې واوښتې او بلې کورنۍ يو ولس تنه له لاسه ورکړل، په پای کې اور په خپله مړ شو ، دوارو غاړو ته يوائې تور سرې پاتې وې.

پای

# نه پوهېږم

له ډېرې مودې وروسته کلي ته لاړم، لومړی دوې ورځې مې په کور کې تېرې کړې، بیا د یوه ملګري کره ورغلم، دی راباندې ګران و، له پخوا مې ورسره جوړه وه او خبرې یې ښې راباندې لګېدې.
کلکه غېږ یې راکړه، کوټې ته لاړو، چای یې راووړ، له یوې بلې سره وغږېدو، خو دی خواشینی و او د زړه په زور یې خندل.
علت مې وپوښت، لومړی یې څه نه ویل، خو وروسته مې مجبور کړ، رایاده یې کړه چې لس زره افغانۍ پوروړی دی، سړی هرسهار په دروازه کې ولاړ وي او خپلې پیسې غواړي.
په حیرانۍ مې وپوښتل:
ـخو ته شل جریبه ځمکه لرې، دهقانې دې هم خپله ده،بیا ولې قرضداره یې؟

ده راته وکتل، په خړو شونډو یې یوه ترخه موسکا تېره شوه، ورو یې ویل:

ـشکر وباسه چې د کور مسولیت نه دی در په غاړه، پلار لرې، که نه نو دا خبره دې نه کوله.

یوه مې کړ چې دا زما د پوښتنې ځواب نه و.

یو سوړ اسویلی یې ویست ، شونډې یې وخوځېدې:

ـځه درته ووایم، اووه سره عیال لرم، ټول واړه دي، څوک ناروغه وي، څوک د مکتب کتابچې غواړي، یو جامې نه لري او بل هم لوڅې پښې ګرځي، باور وکه، د غنمو رېبلو ته یوه میاشت پاتې ده، خو موږ دوه اوونۍ مخکې لا کندو جارو کړ، کله پسې رسېدی شم.

یوه شېبه غلی و، بیا پرته له دې چې راته وګوري په خواشینۍ یې وویل:

ـنه پوهېږم، څه پرې وخورم؟

و مې ویل:

ـشپږ زره درکولای شم، ډېرې نه، ژر یې نه غواړم.

په اوږه یې لاس راکېښود او مننه یې وکړه.

ما په کور کې څو ورځې نورې هم تېرې کړې، بیا ښار ته راغلم، خو میاشت لا نه وه وتلې چې له کوره احوال راپسې راغی، ویل یې چې پلار دې ناروغه دی، ژر راشه !

زه هم په بیړه د موټرو اډې ته لاړم، غرمه کور ته ورسېدم، پلار مې د زړه حمله تېره کړې وه او اوس ښه و.
خدای ته مې شکرونه ویستل، مور مې د غرمې ډوډۍ راوړه، وروسته یې په خواشینۍ راته وویل چې د ملګري کور دې بمبارد شو، د کورنۍ ټول غړي یې له خاورو مړه راوایستل، یوازې دی ژوندی دی، فاتحې ته ورشه!
زړه مې د پښو تر ګوتو تېر شو، ګوله مې کېښوده او پر بایسکل مې پښه واړوله. کله چې د هغوئ کلي ته ورسېدم، د کورد ولاړو دیوالو پرځای غټې تورې لوټې پرتې وې، چا راته وویل چې ملګری دې په فصله کې دی، په منډه ورغلم، دی سره لمر ته ناست و، ږیره یې ببره وه او تر مخ یې څو جریبه ولاړو ژېړو غنمو ته کتل، پرته له دې چې راته وګوري په غریو کې یې وویل:
ـد غنمو رېبلو ته مې زړه نه کیږي، نیوهېږم! په چا یې وخورم!

پای

# ګېله

کونګري ژړل... مور یې راغله، بچي ته یې وکتل، په خاورو سپېره و، غاړې ته یې خیرن پړی ور لوېدلی و، په لکۍ پوري یې هم پلاستیکي خلطه غوټه وه.

مور یې په کاوږ وویل:

_چا دومره ځورولې یې؟

کونګري ژړل...

مور یې په پاسته غږ وویل:

_چرګې دا کار کړی؟

کونګري د ((نه)) په بڼه خپل غټ سر وخوځاوه.

مور یې وویل:

_خوسکی و.

_نه

_امم ممم پیشکه؟

ــ نه

مور يې فکر په مخه کړه، ورو يې وويل:

ــ دلته خو بل څوک نه اوسي.

کونګري خپله لکۍ وخوځوله، په غريو کې يې وويل:

ــ انسان و.

مور يې يو دم وخندل، د کونګري پر سپېره مخ يې خپله پسته ژبه تېره کړه، ورو يې وويل:

ــ اه ګرانه! راځه چې ځو، له انسانانو څه ګټه!!!

پای

# پښتون

سړي غټه لونګۍ تړلې وه، راغی، زما تر څنګ کېناست، د ولیو په مینځ کې یې سوک راکړ، په خوند یې وویل:

ــغواړم یوه برجوره کلاه جوړه کم، ته ونېسه ! یوه ښه نخشه ( نقشه ) خو راته ولیکه !

هغه ته مې وکتل، خوشاله و، پر اوږده سره کړې ږیره یې شنه نصوار پراته ول، څېره یې خړه ښکارېدله، ورو مې وویل:

ــخیرو کاکا ! نقشه د منډې خبره نه ده، ځو ورځې وخت راکه !

ده برګ راته وکتل، یودم یې وخندل، مخکیني غاښونه یې وتلي ول، په لوړ غږ یې وویل:

ــیاره انجنیره مرداره دې کړه، نخشه به څه وي، کار به یې څه وي، کاغذ او قلم دروا خله، یو ځو لیکې ولیکه ! بس ! دا یې هم نخشه !

چاره نه وه، ومې ویل:

ــسبا ته یې وغواړه !

سړی له خندا شین شو، ښه شېبه یې بې غاښو خوله وازه وه، وروسته یې په خوند وویل:
ـ ایله دې نره خبره وکړه! خو ګوره! د زورورې کلاه نخشه به راته لیکې، څلور برجه دې هېر نه شي، ټول برجونه باید مورچې ولري، په مصرف پسې یې مه ګرځه! کلکې مورچې، داسي چې د راکټ ګولۍ یې هم ونه خوري.
په حیرانۍ مې وویل:
ـته خو بدي دار نه یې، ارام ژوند لرې، نو مورچې څه کوې؟
په زوړه یې وخندل:
ـای ساده ګله! عقل دې خام دی، تل د راتلونکې غم کوه!
دی روان شو، ماته د یوه هزاره بوډا خبره په ذهن کې راتېره شوه، دی موچي و، د بېګاه یې نه لرل، خو کله چې یې د ختهو کور جوړاوه، لومړی یې د ګراج ځای پرېښود، ما یې علت وپوښت، ده راته وویل:
(( هی هی انجنیر صاحب! خدا کلانه! میشه که صاحب یک موتر شویم. ))

پای

# مورنۍ ژبه

پلار په خواشینۍ وویل:
ـتا هېڅ هم نه دي زده کړي !
د ماشوم سر وځړېد.
پلار وویل:
ـڅلور میاشتې یو عمر دی، خو ته لا په الفبا هم نه پوهېږې !
د جامو د ګنډلو د ماشین غږ ودرېد ، ځوانه ښځه په خبرو کې ور ولوېده:
ـسړیه ! تر اوسه خو لا په اول صنف کې دی، زده به یې کي.
د سړي تندی تریو شو ، لاسي بکس یې ور واخېست ، له کوره ووت او دفتر ته لاړ.
ښځې ماشوم ته وکتل، ورو یې وویل:

ـ ګوره زړګیه ! ته باید خپل درسونه ووایې، د پلار خبره دې درپه زړه که، ویل یې چې که په سبقونو کې تکړه وې، نو یو ښکلی کوچنی بایسکل درته اخلي.

ماشوم په حیرانۍ ورته کتل...

ښځې د ماشین لاستی تاو کړ، ورو یې وویل:

ـ هله ګرانه ! د مکتب وخت دې دی !

هلک بکسې ته لاس ور وغځاوه، بوټونه یې په پښو کړل، د باندې ووت.

هوا سړه وه، ماشوم د سړک پر غاړه ودرېد، موټر ګړندي روان ول، یو لاروی ورد مخته شو، ماشوم یې تر لاس ونیو، د سړک تر بلې غاړې ورسره لاړ.

پاو وروسته ماشوم په ټولګي کې و، معلمې یې پر توره دړه د الفبا توري ولیکل، په لوړ غږ یې وویل:

ـ خوب قندولکا ! الفبا را سه سه بار در کتابچه هایتان بنویسید !

ماشوم په حیرانۍ سره خپلې کتابچې ته کتل...

شېبه وروسته معلمې وپوښتل:

ـ قندولک ! تو چرا نوشته نمیکنی؟

ماشوم ورو وویل:

ـ څه ؟

د معلمې شونډې وخوځېدې:

ـ چه گفتي؟

هلک بیا خپله خبره تکرار کړه !

ـ څه وکم !

معلمې تندی تریو کړ !

ـ بچیم ! مه پشتو ره نمیفامم ! تو چه میگی؟

ولاړه شوه ، د یوه بل ماشوم تر څنګ ودرېده، په خوشالۍ یې وویل:

ـ آفرین بچی لایق، چقه زود نوشته کدی !

د تختې پر سر پر یوه لوی کاغذ لیکل شوي وو :

(( په مورنۍ ژبه زده کړه د هر چا حق دی. ))

پای

# ازادي

څوارلس کلن هلک خپله پېغله خور تر کوټېو ونېوله، د هغې پر اوږه تم منګی یوې خواته کوږ شو، ولوېداو له درب سره مات کلدورکې ( د منګي ټوټې ) یوې بلې خواته ولوېدل.
نجلۍ پر ژامه سوک وخوړ، لاړې یې باد شوې ، کيڼ لورته ړنګه شوه، سر یې د چوترې پر سمیټي ژۍ ولګېد ، ځای پر ځای پرېوته.
هلک د هغې تشي ته لغتې ونیولې، په عمر پخه ښځه له کوټې راووته، هلک یې پورې واهه، پر نجلۍ ور پرېوته او له خولې څخه یې ښېراوې راووتې:
ـ خدای دې ټک له ټکه که، مغزی دې مات شه، ښه ورځ ونه وینې...
هلک لاس ور وغځاوه، ښځه یې تر مټ ونېوله، نجلۍ ته یې دوه ـ درې سوکه ورکړل، ځای پر ځای ودرېد ، له خولې څخه یې ځګونه باد شول:
ـوژنم یې !
دا یې وویل او دیوال ته نږدې د خرې پر کټه کېناست.
ښځې خپلې لورته وکتل، سترګې یې سپینې راختلې وې، غاښونه یې په وینو سره ول، ښځې په ژړا کې وویل:
ـمړه دې کړه !

هلک لاړې تو کړې، پر خپله بهیدلې پزه یې لستوڼی تېر کړ، څه یې ونه ویل.
د نجلۍ زګېروی واورېدل شو، شېبه وروسته یې سترګې رڼې کړې، یو دم یې وژړل، ځان یې د مور غېږې ته ور واچاوه.
مور یې د هغې په ککرۍ لاس تېر کړ، ګوتې یې په وینو سرې شوې، په غریو کې یې وویل:
ـ څه ووایم، خدای دې ځوانیمرګ کې.
وروسته یې د نجلۍ ټکری سم کړ، نجلۍ ولاړه شوه، زانګې وانګې کوټې ته ننوته.
ښځې هلک ته مخ ور واړاوه، ورو یې وویل:
ـ څه خطا، څه ګناه، ولې؟
هلک خپله پزه پورته کش کړه، په خشکه یې وویل:
ـ دا دریم وار دی چې په اوبو پسې د باندې وځي!
مور یې چیغه کړه!
ـ نو په دې کې څه خبره ده؟
هلک په غوسه وویل:
د کلا تر مخ هلکان مرد کي کوي، شرم دی شرم!
ښځې په غریو کې وویل:
ـ زار (زهر) دې تر خوله سه، هغوی خو سره خوله هلکان دي، نن جامې مینځو! اوبه راوړي!
هلک چیغه کړه!

ـ دومره آزادي مه ورکوه ! که مې دا وار ولېده ! مرداره به يې کم له دې سره يې په جېب کې پرتو مردکيو ته شرنګ ور کړ او په منډه له کلاه ووت.

پای

# خونکار

لیکوال: نصیراحمد احمدي




خونکار

# ( ناول )

## ليکوال: نصيراحمد احمدي

د چاپ کال: ۱۳۸۹ل

د کتاب پيژندنه

د کتاب نوم: خونکار
ليکوال: نصيراحمد احمدي
د ليکوال د تليفو شميره: ۰۷۰۰۲۵۶۱۹۱
د ليکوال ايميل ادرس
nasirahmad_ahmadi@yahoo.com

خونکار

لیکوال: نصیراحمد احمدي


چاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه

خپرندویه ټولنه: مومند خپرندویه ټولنه ـ جلال اباد

کمپوز : پخپله لیکول

د پښتۍ ډیزاین: احمد شا امیري

چاپ کال: ۱۳۸۹ل

ليکوال: نصيراحمد احمدي

بسم الله الرحمن الرحيم

ډالۍ

# خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

تکړه ليکوال، کره کتونکي او د نظر خاوند ښاغلي اسد الله غضنفر ته!

سپوږمۍ وه، سړي منډې وهلې...ساه يې لنډه لنډه کېده، يو ځای ولوېد، بېرته پورته شو، پښې يې ببسبکه وې، پر وچو پاڼو وخوت، زړه يې ولړزېد، شا ته يې وکتل، پر اوږه کې يې نری درد تېر شو، لاس يې ورووړ، ګوتې يې په وينو لندې شوې، څو ګړندي ګامونه يې واخيستل، پښه يې د دوو تيږو تر منځ بنده شوه، پړمخې پرېووت، له خولې يې لاړې وبهېدې، د ولاړېدو سبکه يې نه ليده، يوې ټيټې ونې ته ور وښوېد، د ونې تنې ته يې څنګ ولګاوه، غوږونه يې څک کړل، چوپه چوپتيا وه، چرچرک نارې وهلې....

سړي سړه ساه واخيسته، پورته يې وکتل، يوه ستوري منډه کړه، تر يوه ځايه سپينه رڼا ورپسې وه، وروسته ورک شو.

سړی ښه شېبه غلی ناست و، بيا يې ګېډه توده شوه، لاس يې ورووړ، ټټر يې پر وينو لوند و. ورو ولاړ شو، زړه يې سستي ورکوله...خوا يې راګرځېده...ټوخي واخيست، خو لې ته يې لاس ونيو، ساه يې تر پزې راووته. څو ګامه يې واخيستل، پښې يې درنې وې، وينه يې ورانه ته ورسېده، وروسته يې ښی بوټ هم لوند شو، ټول بدن يې لړزېده....

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ځنګنونه یې پر تیږو ولګېدل، بانه یې سره ور وستل، د کورنۍ غړي یې سترګو ته ودرېدل، لاسونه یې پر ځمکه ولګول، سترګې یې رنې کړې، پورته یې وکتل، ستوري د اوښکو له لاسه تت ښکارېدل...
سر یې وځړېد ، زړه یې ولړزېد ، لاسونو ته نږدې یې تور بوټونه ښکارېدل، د یوچا لمن یې پر مخ ولګېده، پاس یې وکتل، بنیادم و ، سپوږمۍ د یوه تبر د څوکې پر سر ولاړه وه، تبر په شدت ټیټ شو ، د سړي په غاړه کې څړیکه شوه، پر سترګو یې تیاره راغله، کیڼ اړخ ته ړنګ شو ، وینو داره وکړه، یوه لیکه لندې تیږې د سپوږمۍ رڼا ته وځلېدې...

*　*　*

یوه پیغله له کلا ووته، باغ ته ولاړه، یوه سپینه جنت کوکۍ ( شب پرکه ) پر سره ګل ناسته وه، د نجلۍ ګرده لمن له بوټي سره ولګېده، ګل وښورېد ، جنت کوکۍ خپل سپین وزرونه ورپول، والوته، په هوا کې له یوه بل پتنګ سره یو ځای شوه، وروسته په شنو پاڼو کې تر سرو مڼو پټ شول.
نجلۍ د لښتي پر ژۍ کېناسته، پلاستیکي چوټې ( چپلکې ) یې پر شنه چمن کېښودې، لښتي ته یې پښې وروغځولې، اوبه سړې وې.
یو دم یې د ښۍ پښې بټه ( غټه ) ګوته وتخنېده، اوبو ته یې وکتل، یوه کوچني خړ کب یې د دوو سپینو ګوتو په مینځ کې خوله وهله....نجلۍ پښې ته ټکان ورکړ، کب په اوبو کې مخ پورته لاړ.
نجلۍ ښي لور ته وکتل، د شنو پاڼو له چولو څخه د تاکونو په مینځ کې خړه کوټه ښکارېدله، چوپه چوپتیا وه، یوازې مرغۍ چونېدلې....

## خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

نجلۍ مخ ته څو لپې اوبه ورواچولې، اوبه وڅڅېدې، سپينه غاړه يې لنده شوه، خوند يې ورکړ، بيا يې لپه ډکه کړه، اوبو له پاسه د مرغۍ خړ چوچونۍ ( بچی ) راووړ، نجلۍ ور پورته کړ،د مرغۍ د چوچوڼي نوې راوتلې بڼکې لندې وې..نجلۍ د مرغۍ چوچونۍ پر شنو وښو کېښود ، سهارنی لمر ښه پرې ولګېد ، وزرې يې پرانيستې، غلی پرېوت.

نجلۍ يوه شېبه کېناسته، لنډه، لنده زنه يې ځليدله..وروسته د کلا په دېوال کې باغ ته پرې شوې وړه لرګينه دروازه پرانيستل شوه، يوه په عمر پخه ښځه په وره کې ودرېده، يوې، بلې خواته يې وکتل، په زوټه (زوره ) يې وويل:

_غوټۍ !

نجلۍ ولاړه شوه، ورغله، ښځې ته يې وکتل، د هغې څيره نيولې وه.

نجلۍ وويل:

_ولې خپه يې؟!!!

د ښځې شونډې وخوځېدې:

_پلار دې لا نه دی راغلی.

_څه؟!

_هو لورکۍ ! تير ماخستن ستا د تره کره و، له هغه سره يې د کاريزه د اوبو په ويش خبرې کولې، ويل يې چې ناوخته راځي.

نجلۍ يوه شېبه غلې وه، وروسته يې شونډې وخوځېدې:

_ما ويل چې په کوټه کې به وي.

ښځې تندی تريو کړ:

_نه !

لیکوال: نصیراحمد احمدي

**نجلۍ وویل:**
ـزړه مه خوره ! جانکو د تره کره ورولېږه، درک به يې مالوم شي.
**ښځې وویل:**
ـښه ده، زه به ورته ووایم.
**نجلۍ د ونو په مینځ کې ولاړې خړې کوټې ته وکتل، په خشکه يې وویل:**
**ـهغه خو لا تر اوسه ویده دی.**

* * *

د غرمې سیورې رنګ و، د کلا تر مخ د مېلمنو اوږده کوټه له کلیوالو ډکه وه، ټولو لونګۍ تړلې وې، لمر سوځولې خړې څېرې يې درلودې. پر غولي لیکي لیکي ګیلم (ټغر) هوار و، یوه له اوبو ډکه بدنۍ او دوه ټُفدانۍ ایښې وې.
نور غلي ول، یوازې په بر سر کې ناستو سپین ږیرو خبرې کولې...دوی په پسونو کې د ټک ناروغی یادوله، یوه شکایت درلود چې په درې شواروزه کې يې یوولس پسونه مردار شول، بل ټک یوه ساري ناروغي بلله، ویل يې چې مړه پسونه باید تر خاورو لاندې شي، خو دربیم د دې خبرې مخالف و، ده هر څه د خدای له خوا ګڼل....
داوخت په وره کې یو سړی ودرېد، کلیوالو ورته وکتل، د سړي څېره نېولې وه، ویل يې چې ملک عطا الدین په خپله خسر ګنۍ کې هم نه و.

# خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

---

کليوال په اند ښښنه کې ول، د کلي ملا وتهوخل، په زامت يې وويل:
_زړونه غټ ونيسئ، ملک صيب د بدو سړی نه دی، چېرته به تللی وي،
په الله يې وسپارئ ! پيدا به شي.
.له دې سره يې د ېوال ته ولاړې لکړې ته لړزانده لاس ور وغځاوه، په زوره
يې وويل:
_يا الله ! د خدای د يادولو وخت دی.
شېبه وروسته په کوټه کې يواځې يو سړی پاتې شو، ده کړه پزه درلوده،
په ږيره کې يې سپين ډکي ډېر ول، چرتي ښکارېده.
سړی يوه شېبه ناست و، بيا ولاړ شو، په تګ کې يې کينه پښه درنه پسې
اخيسته، له کوټې ووت، د کلا لويه دروازه يې ببرته کړه، غوټۍ منډه ور
واخيسته، پيچلي تور ويښته يې پر تندي پراته ول، وړې سترګې يې
سرې ښکارېدلې...په زوته يې وويل:
_کاکا ! د پلارجان مې کوم درک ونه لګېد ؟ !
د سړي سر وځړېد، ورو يې وويل:
_هر ځای مو پسې ولټاوه، خو...
يوه تېره چيغه يې په غوږو کې ننوته:
_په څه بلاه دې وخوړ ؟ هه !
د کتار خړو کوټو تر مخ په عمر پخه ښځه ولاړه وه.
سړي وويل:
_چټيات مه وايه ! ! ! !
ښځې يودم کوکه کړه، نجلۍ منډه ور واخيسته، ښځه يې تر مټ ونيوله،
ورو يې وويل:

خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ـ مورې ! رسوايي مه جوړوه ! رابه شي !
ښځې سرې ته وکتل، چيغه يې کړه !
ـ وايه ! څه ټکه دې پرې واچوله؟ ! ترکوم پانې دې لاندې کړ، هه؟ !
دوه زړې ښځې له کوټې راووتې، په عمر پخه ښځه يې تر مټ ونيوله، په وره يې ننه ايستله.
غوټۍ ببرته سرې ته ورنږدې شوه، په ژړغوني غږ يې وويل:
ـ کاکا ! پلار مې بيګا له تا سره و ؟ نه؟ ! ! !
سرې په خپله پزه لستونۍ تېر کړ، شونډې يې وخوځېدې:
ـ هو ! مور، تر ناوخته ناست وو، د اوبو پر سر نه سره جوړېدو، وروسته مو د ځمکې د ويش کاغذونه رامينځته کړل، ښکاره ليکل شوي وو، چې پلار دې د کاريز په اوبو کې دوه شواروزه (۱) حق لري، خبره له جنجاله پرته خلاصه شوه، دې ماخستن ناوخته زمور، له کوره ووت.
نجلۍ وويل:
ـ پلارجان به چېرته تللی وي؟
د سړي سر وخوځېد:
ـ نه پوهېږم. کليوالو هرځای پسې ولټاوه، خو...
کړپ شو، د کلا د لويې دروازې دواړه پلې پرانيستل شوې، پر يوې خرې د شوتلې غټ بار تړلی و، د بار پر سر يو لوی لور ټومبلی ښکارېده، د خرې له دواړو خواوو د شوتلې شنه ډکې ځړېدل. په خرې پسې يوه خيرن ځوان ګامونه اخيستل... دی هډور سړی و، مړه ږېره يې درلوده، سترګې يې غټې وې، پر تندي يې د کالداني لوی داغ ښکارېده.
سړي ورغږ کړ:

# خونکار

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ــجانکو !

ځوان، بار پرېښود ، ورغی، سړي ته مخامخ ځوړند سر ودرېد.

سړي وویل:

ــته د شپې په باغ کې وې؟

ځوان د (( هو )) په نښه سر وخوځاوه.

د سړي شونډې وخوځېدې:

ــد باغ د ېوال ته نږدې عمومي لاره ده، کوم غږ، ټوخی یا د دروازې کړپ دې وانهورېد ؟

ځوان د (( نه )) په نښه سر وخوځاوه.

سړي خرې ته وکتل، په اخور کې یې خوله وهله..دواړو خواوو ته تړلو غواوو غړې ورغځولې وې، په خپلو اوږدو ژبو یې له بار څخه ځړېدلې شوتله ور ټولوله...

سړی ځوان ته اشاره وکړه، هغه لاړ، له بار سره یوځای کاهدانې ته ننوت. نجلۍ هم کوټې ته لاړه، سړي شاوخوا وکتل، د دېوال سیوري ته پر اخور کېناست، سترګې یې واړولې، تر یونیم دوه جریبه ځمکې خړ دېوالونه راتاو ول، د کلا هر کونج یو برج درلود ، برجونه تر دېوالونو دوه ــ درې ګزه لوړ ښکارېدل، د کلا مینځ سپیره ډاګ و ، یوائې یوه دېوال ته نږدې د سنځلې زړه ونه ولاړه وه، د سر پاڼې یې د د یوال پر وروستۍ پخڅې پرتې وې.

داوخت یې د دروازې کړپ واورېد ، دوه ښځې کلا ته ور ننوتې، سړي ته یې وکتل، د یوې بې اختیاره له خولې را ووتل:

ــخواره سې، غوث الدین دی !

دوا ړو پر مخونو ټکرې ورکش کړل، ګړندي ګامونه یې واخیستل، پر یوه خونه ننوتې.
غوث الدین تر پنځوسو کلونو اوښتی و، په ځوانی کې یې یوې کلیوالي ته سترګه ټینګه کړې وه، هغې خپلو ورونو ته ژړلي ول، ورونه یې له بیلچو سره د غوث الدین په کور ورغلي ول، هغه یې په خپل کور کې دومره ډبولی و چې په کټ کې یې شکسته بند ته وړی و، د ورانه مات هډوکی یې کوږ جوش شوی و، ځکه یې په تګ کې ستونزه درلوده، دی له هماغه ورځې راهیسې په بدعمله مشهور شو، د کلي تورسرو به لار ورنه کږوله، دی یې په پوست پاک نه باله.
غوث الدین وروسته یو په بل پسې دوه ودونه وکړل، خو اولاد یې نه درلود.
غوث الدین یوه شېبه پر اخور کېناست، وروسته یې ګرمي وشوه، خپل کور ته لاړ.

*   *   *

مازدیګر جمعه ولاړه وه چې یو چا غږ کړ:
ــیو مړی موندل شوی دی.
غوث الدین سلام وګرځاوه، شا ته یې وکتل، د کلي ګوروان و.
غوث الدین په بیړه وویل:

ـ څه چټياټ وايې؟!!
ګوروان وارخطا شو:
ـ زه، زه نه يم خبر، يو کوچى راغلى دى.
غوث الدين په بيړه له جوماته ووت. د باندې يو سړى ولاړ و، لښته يې په لاس کې وه، پر ږيره يې شنه نصوار پراته ول.
غوث الدين ورمخته شو، ويې پوښتل:
ـ څه خبره ده؟
سړي په ډډ کوچياني غږ ځواب ورکړ:
ـ خدايزده، د غونډۍ په لمنه کې مې رمه پېوله چې سپى سره خوله راغى، ما ويل چې کومه مړژګه (مړ حيوان) به يې موندلې وي، خو چې ورغلم، له خاورو، د يو چا په وينو لړلى لاس راوتلى و.
دا وخت دربى شو، ډله کليوال له جوماته راووتل، غوث الدين د غونډۍ خواته روان شو، نور خلک تر کوچي راوګرځېدل.
غوث الدين له کلي ووت، کليوال هم ور ورسېدل، د غونډۍ په لمن کې مېږو او پسونو خولې وهلې...
کوچي څو تېږو ته لاس ونيو، کليوالو منډه کړه، دوى ټول تر غوث الدين مخکې شول، غوث الدين پښه ورپسې کرښوله....
کليوال پر يوه ځاى سره راټول ول، غوث الدين يوې خواته کېناست، سر ته يې لاس ونيو، وروسته يې يو ورو غږ واورېد:
ـ عطاالدين دى.
غوث الدين په زحمت ولاړ شو، خلکولار ورکړه، مړي ته يې وکتل، ځنګنونه يې پر ځمکه ولګېدل، يودم يې کوکه کړه.

ملا او دوو نورو کليوالو لاسونه ترې راوګرځول، سرې يې له هغه ځايه ليرې کړ، شېبه وروسته کليوالو سلامت جسد راوېست، غاړه يې يوائې پر پوستکي بنده وه، په ښۍ اوږه کې يې هم لوی پرار جوړ شوی و.

جسد د ښورولو نه و، همالته يې پرېيست، يوه سپين ږيري څادر پرې وغوړاوه، بل کليوال په کټ پسې ولاړ.

*   *   *

دري ورځې ووتې، خو د غوټۍ او د هغې د مور کوکې خلاصي نه شوې، کلا به تل له تور سرو ډکه وه، هره نوې ښځه چې به په کلا ننوته، کوکو به زور واخيست، څو شېبې به لوړې وې، خو وروسته به يې غږ ټيټ شو.

جومات ته به هم ډله ډله نارينه راتلل، لاسونه به يې پورته کړل، يوه ډله به ولاړه شوه، بله به کېناسته. د چايو له پاره په دوو بخاريو پسې اور بل و.

يوه اوونۍ نوره هم ووته، خلک کم شول، وروسته به بيا په ورځ کې يوائې دوو ـدريو تنو لاسونه پورته کول.

## خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

کله چې غوث الدين د خپل ورور له مرګه وروسته په لومړي ځل کلا ته ورغی، وربندار يې منډه ور واخيسته، سرې يې تر ګرېوانه ونيو، د هغه پر مخ يې نوکارې ور ولګولې، بيا دوو زړو ښځو په کوټه ننه ايسته...

غوث الدين يوه شېبه په سرای کې ودرېد، له کاهداني څخه د ساتول غږ اورېدل کېده، وروسته دالان ته ور ننوت. غوټۍ د بوال ته ناسته وه، د تره په ليدو يې پښې ور ټولې کړې، غوث الدين هغې ته وکتل، د پېژندو نه وه، وچه کلکه ښکارېده، په څپولي ګاړګوتي ويښتو کې يې د بوسو خلي بند ول، په غومبرو يې د اوښکو وچې ليکې ښکاريدلې...

غوث الدين د هغې تر څنګ کېناست، يوه شېبه غلی و، وروسته يې د نجلۍ سر ور ړنګ کړ، هغې خپل تندی د سړي پر کينه اوږه ولګاوه، په چيغو چيغو يې وژړل....

ښه شېبه ووته، د نجلۍ اوښکې نه تم کېدې، هماغسې يې ژړل...

سړي ورو وويل:

ـغوټۍ لورې ! بس ده !

د نجلۍ ژړا زور ونيو....

سړي د هغې سر په خپل ټتر پسې ټينګ کړ:

ـبس ده نور.

نجلۍ ژړل....

ښه شېبه ووته، سړي وويل:

ـمور ته دې ووايه چې ځان تيار کې، همدا اوس زمونږ کره ځو، نور به هلته اوسئ !

نجلۍ ورو ورو ژړل...

لیکوال: نصیراحمد احمدي

سړی یوه شېبه کېناست، بیا د باندې ووت، لمر تیزې کوله، د کلا مینځ سپېره ښکارېده، له کاهداني څخه لا د ساتول غږ اورېدل کیده...
سړي ګامونه واخیستل، کاهداني ته ورننوت، جانکو رشقه وړوله...
سړی یوې خواته کېناست، کاهدانه سړه وه، د چت په لرګیو کې د مرغۍ چوچونې چونېدل، په لویه دریڅه کې د بمبرو ( سرو غومبسو ) ځالې را ځوړندې وې، له کاهداني څخه د وړې شوې رشقې بوی ته.
غوث الدین ځوان ته وکتل، ورو یې وویل:
_جانکو !
ځوان غټې سرې سترګې ور واړولې.
سړي وویل:
_ته به له دې هیسته یوا ځې یې ، په کلا ، باغ او غواوو پام کوه !
ځوان د « هو » په نښه سر وخوځاوه، بېرته د رشقې په میده کولو بوخت شو.
ناڅاپه یوه زوروه چیغه تاوراتاو شوه !
_ته خونکار یې ! مورِ ستا کور ته نه ځو !!!
غوث الدین په بیړه شا ته وکتل، وربندار یې وه، ولاړ شو، په خشکه یې وویل:
_چتیات مه وایه !! که نه نو...
ښځه په خبره کې ور ولوېده:
_که نه نو څه؟ هه ! مړه مې که ، هه !

له دې سره يې منډه کړه، د جانکو له لاسه يې ساتول ور واخيست، کړنګ شو، ساتول د سړي پښو ته نږدې د لور د تېرولو پر ډبره ولګېد، ښځې چيغه کړه !
_هه ! مړه مې که، غاړه مې را پرې که، ته خو د غاړو په پرې کولو کې ډېر تکړه يې، د خپل ورور غاړه دې څنګه ور پرې کړه؟ هه ! ته پوهېدې چې هغه زوی نه لري، اته شله جريبه ځمکه، باغ، کلا او نورميراث يې تاته پاتې کيږي....
غوث الدين غلی ولاړ و، څو ښځې ورغلې او د غوټۍ مور يې په کشولو کشولو له کاهداني ويسته.
غوث الدين خپل سر پر ځنګانه کېښود، يوه شېبه چوپه چوپتيا وه، وروسته يې د ساتول غږ واورېد.
غوث الدين هماغسې ځوړند سر ناست و، کله کله به د ساتول له ټکا سره يو ځاې د ښځې ښېراوې پورته شوې (( غوث الدينه! ټک له ټکه شې،مېنه دې سپېره شه، خدای دې د مانبام پاستې ته اړ که....))
ښه شېبه ووته، بيا د سړي ځنګ ته څوک کيناست، غوث الدين سر پورته کړ، غوټۍ وه، وړې سترګې يې سرې وې، پر سرو شونډو يې تور پټري ښکارېدل.
د سړي سترګې له اوښکو ډکې شوې، په غريو کې يې وويل:
_ما به څنګه خپل مشر ورور واژه ! هه ! ته وو ايه؟ !
غلی شو.
جانکو له کاهداني ووت.

لیکوال: نصیراحمد احمدي

سړی یوه شېبه غلی و، وروسته یې سوړ اسویلی ویست، په خوابدي غږ یې وویل:

ــد چا چې خپله برخه میراث وي، د نورو جایداد به څه کوي؟!

نجلۍ څه ونه ویل، د مرغۍ چوچونې ببرته په چونېدا راغلي ول، کله کله به د بمبرو د وزرونو بنګا هم پورته شوه.....

*  *  *

مازدېګر و، د کلا د لویدیځ دېوال سیوری پر کتار ولاړو خړو کوټو پروت و، مور او لور غلې ناستې وې، مور پر دېوال ځوړند عکس ته کتل،په عکس کې ملک عطاالدین شخه لونګۍ تړلې وه، برېتونه یې پر شونډو پراته ول، سترګې یې ځلېدلې.

ناڅاپه یو درب شو، مور او لور یوبل ته وکتل، نجلۍ په منډه له کوټې ووته.

په چوتره کې غوث الدین ولاړ و، په لاس کې یې چیلم نیولی و، پښو ته یې په بوغبند کې تړلې بستره ښکارېدله، پر غولي د بسترې دلوېدو دوړه لا نه وه ناسته.

د ښځې غږ وااورېدل شو:

# خونکار

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ــڅوک دی؟
نجلۍ په وېره خپل تره ته وکتل، غوث الدین وویل:
ــزه به نور د لته او سم.
د دروازې پله له دېوال سره ولګېده، یوه لویشت کاهګل لاندې ولوېد،
ښځه د کوټې په وره کې ودرېده، په خشکه یې وویل:
ــڅنګه دې دومره زړه وکړ، تا خپل ورور...
د سړي تندی تریو شو، یوه زوروره چیغه یې تر خولې راووته !
ــبس که پلیتې !
ښځې وژړل، په منډه کوټې ته ننوته
سړی یوه شېبه غلی و، وروسته یې نجلۍ ته وکتل، ورو یې وویل:
ــمور دې پوه که، په دې څلورو دېوالونو کې دوه تور سرې یو ځای نه شم پرېښودلای.
نجلۍ په لړزانده غږ وویل:
ــ خو ستا دواړه میرمنې هم یو ځای دي، هغوی...
سړی په خبره کې ور ولوېد:
ــزړه مه خوره ! ما خپل اوښي ته ویلي دي، دی به تر هغو زموږ په کور کې وي چې ستا د مور غوسه سړه شي، وروسته به تاسو هم له ما سره اوسی !
نجلۍ غلې وه.
سړي سړه سا واخیسته، ورو یې وویل:
ــغوټۍ لورې ! زه به په کومه کوټه کې اوسم؟
نجلۍ کیڼ لور ته اشاره وکړه، سړی ګوډ ګوډ روان شو، لرګینه درنه

دروازه يې خلاصه کړه، نمجن سوړ بوی يې په سپږمو ننوت، کوټې دريڅه نه درلوده، په مينځ کې يې يو پلاستيکې فرش وير (هوار) و.
سړی يوه شېبه ځای پر ځای ودرېد، سرای ته يې وکتل، يوه برج کوچنۍ اورسۍ درلوده، په چوکاټ پورې يې ځيرې خيرن پلاستيک با د رپاوه.
سړي وويل:
ـ د برج په کوټه کې څه شی دي؟
د نجلۍ شونډې وخوځېدې.
ـ هيڅ، يوائې د وړو زوړ کندو ايښی دی.
سړی يوه شېبه غلی و، وروسته يې وويل:
ـ غوټۍ لورې! ما ته هلته ځای جوړ که!
نجلۍ غلې روانه شوه، له کوټې څخه يې پلاستيکې فرش ټول کړ، پر ختينو زينو وختله.
غوث الدين د چوترې پر ژۍ کېناست، کلا ته پرې شوې د باغ دروازه خلاصه شوه، جانکو و، په لاس کې يې سطل ښکارېده، نيغ څاه ته ور روان شو، شېبه وروسته يې ډکه بوکه په سطل کې تشه کړه، بېرته باغ ته ولاړ.
چوپه چوپتيا وه، د جارو غږ راته، د برج له وړې ورسۍ مړې دوړې راوتلې...
نجلۍ پر زينو راکښته شوه، غوث الدين ورته وکتل، د هغې له وړو سترګو راګرځېدلي اوږده تور بانه سپېره ول. نجلۍ بستره ور پورته کړه، بېرته پر زينو وختله.

# خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

---

پاو وروسته د برج کوټه تياره وه، غوث الدين ورغی، له دريڅې نه پر مخامخ د ېوال مازد ېګرنۍ ژېړه رڼا لوېدلې وه، په رڼا کې لا د خاورو واړه ذرات په حرکت کې ول... نجلۍ د کوټې د دېوال په يوه کونج کې د غنو تارونه جارو کول...

د ماښام له اذان سره هر څه سم شول، په وړه تاخچه کې يوه ټُفدانۍ، راډيو، جاينماز او له اوبو ډکه بدنۍ ايښودل شوي وو.

غوث الدين پر هواره توشکه اوږد وغځېد، پورته يې وکتل، پر چت يو لاس ښکلي تراشل شوي لرګي پراته ول. د کندو پر سر چيلم ښکارېده، د چيلم تر سر خانې شنې مرۍ را تاوې وې.

ملا د ماښام اذان وکړ، غوث الدين کېناست، خو په پښو کې يې د ولاړېدو سيکه نه ليده، شېبه وروسته په زحمت ولاړ شو، همالته يې څادر هوار کړ، د لمانځه نيت يې وتاړه، د سلام له ګرځولو سره تېرې کوکې پورته شوې، ور يې چوله کړ، لاندې يې وکتل، وربنداري يې د يوه ځوان په غاړه کې لاسونه وراچولي ول، ښځې په چيغو چيغو ژړل...

غوث الدين بېرته نيت وتاړه، دوه رکعته سنت يې وکړل، لنډه شېبه يې لاسونه لپه نيولي ول، وروسته پر زينو کښته شو، کوټې ته ور ننوت، وربندار يې په منډه د باندې ووته.

ځوان ولاړ شو، د غېږې ور کولو لپاره يې خپل ټټر راويست، خو غوث الدين لاس ور وغځاوه، مخامخ پر توشکه ورته کېناست، ورو يې وويل:

ـنه وې !

خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ځوان تر خپلې زرينې خولۍ لاندې ګوتې تېرې کړې، تور وېښته يې وګرول، شونډې يې وخوځېدې:

ـ له موټر سره تللی وم ! څه وکم، پردۍ موټرواني ده، نن راغلم !

دواړه غلي شول.

غوټۍ کوټې ته ورغله، بل څراغ يې پر غولي کېښود، بېرته د باندې ووته.

ځوان پورته وکتل، په سپين ګرد مخ کې يې له اوښکو ډکې غټې تورې سترګې وځلېدې، بېرته يې سر ټيټ شو.

غوث االدين يوه چونډۍ نصوار تر ژبې لاندې کړل، يوه شېبه ناست و، وروسته له کوټې ووت.

د سړي له وتو سره سم ښځه کوټې ته ورغله.

ځوان په ژړغوني غږ وويل:

ـ تروري ! کيسه څه وه؟

ښځه غريو واخيستل، ژړا يې کابو کړه، شونډې يې وخوځېدې:

ـ د قيامت نښې دي، ماته خو داسې ابسي چې ټول فساد په ګوډ کې دی.

ځوان نيغ ورته وکتل.

ښځې وويل:

ـ خدای مې دې غاړه نه بندوي، زه په غوټو شکي يم.

د دروازې تر شا د غوټۍ له کاوړه ډک غږ وا وربدل شو:

ـ وشرمېږه ! په خپل ليوره پسې داسې خبرې کوې !

د ښځې د مخ ګونځې ژورې شوې، چيغه يې کړه !

"ـ چوپ که د ...

## خونکار

لیکوال: نصیراحمد احمدي

یو دم غلې شوه، خپل وراره ته یې وکتل، سر یې وخوځېد.
ځوان سر ه ساه واخیسته، ورو یې وویل:
ـزماهم زړه ته نه لویږي.
ښځه غلې وه.
ځوان خپل څادر ور واخیست، ولاړ شو.
ښځې وویل:
ـحمیده ! ناوخته دی.
د ځوان شونډې وخوځېدې:
ـټپ ټپ ( موټر سایکل ) راسره دی. ، سبا به سره وینو.
ـمړی ( ډوډی ) خو وخوره !
ـزړه ته مې نه کیږي.
له دې سره له کوټې ووت.
شېبه وروسته د کلا په مینځ کې د موټر سایکل د چالانېدو غږ تاو راتاو شو....

لیکوال: نصیراحمد احمدي

* * *

سهار اته بجې وې، غوث الدین په برج کې ناست و ، ټوله کوټه د تنباکو سپین لوګي نیولې وه...ده د راډیو ستن تاووله، وروسته ولاړ شو ، د ورسۍ تر څنګ ودرېد ، د کلي کورونه خړ ښکارېدل، لیرې د غونډۍ په لمنو کې د کوچیانو تورې کېږدۍ ولاړې وې.

د موټر سایکل غږ یې واورېد ، وره ته ورغی، لاندې یې وکتل، حمید و ، پر تورو څڼو پرته زرینه خولۍ یې لمر ته برېښېدله...حمید یوه شېبه له خپلې ترور سره ودرېد ، وروسته دواړه کوټې ته ننوتل.

غوث الدین پر زینو کښېنسته شو ، غوټۍ د څاه تر څنګ ناسته وه ، لوښې یې پریمینځل، یوې تورې خیرنې پیشو په تال کې اېښنو غوړو کاسو ته کتل.

غوث الدین باغ ته لاړ، دوه نازک بدنې منې یې ور وشکولې، د لښتې پر ژۍ کېناست.

چوپه چوپتیا وه، یو دم ټیم وټنګېد ، زوروره ناره پورته شوه، له تاکونو څخه یو سیل خړې مرغۍ والوتې.

غوث الدین کیڼ لور ته وکتل، جانکو کوټې ته نږدې ولاړ و ، غوث الدین ورغی، د دېوال سیورې ته په هوار شوې زاړه لیمڅي کېناست، پر منې یې غاښونه ولګول، په ډکه خوله یې وویل:

خونکار

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ـ انګور څنګه دي؟
جانکو په لینده کې ګیتۍ کېښوده، شونډي یې وخوځېدې:
ـ رنګ یې وهلی، خو لا خوږو ته برابرنه دي.
له دې سره یې لینده د باغ پر دېوال کتار ناستو مرغیو ته ونیوله، تیږې له لاندنی پخخې مړه دوړه پورته کړه، مرغۍ والوتې، د منو پر ونو ور ټیټې شوې، بڼاخو نه وځړېدل.
له کلا څخه د موټر سایکل د وتو غږ واورېدل شو.
غوث الدین ښه شېبه کېناست، بیا یې انګور راوغوښتل، تروه ول، خوند یې ور نه کړ، همالته پر لیمځې اوږد وغځېد، وروسته یې له لیرې د موټر سایکل غږ واورېد، غږ ورو، ورو نېږدې کېده، غږ د باغ د دېوال تر څنګ تېر شو، بیا کلا ته ور ننوت.
غوث الدین سر پورته کړ، له ځان سره وبونګېد:
ـ د غوا زویه!
جانکو په حیرانی ورته وکتل.
غوث الدین بېرته سر ولګاوه، په خشکه یې وویل:
ـ د مور میړه راته پیدا شو، له بیګا راهیسې درې واره راغی!
شېبه ووته، زړه یې طاقت ونه کړ، کلا ته ورغی، ځوان له خپلې ترور سره پر چوتره ناست و، دوی په ټیټ غږ خبرې کولې، دواړه د غوث الدین په لیدو غلي شول.
سږی د چوترې پر ژۍ کېناست، حمید ولاړ شو، سږي ته یې برګ برګ وکتل، له موټرسایکل سره یو ځای له کلا ووت.

لیکوال: نصیراحمد احمدي

غوټۍ له کوټې راووته، تره ته یې له چایو ډک ګیلاس کېښود، غوث الدین توري ګوړې ته لاس ور وغځاوه، ورو یې وویل:
ـحمید ته دومره وخت مه ورکوی!
ښځې تندی تریو کړ، په خشکه یې وویل:
ـحمید زما وراره دی!
سړي یوه ټوټه ګوړه خولې ته واچوله، د چایو سور یې پسې وکړ، ترخه موسکا یې پر تورو پلنو شونډو تېره شوه، په ملنډو یې وویل:
ـستا به وراره یې، زما هیڅ نه کیږي!
ښځې اور واخیست:
ـدا زما کور دی، ته...
سړی په خبره کې ورولوېد:
ـله دې هیسته به زما وي.
ښځې یو دم وژړل:
ـګومان مې سم وخوت، تا خپل ورور د جایداد له پاره ووژه.
غوث الدین وخندل، غوټۍ په حیرانۍ ورته کتل، ښځه په منډه کوټې ته ولاړه.
سړی غلی شو، نجلۍ ته یې اشاره وکړه، هغه د ده تر څنګ کېناسته، ټول بدن یې لړزېده... سړي ورو وویل:
ـ غوټۍ لورې! مور دې د اعصابو تکلیف لري، پوهه یې که!
نجلۍ په ربړېدلي غږ وویل:
ـخو تا او زما ابا پخوا هم سره خوړلي ول.
غوث الدین یوه شېبه غلی و، وروسته یې شونډې وخوځېدې:

ــمنم ! زموږ تر منځ د ځمکي د وېش او اوبو پر سر جنجالونه ول، يو بل ته مو چندان خوند نه ورکاوه، خو دا د دې مانا نه لري چې زه دي خپل ورور ووژنم.
سړی غلی شو ، نجلۍ ورته وکتل، سترګې يې له اوښکو ډکې وې.
سړي وويل:
ــمور دې پوه که ! حميد به پر دې ګران وي، په نورو نه دی ګران ! پر اوږو دې يې نه راسپروي.
نجلۍ په حيرانۍ ورته کتل.
سړي يوه چونډۍ نصوار خولې ته واچول، ولاړ شو ، ورو يې وويل:
ــحميد به ستا د مور وراره وي، هغه هم ناسکه وراره، خو ته پېغله يې، تاته پردی دی.

ليکوال: نصيراحمد احمدي

* * *

د څراغ پر شيشه خړه شوپرکه راګرځېده، له شيشې سره ولګېده، د ښوروا په لنده ډوډۍ کې ولوېده.
غوث الدين لاس ور وغځاوه، شو پرکه يې له وزره ونيوله ، تر چوترې يې لاندي وغورځوله.
پيشو ميو کړل، خپله ملا يې د غوث الدين پر ورانه وسولوله، سړي يو هډوکی پر خړه ځمکه کېښود ، پيشو ژبه ورته راويسته.
د کلا دروازه وټکېده، جانکو ورغی، دروازه يې خلاصه کړه، د څراغ رڼا پر حميد ولګېده، ځوان له څه ويلو پرته ځوړند سر په يوه کوټه ننوت.
غوث الدين لاسونه پريمينځل، له کلا ووت، نيغ جومات ته لاړ، د ماخستن له لمانځه وروسته تر ډېره له کليوالو سره ناست و، کله چې بېرته کلا ته ورغی، د کوټې په ورسۍ کې لا د څراغ ژېړه رڼا ښکارېدله.
غوټۍ په چوتره يوائې ناسته وه.
غوث الدين برج ته وخوت، اوږد وغځېد ، ښه شېبه ووته، ولاړ شو، په تاخچه کې ايښې تُفدانۍ يې ور واخيسته، نصوار يې تو کړل، ور چوله و ، د پوري کولو له پاره ورغی، لاندې يې وکتل، نجلۍ هماغسې ناسته وه، په کوټه کې لا د څراغ ژېړه رڼا ښکارېدله..
غوث الدين ګړۍ ته وکتل، يوولس نيمې وې، تندی يې تريو شو ، له برجه ووت، د غوټۍ تر څنګ کېناست، نجلۍ ته يې مخ ور واړاوه، د مخ پر يوې خوا يې د څراغ ژېړه رڼا لګېدله، سړي ورو وويل:

ـ خوب درځې؟
نجلۍ د ((نه)) په بڼه سر وخوځاوه.
سړي وويل:
ـ خوب درځي! سترګې دې پړسېدلې دي.
نجلۍ غلې وه.
ښه شېبه ووته، غوث الدين کېنې لاس سترګو ته ور نږدې کړ، دولس بجې وې. ولاړ شو، د کوټې په وره کې ودرېد، پر غولي کوټه کاغذونه پراته ول. ځوان د څراغ په رڼا کې يوه کاغذ ته کتل، وروسته يې ورو وويل:
ـ د کاريزه د ځمکې قواله نشته!
د ښځې تندی تريو شو، شونډې يې وخوځېدې:
ـ قواله به له زوی مړي غوڅو سره وي، په هماغه شپه يې داوه (دعوه) وه، د غوټې پلار څو کاغذونه ور سره يوړل.
غوث الدين وټوخل، دوارو په بيړه ورته وکتل، ښځې پر پرتو کاغذونو د دسترخوان پيڅکه ور کش کړه.
غوث الدين ځوان ته وکتل، ورو يې وويل:
ـ مړی (ډوډۍ) دې وخوړه؟
دوارو په حيرانی ورته کتل
سړي بله پوښتنه وکړه:
ـ کاغذونه دې وکتل؟
ځوان وارخطا شو:
ـ نه، هو
ـ شپه دې دلته ده؟

ــنه
ــنو بیا ځه ته ناست یې، نجلۍ ته خوب ورځي.
ښځې چیغه کړه !
ــتاته حاجت نشته !
سړي هماغسي ځوان ته کتل، وروسته یې وویل:
ــشپه ده، کلی مو هم لري دی، مور به دې پرېشانه وي.
ځوان خپل څادر ته لاس ور وغځاوه.
غوث الدین د باندي ووت، باغ ته ولاړ، په کوټه کې زړه لمپه بله وه.
غوث الدین ورغی، جانکو د باندي په تیاره کې ناست و.
غوث الدین غاړه تازه کړه، جانکو ولاړ شو، غوث الدین زاړه بالښت ته ډډه ووهله، جانکو کوټې ته ننوت، شېبه وروسته یې بله لمپه د سړي تر مخ پر زاړه لیمڅې کېښوده.
جانکو وویل:
ــمنې درته راوړم؟ !
ــنه
جانکو سړي ته وکتل، څېره یې نېولې وه، پر خړ دېوال پروت سیوری یې لړزېده...
دواړه غلي ول، د ونو نږدې ښاخونه تک تور ښکارېدل، تر شا یې تپه تیاره وه، پورته رانه ستوري ولاړ ول، لیرې یوه سپي غپل....
غوث الدین یوه شېبه کېناست، وروسته ودرېد، حرکت یې وکړ، تر یوه ځایه د لمپې کمزورې رڼا پرې لګېدله، بیا په تیاره کې ورک شو.

خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

* * *

غوث الدين وويل:
ـ غوټۍ لورې! بيګا په کوټه کې د چيلم سلامته سرخانه رانه ولوېده، فرش ابرو نيولی، يو جارو پرې تېره که!
نجلۍ د ((هو)) په ښښه سر وخوځاوه، د غوا له پښو ولاړه شوه، ډک جام شيدې يې دالان ته يو وړې. غوث الدين د سخوندر پړی پرېښود، سخوندر تر غوا لاندې ووت، د غولانځې په رودلو يې پيل وکړ.
غوث الدين پر اخورکېناست، دالان ته يې وکتل، له دريځو څخه يې تور لوګی راووت...
ښه شېبه ووته، بيا يې سخوندر په يوه جلا اخور وتاړه، روان شو.
نجلۍ له دالانه را ووته، په لاس کې يې جارو نيولې وه، تر غوث الدين مخکې شوه، په تګ کې يې وويل:
ـ کاکا! لږ ماتل شه!
سړی بېرته غوا وو ته ورنږدې شو، غولې ته يې لاس کړ، په وچو خوشايو کې يوه زړه جارو پرته وه، هغه يې د يوې غوا ورانه ته ونيوله، وچ خوشايې ترې ولوېدل.
يو سونګی يې واورېد، شا ته يې وکتل، نجلۍ په منډه تېره شوه، ټکری يې مازې په غاړه کې بند و، له هر ګام سره به يې پيچلې اوږده ويښته له ملا جلا شول...نجلۍ په يوه وره ننوته.

یودم تېرې کوکې پورته شوې...د سړي له لاسه جارو ولوېده، پر چوتره وخوت، ورېندار یې له کوټې را ووته، چیغه یې کړه !
ـ ته خوني يې، زمونږ له کوره ووزه !
کړپ شو، غوث الدین لاندې وکتل، یوه لاسي وړه بټۍ ورغړېده، د سړي له بوټ سره ولګېده، ښځې په ژړا کې وویل:
ـ دا د غوټۍ د پلار لاسي بټۍ ده !
سړي بټۍ ته په حیرانی کتل...
له کوټې څخه د غوټۍ ژړغونی غږ واورېدل شو:
ـ ستا تر توشکې لاندې وه.
د سړي زړه ولړزېد.
ښځې بغاره کړه !
ـ زمونږ له کوره لاړ شه !
سړی ځړېدلی سر ولاړ و.
غوټۍ له کوټې راووته، ټول ځان یې لړزېده، په ژړا کې یې وویل:
ـ دا بټۍ به مې تل له پلار سره وه، تا ولې هغه وواژه؟ څه تاوان یې در رسولی و، هه !
سړی غلی و.
نجلۍ وویل:
ـ د خدای روی ومنه ! له دې ځایه لاړ شه !
غوث الدین له چوترې کښته شو، د کلا لویې دروازې ته یې وکتل، په دروازه کې ولاړو ماشومانو منډه کړه.

سړی برج ته وخوت، اوږد وغځېد ، سړه ساه يې واخيسته، فکر په مخه کړ.
ښه شېبه ووته، مور او لور ژړل..وروسته له برجه کښته شو ، جانکو ښځو ته نږدې د چوترې پر ژی ناست و ، غوث الدين ورغی، لاسي بټۍ پر خپل ځای پرته وه.
سړي جانکو ته وکتل، ورو يې وويل:
_بيګا دې د کلا دروازه بنده کړې وه؟
جانکو نيغ ورته وکتل، په غټو سترګو کې يې کرکه پرته وه.په کاوړ يې وويل:
_سهار خو ته لمانځه ته تللی وی، دروازه تا خلاصه کړه !
غوث الدين څه ونه ويل، باغ ته ولاړ، پر دېوالونو راوګرځېد ، يو ځای د لارې خواته د دېوال له سرداو ( د سر پخڅه ) څخه لوټې رالوېدلې وې، نور دېوالونه روغ ول.
سړی بېرته کلا ته ننوت، چيلم د برج په لاندنۍ زينه کې رنګ پروت و ، توشکه، بالښت او بړستنه په خاورو کې اچول شوې وې.
سړی چوترې ته ورنږدې شو ، جانکو ته يې وکتل، په سړه سينه يې وويل:
_لارې ته نږدې د دېوال سرداو را لوېدلی دی.
جانکو يوه شېبه غلی و ، وروسته يې وويل:
_خدای خبر ! ماشومان دي، هغه بله ورځ مې هم د نور چرسي زوی د منهو په غلا ونيو.
غوث الدين په دېوال کې د باغ خواته پرې شوې وړې دروازې ته وکتل، ورو يې وويل:

ــ دې دروازې ته زولفی ور واچوه، یو کولپ هم ورته راوړه.
ښځې په غریو کې وویل:
ــ جانکو !
ځوان مخ ور واړاوه.
د ښځې شونډې وخوځېدې:
ــ حمید راوغواړه، ورته ووایه چې ترور دې غوښتې !
غوث الدین برګ ورته وکتل، په خاورو کې پرتو بسترو ته ورغی، یوه یوه یې ور پورته کړه، پر اوږه یې واچوله، چیلم ته یې لاس ور وغځاوه، پر زینو وخوت.
ښځې ښېراوې کولې...
غوث الدین کوټه سمه کړه، اوږد وغځېد، چیلم ته یې وکتل، سرخانه یې ماته وه.
سوړ اسویلی یې ویست، کېناست، شاوخوا یې وکتل، ولاړ شو، له ورسۍ نه یې زوړ پلاستیک راوشکاوه، د چیلم سرخانه یې پرې وتړله، د تنباکو خړې کڅوړې ته یې لاس کړ، شېبه وروسته کوټه سپین لوګي ونیوله، ورسره یې د سوځېدلي پلاستیک بوی پر سپږمو ننوت.
غوث الدین ته ټوخی ورغی، ښه شېبه یې وټوخل... ګړۍ ته یې وکتل، د سهار اته بجې وې، چای نه و.
له کوټې ووت، دالان ته ورغی، غوټۍ په بیړه ولاړه شوه، وره ته ورسېده، سرې تر لاس ونیوله، نجلۍ چیغه کړه !
ــ ما پرېږده !
غوث الدین ورو وویل:

# خونکار

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ـ ته هم همداسې فکر کوې؟!

نجلۍ لاس کش کړ، له دالانه ووته!

په تناره کې دوه تورې غټې چايجوشې ايښې وې، غوث الدين لاس ور وغځاوه، يوه چايجوشه يې ور پورته کړه، لاندې سور انګار پاتې شو.

غوث الدين شاوخوا وکتل، په يوه ختينه تاخچه کې څو بوتله ښکاريدل، ورغی، يو له بورې ډک و، په بل کې تور چاې پروت و او له دريم څخه هم د ديګ د مثالې بوی ته.

شيبه وروسته يې په يوه وړه چاينکه کې چاى دم کړ، په ګيلاس کې يې بوره واچوله، وچه ډوډۍ يې و نه موندله، بېرته پر زينو وخوت.

اوږد وغځېد، پياله يې ډکه کړه، سترګې يې سره ور وستې، يو تور غټ مچ پرې راګرځېد... بيايې پر پزه کېناست، سړي لاس وښوراوه، مچ والوت، بېرته د سړي پر پلنه لاندنۍ شونډه ولګېد. غوث الدين کېناست، مچ يې پر سر راګرځېده، سړي پسې کتل، وروسته يې د دواړو لاسونو ورغوي سره وجنګول، کړس شو، چختاړي مچ د چايو په ډک ګيلاس کې ولوېد.

سړي په غوسه وويل:

ـ د غوا زويه!

ګيلاس يې په دروازه کې تش کړ، بېرته په خپل ځای کېناست، چاينکه يې ور پورته کړه.

لس بجې شوې، غوث الدين هماغسې پروت و، سترګې يې پټې وې، وروسته يې د موټر سايکل غږ واورېد، ولاړ شو، له وره يې لاندې وکتل، د حميد زرينه خولۍ لمر بريښوله...

د سړي زړه اور واخیست، پر زینو کښته شو ، حمید ته مخامخ ودرېد ، په خشکه یې وویل:
ـد څه لپاره راغلې؟
ځوان په ډاډه غږ وویل:
ـګوره غوث الدین کاکا ! ما ستا خبره ومنله، یوه اوونۍ رانه غلم، خو نن مې ترور سړی پسې رالېږلی و.
د ښځې غږ واورېدل شو:
ـ حمید به نور دلته اوسي.
سړي چیغه کړه !
ـنه !
ښځې وویل:
ـته له دې ځایه ورک شه !
د سړي له خولې لاړې باد شوې ! !
ـزه دا مینده ( نر پسه ) په کور کې نه شم پرېښودلای !
حمید په کاوړ ورته وکتل !
ښځې وویل:
ـپه تا خو دې یې بلا وګرځې !
غوث االدین چیغه کړه:
ـوژنم دې ! !
ټیټ شو ، یو غټ هډوکی په ګوتو ورغی، ښځې سر ټیټ کړ، کړنګ شو ، شا ته د ورسۍ لویه شیشه دړې وړې راولوېده.
د غوټۍ کوکې پورته شوې...

غوث الدين ځوان له مټه ونيو، چيغه يې کړه!

ــ ووځه!!!

حميد سرې پورې واهه! غوث الدين ولوېد، له ځمکې مړه دوړه پورته شوه، بېرته پر پښو ودرېد، د حميد تر ګرېوان يې ګوتې تاوې کړې، ځوان ته يې څپېړه ورکړه، د هغه زرينه خولى له سره ولوېده، د حميد مخ ګونځې پيدا کړې، سرې يې تر ګوډې پښې ونيو، وروسته پرې ور پرېووت، د غوث الدين تشې ته يې ګونډه ورکړه، خولې ته يې سوکان ونيول، ښځو کوکې وهلې...

د باغ دروازه خلاصه شوه، جانکو منډه ور واخيسته، ځوان يې تر وليو ونيو، غوث الدين ولاړ شو، بريتونه يې په وينو سره ول، له خولى يې لاړې بهېدلې، وارخطا يې يوې بلې خواته وکتل، لوڅ سر زانګې وانګې کاهدانې ته ننوت، بېرته را ووت، غټ لور يې په لاس کې و.

جانکو منډه ور واخيسته، تر غوث الدين يې غېږه وګرځوله، د سړي لاړې باد شوې!

ــ ليرې شه د غوا زويه!

لور د جانکو پر مټ ولګېد، خړ لستونۍ يې سور شو، کلا ته دوه ځوانان ور ننوتل، غوث الدين يې څملاوه، يوه پر لور پښه کېښوده، بل يې موټ ور خلاص کړ.

غوث الدين چيغې وهلې، پوچ، پاش يې تر خولې راوتل، حميد يوې خواته غلى ولاړ و.

شېبه وروسته کلا له کليوالو ډکه شوه.

خونکار

لیکوال: نصیراحمد احمدي

یو سپین ږیری ور مخته شو، حمید یې تر مټ ونیو، دواړه له کلا ووتل، بل ځوان موټر سایکل پسې ویست. له کوټې د مور او لور دواړو ژړا اوریدل کېدله...

غوث الدین ورو روان شو، له خاورو یې خپله لونګۍ ور پورته کړه، برج ته وخوت، کېناست، ګوډې پښې یې درد کاوه، لاړې یې تو کړې، دروازې ته نږدې پر خړ دېوال وڅڅېدې، وینه له لیرې پکې ښکارېدله.

اورېد وغځېد، د کیڼ ځنګانه سترګې یې سوی وکړ، پاېڅه یې ورپورته کړه، زخم و.

کېناست، لونګۍ ته یې لاس ور وغځاوه، مرې دوړې ورنه پورته شوې. ..

له کوټې ووت، په چوتره یې وربندار، د کلي ملا او دوه نور سپین ږیري ناست ول.

سړی نېغ د کلا لویې دروازې ته ورغی. د باندې لاړ، نیم ساعت وروسته چې کله بېرته د برج پر زینو خوت، کلاشینکوف ور سره و.

*   *   *

انګور پاخه شول، باغ ته به په ورځ کې تر لسو ډېر خرکاران ورتلل، جانکو به انګور او منې تللې، پيسې به يې اخيستې، خر کارانو به تازه مېوه په کليو ګرځوله...
غوث الدين به د ورځې په خپل کور کې و، خو د ماختسن له ډوډۍ وروسته به له وسلې سره کلا ته ورننوت. په وريندارې او ورېرې يې کار نه درلود، د برج کوټه به يې په خپله جارو کوله، د شپې به تر ډېره ويښ و، سهار په خړه به له کلا ووت.
د حميد درک نه و ور مالوم، کلا ته نه راته، خو کله کله به يې اورېدل چې له خپل کاماز موټر سره بل ولايت ته تللی دی.
غوث الدين يو ماخستن تر ناوخته ويښ و، خوب نه ورته، څو ځله يې د چيلم سرخانې ته اورلګيت ونيو، کوټه به سپين لوګي ونيوله، وروسته به لوګی له ورسی ووت، د څراغ رڼا به بېرته تازه شوه، سرې به تر ډېرو ټوخل...
بيا يې راډيو ور واخيسته، اورېد وغځېد، ستن يې تاو کړه، يو ځای سندره وه، خوښه يې شوه، سترګې يې پټې کړې، دوه نورې سندرې يې هم واورېدې، بيا خوب ورغی.
يو وخت يوه تېره کوکه پورته شوه، سرې کېناست، راډيو چالانه وه، غوټې بغارې وهلې...
زړه يې ولړزېد، له څراغ سره لاندې کېنسته شو.

نجلۍ د ځا تر څنګ په خټو کې ناسته وه، چیغې یې وهلې، ویښته یې شکول...
غوث الدین په زوټه وویل:
_څه ټکه راپرېوته؟ !
نجلۍ پر خپل مخ نوکارې لګولې...
سرې تر مټ ونیوله، ټکان یې ورکړ، چیغه یې کړه !
_څه شوي؟ !
نجلۍ کوکه کړه !
_مور مې !
_مور دې چېرې ده؟
نجلۍ ځا ه ته اشاره وکړه.
د سرې زړه ولوېد ، څراغ یې پر ځمکه کېښود ، پر بېلر ور ټیټ شو ، لاندې په اوبو کې د ستورو تتې رڼا ټال خوړ، نور هیڅ هم نه ښکارېدل.
پر مخامخ دېوال د بتۍ رڼا ولګېده، سړي چیغه کړه !
_جانکو !
ځوان منډه ور واخیسته، بتۍ یې ځا ته ور واچوله، د اوبو پر سر یو څه ښورېدل...
جانکو ځپلۍ وبستې، د بېلر تر څنډې یې پښه وا ړوله، لاندې کوز شو.
غوث الدین له پورته لاسي بتۍ ورته نیولې وه...
غوټۍ په ژړا کې وویل:
_پایڅۀ دې ! !

## خونکار

لیکوال: نصیراحمد احمدي

غوث الدین پښو ته وکتل، څراغ نږدې و، ښی پایڅه یې سره ښکارېده، پر لمن یې هم څاڅکی څاڅکی وینه پرته وه.
سړي لاس ور ووړ، وینه تازه وه.
په څاه کې د جانکو چیغه تاو راتاو شوه:
ـ بتی !
غوث الدین پر بېلر ور ټیټ شو، د بتی سپینه رڼا پر جانکو ولګېده، پر اوږه یې ښځه پرته وه.
د غوث الدین پښې مړې وې، ټول بدن یې لړزېده، شېبه وروسته یې لاس د ښځې مټ ته ور ورسېد، هغه یې راپورته کړه، د څراغ په رڼا کې یې د سرو وینو داره تر سترګو تېره شوه، څاڅکي یې پر غاړه را پریوتل، وینه توده وه.
غوټه د مرور ماشوم غوندې په ختو کې لغتې وهلې...
ښځه یې لږ لرې پر وچه ځمکه پرېېستله، جانکو څراغ ور نږدې کړ، په غاړه کې یې ارت پرار (زخم) جوړ وو، وینو نری داري وهلې...
غوټه پر خپلې مور ورپریوته، غوث الدین تر مټ ونیوله، د نجلی یوه خوا مخ او غاړه تکه سره وه...یو دم یې د سړي ټتر ته سوکان ونیول، پر اوږه یې خوله ور ولګوله، بغارو یې زور ونیو، چیغه یې کړه !
ـولې؟ ولې دې مورکی ووژله؟ ولې؟!!
د نجلی غږ یودم ورو شو، ښی لاس یې د سړي په ګرېوان کې بند کړ، تنی یوه په بلې پسې وشکېدې، سر یې کیڼ لور ته ړنګ شو، سترګې یې سپینې واوختې، خوله یې څو ځله خلاصه کړه، په ټیټ او بې سېکه غږ یې وویل:

## خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ـستا ، ستا جامې په، په وينو ککړې وې، مو ، مورکۍ تا...
ولوېده، سرې دواړه لاسونه ترې تاو کړل، د نجلۍ سر له ځمکې يوه لوېشت پورته پاتې شو ، پيچلي ويښته يې پر خاورو پراته ول.
د جانکو غږ يې واورېد:
ـته خونکار يې؟
غوث الدين نېغ ورته وکتل، د جانکو سترګي رډې راختلې وې، غوث الدين په لړزانده غږ وويل:
ـنه ! !
جانکو منډه کړه، د لويي دروازې د ځنځير کړنګ شو ، له کلا ووت، چيغو يې ټول کلی په سر واخيست !
ـ خونکار...خونکار....خون.....
غوث الدين د نجلۍ تر ملا لاسونه لاندې کړل، له خاورو يې پورته کړه، په کوټه کې يې پرېېسته، شاوخوا يې سترګې واړولې، يوې خواته بوغبند پروت و ، را وايې خيست ، د باندې ووت، پر ښځې يې واچاوه.
شور ماشور شو ، يوه ډله کليوال کلا ته ور ننوتل، له چا سره بټۍ وې له چا سره هم بل لاټينونه.
خلک تر بوغبند راتاو شول، يو سپين ږيری کېناست، د بوغبند يوه څنډه يې ورپورته کړه، څو تنو خپلو غوږونو ته لاسونه ونيول:
ـتوبه خدايه، توبه !
يوه کليوال د ناست سپين ږيری پر اوږه لاس کېښود ، بوډا ور وکتل، کليوال غولي ته اشاره وکړه، د سپين ږيري تر پلاستيکي چوټو ډنډ وينه را ګرځېدلې وه، سرې په بيړه ولاړ شو.

لیکوال: نصیراحمد احمدي

غوث الدین یوې خواته غلی ولاړ و، څو ځوانانو برګ برګ ورته کتل...
غوث الدین څراغ ته لاس کړ، ورو روان شو، پر زینو وخوت، یوه بوډا چیغه کړه!
ــ مه یې پرېږدئ!
ځوانانو منډه ور واخیسته، غوث الدین کوټې ته ننوت، دروازه یې ځنځیر کړه، درب شو، له چوکاټ څخه مړه دوړه پورته شوه، دوهمې لغتې د وره زولفی والوزوله.
ګررر شو، د وره له سرداو څخه لوټې راولوېدې، کوټه د سوځېدلو باروتو بوی ونیوله.
غوث الدین د کلاشینکوف نلۍ ټیټه کړه، زوروه چیغه یې تر خولې راووته!
ــ ووځی! د غوا زامنو.
کلیوالو منډه واخیسته، یو په زینو کې ولوېد، بل پرې وخوت، ټول لاندې کوز شول.
غوث الدین په پورتنۍ زینه کې ودرېد، د څو لاسي بتیو رڼا پرې ولوېده.
یوه بوډا په غریو کې وویل:
ــ خدای دې ښه ورځ نه دروینې!
بل کلیوال چیغه کړه!
ــ ته خونکار یې!
غوث الدین وویل:
ــ ما دا کار نه دی کړی! تاسو...
جانکو په خبره کې ور ولوېد:

ـدرواغ مه وايه! ما د غوټۍ خبرې واورېدې، ستا جامې په وينو سرې وې، ښځه دې وژلې، بيا دې ځاه ته اچولې ده.
يوه په عمر پوخ کليوال چيغه کړه!
ـته ځناور يې!!!
غوث الدين همالته په زينه کې کېناست، کلاشينکوف يې پر زنګانه کېښود، غلی شو.
کلا ته څو زړې ښځې ور ننوتې، دوه بوغبند ته ور نږدې شوې، يوه پر زينو وختله، تو يې کړل، لاړې د غوث الدين پر کږه پزه وڅڅېدې.
بوډۍ بېرته پر زينو کښته شوه.
سړي پر خپل مخ لستوڼی تېر کړ، ولاړ شو، کوټې ته ننوت، ور يې پورې کړ، کندو ته يې اوږه ورکړه، وره ته يې ودراوه، اوږد وغځېد، کلا له شور ماشوره ډکه وه، ښځو ژړل، ښېراوې يې کولې... نارينه د ګور کفن او جنازې ته د خلکو د خبرولو په اړه سره غږېدل...
ښه شېبه ووته، د سړي زړه طاقت ونه کړ، ولاړ شو، دريڅې ته ورغی، په کلي کې بل څراغونه ګرځېدل.
زړه يې سستي وکړه، ځای پر ځای کېناست، سر يې پر زنګنو ولګاوه.
يو وخت يې يخنې وشوه، سترګې يې رڼې کړې، د څراغ پلته سوځېدلې وه، چرګانو نارې وهلې... غوږ يې ونيو، د لرګو د ماتېدو غږ راته.
ورو ولاړ شو، کندو يې وښوياوه، دروازه يې خلاصه کړه، سپېدې چاودلې وې، په دوو کوټو کې لا څراغونه بل وو، په چوتره کې سپينې ريتاړې (نرۍ ټوټې) ښکارېدلې، له کاهدانې پر لرګي د تبر د لګېدو غږ را ووت...

# خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

سړی په احتياط لاندي کښته شو ، باغ ته ولاړ، د لښتي پر ژۍ کښناست، پايڅې ته يې وکتل، تکه سره وه.
پښه يې لښتي ته ور وغځوله، رڼې اوبه پر پايڅه ور واوښتې. پايڅه يې وسولوله، ګوتې يې غوړې شوې، شاوخوا يې وکتل، يوځای مېږتنو له ځمکې مړه خاوره را ايستلې وه، موټ يې ډک کړ، لښتي ته يې ور وغځاوه، پر پايڅه يې ختڼه و موښله، يوه ژړغوني غږ يې پر بدن لړزه راوسته!
_د خدای ظالمه! ولې؟!!
پورته يې وکتل، مشره مېرمن يې وه.
سړی په بيړه ولاړ شو ، ښځې ته مخامخ ودرېد ، په خشکه يې وويل:
_ما نه ده وژلې!!
ښځې د سړي جامو ته وکتل، پر لمن يې ثاڅکي ثاڅکې وينه پرته وه، شونډي يې وخوځېدې:
_پوهېږم
سړي تر مټ ونيوله، جټکه يې ورکړه، په کاوړ يې وويل:
_موږ شل کاله ژوند سره کوو، يو بل ته مالوم يو، زه ...
ښځې چيغه کړه!
_ته درواغ وايي! د غوټۍ پلار هم تا مړ کو!
کړس شو، د ښځې له خولې لاړې باد شوې، د سړي ګوتو درد وکړ، چيغه يې کړه!
_څه چټياټ وايي!!
ښځې ژړل...

سړی د لښتي پر ژۍ کېناست، سر يې وځړېد ، پايڅه يې اوبو ته ور ټيټه کړه.
ښځې په ژړا کې وويل:
ــبې ګناه وينه ده، خدايکه دې پاکه کړه !
سړي په کاوړ ورته وکتل.
ښځه په کلا کې د پرېې شوي وره خواته روانه شوه، سړي منډه پسې واخيسته، مخې ته يې ودرېد ، ورو يې وويل:
ــولې مې خبره نه منې ! لو ( قسم ) درته خورم، ما به څنګه خپله ورېنداره وژله؟ !
د ښځې په سرو سترګو کې کرکه پرته وه.
سړي سوړ اسويلی ويست.
ښځې په سونګېدا کې وويل:
ــد غوټۍ په ماماګانو پسې سړی لاړ، خدايکه دې ښه ورځ ورنه ولېده.
غوث الدين په خبره کې ورولوېد:
ــمه يې راباندې وژنه ! !
ښځې په ملنډو وويل:
ــهو ! تاته خو سخته نه ده.
سړي ځمکې ته وکتل، ښځې ته يې لار ورکړه، بېرته د لښتي پر ژۍ کېناست.
ښځې خو ګامه واخيستل، ودرېده، بېرته راوګرځېده، سړي ته مخامخ کېناسته، په ژړغوني غږ يې وويل:
ــد خدای روی ومنه ! له دې ځايه لاړ شه !

سړي نيغ ورته وکتل:
د ښځې شونډې و خوځېدې:
ـ وينې به تويې شي !
سړي وويل:
ـ زه له چا څخه نه ډارېږم ! ما څوک نه دي وژلي، که لاړ شم، خبره به رښتيا شي !
ښځې وژړل:
ـ د کليوالو خولې خو اوس هم نه شې بندولی، ټولو منلې ده چې ښځه تا وژلې، خپله لور يې هم همدا وايي، که نور نه وي، مور ته وګوره، دوه تور سرې درته ناستې يو.
سړي يوه شېبه روانو اوبو ته وکتل، وروسته يې سر پورته کړ، ورو يې وويل:
ـ سمه ده، خو په غوږ ې پام کوه، زه به يو څه وخت کلی پرېږدم، تر هغو به خبره سړه شي.
له دې سره ولاړ شو.
د ښځې شونډې وخوځېدې:
ـ چېرته ځې؟
ـ نه پوهېږم !
غوث الدين حرکت وکړ، ښځې پسې وکتل، سړي کينه پښه درنه پسې اخيسته، وروسته د باغ تر پڅخې واوښت.

## خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

* * *

سهار اته بجې د غوټۍ ماما ګان راغلل، جنازه يې خپل کلي ته يووړه، دوی قسم ياد کړ چې غوث الدين به ژوندی نه پرېږدي.
خلک خواشيني ول...ټولو غوث الدين ته ښېراوې کولې، دی يې تر لوند سپي هم بد ايساوه.
ورځې ووتې، باغ ته غواوې ور پرېښودل شوې، ځارويو به پر وچو پاڼو شخوند واهه...
د خلکو مخونه چاودې شول، کله کله به پر کلي خړه دوړه راغله، وچې پاڼې به ورسره لاړې.
هر څه سپېره ښکارېدل....
د غوث الدين درک نه و، څوک نه پوهېدل چې چېرته تللی، خو کليوال په يوه اتفاق د هغه په ورکېدو خوښ ول.
له غوټۍ سره د غوث الدين مشره مېرمن په کور کې وه، دې د کور ټول کارونه په غاړه اخيستي ول، د نجلۍ به ډېر وخت تبې کېدې، له ډېر ډنګروالي يې سترګې غټې ښکارېدلې، دا به تل پرته وه، نه يې خبرې کولې او نه هم له کوټې راوته، يو دوه ځله د حميد سپين ږيري پلار په ټينګه ور ياده کړه، چې ماماخېلو ته ورسره لاړه شي، خو دې يې خبره ونه منله.
جانکو د ژمي لپاره تياری نيوه، د بامونو کاهګل خلاص شوی و، کاه دانه تر دروازې پورې له وچو وښو ډکه وه، ده د ژمي لپاره د ازوغ (د سونګ موادو ) غم خوړ.

جانکو به په برج کې ویدېده.
د حمید درک نه و.

*  *  *

د مني یوه غرمه جانکو غواوو ته واښه ور اچول چې د کلا دروازه خلاصه شوه، د حمید پلار په پټو کې ځان پیچلی و، نېغ د غوجلې کوټې ته ور روان شو، نجلۍ ته شوله ابښې وه، خو غاب هماغسې ډک و، مازې له یوې څنډې یې یوه ګوله ور پورته شوې وه.
بوډا وټوخل، نجلۍ ورته وکتل، ټکری یې پر سر سم کړ.
یوه شېبه دواړه غلي ول، وروسته سړی په خبرو راغی، د ولیانو او پیغمبرانو د زغم کیسې یې تېرې کړې، له نجلۍ څخه یې وغوښتل چې دوک ( غم ) له زړه وباسي او ژوند ته په مینه وګوري.
ده تر ډېرو خبرې وکړې، وروسته غلی شو، نجلۍ ته یې وکتل، هغې غولي ته وچې سترګې نیولې وې....
بوډا وویل:
ـغواړم چې یو څه درته ووایم !
نجلۍ هماغسې غولي ته کتل...
بوډا خپله خبره پسې وغځوله:

ـګوره لورې ! بده یې مه ګڼه ! ته پیغله یې، باید د ژوند د تېرولو لپاره یو ځوک پیدا کې !
نجلۍ په بیړه ورته وکتل.
سړي وویل:
ـزه ستا ماما یم،بل به دې نو ځوک غم وخوري ! په شرعه کې شرم نشته، د خیر خبره درته کوم !
نجلۍ په حیرانۍ ورته کتل...
بوډا په ډاډه غږ وویل:
ـغواړم چې تا خپل زوی، حمید ته په نامه کم !
نجلۍ خپل تندي ته لاس ونیو، له شونډو یې راووتل:
ـما په کراره پرېږده
بوډا ولاړ شو، ورو یې وویل:
ـګوره بچو ! ما ستا پلار ته هم ور یاده کړې وه، خدای خبر ! ولي یې دا دوستي ونه منله، خو اوس هغه نشته او زه دا خپل فرض ګڼم چې د خپلې خورزې عزت وساتم، فکر وکه ! تر حمید ګلالی ځوان نه شې موندلی، تر دولسمه یې سبق ویلی، په اخلاقو کې نوم لري ! تر اخره خو به یوځې په کلاکې نه یې ناسته.
له دې سره له وره ووت.
نجلۍ یوه شېبه غلې وه، وروسته کینې لورته ړنګه شوه، له خولې یې ځګونه راووتل...

# خونکار

لیکوال: نصیراحمد احمدي

* * *

لومړنۍ واورې د غرو سرونه سپین کړل، خو لاندې دښته او د کلي تر مخ خړ پټي لانده ښکارېدل، هلته یوازې باران شوی و، له ځمکې د خاورو بوی لټېده، په هوا کې به د کارغانو تورې ګلې یوې بلې خوا ته تللې، کله کله به د مهاجرو هیلیو یو یو سیل هم تېر شو، هر ښکاري خپل پټی درلود، پټي ته به یې د کاریز اوبه ورسمې کړې وې، دوی به د ماښام له اذان سره سم ځانونه مورچو ته رسول، مورچې له خټو جوړې وي، کله کله به د هیلیو یوه نیم سېل لنډه دوره وخوړه، له وزرو به یې شنهاری پورته شو، ښکاریانو به وازې خولې ورته نیولې وې، هر یوه به په ټیټ غږ ویل:

ـوزر مات، وزر مات، وزر...

مانا دا چې د دوی له خوا په جوړ شوي ډنډ ورټیټې شي، هر ماښام به د ښکاري ټوپکو لس ـ دولس ډزې اورېدل کېدې.

دورځې له خوا به ټول کلیوال په جومات کې ول، خادم به هره ورځ تاوخانه بلوله، ملا به په تاوده ځای ناست و، ماشومانو به سرونه ټیټ نیولې وو، زنګېدل به، سپپارو ته به یې کتل، هر یوه به په لوړ غږ خپل سبقونه تکرارول، کله کله به ټوخی او د پزو د پورته کشېدو غږونه پورته شول، که به چا سر پورته کړ، د دوه ګزی لښتې نرۍ څوکه به یې پر ولیو ولګېده.

# خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

په بل سر کې به کليوال ناست ول، زړو به خيرنو بالښتونو ته ډډې لګولې وې، ترمخې به يې درې څلور تُفدانۍ ايښې وې، دوی پخواني وختونه ښه يادول، اوسنۍ زمانه يې په فساد ککړه بلله، ځوانان به هم يوې خوا ته غلي ناست ول، خبرې به يې ورو وې، کله چې به کوم يوه وخندل، سپين ږيرو به بد بد ورته وکتل....

په همداسې يوه ساړه سهار د کلا دروازه وټکېده، جانکو ورغی، حميد و، ځوان پرته له سلامه نېغ د ولاړو کتار کوټو خواته ور روان شو، جانکو د ګلاب تېزه خوشبويي احساس کړه، په ځوان پسې يې وکتل، دا ځل يې سپينه خولۍ پر سر وه، تر ځان يې پټو تاو کړی و، ګړندي ګامونه يې اخيستل...مخکې تر دې چې کوټې ته ور ننوځي، غوټۍ په بيړه په وره کې ودرېده، د ماما زوی ته يې لاس ورکړ، پرته له دې چې څه ووايي په چوتره کې يې يو زوړ ليمڅی هوار کړ، بالښت يې کېښود، ځوان ته يې د کېناستو بلنه ورکړه.

حميد بالښت ته ډډه ولګوله، نجلۍ دالان ته ننوته، شېبه وروسته يې د ځوان تر مخ له شيرچايه ډکه پياله کېښوده، ټکری يې د ککرۍ پر جړو ويښتو ورکش کړ، د ليمڅي پر يوه کونج غلې کېناسته.

دواړه غلي ول، کله کله به د نجلۍ غاښونه يخنۍ سره وجنګول، نور هېڅ هم نه اورېدل کېدل.

ځوان پيالې ته وکتل، له خړ چايه مړ ه تاوونه پورته کېدل، د چايو سور يې وکړ، ورو يې وويل:

_څنګه يې؟

د نجلۍ سترګې له اوښکو ډکې شوې.

کړنګ شو ، یوه پیشو د ناولو لوښو په کاسه کې وختېه، په عمر پخه ښځه له دالانه راووته، په پیشو پسې یې لوټه وویشته، بېرته دالان ته ننوته.
حمید وویل:
_زما د پلار په خبره کې څه وایې؟!
د نجلۍ زړه ولړزېد.
حمید سوړ اسویلی وېست ، خبره یې پسې وغځوله:
_ګوره ! مورې ستا پرده کوو.
نجلۍ غلې وه.
ځوان له چایه غوړپ وکړ، ورو یې وویل:
_بده یې مه ګڼه ! پلار ته مې د بلې نږور پیدا کول دومره سخت کار نه دی، خو ته یې خورزه یې، په بد حال دې نه شي لیدلی.
د نجلۍ سر ځوړند و.
حمید ورو ولاړ شو ، څادر یې ټکواهه، هسکو دېوالونو ته یې وکتل، و یې ویل:
_فکر وکه ! د زور خبره نه ده، تر اخره خو به په دې څلورو دېوالو کې ګوښې نه یې ناسته !
حرکت یې وکړ، څاه ته ور وګرځېد ، لاندې یې وکتل، د سپینو اوبو پر سر هیڅ هم نه ښکارېدل.
سړه ساه یې واخیسته، له کلا ووت.

*   *   *

غوټۍ بله چاره نه لیده، کوژدې ته يې تن ورکړ، واوره مخ په ختمېدو وه چې واده هم تيار شو، مراسم ساده ول، نجلۍ د خسر ګنې کورته لاړه، يوه اوونۍ هلته وه، دوی کلا او جايداد يوائې نه شوی پرېښودلای، ځکه نو ناوې او زوم دواړه بېرته کلاه ته راغلل.
کليوال هم خوشاله ول، د يوې ځوانې نجلۍ عزت يې خپله پرده ګڼله، دوی ټولو حميد ته دعاوې کولې، هغه يې د يوې يتيمې نجلۍ د سر سيوری ګاڼه.
ورځې ووتې، د نجلۍ ژوند ته تمه پيدا شوه، رنګ يې ورو ورو بېرته راوګرځېد، خو لا به هم کله کله د خواشينۍ څپه پرې راتله، له ځاه څخه يې بد راتلل، ډېر يې نه ورته کتل، جانکو به د کور د ضرورت وړ اوبه د کلي له کارېزه راوړلې، د ځاه په اوبو به يې يوائې مالونه اوبه کول.
حميد هم خوشاله و، موټروانی يې پرېښوده، دی به ډېر وخت د خپل خسر پر ځمکو ګرځېده، د نوی کښت کرلو ته يې تياری نيوه، دهقانانو ته به يې لارښونې کولې، باغ او کرونده يې تر پام لاندي وه.، د کور په کوټو يې ګوتې ووهلې، چوتره يې سمټ کړه، دېوالونو ته يې سپين ګچ ورکړ.
د غوث الدين درک نه و.

*   *   *

د ځوړموني ( پسرلي ) لومړی ورځې وې، يوه غرمه غوټۍ غوا لوشله، جانکو د اخور پر سر ورته ناست و، په لاس کې يې پړی ښکارېده،

لیکوال: نصیراحمد احمدي

کوچني برګ سخوندر زورونه وهل، په وړو سترګویې د غوا له غولانځې د شیدو راوتونکو دارو ته کتل، ناڅاپه د جانکو له لاسه د سخوندر پړی خوشی شو، سخوندر منډه کړه، د غوټې له ځنګنو سره ولګېد، هغه کیڼ لورته کږه شوه، دېګ یې له لاسه وښوېد، پر پلاستیکې چوټو یې سپینې شیدې ور واوښتې....

جانکو په بیړه دېګ ور پورته کړ، مټ یې د ښځې له ټټر سره ولګېد، ولاړ شو، سخوندر د غوا غولانځه رودله.

جانکو د سخوندر پړی ونیو، بېرته پر اخور کیناست، چوترې ته یې وکتل، حمید ولاړ و، دوی ته یې وچې سترګې نیولې وې. غوټې د غوا په لوشلو بوخته شوه.

شېبه وروسته دالان ته ور ننوته، دېګ یې یوې خواته کېښود، د تنور پر سر پرته تېغنه یې لیرې کړه، د ګرمې مسالې بوی یې پر سپږمو ننوت، یو تور دېګ یې له تناره راوېست، د حمید غږ یې واورېد:

ـ بوی خو یې خوږ دی!

غوټې وویل:

ـ یو دوه بڅرې زړې یې (د لاندې غوښه) پاتې وه، ښوروا مې کړه!

حمید کونج ته پر زاړه لیمڅي کېناست، تاخچې ته یې وکتل، د ګیلمي دسترخوان له یوه کونجه د پاستي ژې راوتلې وه، لاس یې ور وغځاوه، شېبه وروسته یې په ډکه خوله وویل:

ـ کاغذونه چېرته دي؟

غوټې په پوښتونکې نظر ور وکتل.

حمید بله ګوله وکړه، شونډې یې وخوځېدې:

ـ د ځمکې کاغذونه يادوم، نصرو د خوږ پټيو ته نږدې پوله وهلې وه، د سينځلو نيالګي يې ايښودل، يو څه رامخته شوی و، ويل يې چې د ځمکې حدود يې تر هماغه ځايه دي، خو زما زړه ته نه لوېږي، غواړم چې خبره ورسره سپينه کم.
غوټۍ خپل ټټر ته لاس کړ، په تور سپڼسي ( تار ) پورې د تړلو کونجيانو ( کيليانو ) شرنګا پورته شوه، وروسته يې سپڼسی تر سر واړاوه، ورو يې وويل:
ـ مور مې ټول کاغذونه د لرګي په صندوق کې ايښې دي.
حميد کونجيانې ورواخيستې، يوه شېبه غلی و، وروسته يې سوړ اسويلی وېست، په نيولي غږ يې وويل:
ـ خپه نه شې، جانکو مې نه خوښيږي !
غوټۍ په بيړه مخ ور واړاوه !
حميد وويل:
ـ خوا مه بدوه ! ځوان جان په کلا کې راته ګرځي ، زما غيرت يې نه مني !
غوټۍ په حيرانۍ ورته کتل...
د حميد شونډې وخوځېدې:
ـ جانکو ته حاجت نشته، يو کوچينی مزدور به ونيسو، غواوې خو پيايلی شي، د باغ په کارونو او د وښو په راوړلو کې به زه لاس ورسره وړم.
غوټۍ په خواره خوله وويل:
ـ جانکو بد سړی نه دی، کوچنی په دې کور کې را لوی شوی، پلار او نيکه يې زموږ خدمتګاران ول !

ــخو هر رنګه چې وي، زما نه خوښيږي ! زه به په کلي کې پوښتنه وکم، کيدای شي چې يو ګلالی کوچنی مزدور ور مالوم وي.
غوټۍ خوله جينګه کړه:
ــجانکو هيڅوک نه لري، دلته يتيم را لوی شو ، چېرته لاړ شي، دی...
حميد په خبره کې ورولوېد ، په خشکه يې وويل:
ــمور د يتيمانو ذمه نه ده اخيستې، بلا وهلی، تر اورمېږ يې لاس نه راګرځي، لاړ دې شي، بل ځای دې مزدوري وکي !
له دې سره ولاړ شو ، له دالانه ووت.
د غوټۍ بدن لړزېده، ځای پر ځای ناسته وه، دې په لومړي ځل د حميد خشکه لېده، وروسته يې سترګې له اوښکو ډکې شوې، دېګ يې بېرته تناره ته ور ټيټ کړ، چوپه چوپتيا وه، کله کله به د دالان پر لرګينه ناوه د ناستو توتکيو غږ پورته شوه....

*   *   *

په دوهم سهار يوه ډله ماشومان کلا ته ور ننوتل، يوه يې په سترې ساه چيغه کړه !
ــحميد کاکا !
غوټۍ په بيړه له کوټې را ووته، ماشومانو ته مخامخ پر چوتره ودرېده، مخکې تر دې چې څه ووايي، يوه ماشوم وار ړومبی کړ:
ــغوث الدين کاکا مو وليد.

# خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

د غوټۍ رنګ والوت، حميد د کوټې په وره کې سرتور سر ودرېد ، چيغه يې کړه !

ـ چېرته؟

غواوې مې پېولې، يوه غونجۍ ( سخوندره ) ګڼو بيخچيو ( نيالګيو ) ته ورغله، ما ډبره پسې وويشته، پاڼې وښورېدې، يو چا منډه کړه، په ونو کې ورک شو.

غوټۍ په خبرو کې ور ولوېده:

ـ تا يې مخ وليد ؟

هلک په خپله بهېدلې پزه لستوڼی تېر کړ، په زوټه يې وويل:

ـ نه، خو تېزه منډه يې نه شوی اخيستی، ګوډ ، ګوډ ته.

حميد په بيړه کوټې ته ننوت، کله چې د باندې راووت، په لاس کې يې توپانچه ښکارېده.

غوټۍ يې مخې ته ودرېده، خو حميد لار کږه کړه او په منډه د کلا له دروازې ووت.

حميد د کلي په تنګو کوڅو کې تاو راتاو شو ، هلکانو منډې پسې وهلې، څو ښځې د کورونو بامونو ته ختلې وې، دوی په حيرانۍ حميد او ډله ماشومانو ته کتل چې له پښنو څخه يې مړې دوړې پورته کېدلې... ډله کلي ته نږدې په خوړ کې شنو ونو ته ورکښته شوه، غواوې وترهېدې، يوه ،بل لورته يې منډه کړه، خو شېبه وروسته يې بېرته د ونو په مينځ کې رابوټيدلو شنو وښو ته وربوزونه ورټيټ کړل.

ډله ودرېده، یوه ماشوم ګڼو نیالګیو ته اشاره وکړه، حمید ورو ورمخته شو، توپانچه یې تیاره ونیوله، غونچه څانګو ته یې لاس وروغځاوه ، په احتیاط یې څنګ ته کړې، یوائې د یوې کوټې په اندازه وچ ځای و.
حمید ور مخته شو ، څو نیم سوخته سګرټ پراته ول.
یوه ماشوم څو ګامه لیرې ګڼو ونو ته ګوته ونیوله، په وېره یې وویل:
ـ هغو ونو ته یې منډه کړه.
حمید ورمېږ کوږ کړ، ورغی، ونې ګڼې وې، بېرته راوګرځېد.
څو کلیوال ور ورسېدل، دوی پنځه تنه وو، درې ځوانان او دوه نور هم سپین ږیري. د ځوانانو په لاسونو کې ټوپکې ښکارېدې.
حمید وویل:
ـ تښتېدلی دی.
یو بوډا په خبره کې ور ولوېد:
ـ خون یې زما په غاړه، مردار یې کړئ، مرګ یې د لیوني سپې غوندې روا دی.
یو ځوان کېناست، یو ځای سپېره و ، پلونه ښکارېدل.
بوډا په کاوږ وویل:
ـ پخپله دی ، ورته وګورئ ! یو پل کوږ ایښود ل شوی.
یوه شېبه چوپه چوپتیا وه، وروسته د بوډا شونډې وخوځېدې:
ـ څه ته ګورئ ! ګوډ دی، لیرې نه شي تلی.
ځوانانو یو بل ته وکتل، بیا په ګڼو ونو کې ننوتل.

دوی په احتیاط مخکې تلل، کله کله به ځای ځای غوټه نیالګیو ته ور وګرځېدل، د ټوپکو په نلیو به یې لاره پکې ویسته، بیا به یې ګام کېښود.

یو ځای ګڼ نیالګي وښورېدل، د ټولو رنګونه والوتل، پر ځمکه پریوتل، وسلې یې هماغه لورته ونیولې، ټک شو، له ګڼو نیالګیو څخه یوې ګیدړې منډه واخیسته، ټولو حمید ته وکتل، د هغه په لاس کې د نیولې توپانچې له خولې څخه مړ لوګی راووت.

ټولو وخندل، ولاړ شول، مخکې لاړل. دوه ـ درې ځایه یې په شګو کې د بنیادم پلونه ولیدل، پلونه له یو بل څخه ازاد ابښودل شوي ول، سرې منډه اخیستې وه.

پاو وروسته له ځنګله ووتل. د غونډیو تر لمنو پورې مړه شګه پرته وه، پلونه نه غلطېدل، خو وروسته وړې تیږې پیدا شوې او چې کله یو څه پورته وختل، پلونه ورک شول. د غونډۍ تر سره لویې وړې تیږې، شنې سپاندې او غرني سپیره بوټي ولاړ ول.

دوی یوه شېبه ودرېدل، شاوخوا یې وکتل، پل نه ښکارېده.

حمید وویل:

ـ باید پورته وخیژو، له هغه ځایه د دویمې غونډۍ پیڅکې ښکاري، نه شي رانه ورکېدای.

یو کلیوال، چې لونګۍ یې تړلې وه، په خبره کې ور ولوېد:

ـ سم وایې! غوثو به دومره لیرې نه وي چې د ټوپک ګولۍ یې ونه خوري.

خونکار

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ټول مخ پورته روان شول، پاو وروسته د غونډۍ سر ته وختل، مخامخ ځير شول، سترګو ته يې هسکه غونډۍ ولاړه وه، ژوندی ساری نه ښکاريده.
حميد وويل:
ـګوډ چالاکه دی، د کومې ډبرې شاته به غلی وي.
چا ځواب ورنه کړ، دوی يوه شېبه د غونډی پر سر ودريدل، باد تېز و، د حميد تور پيکی پر سپينه خولۍ ور اوښت، غټې سترګې يې له کاوړه ډکې وې، ده په ځير مخامخ غونډۍ څارله...
چوپه چوپتيا وه، کله کله به له ليرې د يوې زرکې ناره پورته شوه.
حميد ناڅاپه چيغه کړه!
ـهلته يو څه ښکاري!
کليوالو د حميد غزيدلي لاس ته وکتل، يوه وويل:
ـچېرته؟
ـهلته! د مخامخ غونډۍ سر ته نږدې، ورته وګورئ!
ټولو په ځير ځير هغې خواته کتل، يوه وويل:
ـزه خو څه نه وينم!
حميد په خبره کې ورولوېد:
ـيو څادر مې وليد، تور رنګ يې و، باد رپاوه.
يوه ځوان وخندل:
ـنو څه شو؟ پيريانو يوور!
حميد وويل:
ـراځئ چې نږدې ورشو!

بل په خبره کې ور ولوېد:
ـځان مه ستړی کوه، هېڅ هم نشته.
ـخو غوثو ګوډ دی، لیری نه شي تلی.
هماغه ځوان ځواب ورکړ:
ـکومه دی؟ ته يې وينې؟ اوس خو نشته.
نورو کليوالو هم د هغه له خبرې سره د ( هو ) په نښه سرونه وخوځول، درېواړو بېرته مخ لاندې د کلي خواته مخه کړه.
حميد يوه شېبه ولاړ و ،وروسته يې مخامخ غونډۍ ته توپانچه ونيوله، ډزو ازانګې خورې کړې، کليوالو ته يې وکتل، دوی په بيړه د کلي خواته مخ کښته روان وو، ده هم منډه پسې واخيسته.

*　*　*

غوټۍ له اوبو ډک ګړی پر چوتره کېښود، سړه ساه يې واخيسته، بېرته يې تر ګړي لاس تاو کړ، پر چوتره وخته، د دالان په وره کې وچه ودرېده، په حيرانۍ يې وويل:
ـګل ميره ! ته دلته څه کوې؟
کوچني هلک په بيړه مخ ور وړاوه، وچې شونډې يې وبړې کړې، ويې خندل:
ـحميد کاکا را ياده کړه چې دالان پاک که ! اوس له ترانه (تناره) ابړې راباسم.

# خونکار

لیکوال: نصیراحمد احمدي

غوټۍ په بیړه ګړۍ د دېوال ته ودراوه، ور مخته شوه، تناره ته یې وکتل، د
دېګي پر سر خړې ایرې پرتې وې. په خشکه یې وویل:
ـدا دې څه کړي !
هلک وارخطا شو.
غوټۍ ورته وکتل، په لاس کې یې لویه څمڅه نیولې وه.
هغې په بیړه څمڅه ورڅخه واخیستله، له ایرو ډکه وه، څنګ ته په اینبې
زنګن ټیم کې یې تشه کړه، ور پوه یې کړل، خړې ایرې هوا ته پورته شوې.
هماغسې یې په کاوړ وویل:
ـدا د ایرو څمڅۍ نه ده، په دې کتغ اچوم.
هلک دېوال ته ور وښوېد. غوټۍ تناره ته لاس ور وغځاوه، دېګ یې
راویست، پر برغولي یې مړې ایرې پرتې وې، برغولی یې ورو له دېګه
لیرې کړ، پر ژېړو کچالو ځای ځای تور واړه سکاره ښکارېدل.
غوټۍ له نږدې تاخچې څخه یوه وړه کاچوغه ور واخیسته، د کچالو له
قورمې څخه یې په احتیاط سر ټول کړ. د هلک لړزانده غږ یې واورېد:
ـپام مې نه و.
غوټۍ مخ ور واړاوه، د هلک چخړنې سترګې له اوښکو ډکې وې.
غوټۍ ورو وویل:
ـڅه وخت راغلې؟
هلک پزه پورته کش کړه، شونډې یې وخوځېدې:
ـیوه ګړۍ مخکې.
یوه شېبه غلی و، بیا یې وویل:
ـحمید کاکا را واستم، رایاده یې کړه چې دالان پاک کم.

غوټۍ وخندل:
ــپروا نه کوي، خو بیا له تناره څخه ایرې راونه باسې، ته کوچنۍ یې، لاس دې سم نه ور رسیږي، ور ونه لویږي.
له دې سره یې، د یګ بېرته تناره ته ورکښته کړ. ورو یې وویل:
ــسړي مې نه و راته ویلي چې تا ته یې مزدوري درکړې، هغه...
هلک په خبره کې ور ولوېد:
ــحمید کاکا نن سهار زموږ کور ته راغی، له پلار سره مې په شپېتو منو غنمو مزد جوړ شو، زه به تر مني ستاسو مزدوري کوم، د ورځې به دلته یم ، ماښام قضا به خپل کور ته ځم.
غوټۍ خندل:
ــښه خبره ده، کور دې په کلي کې دی، ماښام ورځه، د مورکۍ به دې هم زړه نه وي درپسې ختلی.
هلک وویل:
ــاوس څه وکم؟
ــهېڅ، همدومره بس دی، نن خو میلمه یې !
ــنو کور ته لاړ شم؟
د غوټۍ خندا زور ونیو:
ــهو، خو سر له سبا به ټوله ورځ دلته یې.
کوچنی په بیړه له دالانه ووت.
غوټۍ یوه شېبه ناسته وه، بیا یې د ځا د څرخ د تاوېدو غږ واورېد، له وره یې ور وکتل، جانکو و، د غوټۍ په سترګو کې اوښکې ورغړېدې، جارو ته یې لاس کړ، شېبه وروسته دالان مړو خاورو ونیو.

## خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

پاو ووت، غوټۍ جارو شوې خاورې په ټيم کې واچولې، د باندې راووته، يوې غوا د اوبو په سطل کې وربوز ننه ايستی و.
پورته د برج د وره کړپ شو، غوټۍ مخ ور واړاوه، جانکو و، په لاس کې يې په سره د سمال کې تړلې غوټه نيولې وه، شېبه وروسته د غوټۍ تر مخ ودرېد، په نيولي غږ يې وويل:
ـ زه ځم.
غوټۍ په حيرانۍ ورته کتل...
ځوان د کلا د لويې دروازې خواته روان شو.
د غوټۍ وړې سترګې اوښکو ونيولې، پسې غږ يې کړ:
ـ چېرته ځې؟
جانکو ودرېد، پرته له دې چې مخ ور واړوي، په غريو کې يې وويل:
ـ نه پوهېږم.
د غوټۍ شونډې وخوځېدې:
ـ لږ ماتله شه!
له دې سره کوټې ته ننوته.
جانکو د چوترې پر ژۍ کېناست، شاوخوا يې سترګې وغړولې، په کلا کې يې يوازينی ولاړې سنځلې ته وکتل، ښه ورته ځير شو، په ونه کې يې خپل ځان ولېد، دی ماشوم و، سنځلې يې شکولې، ناڅاپه ښاخ مات شو، ماشوم لاندې راولوېد، پلار يې ور منډه کړه، ماشوم يې په غېږ کې ونيو، د هغه په ټول ځان يې ګوتې وتپولې، وروسته يې په خپله سينه پورې ټينګ کړ، پر بغور (غومبري) يې وچې شونډې کېښودې، ښکل

لیکوال: نصیراحمد احمدي

یې کړ، د پلار له زیږو لاسونو څخه د شوتلي بوی ته. پلار په غریو کې وویل:
(( زویه ! پام کوه ! ))
ماشوم ځواب ورکړ:
ـ ښه ده ابا ! بیا ونې ته نه خېژم.
ماشوم دخپل پلار څېرې ته وکتل، له ګونځو ډکه وه، غټې سپږمې یې درلودې، له سپږمو نه یې تور ویښتان راوتلي ول، ناڅاپه ګونځې ورو ورو هوارې شوې، لمر سوځولې څېره په سپین مخ بدله شوه. ښځینه وارخطا غږ یې واورېد:
ـ جانکو ! څه در باندې وشول، ولې له ځان سره غږېږې، کومه ونه؟
جانکو ټکان وخوړ، مخې ته یې غوټۍ ولاړه وه.
د ځوان خړې شونډې نرۍ موسکا سره وېړې کړې، سر یې وخوځېد ، ورو یې وویل:
ـ خپل ماشومتوب راپه یاد شو.
بېرته یې سر پورته کړ، شاوخوا یې وکتل، څلورو خواوو ته سپېره برجونه ولاړ ول، ترخه یې وخندل:
ـ پلار مې په همدې کلا کې ساه ورکړه، ښه مې په یاد دي، زه وړوکی وم، له هغه سره به په باغ کې ویدېدم، پلار به مې ډېر ټوخل، یوه شپه یې ټوخی ډېر شو، تورې وینې یې را وګرځولې، سهار مړ پروت و.
غوټۍ په خپلو سترګو لستوڼی تېر کړ.
جانکو سړه ساه واخیسته، په غریو کې یې وویل:

ـله دې ځایه مې زړه نه ځي، زه دلته را لوی شوی یم، مور مې نه په زړه کیږي، خو د دې کلا او باغ په هر کونج کې خپل پلار وینم، کله یې بیاتي په لاس کې وي، د تاکونو لښتې پرې کوي، کله منې شکوي، کله یې د غواوو ځای ته جارو نیولی وي، کله....
د جانکو سر وځړېد، غلی شو.
د غوټې ژړغونی غږ یې واورېد:
ـهه ! دا واخله، په کار به دې شي.
جانکو په بیړه ورته وکتل، د ښځې په لاس کې څو چرموړل شوي ( تاو شوي ) لوټونه ښکارېدل.
لاس یې ور وغزاوه، پیسې یې د خپلې زړې سدرۍ ( واسکټ ) په جېب کې کېښودې، ورو یې وویل:
ـخدای دې جنتي که.
ولاړ شو، څو ګامه یې واخیستل، غواوو ته ور وګرځېد، د یوې ژېړې غوا پرسر یې لاس تېر کړ، بلې غوا ته ورغی، غوا تش سطل ته کتل.
جانکو غوټه د اخور پر سر کېښوده، سطل ته یې لاس کړ، د څاه خوا ته روان شو.
غوټې ور مخته شوه، په غریو کې یې وویل:
ـغواوې به زه اوبه کم.
د ځوان په شونډو نرۍ موسکا تېره شوه:
ـنه ! غواړم چې د وروستي ځل لپاره ټولو غواوو ته اوبه کېدم.
غوټې څه ونه ویل.

ـد ځاه د څرخ غږ پورته شو، شېبه وروسته له اوبو ډکه بوکه را ووته، اوبه خړې وې.
جانکو وويل:
ـځاه ډېر وخت نه ده پاکه شوې، هوا ورځ په ورځ تودېږي، که دا حال و، وچه يې بوله.
بوکه يې په سطل کې تشه کړه.
غوټۍ لاس ور وغځاوه، له اوبو ډک سطل يې يوې غوا ته کېښود.
د جانکو غږ يې واورېد:
ـلکه چې ماتل شوم.
غوټۍ ورمېږ کوږ کړ، جانکو لاندې ځاه ته کتل.
ښځه ورمخته شوه.
سړي وويل:
ـبوکه د اوبو پر سر ولاړه ده، په ځاه کې يو زنګون اوبه هم نشته.
د ښځې شونډې وخوځېدې:
ـځه خير، سړي ته به ووايم چې څوک ورته راولي.
جانکو وخندل:
ـزه د څه لپاره يم. وخت لا ډېر دی، يو ساعت کار غواړي.
غوټۍ وويل:
ـنه! ته ځان مه پاذابوه!
جانکو د باغ د وره خواته روان شو، کله چې بېرته راغی، په لاس کې يې لنډه بېلچه نيولې وه. په خندا يې وويل:

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ـ اوس به یې دومره چاره وکم چې غواوې د څو ورځو لپاره ترې پاتې نه شي، وروسته یې بیا سمه پاکه کئ! هو رښتیا، یو څو بوکې ختهه را اېستلی شې؟

غوټۍ وخندل:

ـ دومره خو هم کمزورې نه یم.

ځوان خپلې پایڅې ور پورته کړې، له ببلچې سره لاندې کوز شو، تیاره وه، اوبه سړې وې، ځنګانه ته نه رسېدې.

جانکو په پسته ختهه کې ببلچه ننه ایسته، یوه ببلچه، دوې ببلچې، درې ببلچې... بوکه تر نیمایي ډکه شوه، پړی یې وښوراوه، زوروره چیغه په څاه کې تاو راتاو شوه:

ـپورته یې کړه:

د څرخ د تاوېدو غږ پورته شو.

جانکو ځان څنګ ته کړ، خو بیا یې هم له بوکې څخه د سړو اوبو رابهېدلې یوه نرۍ داره غاړې ته سیخه شوه.

له ختهو ډکې دوې نورې بوکې هم د ځمکې سر ته وختې، خو په څلورمه بوکه کې څرخ تاو نه شو، جانکو څو ځله پړی وښوځاوه، چیغه یې کړه:

ـبوکه ډکه ده.

خو بوکه همداسې په اوبو کې پاتې شوه، یوازې د موټر سایکل د درېدو غږ یې واورېد، وروسته یې د حمید وارخطا غږونه په غوږو ننوتل... جانکو په بیړه د څاه د دېوال په ژور شوي ځای کې پښه کېښوده، کله چې یې له څا څخه سر پورته کړ، پښې یې بېسېکه شوې، حمید خپله میرمنه په غېږ کې اخیستې وه، د کوټو خواته ران و، د غوټۍ سر ځوړند

خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ښکارېده، سترګې يې پټې وې، له خولې څخه يې سپين ځګونه روان ول...

* * *

غوټۍ سترګې رنې کړې، په کوټه کې يوازې وه، کښناسته، په سر کې يې ځريکه شوه، تندي ته يې لاس ورووړ، تر سر يې ټوټه تاو وه.
پردې ته يې کونج ورکړ، د ماسپښين سيوری رنګ و، د ځاه تر څنګ دوې، درې بوکې لنده خټه ښکارېدله.
د دروازې کړپ شو، رنګ يې والوت، په رېږدېدلي غږ يې وويل:
_تا، تا زما مور وژلې، تا هغه په ځاه کې اچولې وه، تا...
حميد د کوټې پرده يوې خواته کش کړه، رڼا شوه، د ښځې وړې سترګې رډې راختلې وې، غاړه يې خولې وه، تار تار لانده ويښتان يې پر تړلې تندي پراته ول.
غوټۍ ځان په کمپله کې ور ټول کړ، د ټو ال ته ور وښوېده، ځنګنونه يې پر خپل ټټر پورې ونيول، غلې کښناسته. غاښونه يې يو پر بل لګېدل، ټکا ترې خته..
حميد په غوسه وويل:
_ليونتوب مه کوه!
کوم غږ يې وانه ورېد:

## خونکار

لیکوال: نصیراحمد احمدي

حمید څنګ ته ایښې له چایو ډکه پیاله غوټۍ ته ور نږدې کړه، له جېبه یې د ګولیو پاکټ راویست، ښځې ته یې ونیو، ورو یې وویل:
_تندی دې زخم دی، د ځاه د بیلر پر ژۍ لګېدلی و، هه! دا ګولۍ د درد لپاره ښې دي.
ښځې کوم حرکت ونه کړ.
حمید په سړه سینه وویل:
_ته خو هوښیاره یې، ته څنګه...
غوټۍ چیغه کړه!
_له ځاه نه په ختهو لړلې خولۍ را ووته، زرینه خولۍ یوائې تا په سروله، نه دلته پیدا کیږي او نه هم د دې کلي په خلکو کې رواج ده، ووایه! له ځاه نه راوتلې خولۍ ستا نه وه؟
د حمید تندی تریو شو:
_زما وه، خو دا د دې مانا نه لري چې ما دې خپله ترور وژلې وي.
_خو خولۍ د ځاه په ختهو کې راوختله.
حمید په خپلو تورو ویښتو کې ګوتې تېرې کړې، سپینه خولۍ یې له سره ولوېده، ورو یې وویل:
_ته له ما سره خوشاله یې؟
ښځه ربړېدله...
حمید چیغه کړه!
_ته په ما ګرانه یې، بد مې نه در باندې لوریږي، تر اوسه مې کومه ترخه خبره نه ده درته کړې، ترور مې هم تر زوی کم نه ګڼلم، ما به ولې وژله؟

حميد يوه شېبه غلی و، بيا يې يودم وژړل..ده د ماشوم غونډې اوښکې تويولې...
غوټې په حيرانی ورته کتل... وروسته يې سترګې له اوښکو ډکې شوې، ور مخته شوه، د سړي سر يې په خپل ټټر پورې ونيو.
شېبه ووته، د حميد د ژړا غږ په سليګو بدل شو، په غريو کې يې وويل:
ـدا د جانکو دام دی، زما خولۍ څو مياشتې مخکې په باغ کې ورکه شوه، زه خو وايم چې ده غلې کړې وه، دا دومره وخت نه د څاه پاکېدل و او نه هم زرينه خولۍ، خو نن چې مې له مزدورۍ ځواب کړ، هم د څاه اوبه کمې شوې او هم خولۍ پيدا شوه.
ښځې له ورسۍ د باندې وکتل، د اخور پر سر غوټه نه ښکارېده. ورو يې وويل:
ـجانکو څه شو؟
ـومې شاړه، تر څو چې مې وسه کېده، سپک مې کړ، ور ياده مې کړه چې بيا دې دېخوا ونه ګورم.
ښځې د سړي سر په ټټر پورې ټينګ کړ، د حميد سونګېدا زياته شوه، د کلي له جوماتو څخه د ماسپښين د اذان غږ اورېدل کېده.

* * *

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ورځ ووته، ماښام و، غوټۍ له شیدو ډک دېګ په دالان کې کېښود، بېرته د باندې لاړه، غوا خلاصه وه، دې یوې بلې خوا ته وکتل، په زوټه یې وویل:
_ګل میره!
پیشو میو کړل، غوټۍ په منډه دالان ته ور ننوته، پیشو د شیدو په ډک دېګ کې خوله وهله، غوټۍ ځمکې ته لاس کړ، پیاز په ګوتو ورغی، پیاز پر تیغنه ولګېد، کړپ شو، پیشو منډه واخیسته.
غوټۍ د یګ پورته په تاخچه کې کېښود، بېرته د باندې ووته، غوا د سنځلې لاند نیو ځانګو ته غړۍ ور اوږده کړې وه.
شاوخوا یې وکتل، مزدور نه و. د سنځلې خواته روانه شوه، غوا منډه کړه، د کلا په دېوال کې د پرې شوې دروازې خواته ور وګرځېده.
غوټۍ ګړندي ګامونه واخیستل، د مڼو ونې تکې سپینې وې، ټول باغ د مڼو د ګل بوی نیولی و، تر ونو ور هاخوا شنه تاکونه ښکارېدل. غوا د تاکونو په یوه جووه کې ولاړه وه، شنې پاڼې یې تر خولې راوتلې وې.
غوټۍ ورو ور نږدې شوه، پړې ته یې لاس ور وغځاوه، پړی نیم ګز شا ته لاړ، ښځې ورو خپل لاس ور ټول کړ، غوا ته یې وکتل، هغې وچې سترګې ورته نیولې وې، ژامه یې یوې، بلې خواته خوځېدله... غوټۍ یوه شېبه غلې پر خپل ځای کېناسته، غوا بېرته د تاکونو شنو پاڼو ته خوله ور ټیټه کړه، ښځې ټوپ کړل، پړی یې ټینګ ونیو، غوا منډه واخیسته، ښځه پړمخې پرېوته، پړی یې پرېښود، غوا د انګورو پر پشته وختله، له پښو څخه یې ورې لوټې را ورغړېدې.

## خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ښځې سترګې پټې کړې، په خوله کې يې خاورې ننوتې، ويې ټوخل، د خپل ټکري پيڅکه يې پر خوله تېره کړه، سترګې يې رڼې کړې، د ولاړېدو لپاره يې لاسونه پر ځمکه کېښودل، د ښي لاس ګوتې يې په مړه خاوره کې ننوتې، ګوتې يې لندې شوې، لاس يې له خاورو راويست، ګوتې يې وسولولې، سرېښناکه وې، لاس يې پزې ته ور ووړ، بوی يې نه ته، د غروب سرخۍ ته يې ونيو، ګوتې يې تورې وې.
ځمکې ته يې وکتل، کيڼ لاس يې د يوه بنيادم پر سپېره لاس ايښی و، زړه يې ولړزېد، چيغه يې کړه، شاته يې ټوپ کړ، پښه يې وښويده، ببرته پرمخې ولوېده، هماغسې بې حرکته پرېوته، تېزه تېزه سا يې وهله، ورو يې سترګې وغړولې، ګاړګوتې ويښته يې د يو چا پر سپېره لاس پرا ته ول، سترګې يې رډې راوختې، لاسونه يې پر ځمکه ولګول، د پښود ټولېدو سيکه يې نه لېده، په زحمت کېناسته، ژامې يې يو پر بل لګېدلې، لاندې يې وکتل، د يو چا لاس تر مړونده له خاورو راوتلی و.
ښی خپل لړزانده لاس خاورو ته ور نږدې کړ، ببرته يې ګوتې په هوا کې راټولې شوې، يوه شېبه يې په رډو سترګو له خاورو راوتلي لاس ته وکتل، د زړه دربا يې تېزه شوه، ناڅاپه يې دواړه منګولې په خاوره کې ښخې کړې، د ليونو په څېر يې مړه خاوره وتوشپله، لاس تر اوږې لوڅ شو، په لانده لستوڼي پورې خاورې نښتې وې، بيا يې د خاور په توشپلو پيل وکړ، ګوتې يې د کميس په غاړه ولګېدې، ټينګ يې ونيو، کش يې کړ، له خاورو سپېره ويښته راووتل، وروسته تندی ښکاره شو، بيا سترګې، پزه او خوله له خاور راووتل، غوټۍ په ځير ورته وکتل، بې اختياره يې شونډې وربږدېدې.

# خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

_جا، جا، جانکو !
د زړه ضربان يې ډېر شول، له خولې يې لاړې راووتې، لاندې يې وکتل، د سړي غاړه تر نيمايي غوڅه وه،له ورمېږه راوتلې تازه وينه له خاورو سره ګډه شوه
د ښځې پر زړه ترخې اوبه راپورته شوې، توخي واخيسته،کانګو ونيوله، مخ يې کوږ کړ، ويې ګرځول، سړي ته يې وکتل، د ماښام په تته رڼا کې يې پر تندي د کالداني لوی داغ ښکارېده، د ښځې له خولې ځګونه را ووتل، پر سترګو يې تياره راغله، مخامخ ړنګه شوه.

* * *

ښځې سترګې رڼې کړې، پاڼې وې، تر پاڼو پورته سپينه ګرده سپوږمۍ ولاړه وه.
په سر کې يې نرۍ څړيکه تېره شوه، کيڼ لاس يې پر ځمکه ولګاوه، لوتې وې، په زړه يې وېره ننوته، فکر په مخه کړه، ورو يې وويل:
_زه، زه چېرته يم.
کوم ځواب يې وانه ورېد.
پر ښي لاس يې زور راووست، لاس يې پوست ولګېد، ورو يې ور وکتل، لاس يې د يوه بنيادم پر لوڅه ببره سينه پروت و. خوله يې وازه کړه، د چيغې غږ راونه ووت، خرهاری يې شو، کيڼ بغور يې لوند ورته واېښد، ورو يې پورته وکتل، پر تندي يې د يوه بنيادم له مړو وينښتو ډکه زنه

ابښې وه. يو دم کېناسته، د سپوږمۍ رڼا د سرې پر لوخو سپینو سترګو لګېدله... ښځې څو ځله خوله وازه کړه، غږ ترې راونه ووت، دومره پوهېده چې ځان يې رېږدي.
د منو د ونو له تورو څانګو څخه د لاسي بتۍ رڼا ښکاره شوه، يو غږ يې واورېد:
ــغوټۍ !
ښځه د تاک پاڼو ته ور وښوېده، رڼا د ونو تر څانګو را ووته، پر مخامخ دېوال ولګېده، يو دم ورکه شوه.
ښځې خپلو پښو ته کتل، پايڅې يې لړزېدلې...
د لاسي بتۍ رڼا د باغ په کونج کې ګرځېدله...ښځه ورو پر سينه وښوېده، لاس يې د يوه تاک په تنه پورې ونيو، په زحمت ولاړه شوه، زانګې وانګې يې د باغ د وره خواته حرکت وکړ، د کلا په مينځ کې لويې دروازې ته ور وګرځېده، کولپ ور لوېدلی و، خوله يې چيغې ته جوړه کړه، ساه يې په سينه کې سره راټوله شوه، له مرۍ نه يې يوازې خرهاری راووت.
د بتۍ رڼا د کلا په دېوال کې له پرې شوې دروازې څخه را ووته، د سنځلې پر ځړېدلو څانګو ولګېده، څانګو اوږده سيوري پيدا کړل، رڼا بېرته ورکه شوه.
ښځه دالان ته ننوته، د پيازو چاړه يې پر ټټر پورې ونيوله، ټکرې يې پرې خور کړ، کوټې ته لاړه، څراغ ته يې ور پو کړل، د وره شا ته غلې کېناسته. چوپه چوپتيا وه، کله کله به څاه ته نږدې، يوې چونګښې کورررړ کړل، نور هيڅ هم نه اورېدل کېدل.

# خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

شپېه وروسته د يوه بنيادم د بوټونو ټکا واورېدل شوه، د بتۍ رڼا له ورسۍ‌نه کوټې ته ور ولوېده، رڼا پر يوه عکس ولګېده، ملک عطاالدين شخ برېتونه نيولي ول.
د کوټې د دروازې کړپ شو، د ښځې زړه د پښو تر پوندو منډه کړه، په کوټه کې يو نارينه غږ واورېدل شو:
ـ غوټۍ!
غوټۍ په بيړه ولاړه شوه، په لاس کې نېولې چاړه يې پورته کړه، يو چا اخ کړل، بتۍ يې له لاسه ولوېده، له دروازې سره ولګېد، درب شو، په غولي ولوېد.
ښځې منډه واخيسته، کېنه پښه يې د دروازې تر ليخکه ويسته، خو ترښۍ پښې يې د يوه بنيادم ګوتې تاو شوې، د کوټې خواته په زوره کش شوه، د لرګي پر صندوق ورغله، زنګنونه يې پر صندوق ولګېدل، شا په تخته پريوته.
بتۍ وخوځېده، له ځمکې پورته شوه، د ښځې پر مخ سپينه رڼا ولګېده، د هغې يوه خوا مخ په وينو سور و، وړې، وړې لوټې په وينو کې نښتې وې.
د سړي زګيروی شو، اورلګيت ولګېد، د حميد په غټو سترګو کې د اورلګيت د دانې لمبه ښکارېدله...
بله دانه لاټين ته ور نږدې شوه، کوټه ژېړې رڼا ونيوله.
حميد خپل مټ ته لاس ور وړ، د پيازو چاړه پکې بنده وه، چاړه يې له لاستي ونيوله، کش يې کړه، سرې وينې باد شوې.

ښځه په پښو ودرېده، د کوټې دروازې ته يې منډه ور واخيسته، د سړي پښه ور وغځېده، د ښځې له زنګانه سره ولګېده، پړمخې پرېوته، څڼې يې په شدت شا ته کش شوې، سترګو ته يې د حميد سرې سترګې ودرېدې، د سړي له خولې لاړې باد شوې، د ښځې ژامې ته يې سوک ورکړ، ښځه پر اړخ ړنګه شوه.
حميد پردې ته لاس ور وغځاوه، کش يې کړه، پرده له ميخونو سره يو ځای لاندې راولوېده. سړي نری تراړه ترې ويسته، تر مټ يې تاو کړه، کلکه غوټه يې ور واچوله.
حميد ښځې ته وکتل، په خاورو سپېره وه، سر يې دېوال ته کوږ و، په راوتلو رډو سترګو يې ده ته کتل.
حميد په ملنډو وويل:
ــ جانکو دې ولېد؟
ښځه له حرکته لوېدلې وه.
د سړي لاندنۍ شونډه وځړېده، سپين غاښونه يې ښکاره شول، ښځه يې تر ويښتو ونيوله، د هغې سر پورته شو، سترګو ته يې د چت تور لرګی ودرېدل، سړي په لوړ غږ وخندل، له خولې يې باد شوې لاړې د ښځې پر سپينه غاړه ولګېدې.
سړی يودم غلی شو، په ملنډو يې وويل:
ــ زه څه ملامت يم، دی په خپله کم عقل و، ما ستا له خولې د راوتليو ځګونو د پاکولو لپاره ټوټه پسې غوښته. ورسۍ ته مې وکتل، جانکو د ځاه تر څنګ ولاړ و، له پايڅو نه يې خړې اوبه څڅېدلې، ده په لاس کې نيولې زرينې خولۍ ته کتل.

# خونکار

لیکوال: نصیراحمد احمدي

حمید غلی شو، یودم یې وخندل، ټنګ یې بدل کړ، د سدرۍ له جېبه یې ګنې کونجیاني ( کلیاني ) راوبستې، د لرګي صندوق یې خلاص کړ، په غولي یې څو کاغذونه کېښودل شول، وروسته یې یودم وخندل:
ـ دا وینې؟
ښځې په حیرانۍ ورو کتل، د سړي په لاس کې یو کوچنی تبر ښکارېده.
سړي تبر لاټین ته ور نږدې کړ، ورو یې وویل:
ـ ورته وګوره! د جانکو غاړه مې په همدې تبر پرې کړه، دی ساده سړی و، له خولې نه یې ختې پاکولې، زه هم د شا له خوا غلی ورغلم، تبر مې د هغه په غاړه راټیټ کړ.
د ښځې خرهاری شو.
سړي پرته له دې چې هغې ته وګورې په خندا یې وویل:
ـ دې تبر د ډېرو غړې خوړلې دي، ته ورته وګوره، خوله یې سره ده، په دغو وچو وینو کې دې د مور د غاړې وینه هم ګډه شوېده.
د ښځې خرهاری ډېر شو، یودم یې ټوپ کړل، پر سړي ور پرېوته، د دواړو لاسونو تېره نوکان یې د هغه مخ ته برابر شول. سړي تر ستوني ونیوله، پورته شو، د ښځې ژامې ته یې سوک ورکړ، د هغې له خولې وینو داره وکړه، څو څاڅکي د څراغ په ښیښه وبهېدل، ښځه یوې خوا ته رنګه شوه، په لنډ وخت کې د هغې له خولې نه راوتلې وینې یوه لویشت غولی سور کړ. د ښځې راوتلې ټټر په تېزۍ کښته پورته کېده....
سړی ولاړ شو، د ښځې ګېډې ته یې درنه لغته ورکړه، ښځې وټوخل، تاو را تاو شوه، بېرته بې حرکته پریوته.
سړي چیغه کړه!

ـستا پلار هم ما وواژه، د سپې زوی ته سلامت دوه ساعته ماتله وم، کله چې د غوټو له کوره راووت، په خوړ کې مې د تبر وار پرې وکړ، شپه وه، تبر سم ځای ونه لګېد، ده منډه واخیسته، په تیاره کې رانه ورک شو، خو وروسته مې پیدا کړ، په همدې تبر مې پر غاړه وواهه.
سړی غلی شو، یو دم یې شونډې وبړې کړې، ښځې ته یې وکتل، په ملنډو یې وویل:
ـخو ودې نه پوښتل چې ولې؟
ښځې تېزه ساه وهله...
د سړي تندی تریو شو، چیغه یې کړه:
ـپلار ته مې دې مرکه ور ولېږله، ته مې ورنه وغوښتې، خو ده غاړې کولې، ویل یې چې ملک سړی یم، څنګه خپله لور یوه موټروان ته ورکم.
سړی غلی شو، ښځې ته یې وکتل، هماغسې یې تېزه تېزه ساه وهله.
سړي وخندل، په ملنډو یې وویل:
ـپوهیږې چې ته مې ولې کولې؟
ښځې رډې سترګې ورته نیولې وې...
د سړي تندی تریو شو، په خشکه یې وویل:
ـزه ستا پر خیرن مخ نه وم مین، خبره د اتو شلو جریبو ځمکې، باغ، کلا او ګاڼو وه، ستا پلار نه خپل درلود او نه هم تربور، له غوټو هم میراث وه، نو دا جایداد، ما د ځان لپاره تیاره ګوله ګڼله، بس ! ملک باید مړ شوی وای. ما همدا کار وکړ، خو ګوډ غوټو په څټ کې راشین شو، هیڅ مې نه وو ورته ویلې، هسې یې راسره بده شوه، که ګوډ په کلا کې نه وای اړولې، مور دې په خپله راضي کېده چې تا زما په نامه کړي، پر هغې خو

هسې هم ګران وم، ترور مې وه، غوښو يې د خپل خاوند قاتل ګاڼه، ته وايه ! له ما پرته به يې په بل چا باور کاوه؟ هه !
ښځې د توشکي ژۍ د خپل ښي لاس په موټ کې ټينګه کړه.
سړي خبره پسې وغزوله:
ـ پوهېدم چې غوښو په جومات کې دی، ګوډ به د ماخستن له لمانځه وروسته کلا ته راته، تر هغو به دروازه خلاصه وه، زه هم د ماښام په تته رڼا کې کلا ته ورننوتم، په دالان کې مې ستا د مور ټوخی واورېد، په احتياط برج ته وختم، ستا د پلار لاسي بټۍ مې د ګوډ تر توشکې لاندې کړه.
سړي وخندل، خبرې يې پرې شوې، بېرته يې وويل:
ـپوهېږې چې لاسې بټۍ مې له کومه کړه؟ !
ځواب يې وانهورېد.
ـستا د پلار له جېبه مې راوېسته، لومړۍ مې مړ کړ، بيا مې د هغه جېبونه ولټول، بس ! سرکوزی ډېر سخت سړی و، په جېب کې يې يوه روپۍ هم نه وه، يوازې يوه قواله ترې راوختله او يوه هم هماغه لاسي بټۍ چې ما د ګوډ تر توشکې لاندې کړه.
د ښځې ربړد بدلي لاس حرکت وکړ، سړي ور وکتل، يو ګز ليرې د پيازو چاړه پرته وه، سړي په ملنډه وويل:
ـچاړه غواړې؟
خپله پښه يې چاړې ته ور وغځوله، چاړه يې پر پونده ووهله، چاړه د ښځې له لاس سره ولګېده، سړي هماغسې په ملنډه وويل:
ـهه ! دا يې هم چاړه !

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ښځې ببرته لاس ور ټول کړ، د پخوا په څېر ستونې ستغ پربوته، چت ته يې وکتل، له ښې سترګې راوتلې اوښکه يې ورغړېده، د غوږ تر څنګ يې په ګڼو ګاڼګوتې تورو ويښتو کې پټه شوه.

سړي وخندل:

ـمور مې دې هم همداسې ووژله، ماښام قضا کاهداني ته ننوتم، تر ماخستنه ماتله وم، مور دې له څراغ سره د باندې راووته، د خوارکۍ سړو اوبو ته زړه شوی و، په لاس کې يې چايجوشه ښکارېدله، نيغه د څاه خواته ور روانه شوه، خو بوکه يې لا نيمايي ته نه وه را پورته کړې چې د تبر وار مې پرې وکړ. اخ يې هم تر خولې راونه ووت، په غېږ کې مې را ړنګه شوه، لاسونه مې سرو وينو ونيول. د هغې سر مې څاه ته ور وغځاوه، په خپله پورته برج ته وختم، د ګوډ خر هاری خوت، غاړه يې د تبر خولې ته ښه جوړه وه، خو ومې نه واژه، که مې داسې کړې وای، نو ستا د مور او پلار قاتل به څوک وای؟ ته به څنګه زما کېدې؟ ګوډ خو مې د بدۍ په پلمه په رښا ورځ هم وژلی شو، ما يې يواځې پر سپينو پايڅو خپل له وينو ډک لاسونه څنډ وهل.

له برجه را کښته شوم، ترور مې له پښو ونيوله، څاه ته مې ور خوشې کړه، پام مې نه و، زرينه خولۍ هم ورسره ولوېده، زه ببرته کاهداني ته ننوتم، شېبه وروسته ته له کوټې راووتې، چيغې دې کړې، ګوډ له برجه راکښته شو.

سړی غلی شو، ببرته يې شونډې وخوځېدې:

په نورو خبرو خو ته هم پوهېږې، ما د کاهداني له وره نه هر څه ليدل، کله چې جانکو د خلکو د خبرولو لپاره د کلادروازه خلاصه کړه، په کلي کې د هغه له چيغو سره سم، زه هم له کلا ووتم.
سړي څراغ ته لاس ور وغځاوه، د ښځې مخ ته يې ورنږدې کړ، خوله يې په وينو سره وه، په سرو شونډو کې يې د لاښين ژيړه رڼا ښکارېدله.
سړي په خندا وويل:
ـ اوس يوائځې ته پاتې يې، غم مه کوه، ستا غم مې هم خوړلی، اوس دې باغ ته بيايم، هلته جامې درنه باسم، بيا دې پر تبر غاړه غوڅوم او لوڅه لغړه دې د جانکو پر ټټر پرېباسم.
د ښځې خرهاری ډېر شو.
د سړي خندا زور ونيو، له خولې يې لاړې باد شوې، هماغسې يې په خندا کې وويل:
ـ په جانکو دومره وخت نه دی وتلی، يو دوه تازه زخمونه به يې په غاړه کې جوړ کم، په خپله وينه راباسي، بس! يوائځې مخ او ځان يې لړ پاکوالی رانه غواړې. ته ووايه! څوک به ما ملامت کړي، ساده خلک دي، ورته وبه وايم چې دواړه سره جوړ ول، يو ځای مې سره ونيول.
د ښځې له خولې ځګونه راووتل، يو دم يې ټکان وخوړ، سړی يې پورې واهه،لاښين ولوېد، ښځه ولاړه شوه، سړي تر پښې ونيوله، ښځې لاښين پورته کړ، کړنګ شو، سړي خپل سر ته غبرګ لاسونه ونيول، په وينښتو کې يې د څراغ ماتې نازکې ښيښې بندې وې، مخ يې لوند شو، د خاورو د تېلو بوی يې پر سپږمو ننوت.

# خونکار

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ښځه زانګې وانګې له کوټې ووته، سپوږمۍ د کلاه د ختيځ برج پر سر ولاړه وه.
ښځې څو ځله چيغې ته خوله جوړه کړه، خو غږ به يې په مرۍ کې تاو راتاو شو، له خولې به يې يو اځې خرهارې را ووت.
باغ ته ننوته، د منو د ونو خواته ور وګرځېده، څو ګامه يې واخيستل، پښه يې لښتي ته ور وښوېده، پر لوڅو پښو يې سړې اوبه ور واوښتې، بېرته پورته وخته، له اوږې سره يې يو څه ولګېدل، په وارخطايي يې ور وکتل، له ټيټې ښاخ څخه د منو سپين ګلان توی شول.
ښځې پر مخامخ دېوال منډه ور واخيسته، ټوپ يې کړل، لاسونه يې د سرداو سر ته ور ورسېدل، له نوکانو سره يې د دېوال کاهګل جلا شو، بېرته شاپر تخته پربوته.
دېوال ته يې وکتل، هسک و، يوه تاک ته ور وښوېده، ځان يې د تاک په ګڼو څانګو کې ننه ايست.
ښه شېبه ووته، د بټۍ سپينه رڼا د منو په ونو کې ګرځېده...وروسته ورکه شوه.
ښځې تېزه تېزه ساه وهله... بيا يې نرۍ غږ واورېد:
ـغوټۍ !
ښځه په خپل ځای کې غلې ناسته وه.
ناڅاپه يو سيوری ور باندې راغی، نرۍ پانې وښورېدې، ښځې خپله ساه ودروله، پر پښه يې يو څوک ور وختل، ښځې خپله لاندنۍ شونډه په غاښونو کې ټينګه کړه، سړی مخکې لاړ.
ښځې سړه ساه ويسته، چوپه چوپتيا وه، چرچرک نارې وهلې...

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ښځې سترګې پټې کړې، دې په تیزی سره ساه وهله.. یودم یې تر ښۍ پښې د یوچا ګوتې تاو شوې، کش شوه، د تاک پاڼې یې له مخ سره ولګېدې، ټکری یې په یوه څانګه کې پاتې شو، پر هوار میدان ستوني ستغ، سرتوره پرېوته.

ښځې په بیړه پورته وکتل، حمید و، د سپوږمۍ رڼا یې پر ببرو وېښتو پرته وه.

حمید د هغې پر ټټر پښه کېښوده، په لاس کې یې تبر ښکارېده.

ښځې د هغه تر پښې ګوتې تاو کړې، سرې د ښځې پر ټټر زور راووست، تبر یې پورته کړ، ښځې وټوخل، تبر ته یې وکتل، په ستورو کې ولاړ و.

ښځې سترګې پټې کړې، شېبه ووته، د ښځې پر مخ او غاړه تاوده څاڅکې ولګېدل. خرهاری یې تر غوږ شو، سترګې یې رڼې کړې، تبر هماغسې پورته ولاړ و.

ښځې حمید ته وکتل،د هغه له ستوني وینو دارې وهلې...تبر یې له لاسه جلا شو، ولوېد، تېره څوکه یې د ښځې غوږ ته نږدې په ځمکه کې ننوته، دی هم مخامخ پر یوه تاک ورغی، لښتې ماتې شوې، درب شو، پړمخې پریووت، له ورمېږه یې د چاړې لاستی راوتلی و.

ښځې ټکان وخوړ، د حمید ځنګنو ته نږدې غبرګ بوټونه ښکارېدل، ښځې په راوتلو رډو سترګو پورته وکتل، یو څوک ولاړ و، څېره یې نه ښکارېده، د سپوږمۍ رڼا یې پر اوږو لګېدله.

ښځه کېناسته، نیم ګز شا ته شوه.

سړی ورمخته شو، ګونډې یې پر ځمکه ولګېدې، څېره یې د سپوږمۍ رڼا ته برابره شوه، ده کړه پزه درلوده، په سترګو کې یې اوښکې ځلېدلې، په غریو کې یې وویل:
_غوټۍ زویه!
ښځې په حیرانی ورته کتل...
سړي د هغې اوږو ته څنډ ورکړ، چیغه یې کړه!
زه یم، غوث الدین!
د ښځې په ستونې کې خرهاری شو، زوروره چیغه یې تر خولې راووته!
_لا لا!
ځان یې د تره غېږې ته ور واچاوه، کوکه یې کړه، د ژړا غږ په ټول باغ کې تاو راتاو شو...
سړي د غوټۍ د ککرۍ په ګڼو پېچلو ویښتو کې ګوتې تېرې کړې، د هغې سر یې پر خپل ټټر پورې ټینګ کړ، د ښځې کوکو زور واخیست.
سړي په غریو کې وویل:
_هر څه به سم شي، هرڅه!
ښځې هماغسې ژړل...
ښه شېبه ووته، د ښځې اوښکې نه تم کېدې، وروسته یې په نیولي جړ غږ وویل:
لا لا! ما دې خپل کور ته بوځه!
سړي د ښځې پر ککرۍ شونډې کېښودې، ښکل یې کړه.
پاو وروسته د سپوږمۍ رڼا په دوو تنو لګېدله، دواړه د منو په ګڼو ونو کې کلا ته د پرې شوي وره خواته روان ول، ښځې خپل سر د سړي پر اوږه

اینبی و، سرې په تګ کې ستونزه درلوده، کینه پښه یې درنه پسې اخیسته.

پای

لیکوال: نصیراحمد احمدي




# راځئ کیسه ولیکو

# ليکوال: نصيراحمد احمدي

## د چاپ کال: ۱۳۸۹ل

## ***د کتاب پېژندنه***

د کتاب نوم: راځئ کيسه وليکو

ليکوال: نصيراحمد احمدي
د ليکوال د تليفون شميره: ۰۷۰۰۲۵۲۱۹۱
د ليکوال ايميل ادرس
nasirahmad_ahmadi@yahoo.com

راځئ کیسه ولیکو

ليکوال: نصیراحمد احمدي


چاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه
خپرندویه ټولنه: مومند خپرندویه ټولنه ــ جلال اباد
کمپوز : پخپله لیکوال
د پښتۍ ډیزاین: احمد شاه امیري
چاپ کال: ۱۳۹۰ ل

# رائۍ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي



لیکوال: نصیراحمد احمدي

## آیا کیسه لیکلی شئ؟

له ځانه پوښتنه وکړئ! آیا کیسه لیکلی شئ؟

بیړه مه کوئ! یوه شېبه د کتاب پاڼې سره ورولئ، کیدای شي نورې جملې وروسته ولولئ!

څه پریکړه مو وکړه؟ "هو" "که" "نه" د کیسې لیکل کوم جادو نه دی، نه هم په لوړو زده کړو پورې اړه لري.

زه ماشوم وم، انا به مې تل کیسې راته ویلې، هغه کوچنۍ وه، په لیک لوست نه پوهیده، خو کله چې به یې کیسې ته خوله جوړه کړه، تر پایه به یې ورسره وړلم، ما به کله کله خپلو خویندو او ورونو ته کتل، ټولو به د انا ګونځې ګونځې خولې ته وچې سترګې نیولې وې، د لالټین په رڼا کې به په خړ دیوال لوی لوی سیوري ښکاریدل، خو حرکت یې نه درلود، غلي به ناست ول. کله کله به د انا له غږ سره د چونګښو کوررړا هم ګډه شوه، نور هیڅ هم نه اوریدل کېدل.

انا نه لوستې ښځه وه او نه یې هم په فني توګه کیسې زده کړې وي،خو هغې خوږې کیسې ویلې، دا په طبیعي توګه د کیسو په ویلو کې تکړه وه.

بېرته به خپلې پوښتنې ته راوګرځو، څه فکر مو وکړ؟ کیسه لیکلی شئ؟

"نه" مه وایاست! "هو" د امید نښه ده، خو که زړه نازړه یاست، دوو پوښتنو ته ځواب ورکړئ!

## راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

۱_آیا د لنډو کیسو او ناولونو له لوستلو سره مینه لرئ؟
۲_غواړئ چې کیسه ولیکئ؟

که څوک له نجار سره شاګرد وي، خو له نجارۍ سره مینه ونه لري، هغه به هیڅکله هم ښې دروازې او کړکۍ جوړې نه کړي، دا یوائې یو مثال و. هر کار همداسې دی. لیکوالي هم په زور نه زده کیږي، لومړی شرط مینه ده. که د لنډو کیسو له ویلو او یا هم لوستلو سره مینه ولرئ، کیسه لیکلی شئ، ان که مو په ټول ژوند کې هم کیسه نه وي لیکلې، پروا نه کوي، ځان وازمایئ ! دا کار دومره ستونزمن نه دی.

خو څنګه کیسه ؟

زموږ کلی ډېر کوچینی دی، ټول اووه کوره یو. یوه ورځ د کلي ځوانان سره راټول شول، په میله ووتو، په یوه شنه دره کې مو د یوه لوی توت سیوري ته واړول، تر یو څه وخته مو قطعې وکړې، وروسته د دیګ د پخولو وخت شو. زما د تره زوی ځان رامخته کړ، دی نوی له ایرانه راغلی و، ویل یې چې لس رقمه وریجي پخولی شي، خو کله چې یې نیم ساعت وروسته دیګ له دیګدانه کښته کړ، په دیګ کې له اوبو ډکه شوله پرته وه. د خوراک پر وخت له ګوتو نه جلاکیده، نه یې رنګ و او نه یې خوند. یوه ځوان طاقت ونه کړ، په خندا یې وویل: "دا خو لکه لانده ګچ چې په غوري کې راته پراته وي ! "د تره زوی مې په خبره کې ورولوېد، په خوند یې ځواب ورکړ: " ما خو درته وویل چې زه لس رقمه وریجي پخولی شم، دا یې یوائې یو رقم دی. "

وروسته وپوهیدو چې هغه د وریجو په پخولو کې تکړه نه و.

## راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

لنډه کیسه هم همداسي ده، یو څه پوهې او زحمت ته اړتیا لري، که غواړو چې ښه کیسه ولیکو او رانه شوله نه شي، نو باید له مینې سره سره ځینو نورو ټکو ته هم پام وکړو.
دا کوم ټکي دي؟

## موضوع

موضوع په مغز کې لومړنۍ جرقه ده، یو څه باید وي چې کیسه پرې ولیکو، که موضوع نه وي، نو کیسه هم نشته، خو څه فکر کوئ، ایا د موضوع موندل ګران کار دی؟
دوه ځوابه لرو، "هو"او "نه " !
که زاړه او تکراري موضوعات را اخلو، ښه یې یو څه وربدلوو، نو دومره سختي نه لري، که لس دقیقې وخت راکړئ ، لس موضوع ګانې به درته پیدا کړم، زړې خبرې ډېرې دي، هر څوک یې موندلی شي ، خو که په نویو موضوعاتو پسې وګرځو، زحمت غواړي، کله کله شاید په ورځو ورځو هم یوه داسي موضوع ونه مومو چې د کیسې په لیکلو وارزي.
ځیني لیکوالان ګمان کوي چې د لیکلو له پاره ډېر موضوعات شته، لامل یې دا دی چې دوی نوی فکر نه لري، زړو موضوعاتو ته پښې او لکۍ ورکوي، خو تکړه لیکوالان په اسانۍ قناعت نه کوي، دوی هغه څه را اخلي چې په خپله یې موندلي وي.
شاید پوښتنه پیدا شي چې له با با ادمه تر دې دمه همدا ژوند دی، نوي څه نشته !

## راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

دا خبره سمه ده، یواځې اختراعات نوي دي، خو هره موضوع مختلفې زاویې لري، د نوې زاویې موندل، په خپله نوې موضوع ده.
یو وخت چېرته میلمه وم، پر دسترخوان څو رنګه خواړه پراته ول، خو ماته یواځې یو ډول خوړو ډېر خوند راکړ، ملګري مې په خندا راته وویل:
"په کچالو ځان مه مړوه، غوښه در واخله."
حیران شوم، څه چې ما خوړل، د کچالو خوند یې نه درلود، څکه (مزه) او بڼه یې د چپلي کباب غوندي وه.
کچالو په هر کور کې پیداکیږي، دوه درې رنګه یې پخوي، خو زما د کوربه په کور کې همدا کچالو له یوې نوې زاویې پاخه شوي وو، بلکل نوې، داسې چې ما خوند ترې واخیست او د کچالو ګمان مې نه پرې راته.
د کیسې له پاره هم باید هرې موضوع ته له یوې نوې زاویې (اړخه) وګورو، که نه نو هماغه ابشېدلي کچالو به وي چې په هر کور کې پیداکیږي، هر څوک یې پخولای شي او په تالو پورې نښلي.
بې تجربې لیکوالان زاړه موضوعات را اخلي، لږ بدلون ورکوي، خو له لیري ښکاري چې ابشیدلي کچالو دي، خو تکړه لیکوالان فکر کوي، له نوښت او ابتکار څخه کار اخلي، دوی کچالو له یوې داسې زاویې پخوي چې نوې بڼه او نوی خوند ولري.
موضوعات ډېر دي، خو نوې زاویه یې یواځې په خپل فکر موندلی شو، ځکه هیڅوخت یو انسان د بل انسان پر ځای فکر نه شي کولای، هر څوک خپل فکر لري او یوې موضوع ته له خپل دیده ګوري.
یو وخت مې یو ملګری مخامخ راته ناست و، پر کاغذ یې یو انګلیسي عدد ولیکه، پر مېز یې کېښود، ورو یې وویل:

ـڅو دي؟
وریاده مې کړه !
ـ نهه ( 9 )
ده وخندل:
ـ ماته شپږ ( 6 ) ښکاري.
یو هم غلط نه و ، دواړو کاغذ ته له مخالفو زاویو کتل.
هره موضوع همداسې ده ، څوک به له یوه اړخه ورته ګوري او څوک هم له بل، هیڅوک نه شي کولای چې د بل چا په ځای فکر وکړي، که داسې وای نو جنایي پولیسو ته به اړتیانه وه.
خو یوه خبره ده ، که د بل پر ځای فکر نه شو کولای، بل ته فکر ورکولای شو.
خو څنګه؟
ځینې ټکې دي چې د ښې موضوع په ټاکلو کې مرسته راسره کوي.
۱ـ که غواړئ چې ښه کیسه ولیکئ ، فکر وکړئ او نوي موضوعات ومومئ، دا له امکانه لیرې خبره نه ده ، شاید ستاسو په سیمه، کلي او شاوخوا کې داسې څه وي چې تر اوسه لا څه نه وي پرې لیکل شوي.
۲ـزړو موضوعاتو ته یوه نوې زاویه پیدا کړئ، دا په خپله نوې موضوع ده.
۳ـ زموږ یو استاد و ، ده د ژور نالیزم زده کړه راکوله، یوه ورځ یې د خبر له پاره د موضوع د ټاکلو په اړه وویل: "که واورئ چې یوه سپي یو سړی وخوړ، نو دا کومه نوې موضوع نه ده ، دا ډول واقعات ډېر پېښیږي ، نه

لیکوال: نصیراحمد احمدي

خلکو ته په زړه پوري دی او نه هم د خبر د جوړولو ارزښت لري، خو که واورئ چې یوه سړي سپی وخوړ نو دا د خبر په جوړولو ارزي. "
په کیسه کې هم همداسې ده، هره موضوع ښه کیسه نه ورکوي ! ژر قناعت مه کوئ، د کیسې له پاره د عادي موضوعاتو له ټاکلو ډډه وکړئ.
!
**۴**_ هیڅکله لویه او عمومي موضوع مه انتخابوی، که موضوع هر څومره وړه وي، ښه فوکس ( تمرکز ) لري، لیکوال لاره نه ورکوي او په طبیعي توګه یوه نوې زاویه ورته موندلی شي.
( په دې اړه به کیسو ته د اهدافو د ټاکلو په برخه کې نورې خبرې وکړو . )
**۵**_ فکر وکړئ ! نن چیرته لاړئ؟ څه مو واورېدل؟ څوک مو ولیدل؟
مونږ هره ورځ له لویو او وړو موضوعاتو سره مخامخ کیږو یا یې اورو ، خاندو ، خپه کیږو او یا هم داسې څه وینو چې په احساساتو کې مو بدلون راځي، خو شېبه وروسته مو هېر وي
ځینې دا ډول واړه موضوعات نوي وي او په زړه پوري کیسې ورکوي، ښه دا ده چې تل د یادښت یوه وړه کتابچه راسره ولرو او وېې لیکو.
باور وکړئ، هره هغه نوې موضوع چې تاسو ته په زړه پورې وي او په احساساتو کې مو بدلون راولي، نورو ته هم د لوستلو وړ ده.
**۶**_ انګرېز لیکوال ګراهام ګرین د یوه کوچیني عادت له مخې په لیکنه کې بریالی و ، ده به د ورځې تر پنځو سوو کلمات لیکل، مختلف کلمات، پرته له فکره، څه چې به په ذهن کې ورتلل هماغه به یې د کاغذ پر مخ راوړل، وروسته به یې چاڼ کړل، څو ټکي به یې ترې راوایستل، حتما به داسې موضوعات پکې ول چې کیسه ترې جوړېدای شوای.

نو هڅه وکړئ چې نوي موضوعات پیدا کړئ ، یا هم زړو موضوعاتو ته له نوي دیده وګورئ، زړه موضوع د ټوکې غوندي ده، چې په لومړي ځل اوریدو یې انسان خندوي، خو که تکرار شي مزه یې ځي.

## هدف

موضوع مو انتخاب کړه، اوس څه وکړو؟
څه موده وړاندې یو چا له جلال اباد څخه زنګ راته وهلی و، ویل یې:
"لنډه کیسه لیکم، خو نه پوهېږم چې ولې رانه اوږدیږي؟ "
ډېر لیکوالان چې کله موضوع پیدا کړي، له فکر کولو پرته یې په لیکلو پیل کوي، دا ډول کیسې ښې نه راځي، له فوکسه (تمرکزه) وځي، هدف یې نه وي مالوم، یوې بلې خواته غځیږي، نه لیکوال خوند ترې اخیستی شي او نه هم لوستونکو ته په زړه پوري وي، ځکه نو د کیسو د لیکلو له پاره د هدف درلودل مهم دی.
هدف څه ته وایو؟

## راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

په دفتر کې کار کوئ، د رخصتۍ وخت دی، له کوره زنګ درته راځي، وایي چې میلمانه لرو، سودا درسره راوړه!
طبیعي ده چې پوښتنه کوئ.
_ څه شی په کار دي؟
_ په مېلمنو کې یو ناروغه دی، د سا لنډۍ ستونزه لري، ډاکټر ورته ویلي، چې د چرګ ښوروا څښه! چرګ په کور کې ګرځي، له اخیستلو یې خلاص یو، خو تر کاري نشته!
خبره روښانه شوه، نه د قصابۍ دوکان ته ځئ او نه هم په وریجو پسې ګرځئ، هدف تر کاري ده.
که په کیسه کې هدف و لرو، موضوع هرې خواته نه رانه ځي او په طبیعې توګه غځیږي.
هدف د دیوال د تهداب په څېر دی، که تهداب کوږ او خام وي، نو بد شکله او کمزورې پخځه به و وهو،
خو څنګه هدف؟
۱_یوه ورځ مې په یوه مجله کې یوه کیسه ولوسته، د کیسې موضوع ډېره عمومې وه، لیکوال هڅه کړې وه چې په کیسه کې د قاتل عواقب انځور کړي. ده په دوو _ دریو مخونو کې دومره خبرې را اخیستې وې چې یو ناول پرې لیکل کیدای شوی، هرې خواته تللی و، خو یوه خوا یې هم نه وه پوره کړې. زه ونه پوهیدم چې د دې کیسې له لیکلو څخه د لیکوال هدف څه و، لوستونکي ته یې څه لرل، هغه یې په کومه برخه پوهاوه؟
که واورو چې یو چا قتل کړیدی، په ذهن کې به مو په لسګونو پوښتنې را پیدا شي؟

## راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

۱ـ ولي یې قتل وکړ؟
۲ـ تر قتل مخکې یې څه ډول احساسات درلودل؟
۳ـ د قتل د عملي کولو له پاره یې څه ډول پلان جوړ کړ؟
۴ـ مقتول یې څنګه پیدا کړ؟
۵ـ څنګه یې وواژه؟
ـ ګټه یې څه وه؟
۷ـ پولیسو څنګه ونیو؟
۸ـ د نیولو پر مهال یې څه ډول احساس درلود؟
۹ـ کله چې یې کورنۍ خبره شوه، څه یې وکړل؟
۱۰ـ قاتل چې کله په زندان کې د پنجرو تر شا په زړو او شلېدلو جامو کې خپله مېرمن او ماشومان ولیدل، له روانې پلوه یې څه حال درلود؟
۱۱ـ په زندان کې یې ژوند څنګه و؟
۱۲ـ ډوډۍ یې ښه وه؟
۱۳ـ د ازادۍ په اړه یې څه فکر کاوه؟
او په لسګونو دا ډول نورې پوښتنې.
که ناول لیکو کیدای شي چې یاد شوي ټول اهداف پکې راوړو، ځکه په ناول کې مو لاس خلاص دی، هر لور ته یې غځولی شو، خو لنډه کیسه داسي نه ده، د لنډې کیسې له پاره به یو کوچینی هدف ټاکو، کله چې هدف کوچنی و، موضوع هم ښه فوکس پیدا کوي او هر لور ته نه رانه ځي.
غواړو چې په ونه کې د یوې مرغۍ عکس واخلو، هدف مو یواځې په هسکه څانګه کې ناسته مرغۍ ده، ځکه نو په کمره کې ګورو، د کمرې د زوم پر بټنه فشار راوړو، مرغۍ مو د سترګو مخې ته درېږي.

یو بل مثال:
په کوچینیتوب کې مې د عینکو یوه شیشه پیدا کړه، له لیرې مې کاغذ ته ونیوله، خو کاغذ ونه سوځېد ، ځکه له شیشې څخه د لمر تېرېدونکې وړانګې د کاغذ په ټولو برخو مساوي لګېدې، خو وروسته مې چې شیشه کاغذ ته ور نږدې کړه،اول په کاغذ کې یو ټکی تور شو، بیا یې اور واخیست.
دلته د لمر وړانګې یواځې په یوه ټکي راټولې شوې. کیسه هم همداسي ده، ووړ هدف ورته وټاکئ، ووړ هدف فوکس لري،کیسه رانه هرلوري ته نه خپرېږي.
د پورتني لست یاده شوې هره موضوع یوه کامیابه کیسه ورکوي، مثلا لسمه موضوع را اخلو، د پاڼې په سر کې لیکو:
د کیسې نوم: د پنجرو تر شا
هدف : د دې کیسې له لیکلو څخه یواځې یو هدف لرم، غواړم لوستونکی په دې وپوهوم چې که یو څوک قتل وکړي، نو د زندان د پنجرو تر شا به د خپلې ښځې او ماشومانو په لیدو له رواني اړخه ځومره ځورېږي؟
د کیسې هدف و ټاکل شو، که دا هدف په کاغذ کې لیکلی وي او د کیسې د لیکلو پر مهال لیکوال کله کله ورته وګوري، نو په لیکنه کې به هیڅکله بله موضوع ور ګډه نه کړي، په دې پسې به نه ګرځي چې د قتل تخشه څه وه؟ ولې یې قتل وکړ؟ پولسو څنګه ونیو؟..... او داسي نورې پوښتنې، ځکه دلته اصلي هدف لیکل شویدی، هدف دا دی چې قتل مه کوه ! که نه ستا به هم د خپلې کورنۍ لیدو ته سترګې وخیژې.

راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

هره هغه خبره چې په هدف پورې اړه نه لري او بلې خواته ځي، بله کیسه پرې لیکلی شو، خو په دې کیسه کې ځای نه لري.
د کوچیني هدف ټاکل کیسه چاڼوي او اضافه خبرې ترې باسي، هڅه وکړئ چې وړه موضوع انتخاب کړئ، فکر ورته وکړئ، هدف ورته ولیکئ او کیسه د هدف له مخې وغځوئ.
۲_د هدف ټاکل د لیکوال فکر راټولوي، کله چې فکر راټول شو، ذهن مو یوازې د موضوع په هغه زاویه راګرځي چې کیسه پرې لیکو.
یو څوک شطرنج ته ناست دی، هدف یې د لوبې ګټل دي، دی د لوبې تر پایه د بل څه په اړه فکر نه کوي، یوازې د شطرنج تختې ته ګوري، فکر یې سره راټول دی، یو ساعت، دوه ساعته، درې ساعته، یوازې د لوبې د ګټلو په اړه فکر کوي.
کیسه هم همداسې ده، که هدف ورته ولرو، فکر به مو یوازې د هدف په لاسته راوړلو پسې ګرځي، ژور فکر به کوو، نتیجه به یې ښه وي.
۳_د هدف ټاکل د تصویر په جوړونه کې هم مهم رول لري، مخکې مو یادونه وکړه چې د کیسې له پاره باید کوچینی هدف ولرو، د هدف درلودل کیسه تصویرې کوي او نوي تصویرونه مو په ذهن کې راګرځي.
بېرته د شطرنج مثال ته را ګرځو.
په کوټه کې هر څه دي، مېز، چوکۍ، غالۍ، پردې، پر دیوال را ځړېدلې تابلوګانې، د دیوالي ساعت ټکا...هر څه، خو د شطرنج لوبغاړی په دې یوه پسې هم نه ګرځي، هدف یې یوازې د شطرنج ګټل دي، شطرنج خپله تخته لري، دی یوازې همدې تختې ته ګوري، ټول پام یې سپینو او تورو خانو او د شطرنج دانو ته دی، کله کله د حریف لاس هم تختې ته ور

اوږدیږي، دی یې یواځې ګوتو ته ګوري، خو له ګوتو سره یې کومه علاقه نه لري ، د هغه لستونې ته یې هم سترګې نه ور اوړي، په دې پسې یې نه ګرځې چې رنګ یې څه دی او په څه ډول تار ګنډل شوی، دی یواځې د حریف په ګوتو کې نیولې دانې ته ګوري چې چېرته یې ږدي او د ده راتلونکی حرکت به څه وي؟
لوبغاړی یواځې د شطرنج تختې ته دقیق دی، که یو مچ پر تخته کښیني شړي یې ، وروسته بیا په دې پسې نه ګرځې چې ده ته نږدې د چایو په پیاله کې ولوېد که په بله خوا لاړ، ان د دانو ( پاچا، وزیر، اس، پیاده ) شکلونه یې هم په ذهن کې حک شویدي، که یې څوک د ظاهري جوړښت په اړه پوښتنه وکړي، ستونزه نه لري، ښه یې ورته تشریح کولای شي.
لوبغاړی د خپل هدف په لاسته راوړلو کې دومره ژور تللی چې د شطرنج د تختې پر سر د دوړو ذرې همویني.
ځکه نو کیسې ته د کوچیني هدف ټاکل، هغه تصویرونه راباندې ویني چې تر اوسه د بل لیکوال پام نه وي ور اوښتی. که کیسه هدف ولري، عمومي، تکراري او اضافه تصویر به ور نه کړو، تصویرونه به دقیق وي، فکر به مو یواځې د شطرنج په څلور کونجه تخته کې راټول وي او له موضوع وتلې تصویرونه به نه را اخلو.
**۴_ د هدف درلودل د اضافه خبرو مخه نیسي.**
د فوټبال لوبه به مو لیدلې وي، لوبغاړي نوي دقیقې منډې وهي، هدف یې مالوم دی، ګول وهل او مقابلې ډلې ته ماته ورکول.
د لوبې پر مهال لوبغاړي څه وایي؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

د دوی ټولې خبرې یوازې د لوبې په اړه وي، نه تیره لوبه او نه هم راتلونکې، هماغه ساعت ، د هماغه لوبې له پاره چیغې وهي....

" پاس راکړه ! مخکې شه، حریف ونیسه، ګول... "

دوی په نوي دقیقو کې د بل څه په اړه فکرنه کوي، نه د سیاست په اړه غږیږي، نه د خوراک غم ور سره وي او نه هم دا وایي چې پاچا دوې اوزې لري او که نه؟ !

ټول فکر، هواس او خبرې یې یوازې د لوبې ګټلو ته ځانګړې کړې وي، د فوټبال په مستطیل شکله میدان کې راګرځي، نه اضافه خبرې کوي او نه هم بله موضوع مینځته را اچوي.

لنډه کیسه هم همدا سې ده، که هدف ولرو، همدا هدف مو په طبیعي توګه اضافه خبرو ته نه پریږدي، کرکټرونه به بیځایه نه غږوو، هره جمله به مفهوم او مانا لري او په هدف پورې به تړلې وي.

په عمومي توګه، هدف په کاغذ کې د لیکلي ادرس غوندی دی، که ادرس درسره وي، په ګڼ او نابلده ښار کې په اسانۍسره هغه ځای موندلی شئ چې هدف مو وي.

# د کیسې نوم

یو وخت مې د یوې مجلې پاڼې سره اړولې، یوه کیسه مې پیدا کړه، لیکلي و:
لنډه کیسه
ځوانیمرګ
که تاسو دا نوم واورئ ، په ذهن کې به مو څه در وګرځي؟
که نور نه وي نیمه کیسه خو درته روښانه شوه، په دې خو وپوهیدئ چې یو څوک به وژل کیږي، یا به هم په خپله مري، هغه هم په ځوانۍ کې !
زموږ ډېر لیکوالان خپلو کیسو ته همدا ډول نومونه ټاکي.
" ارمان یې پوره شو، شهید، نیمه خوا مینه، دوې جنازې..او داسي نور. "
دا هغه نومونه دي، چې د کیسې تلوسه له مینځه وړي، لوستونکی مخکې له مخکې د کیسې په محتوا پوهیږي، د کیسې له ویلو خوند نه اخلي.
خو که چیرې کیسه دکیسې له نوم سره سمه پیل شي، دومره جدي ستونزه نه ده.
مثلا: که د کیسې نوم ( غلا ) وي او په پیل کې کیسه په غلا شروع شي بیا پروا نه کوي.
غلا
احمد په بیړه د پولیسو ماموریت ته زنګ وواهه، په وارخطایي یې وویل:

راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ـهلو، هلو ! هیله کوم ! مرسته راسره وکړئ، زما کور ته غل راغلی، په هغه بله کوټه کې یې صندوقونه خلاص کړي. توپانچه هم ورسره ده.
په دې توګه کیسه نه واضح کیږي او تلوسه یې له مینځه نه ځي. په دې اړه به د کیسې د تلوسې په برخه کې په تفصیل سره خبرې وکړو.
د کیسې نوم ډېر ضروري دی، ډېر وخت یواځې نوم د دې لامل کیږي چې پر یو چا کیسه ولولو.
تاسو به په تلویزیونونو کې تجارتي اعلانونه لیدلي وي، سوداګر د دې لپاره اعلان کوي چې خپلو تجارتي اجناسو ته خریدار پیدا کړي، دوی د اعلانونو د جوړولو او خپرولو لپاره لګښت په غاړه اخلي، له اعلان جوړوونکو غواړي داسې اعلان ورته جوړ کړي چې د لیدونکو پام ور واړوي ، په بله مانا سوداګر د اجناسو د پلورلو له پاره تبلیغ کوي، د کیسې نوم هم همدا سې دی، که یې مانا او تلوسه درلوده، کیسې ته تبلیغ دی، په ډېرو یې لوستی شی.
څوک نه شي کولای چې ستاسو کیسې ته نوم وټاکي، ځکه کیسه تاسو لیکلې او تر هرچا پخپله ښه نوم ورته ټاکلی شئ، خو په څو ټکو کې لنډه مشوره درکولای شي:
۱ـهیڅوخت کیسې ته داسې نوم مه ټاکئ چې نوم د کیسې محتوا روښانه کړي.
۲ـپه نوم کې خپل شخصي قضاوت مه ور ګډوئ،مثلا: ښه سړی، بد هلک، هوښیار، ساده، ښکلی، بدرنګه، مظلوم، ظالم... او داسې نور.
۳ـکیسې ته هوایي نوم مه ټاکی، نوم باید د کیسې له محتوا سره تړاو ولري، خو نه دا چې کیسه روښانه کړي.

۴_ اول ماشوم پیداکیږي، بیا نوم ورباندي ږدي، نو لومړی کیسه ولیکئ، بیا نوم ورته وټاکئ، د دې کار ګټه دا ده چې لیکلې کیسه مو په ذهن کې ناسته ده، یو عمومي تصویر ترې لرئ، هره خوا یې سنجولی شئ ، کیدای شي په زړه پورې نوم ورته پیدا کړئ.

## د کیسې پیل او تلوسه

لیکوال: نصیراحمد احمدي

د کیسې د جوړښت په اړه یوه اروپایي لیکوال ( نوم یې رانه هیر دی ) پخه خبره کړېده:
" کیسه د مار غوندي ده، سر، مینځ او لکۍ لري، پښې او لاسونه نه شو ورکولای. "
لومړی به د کیسې د پیل او تلوسې په اړه خبرې وکړو.
څه موده مخکې مې یو انګریزي فلم وکوت، لومړنۍ یوې دقیقې یې اړ ایستم چې پوره یونیم ساعت تلویزیون ته کښېنم.
ولې؟ ما څه ولیدل؟
یو ځنګل و، ګڼ ځنګل، هسکې ونې یې درلودې، په چوپه چوپتیا کې یو ثوک پر وچو پاڼو وخوت، یو تور مار تر یوې وچې ځانګې را تاو شو، کمره د یوه بنیادم پښو ته سیخه شوه، سړي منډې وهلې... ما یې د ساه ایستلو غږ اوریده...کمره د سړي مخ ته برابره شوه، دی ځوان و، له خولې یې وینې بهېدلې، ګرین یې په ختهو لړلی ښکارېده.
سړی څو ځایه ولوېد، بېرته پورته شو، ناڅاپه ودرېد، په وارخطایۍ یې پورته وکتل، یو لوی سیوری ورباندې راغی، پرې ور تېیت شو. ځوان خپلو سترګو ته لاس ونیو، یوه تیره او وحشتناکه کوکه یې له خولې را ووته. یوه رڼا او د یوې دقیقې ختم.
دوهمه صحنه له عادي ژونده پیل شوه، ښار و، دیوې کورنۍ پنځو غړو( مور، پلار او د دوی دریو اولادونو میلې ته د تګ تیاری نیوه. دا چې د فلم پاتې برخې څنګه وې او څه پېښ شول، په دې اړه به د کیسې د مینځ او تلوسې په برخه کې خبرې وکړو.

## راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

خو زما په ذهن کې د فلم لومړنۍ یوې د قیقې پرله پسې پوښتنې را ولاړې کړې:
دا سړی څوک و؟ په ځنګله کې یې څه کول؟ ولې یې منډې وهلې؟ له څه شي وېرېدلی و؟ له لاړو سره یې وینه ولې راتله؟ چا لاس ور اچولی و؟ ځناورو برید پرې کړی و؟ څه خبره وه؟ هغه سیوری د څه و؟ سړي ولې چیغه کړه؟ ایا مړ شو، ایا ایا ایا....په لسګونو نورې پوښتنې، .داسې پوښتنې چې ما یې ځواب غوښت ، بله لاره نه وه، د فلم د پیل یوې دقیقې پوره یونیم ساعت تلویزیون ته کینولم.
له تخیل څخه به رښتیني ژوند ته راشو.
که په کور،کلي کې یو څوک د یوې پیښې کیسه را ته کوي، نو اصله خبره په پیل کې یادوي:
ـ خبر شوې؟
دلته اوریدونکی په طبیعي توګه له موضوع سره دلچسپي ښیي.
ـنه ! څه خبره ده؟
ـفلانی مړ شو.
اوریدونکی ټکان خوري ، یودم یې په ذهن کې پوښتنې را ولاړېږې:
ـ ولې؟ هغه خو روغ .جوړ و؟ تېره ورځ مې ولید ، غنمو ته یې اوبه ور خوشې کړې وې، څه ټکه پرې پریوته؟ چا وواژه، که له بامه را ولوید ؟....
اوریدونکی غواړي چې د خپلو پوښتنو د ځواب له پاره په کیسه خبر شي، دی تلوسه لري، نا ارامه دی، خو لومړی تن شاید په عادي توګه کیسه داسې پسې وغځوي:

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ـسهار له کوره ووت، ویل یې چې سودا راوړم، خپل زوړ بایسکل یې تر ښکرو ونیو، خو کله چې پاخه سړک ته وخوت، موټر وواهه !
یا شاید د کیسې بیان تر دې هم سوړ وي، خو د اورېدونکي تلوسه لا نه ده سړه شوې، دی لا د خپلو پاتې پوښتنو ځواب ته ماتله دی، که څه هم وروسته د هغه یوه یوه پوښتنه په خپل وار سره ځواب شوه، خو دی یې اړ کړ چې کیسه تر پایه واوري.
یا یوه بله خبره. احمد راځي، ناڅاپه محمود ته وایي چې ( علي ) کور واخیست. محمود ته پوښتنې پیدا کیږي:
ـ ده خو د بیگاه نه لرل، دومره پیسې یې له کومه کړې؟ غلا به یې کړې وي، نه والله، حتما یې د پیسو لپاره څوک وژلی دی، . نور نور نور....
دلته محمود ته تلوسه پیدا شوه او غواړي چې پوښتنې یې حل او په کیسه پوه شي.
په دغو مثالونو کې قوي خبره او داسې څه چې وروسته تشریح ته اړتیا لري او اوریدونکی تر پایه ورسره ساتي، په پیل کې وشوه.
هر هغه پیل چې د لوستونکي په ذهن کې پوښتنې را ولاړې کړي، دا زور لري چې کیسه تر پایه پرې ولولو.
خو قوي پیل قوي فکر غواړي، داسې یو فکر چې لوستونکی د کتاب اېښودلو ته پرېنږدي.
موږ دوه ډوله ادبیات لرو: کلاسیک او معاصر. په کلاسیکو ادبیاتو کې فولکلوریکې کیسې هم راځي. ډېری دا ډول کیسې له (( و نه وو )) شروع شوېدي، یوه بیلگه:

" وو نه وو د خدای کړه وو، د بنده ورته کاته وو، په پخوا زمانو کې یو پاچا و، ده زوی نه درلود، په زیارتونو وګرځېد، تاویزونه یې په غاړه کړل، د طبیبانو دواوې یې وخوړې ، خو پلار نه شو. یو سهار یې یو ملنګ دروازې ته ودرید، پاچا ته یې یوه مڼه ورکړه، نیمه ده وخوړه او نیمه یې هم میرمنې.
نه میاشتې ، نه ورځې ، نه ساعته وروسته پاچا ته خدای ګلالی زوی ورکړ. پاچا خوشاله و، ټول خلک یې راوبلل، جشن یې ونیو، ا ووه شوا روزه یې دوام وکړ.
وخت تېرېده، ماشوم په ناز او نعمت کې را لوی شو، د ځوانۍ مرحلې ته ورسېد، یوه ورځ یې له یوې بوډۍ څخه د یوې ښاپیرۍ د ښایست خبرې واورېدې، ده هوډ وکړ چې ښاپیرۍ به خپلوي، خو هغې ته رسېدل اسانه خبره نه وه، شرطونه یې لرل. شهزاده باید اوسپنیز بوټونه په پښو کړي وای، تر اوو غرونو اوښتی وای، زمری یې وژلای وای ،له دیوانو سره مخامخ شوی وای او په پای کې یې له یوه ښاماره د هغه اووه سرونه غوڅ کړي وای.... "
له "وو نه وو "تر اوسپنیزو بوټونو پورې اصلې کیسې درې مخه نیولې وو. دا پخواني نکلونه دي، په هغه وخت کې ښه و، اوس هم په غوږو ښه لګیږي، خو نن بله دنیا ده، هر څه بدل شوي، وده یې کړې، نوښت پکې راغلی. ادبیات هم همداسې دي، اوسنۍ کیسې له پخوانیو سره توپیر لري، که څوک غواړي چې اوس کیسه ولیکې باید له اوسپنیزو بو ټونو، د سفر پرېکړه او د شرطونو له یادولو څخه یې پیل کړي. دا هماغه خبرې دي چې د لوستونکي په ذهن کې پوښتنې را ولاړولی شي. که نه نو په

لیکوال: نصیراحمد احمدي

لوستونکي یې څه چې پاچا زوی لري که نه، ډېر خلک بې اولاده دي، یو دې دی هم وي.
د اوسپنیزو بوټونو په پښو کول، لوستونکی د کیسې لوستلو ته هڅوي، په ذهن کې یې پوښتنې را ولاړېږي. ولي ؟ د څه له پاره؟ چیرته ځي؟ څنګه ځي؟ څه کوي؟...
په پیل کې د لوستونکي ذهن له پوښتنو ډک کړه، وروسته بیا په ډېره ساده توګه کیسه له هماغه ( وو نه وو ) سره تړلی شې، خو شرط دا دی چې دا لینک او ارتباط باید ماهرانه وي.
مثلا:
شهزاده اوسپنیز بوټونه په پښو کړل، توره یې راواخیسته، اس ته یې وکتل، د څټ اوږده ویښتان یې باد رپول...
د اس پر تندي یې لاس تېر کړ، ورو یې وویل:
ـ اووه غرونه مې تر مخې دي، له زمریانو سره به څه کوم، دیو هم د تور غره په تورو ډبرو کې راته پټ دی، خدای خبر ! زه به خپله مینه تر لاسه کړم؟ !
شهزاده پر یوه هواره تیږه کیناست، سر یې وځړېد ، د لاس اوږدې ګوتې یې په خپلو تورو ویښتو کې تېرې کړې، د خپل پلار خبره یې سترګو ته ودرېده، پلار یې په ژړا کې چیغې وهلې !
ـد ښاپیریانو له وطنه لیرې ګرځه ! خطر لري، ما یواځې مه پرېږده !
پاچا همدا یو زوی درلود ، شل کاله مخکې یې اولاد نه کېده، دی په زیارتونو وګرځېد ، تاویزونه یې په غاړه کړل، د طبیبانو دواوې یې وخوړې ،خو پلار نه شو ، یو سهار یې یو ملنګ دروازې ته ودرید ، پاچا

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ته یې یوه منډه ورکړه، نیمه ده وخوړه او نیمه یې هم میرمنې، نه میاشتې ، نه ورځې ، نه ساعته وروسته پاچا ته خدای یو ګلالی زوی ورکړ او ....
په دې توګه کیسه تر اوسپنیزو بوټونو را ورسوه او وروسته د کیسې قهرمان د شرطونو له پوره کولو سره مخامخ کړه.
دا ډول پیل د لوستونکي په ذهن کې پوښتنې را پیدا کوي، تلوسه ډېروي، دومره زور لري چې کیسه پرې ولولو.
دلته لیکوال یوه بله ګټه هم کولای شي، لوستونکی له شهزاده سره، چې د کیسې اصلي کرکټر دی، ځان خواخوږی ښيي، د هغه په قالب کې ننوځي ، پوهیږي چې سختې ته یې ملا تړلې ده، دی د پلار یو زوی دی، پلار یې هیلې او ارمانونه لري، نو دی به د دغو شر طونو په پوره کولو کې بریالی شي؟ زمریانو ته به څنګه ماته ورکوي، له دیو نه به په څه ډول خلاصیږي... او داسې نورې پوښتنې او اندیښنې چې د شهزاده په اړه له لوستونکي سره پیدا کیږي. لوستونکی ځان د کیسې قهرمان ته تر ټولو نږدې ګڼي او له هغه سره پل په پل ګام ږدي.
زموږ ډېرې کیسې له ماضي څخه شروع او حال ته راځي ، دا هم کله کله خوند لري، خو موږ باید د کیسو له نورو جوړښتونو څخه هم ګټه واخلو. کله یې په حال پیل کړو ، ماضي ته لاړ شو او کله له حاله د یو چا تېر ژوند ته ور وګرځو ، بېرته خپل ځای ته راشو او راتلونکی یې پسې و څېړو ، او کله یې هم د راتلونکې پلان په اړه خبرې وکړو ، بېرته حال یا ماضي ته لاړ شو. په دې توګه به مو کیسې، ناولونه او هره بله لیکنه له یو رنګه والي څخه ساتلې وي.

ليکوال: نصيراحمد احمدي

مخکی تر دې چې کيسه وليکئ، اول د کيسې عمومې چوکاټ په ذهن کې جوړ کړئ، يا يې هم د کاغذ پر مخ راوړئ، هر هغه څه چې په کيسه کې ډېر کشش ولري، د لوستونکي په ذهن کې پوښتنې راولاړې کړي او يا هم قوي غوټه پکې نغښتې وي، هغه په پيل کې راولئ، د پيل دوې ـ درې جملی کولای شي چې د لوستونکي ذهن له پوښتنو ډک کړي، وروسته بيا يوه يوه پوښتنه ځواب کړی او لوستونکی تر پايه درسره وساتئ.

زموږ ډېر ليکوالان کيسې له هماغه ( وو نه وو د خدای کړه وو ) څخه پيلوي، خو د کيسې د پيل او نوښت له پاره ډېرې لارې لرو چې يو څو نمونو ته په لنډه توګه اشاره کولای شو:

١ـ موږ کولای شو چې کيسه وار له واره په لنډو ډيالوګونو پيل کړو:

ـته د باز ګل قاتل يې !

ـ نه ! باور وکړه ! زه هغه نه پېژنم !

ـ دا چاړه مې ستا په موټر کې پيدا کړه، عدلي طب وايي چې د چاړې پر لاستي ستا د ګوتو نښې دي.

د ځوان سر وځړيد ، سلګۍ يې شوې، يوه شېبه غلی و ، وروسته يې په بيړه پورته وکتل، د څارنوال غټې سترګې له سرو رګونو ډکې وې.

ځوان د مېز پر سر ايښې چاړې ته سترګې ور واړولې، تر لاستي پر وينو سره وه، يودم يې وويل:

ـخو دا چاړه زما نه ده، قسم خورم !

څارنوال د ځوان ګرین ته لاس ور واچاوه، جټکه یې ورکړه، د مېز پر سر ایښی تلیفون وشرنګید، د ځوان ګرین یې پرېښود، ګوشۍ یې ور پورته کړه، په سترې غږ یې وویل:
_ هلو؟
یوه شېبه غلی و، وروسته یې یودم چیغه کړه:
خو زه ثبوت لرم!
دا وخت د کوټې دروازه وټکېده....

۲_ کیسه له تصویر نه هم پیلولای شو:

_ نجلۍ منډې وهلې، ټکری پسې ښخېده، لوڅې پښې وه، ناڅاپه کېناسته، له ښۍ پښې څخه یې ازغی ویست، بېرته یې منډه کړه، شېبه وروسته د رود غاړې ته ورسېده، اوبو ته یې وکتل، سره اوښتې، پر سر یې سپین ځګونه روان ول، د ټوپک ډز شو، مرمۍ یې پښو ته نږدې په یوه پلنه ډبره ولګېده، شنهاری یې پورته شو.
نجلۍ شا ته وکتل، د غونډۍ په پیڅکه کې دوه تنه ښکارېدل، د دې خواته یې منډې وروهلې، یو ودرېد، د ټوپک نلۍ یې ورواړوله، نجلۍ ټوپ کړل، په سپینو ځګونو کې ورکه شوه...

۳_ په پیل کې د یوې پوښتنې پرېښودل:

ليکوال: نصيراحمد احمدي

خداینور سره ساه واخیسته، کولبه يې د پټې په مينځ کې ودروله، روان شو، د لښتي په غاړه د توت د ونې سیوري ته کېناست، پټې ته يې وکتل، د کولبې غوایانو د شدیارې په وچو لوټو بوی کېښن.
خداینور یو سوړ اسویلی ویست، تندي يې ګونځې پیدا کړې، له ځان سره يې وویل:
_نه کیږي ! دا پردی دهقاني به تر کومه کوم؟ زه پیسو ته ضرورت لرم، ډېرو پیسو ته، ولور مې په مخکې دی.
یوه شېبه فکر یووړ، وروسته يې یو دم وویل:
_اته لکه ! ډېرې پیسې دي، خو څنګه؟ !
ولاړ شو، ګړندي ګامونه يې واخیستل، د کلي خواته يې مخه کړه...د ملک غوایان په شدیاره کې ولاړ ول....

۴_ د کیسې په پیل کې د دوو متضادو نظرونو راوړل:
ګلدین د پړي په یوه سر کې له اوسپنې جوړ لوی چنګک وتاړه، پورته يې وکتل، د سپوږمۍ په رڼا کې د کلا هسک دېوال ویروونکی ورته وایسېد، دېوال تر سره هوار و، یواځې ځای ځای د راوتلیو لوټو سیوري ښکارېدل، تر څنګ ولاړ په عمر پاخه سړي ته يې وکتل، ورو يې وویل:
_ له وسه مې تېره ده !
سړی په خبره کې ورولوېد:
_ مه کوه ! ته ځوان يې، باید تر دېواله واوړې، اوس يې وخت دی ! د پلار غچ دې واخله !
ځوان یو دم شاته شو، په تېټ وبرېدلي غږ يې وویل:

ـ ما خو سهار هم دریاده کړه ! زه څوک نه شم وژلای !
سړي د واسکټ جېب ته لاس کړ، توپانچه یې راوایسته، د ځوان په لاسو کې یې کېښوده....
دا یوائې یو څو نمونې وې، موږ کولای شو چې د کیسې لپاره تر دې ښه پیل انتخاب کړو، په پیل کې پوښتنې راولاړې کړئ، له نوښت څخه کار واخلئ او هره کیسه له یوې نوې زاویې پیل کړئ !
نوښت د کیسې مالګه ده.

# د کیسې منځ او تلوسه

زموږ ډېر لیکوالان د کیسې تلوسه ترپایه نه شي ساتلی، غو ټه ډېر ژر ترې پرانیستل کیږي او لوستونکی مخکې له مخکې په دې پوهیږي چې خبره څه ده؟
د کیسې په مینځ کې باید کوم ټکي په پام کې ونیسو؟ څرنګه کولای شو، چې تلوسه تر پایه وساتو؟
بېرته به د فلم پاتې برخې ته راوګرځو.
موږ فلم له کیسې څخه نه شو بېلولی، هر فلم ته لومړی کیسه لیکل کیږي، وروسته په سناریو اوړي او د سینما پر پرده راځي، زه نه غواړم چې ټول فلم درباندې وګورم او هره برخه یې له کیسې سره پرتله کړم،

## راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

یو اځې دومره وایم، چې زما له خپل دیده د کیسې پیل باید څنګه وي او په پاتې برخه کې یې په څه ترتیب تلوسه ساتلی شو.
د فلم په دوهمه صحنه کې یوې کورنۍ مېلې ته د تګ تیاری نیوه، ډېر وخت یې واخیست، خو زه یې ستړی نه کړم، ځکه زما پوښتنې لا نه وې ځواب شوې، ما یې ځواب غوښت.
درېیمه صحنه په ښکلې منظره پیل شوه. یو کوچنی موټر د یوه شنه ځنګله په مینځ کې پر پوخ سړک روان و، په موټر کې ناست کسان خوشاله ښکارېدل ، خندل یې، په خپل منځ کې یې ټوکې سره کولې. نا څاپه یې د سړک پر غاړه یو بل موټر ولېد ، چې پر یوه خوا کوږ و. دوی ودرېدل، د ولاړ موټر ښېښې ماتې وې خو د ټکر کومه علامه یې نه درلوده. په موټر کې د ښکار اسباب او یو کوټ ښکارېده. پلار د کوټ جېب ته لاس کړ، له څو نوټونو سره یې یو د هویت کارت را ویست، په کارت کې د هغه چا عکس و چې ما د فلم په لومړۍ یوه دقیقه کې لیدلی و.
زما یوه پوښتنه ځواب شوه، هغه سړی ځنګله ته د ښکار په نیت راغلی و . خو لا مې نورې پوښتنې په ذهن کې ولاړې وې .
په بله صحنه کې د کورنۍ غړي د خیمې د درولو لپاره د مناسب ځای په لټه کې ول، دوی د ګڼو ونو په مینځ کې یو هوار وړوکی چمن وموند ، د ا وخت د یوه هلک تر مخ یوه تېزه رڼا تېره شوه، دی وارخطا شو، مور ته یې وویل، خو هغې وخندل، خیال او وهم یې وباله، خپل زوی ته یې ډاډ ورکړ چې هیڅ خبره نشته.

# راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

دلته زما یوه بله پوښتنه هم ځواب شوه. هر څه چې وي ، خو د پیل په یوه دقیقه کې چې ما کوم سړی ولید ، له انسانه او یا هم له کوم ځناوره نه وو وېرېدلی، دا بل څه و.
د سپوږمۍ په رڼا کې یوه خړه خېمه ولاړه وه، چارچاپیره یې هسکې ونې ښکارېدلې، ناڅاپه د خېمې پر ټاټ یو څه ولګېدل، وړې نجلۍ چیغه کړه، په خیمه کې څراغ بل شو ، ټول د باندي راووتل ، مور د خپلې ماشومې لور مخې ته ودرېده، د خیمې پر ټاټ وینې روانې وې، لاندې پر شنه چمن د بنیادم لاس پروت و.
ما د لستوڼي د ټوټې له رنګه و پېژاند چې لاس د هغه سړی دی چې د فلم په لومړی یوه دقیقه کې مې لیدلی و. بله پوښتنه مې هم ځواب شوه، سړی مړ و.
فلم تر پایه له تلوسې ډک و، مور او پلار په مرموزه توګه وژل کیږي، اولادونه ستونزې وینې ، هره نوې صحنه نوې پوښتنې پیدا کوي او تر پا یه مې له ذهن څخه په نوبت یوه یوه پوښتنه وځي.
د فلم وروستۍ صحنه روښانوي چې دا قتلونه د څه لپاره وو او چا تر سره کول. د ځنګله اروا چې د یوې لویې ونې په اره شوې مونډه کې اوسېده، وخت په وخت د باندي راوته او له هغو انسانانو څخه یې غچ اخیست چې په بېرحمۍ سره یې د ځنګله ونې و هلې او حیوانات یې ښکار کول.
زما ټولې پوښتنې حل شوې او د فلم د مینځ پېښو او تلوسې هم تر پا یه تلویزیون ته کینولم.

راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

په لنډه کیسه کې هم تلوسه همداسې ساتلی شو. غوټه باید ورو ورو وسپړو، یوه یوه پوښتنه ځواب کړو او لوستونکی د کیسې لوستلو ته تر پایه اړ باسو.

یو بل مثال:

یو سړی له کاروانه پاتې شوی و، دښته وه، ګرمي وه، نږدې و چې له تندې مړ شي، پر آس سپور یو بل تن پرې ورپېښ شو، د آس پر زین پورې د اوبو یوه پتک ټال خوړ، مړژواندي سړي د اوبو خواست وکړ، خو سپور ورته وویل چې دی په خپله اوږد منزل په مخکې لري، اوبه نه شي ور کولای.

تږي سړي یو پتک اوبه د سروزرو د زرو سیکو په بدل کې ورنه وغوښت، ویې ویل چې د ه ته به هغه ورانه ور وښیي چې هلته زر سیکې ښخي دي، سړي ور سره ومنله، خو پتک یې یو دم ور نه کړ، په لاره کې به یې تږي ته یو یو غوړپ او به ور کولې څو ژوندی پاتې شي او کله چې ټاکلي ځای ته ورسېدل، تږي له اوبو ډک پتک تر لاسه کړ او سپور هم له زرو سکو ډکه کڅوړه په زین پوري وتړله.

که پر آس سپور سړي په پیل کې تږي ته سلامت پتک ور کړی وای، نو د تږي تنده ماتېدله، شاید له خپلې خبرې اوښتی وای او د سیکو تر ځایه نه وای ور سره تللی، خو د سپور کمال دا و چې تږی یې تر پایه هماغسې تږی وساته ، ده ته یې د ژوندي پاتې کېدو لپاره یو یو غوړپ اوبه ورکولې او کله چې یې وخت را ورسېداو خپل هدف یې تر لاسه کړ، بیا یې ټول پتک ور وسپاره او د تږي تنده ماته شوه.

ليکوال هم بايد لوستونکي ته يو يو غوړپ اوبه ورکړي او تر پايه يې تږی وساتي. دی بايد يو رهبري کوونکی مهارت ولري، داسي چې د اصلي غوټې تر سپړلو پورې په لاره کې ځيني نورې موانع هم پيدا کړي او لوستونکی اړباسي چې تر دغو خنډونو تېر شي.
که اصلي غوټه د کيسې په مينځ او يا هم تر پای مخکې وسپړل شي، نو بيا د لوستونکي تنده ماته شوه، وروسته له هغه که هر څه ليکو، په حقيقت کې به اضافه خبرې وې.
يوه کيسه هغه وخت ختمه ده ، چې اصلي غوټه وسپړل شي. په بله مانا د اصلي غوټې سپړل يا د راز ښکاره کول د کيسې پای دی. نو ځکه د کيسې په منځ کې تلوسه، په وار سره يوه يوه پوښتنه ځوابول او تر پايه د اصلي غوټې ساتل ضروري دي.
خو مهمه دا ده چې ا صلي غوټه بايد په منطقي توګه وساتو، لوستونکی بايد فکر و نه کړي، چې ليکوال په لوی لاس يو څه رانه پټوي. که ليکوال د کيسې له کرکټرونو سره ښکاره په ښکاره لاړ شي،له پېښو او زمان سره يو ځای حرکت وکړي او تر کرکټرونو مخکې ګام وا نه خلي، نو بيا لوستونکي ته هم د يو څه د پټولو فکر نه پيدا کيږي.

# د کیسې پای او تلوسه

فکر وکړئ، ایا تر اوسه مو داسې لنډې کیسې لوستې چې په پای یې نه یاست پوهیدلي؟
د ځینو کیسو پای ګنګ وي، لوستونکی نه پوهیږي چې د لیکوال هدف څه و، اصلي کرکټر څه وکړل؟ غوټه څنګه وسپړل شوه؟
ما ډېرې داسې لنډې کیسې لوستې ، چې په پیل کې یې خوند راکړی، وروسته یې هم د بل مضمون لوستلو ته نه یم پرېښی، خو په ورستیو کرښو یې نه یم پوهیدلی.
که کیسه هر څومره خوږه لیکل شوې وي، خو پای یې ناڅرګند وي، لوستونکي به خوند ترې وانه خلي.
خو د کیسې په پای کې هم باید دومره زور وي چې لوستونکی د کیسې له لوستلو وروسته فکر کولو ته وهڅوي، او کیسه یې په ذهن کې پاتې شي.

بله دا چې د کیسې اصلي غوټه باید تر پایه وساتل شي او د کیسې په وروستی برخه کې وسپړل شي، ځکه کیسه هغه وخت ختمه ده، چې اصلي غوټه وسپړل شي، وروسته چې هر څه لیکو، اضافه خبرې دي، نه لوستونکی خوند ترې اخیستی شي او نه هم د ښې کیسې په چوکاټ کې ځای ورکولای شو.
ښه پای هغه دی چې د لوستونکي د وړاندوینې خلاف وي.

# کرکټرونه

هره کیسه کرکټرونه لري، خو په دوی کې یو او یا هم کله کله دوه مرکزي کرکټرونه وي.
کیسو ته هر ډول کرکټر ټاکلی شو، انسان، حیوان او یا هم غیر ژوندي موجودات.
د کرکټرونو ټاکل د کیسې په موضوع پورې تړلي دي، خو مخکې تر دې چې کیسې ته کرکټر وټاکو، لومړی یې باید پدې اړه فکر وکړو:
۱ـ زموږ مرکزي کرکټر څوک دی؟
۲ـ څه ډول څېره لري؟
۲ـ څه یې خوښیږي او له څه نه یې بد راځي؟
۴ـ شخصیت یې څه ډول دی؟

## راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

کله چې مو مرکزي کرکټرله هر اړخه په ذهن کې جوړ او قانع شوئ، قلم او کاغذ را واخلئ او د هغه د نوم تر څنګ، د هغه ځینې مهمې ځانګړنې هم ولیکئ.

د دې کار ګټې څه دي؟

تېر کال مې یو ناول لوست، څو پاڼې لا پاتې وې چې یودم په کیسه کې داسې یو نوی نوم راګډ شو، چې نه مخکې زمینه سازي ورته شوې وه او نه یې هم په کیسې پورې اړه درلوده، یو ناڅاپه له اسمانه راولوېد او په کیسه کې یې د مرکزي کرکټر ځای ونیو، دوو ـ درېو پاڼو سترګی کړم، خو وروسته مالومه شوه چې دا هماغه د کیسې مرکزي کرکټر دی، یوازې نوم یې بدل شوی و.

که د ناول لیکوال د کرکټرونو د خصوصیاتو لیست لرلی، فکر نه کوم چې دومره لویه تېروتنه به ترې شوې وای.

په لیکلې بڼه د کرکټرونو د خصوصیاتو درلودل، په منطقي توګه د کیسې په لیکلو کې مرسته راسره کوي، د مثال په توګه:

موضوع مو وټاکله، غواړو چې کیسه پرې ولیکو، مرکزي کرکټر یې هم احمد نومیږي. لیکو !

| | | |
|---|---|---|
| نوم | : | احمد |
| سن | : | پنځوس کلن |
| مدني حالت | : | متاهل |
| زده کړه | : | نالوستی |
| اولادونه | : | پنځه ( درې لوڼې، دوه زامن ) |
| کسب | : | بزګر |

## راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

د اوسېدو ځای : کلی

ظاهري بڼه : ډنګر، له ونې ټیټ، اوږده ږیره، پکه ککرۍ، لمر سوځولی مخ، ځړېدلې سترګې، پر تندي د کالدانې نښه، له سپږمو راوتلې اوږده ویښتان، زیږه لاسونه....

رواني خصوصيات: عاجز، بې زړه، د حوصلې خاوند، له بدو لیري، دینداره، د سختیو په وړاندي زغم لرونکی، په هره خبره کې د ( خوار مه شې ) تکیه کلام ....

او ځینې نور ټکي...

که دا لیست راسره وي، نو هیڅکله به د احمد نوم راڅخه بدل نه شي. احمد به په طبیعي توګه د کیسې تر پایه د یوه پنځوس کلن سړي په قالب کې اچوو ( خویونه، عادتونه به یې همدې عمر ته مناسب وي ) . دی به کله هم په دې پسې ونه ګرځي چې د او لادونو د نه درلودلو په پلمه دوهم واده ته زړه ښه کړي، احمد یو نالوستی بزګردی، د کرکیلې په کارونو ښه پوهیږي، د کیسې تر پایه به نه ( معلم ) شي او نه هم( ډاکټر). ژبه به یې هم د یوه کلیوال بزګر په څېر کلیوالي وي، هیڅکله به ( د کور ودان ) پرځای ( مننه ) ونه وایي....

د احمد ککرۍ پکه ده، د کیسې تر پایه کاکل نه شي پرېښودلی، دی عاجز او ډارن دی، بد نه خوښوي، ځکه به تر خپله وسه د کلي له ملک سره بدۍ ته زړه ښه نه کړي.

احمد پنځه وخته په ملا پسې دریږي، دا منطقي نه ده چې له کوم قانع کوونکي دلیله پرته، د سهار په اته بجې له خوبه راپورته شي.

او داسې نور..

که موږ د احمد په اړه مخکې له مخکې مالومات ولرو او مهم خصوصیات یې را مالوم وي، احمد به په کیسه کې یواځې په هماغه مخکې ترمخکې ټاکل شوي قالب کې راګرځي، په دې توګه به د احمد کړه وړه او نورې ځانګړنې منطقي او د لیکوال په واک کې وي، لوستونکی به دا نه وایي چې نه، احمد د دې کار وړ نه دی او یا هم دا کار نه شي کولای.

که د کرکټر خصوصیات ولرو، دا به راته روښانه وي چې ایا زموږ ټاکلی کرکټر د دې توان لري چې د کیسې هدف ترلاسه کړي؟ ایا په منطقي لارو خپل هدف ته رسیدی شي؟ ایا د کیسې د هدف د ترلاسه کولو لپاره مو وړ (مناسب) کرکټر غوره کړی او که نه؟

مخکې له مخکې لیکلي خصوصیات، دغو ټولو پوښتنو ته ځوابونه وایي، لیکوال نه پریږدي چې وروسته له ستونزو سره مخ شي او یا هم کیسه له منطقي پلوه کمزورې کړي.

مخکې له مخکې د کرکټرونو خصوصیات لیکل د دې لامل کیږي، چې کرکټر د لوستونکو لپاره واقعي وبریښي، علت دا دی چې کرکټر په منطقي توګه معرفي کیږي او لوستونکی د هغه په کړو وړو باور کوي او ریښتینی ورته ښکاري.

که وغواړو چې کرکټر لا ښه وپیژنو، د کرکټر له خصوصیاتو سره باید په یوه جمله کې د هغه هدف هم ولیکو:

د بېلګې په توګه:

احمد: احمد په کیسه کې د دې باعث ګرځي چې مینه او زغم په کرکه او بې حوصله توب بریالی کړي.

که د کرکټر له خصوصیاتو سره دا جمله لیکلې وي، احمد به د کیسې تر پایه زغم ولري، دی به په طبیعي توګه هرې ناخوالې ته په مینه ځواب وايي او د نورو کینې به په صبر او حوصله ځوابوي.
په دې توګه به په کرکټر کې ناڅاپي او غیر منطقي بدلون نه راځي، داسې به نه وي چې په پیل کې مینه ناک وي، خو څو پاڼې وروسته له دلیله پرته په ظالم او کینه ګر انسان بدل شي، دی به د لیکوال له غوښتنې سره سم په منطقي توګه خپل هدف ته ورسیږي او هیڅکله به داسې څه ونه کړي چې له مینې او حوصلې سره په ټکر کې وي.
له مرکزي کرکټر څخه پرته نورو کرکټرونو ته هم مخکې له مخکې د داډول خصوصیاتو ټاکل ښه دي، که لیکوال د کیسې د لیکلو پر مهال کله کله ورته وګوري ، د کرکټرونو له خویونو، خواصو او ان څېرو سره عادت پیدا کوي، هر حرکت به یې د دوی په واک کې وي او په پای کې به خیالي کرکټر نه بلکې یو واقعي انسان ورته ښکاري، داسې احساس به کوي لکه په ریښتینې توګه چې له دغو کسانو سره مخامخ شوی وي، هغوی پیژني، خبرې یې ورسره کړې وي او ډېر رازونه یې ور مالوم وي، ځکه ځینې لنډې کیسې څو مخه لیکل کیږي او د کیسو تر پایه به د کرکټر ټول خصوصیات د لیکوال په ذهن کې ناست وي.
د لنډې کیسې لپاره د کرکټرونو لنډ خصوصیات کافي دي، خو که ناول لیکو د هر کرکټر په اړه باید مخکې له مخکې ډېر څه ولیکل شي، ځینې لیکوالان د ناول لپاره د کرکټرونو ټول کردار، پېښې ، ستونزې...مخکې له مخکې لیکي او څو مخه پرې ډکوي، که ساده ووایو ،مخکې له

## راځئ کیسه ولیکو

ليکوال: نصیراحمد احمدي

مخکې په لنډه توګه د کرکټر کیسه او په ناول کې رولونه، ناکامي او بریالتوب د کاغذ پر مخ راوړي چې دیته ستوري لاین وایي.
د کرکټر په اړه بله مهمه خبره دا ده چې لیکوال باید د کرکټرونو له روح او روان څخه خبر وي، د هغه خویونه ور مالوم وي او د دې په اړه مالومات ولري چې له څه سره مینه لري، څه وخت غوسه ورځې او په څه شي خوشاله کیږي.
بریالی لیکوال په کرکټر کښنه کې ډېر زیار باسي، دی کرکټر تر هغو په ذهن کې اړوي را اوړي چې له خیالي کرکټر څخه ژوندی موجود جوړ کړي، د هغه له ظاهري او باطني جوړښت سره اشنا شي او وروسته یې په داستان کې ولوبوي.
په بله مانا، لومړی کرکټر ژوندی کړه، له هغه سره خبرې وکړه، په خوی او عادت یې پوه شه او وروسته که بیا په کیسه کې ستاسې له خوښې سره سم لوبیدای شوای او ټاکلي رول ته مناسب وي، ځای ورکړئ.
موږ باید هڅه وکړو چې کیسې ته د اړتیا پر بنسټ کرکټرونه وټاکو، ځکه لنډه کیسه ډېرو کرکټرونو ته اړتیا نه لري، د اړتیا په اندازه د کرکټرونو ټاکل د دې لامل ګرځي چې کیسه په طبیعي توګه وغځیږي او له اضافه خبرو مخنیوی وشي.
موږ هره ورځ له ډېرو خلکو سره مخامخ کیږو، خو دوه کسه کټ مټ په یوه څېره او یو رنګه خویونو نه شو موندلی، په کرکټر جوړونه کې هم باید دې ټکي ته پام وکړو، زموږ هر کرکټر باید له بل یوه څخه بېل وي، بېله څېره ولري او عادتونه یې سره نږدې نه وي. دا کار په طبیعي توګه د

کرکټرونو په جوړونه کې نوښت راولي او لوستونکی په خپل ذهن کې له مختلفو څېرو او خویونو سره مخامخ کیږي.
بله خبره دا چې د کرکټر لپاره هیڅوخت خیالي څېره او خیالي عادتونه مه ټاکئ، د بېلګې په توګه: د یوې کیسې کرکټر مو یو سوالګر دی، فکر وکړئ، تاسو به په ژوند کې ډېر سوالګر لیدلي وي، له ډېرو سره به مو تر خپله وسه مرسته کړې وي او د ځینو تر مخ به ښویه تېر شوي یاست، خو په دغو ټولو کې به داسې سوالګر هم و چې د پنځو افغانیو پر ځای مو د شلو او یا هم د پنځوسو نوټ ورته نیولی وي، ولې؟
یا به د هغه ظاهري خوارې څېرې او خیرن شلېدلي لباس دردولي یاست او یا به هم هماغه سوالګر د خواست په چل ښه پوهېده، په سوالګر کې به یو څه و چې ستا پام یې د ځان خواته ور اړولی و، که نه نو یا به ښویه ترې تېر شوی وې او یا به دې هم جېبونه په ماتو روپو پسې لټول.
کیسې ته هم همدغه سوالګر وټاکئ ، هماغه خویونه، عادتونه او خواره څېره ورکړئ چې تاسې په واقعي ژوند کې ورسره مخامخ شوی یئ، که دې لوڅې پښې لیدلی وي، چپلکې مه ور په پښو کوه، مچان مه ترې شړه او د هغه لوڅو اوږو ته واسکټ مه وراغونده. هماغسې کرکټر جوړ کړه لکه تا چې په واقعي ژوند کې لیدلی وي، ان که دې د خواست پر مهال د هغه ترحم پاروونکي کلمات په یاد وي، ستا کرکټر هم باید هماغه توري په خوله راوړي.
دا یواځې یو مثال و، کله چې موږ کرکټر جوړوو، جوړ شوی کرکټر باید د هغه چا په قالب کې واچوو، چې موږ په واقعي ژوند کې لیدلی وي، خبرې مو ورسره کړې وي، خوی، عادت او څېره یې را مالومه وي، که

داسي وکړو نو موږ به په ریښتیني توګه د کرکټر روح ته ور ننوتي یو او یو کامیابه کرکټر به مو انځور کړی وي.
اووه_ اته کاله مخکې مې د فرانسوي لیکوال ویکتور هوګو، ( بینوایان ) ناول ولوست، مرکزي کرکټر یې ژان والژان نومیده، ژان والژان په پیل کې غل او مجرم و، خو وروسته یوې قوي پیښې د ده ژوند ور بدل کړ، دی په یوه مهربانه انسان بدل شو، تل به یې هڅه کوله چې نورو ته ګټه ور ورسوي، خو بیا هم ټولنې په سپکه سترګه ورته کتل او د ( ژاور ) په نوم د پولیسو د یوه افسر تر تعقیب لاندې و....
په دې کتاب کې د داستان مرکزي کرکټر ( ژان والژان ) دومره ژوندی انځور شوی چې د ده سختیو ته مې څو ځله اوښکې تویې کړې، فکر مې نه کاوه چې دا به یو خیالي کرکټر وي، د ده هرې بریا ته به خوشاله وم او په هره ناکامۍ یې ځوربدلم.
مثبت او منفي، دواړه کرکټرونه باید دومره ژوندي وي چې د لوستونکي په زړه او دماغ کې ځای ونیسي، د مثبت کرکټر هره کامیابي باید د لوستونکي لپاره د هغه خپله کامیابي وي، د هغه په خوشالۍ خوشاله شي او د ستونزو پر مهال په زړه کې د حل لارې ورته ولټوي، خو د منفي کرکټر له جرم او جنایت څخه کرکه وکړي او د هغه ضد وي.
ما ډېرې داسې کیسې لوستې دي چې خان او ملک تر اندازې چاغ، خشن او بدشکله پکې معرفي شوېدي، علت یې دا دی چې ځینې لیکوالان د کرکټرونو په جوړولو کې زحمت نه ګالي، د نورو کرکټرونه را اخلي او څه چې یې د بل په کیسه کې لوستې وي، دی هم خپل کرکټر ته هماغه څېره

ورکوي، حال دا چې ډېر خانان او ملکان شته چې جذابه څېره لري، له زړونو هم نرم او مهربانه دي.
ځکه نو د کرکټرونو څېرې، خویونه او عادتونه باید توپیر سره ولري، موږ باید په خپله کرکټر جوړ کړو، نه دا چې د نورو تیاره مړی، راواخلو او داسي وښیو چې دا زموږ د خپل زحمت نتیجه ده.
بله مهمه موضوع د کرکټر بدلون دی، که غواړو چې یو کرکټر ته بدلون ورکړو، دا بدلون باید منطقي وي، داسې نه چې د لسو تنو قاتل، ناڅاپه له قوي دلیله پرته توبه وباسي او په یوه مهربان انسان بدل شي.
کیسه له کرکټره پرته نه لیکل کیږي، ځکه نو باید د کرکټرونو په جوړولو کې بیړه ونه کړو، زیار وباسو او کله چې ژوندي شول، په حرکت راغلل، او زموږ په ذهن کې یې ځای ونیو، وروسته په کیسه کې ځای ورکړو.

## د کیسې ژبه

## راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

زما د لنډو کیسو لومړی ټولګه "سره سیلۍ" نومیږي. دا کتاب اوه_ اته کاله مخکې چاپ شو، ځینو کسانو ولوست، را یاده یې کړه چې کیسې یې بدې نه دي، هدف لري. تصویرونه هم په زړه پوري دي، خو په ځینو ټکو یې نه دي پوهېدلي.

هغه وخت مې دا خبره زړه ته نه لوېده، په ژبه کې مې کوم مشکل نه لید، هره کرښه او هره کلمه واضح راته ښکارېده، خو وروسته مې پام شو، چې دوی په حقه ول، ما په کیسو کې ځینې داسې کلمات را اخیستي وو چې یوائې زه او د غزني د قره باغ ځینې او سیدونکې پرې پوهېدل.

که موږ هر څومره زړه راکښونکې موضوع ولرو او د کیسې په ټولو اړخونو پوه یو، خو چې د ویلو چل یې نه وي را معلوم، نه به په خپله له کیسې څخه خوند واخلو او نه به هم لوستونکو ته په زړه پوري وي.

ځکه نو د کیسې ژبه ډېره مهمه ده.

۱_ د ژبې ساده والی:

یوه ملګري مې د یوې کیسې موضوع پیدا کړې وه، مخکې تر لیکلو یې راته وویله، په ویلو کې یې خوند پروت و، خو کله چې مې په مجله کې د همدې کیسې لیکلې بڼه ولوستله، دومره پیچلي کلمات یې پکې را اخیستي ول چې لوستلو یې د زړه زور غوښت.

تلیفون مې ورته وکړ، دلیل یې دا و چې لیکل باید تر ویلو توپیر ولري.

ما ته هغه د شپون صاحب خبره را په زړه شوه: " موږ نثر وایو، اورو یې، خو لیکلی یې نه شو. "

ځینې لیکوالان چې څه لیکي، د لیکلو لپاره په پېچلو کلماتو او اصطلاحاتو پسې ګرځي، کتابونه پسې ګورې او له نورو څخه پوښتنې

## راڅئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

کوي. دوی په دې فکر کې دي چې مغلق او پیچلي کلمات کیسه او یا هم کومه بله لیکنه پیاوړې کوي او په دې سره پخپله لیکوال پوه او د ډېرې مطالعې خاوند ښکاري، خو پوښتنه داده چې موږ د چا له پاره کیسه او یا هم کومه بله لیکنه لیکو؟ ایا هغوی په دا ډول پېچلو کلماتو پوهیږي؟ ایا د مغلقو تورو کارول هنر دی؟

زموږ په کلي کې یو سپین ږیری و، ده په ځوانۍ کې ماموریت درلود، ان د زړښت تر مهاله یې په ژبه ډېر داسې کلمات راوړل چې نورو ته به د پوهاوي وړ نه ول، وروسته د "مامور لغت پران" په نوم مشهور شو، خو ده به ویل: "داخلک ملامت نه دي. مکتب یې نه دی ویلی."

که موږ د خلکو لپاره لیکل کوو، ژبه مو هم باید د هغوی لپاره وي. هنر هم په ساده ژبه کې دی، اوسني ادبیات ساده ژبه خوښوي، داسې ژبه چې له ساده والي سره سره د لیکوالۍ هنر هم پکې پروت وي، هنر په پېچلو لغاتو او اصطلاحاتو کې نه دی، هنر نور اړخونه لري چې ژبې ته خوند وربخښي او یو عمده لامل یې د ژبې ساده والی دی.

د ژبې ساده والی دا مانا نه لري چې څه وایو، هغه ټول باید د کاغذ پرمخ هم راوړو، بلکې هدف مو د جملو په بسته بندۍ او د لغاتو او اصطلاحاتو په کارولو کې دی.

شاید زما دا خبره د ځینو لوستونکو خوښه نه شي، خو ډېر پښتنانه د "ټولټاکنو" کلمه نه پیژني، دوی یې انتخابات بولي، د "ښوونځی" "ټولګی)" او "ښوونکی" له کلماتو سره هم نا اشنا دي، د "مکتب" "صنف" او "معلم" په نومونو یې یادوي. موږ باید په هغه ژبه کیسه و لیکو چې خلک خبرې پرې کوي، وربانديې پوهیږي او ورته روښانه وي.

لیکوال: نصیراحمد احمدي

**۲ـ په لنډو فاصلو کې د یورنګه تورو او فعلونو کارول:**

تېر کال مې د یوه لیکوال پر یوه کیسه باندې نظر څرګند کړ، د نقد یوه برخه د تورو او کلماتو د کارولو په اړه وه، غواړم چې د موضوع د لا روښانتیا لپاره د هماغه کیسې ځینې برخې را واخلم.

په لومړیو دوو پاراګرافونو کې دوه ځایه لیکل شوي وو: " قلم یې راواخیست ، کاغذ یې راواخیست "

په دومره لنډه فاصله کې دوه ځایه د "راواخیست" کلمه ښه نه راځي، که یو ځل " راواخیست " لیکو، دوهم ځل باید په یو ه بل فعل پسې وګرځو، مثلا "کاغذ ته یې لاس کړ ".

بل ځای داسي لیکل شوي دي "تر لیکلو کرښو لاندې یې هسې ګډې وډې کرښې و ایستلې، د کرښو تر څنګ یې یوه غټه سترګه انځور کړه... "

په لنډه فاصله کې درې ځایه د "کرښې " توری راغلی دی.

دلته که یو ځای کرښه لیکو، بل ځای لیکه ښه راځي، دریېم ټکي ته هیڅ اړتیا نه پیدا کیږي.

" د کرښو تر څنګ یې یوه غټه سترګه انځور کړه " که داسي ولیکو( ترڅنګ یې یوه غټه سترګه انځور کړه " هماغه مانا ورکوي. خپله د "څنګ "توری، هماغه د "کرښې "ترڅنګ راښیي.

بله جمله:

"کتابچه یې له نورو کتابونو سره په پلاستیکي پاکټ کې کېښوده او په هغه څوکۍ کې یې کېښوده چې څو شیبې مخکې نصیر ناست و... "

راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

دلته د لومړي " په پاکټ کې کېښوده " پر ځای " په پاکټ کې واچوله " ښه راځي، په دې توګه به مو په لنډه فاصله کې دوه ځایه د " کېښوده " کلیمه نه وی کارولې.

بل ځای لیکل شوي دي " یو ځل بیا د نصیر سترګو ته ځیره شوه، دومره ورته ځیره شوه... "

دلته که لومړی " وکتل " راشي، له یورنګه والي څخه یې ژغوري.

بل ځای: " فریبا تر پښو لاندې ځمکې ته کتل، تر ژبه لاندې یې وویل... "

دوه ځله د لاندې کلیمه راغلې، " فریبا تر پښو لاندې ځمکې ته کتل "دلته د لاندې ټکی اضافه دی، که ساده ولیکو "فریبا ځمکې ته کتل " هماغه مفهوم لري، که فریبا پر ځمکه پل ایښی وی، بیا څنګه تر پښو لاندې ځمکې ته ګوري ! ! !

بله جمله: " ډېره ډېره مننه، د تابلو او کتابچې په خاطر ځانته مننه کوم. "

که یو ځای مننه لیکو ، بل ځای د مننې پر ځای کوم بل توری کارولی شو.

" کوروډان ، ژوندی اوسې یا داسې نور ".

بل ځای " فریبا یې لاس په لاس کې ونیو " که ولیکو: " فریبا یې لاس ونیو " هماغه مانا او هماغه تصویر لري. ځکه نیول د لاس په واسطه تر سره کیږي.

بله جمله " د مریم ښکلیو سترګو ته یې وکتل، هغې هم ورته وکتل... " که ولیکو: " هغې هم سترګې ور واړولې " نو په لنډه فاصله کې به دوه ځایه د " وکتل " ټکی نه وي راغلی.

بل ځای " نور هم انځور ته نږدې شو ، ښه ورته ځیر شو "

داسې لیکلی شو "نور هم انځور ته نږدې شو، په ځیر یې ورته وکتل" په دې توګه یو ځای د "شو" ټکی کمېدی شي.
په کیسه کې داسي ډېر یو رنګه توري وو چې په لنډو فاصلو کې سره راغلې دي، دا په مفهوم او مانا کې کوم بدلون نه راولي، ټولو ته د پوهاوي ور دي او د عادي لوستونکو دومره پام هم نه ور اوړي، خو توري او کلمات د ښنتو په څېر دي، که په یوه دېوال کې یوه ښنته راوتلي وي او یاهم په خپل مناسب ځای نه وي اېښودل شوي، ټول دېوال بد ښکاري، ځکه نو په هره لیکنه کې د تورو او کلماتو ټاکل او مناسب ځای ته دقت په کار دی.
پښتو یوه غني ژبه ده، یوه شي ته ډېر کلمات لرو، په مختلفو نومونو یې یادولی شو، دا نومونه دومره ګنګ هم نه دي، ټول پرې پوهېدای شي، نو ځکه جمله بندۍ او د کلماتو او فعلونو کارولو ته باید پام وکړو.
که یو ځای لیکو "راته ویې کتل" بل ځای "سترګې یې راواړولې" ښه راځي، "مخ یې راواړاوه" هم همدا مانا ورکوي.
په یوه کیسه کې مې ولوستل: "انځرګل ځوان و، د پلار یو زوی و او له رنګه ښایسته و."
درې ځایه په لنډه فاصله کې د "و" ټکی راغلی دی. کیدای شي داسي یې ولیکو:
انځرګل ځوان و، پلار یې همدا یو زوی درلود، له رنګه ښایسته ښکارېده.
یا نورې جملې، خو شرط یې دا دی چې په لنډو فاصلو کې یورنګه توري او فعلونه را نه وړو، ځکه د ژبې خوند ته زیان رسوي.

## ډیالوګ

ډیالوګ د کرکټرونو خبرو ته وایي، یا به له ځان سره غږیږي او یا هم له نورو سره.
له ډیالوګونو پرته هم کیسه لیکل کېدای شي، خو د خوند له اړخه به کمزورې وي، ځکه ډیالوګ کیسه ژوندۍ کوي، په حرکت یې راولي او له یورنګه والي څخه یې ساتي.
د ډیالوګ لیکنې په برخه کې باید ځینې ټکي په پام کې ونیسو.

راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

۱ــ جلات خان کلي ته راغی، تر غرمې یې ناروغان وکتل، ماسپښین له کوره ووت، په پټي کې یې دهقان ولید ، ورغی، له سلام وروسته پر پوله ورته کېناست، دهقان ته یې وکتل، ځمکه یې اړوله، پر سپیره غاړه یې مړې خولې راماتې وې...

جلات خان وویل:

ــ ولې له نوې زراعتي ټکنالوژۍ څخه استفاده نه کوې؟

دهقان پر خپل تندي لستوڼی تېر کړ، په خندا یې وویل:

ــ ډاکټر صاحب ! نوې زراعتي ټکنالوژي پیسو ته ضرورت لري، زموږ اقتصاد ډېر کمزوری دی. تراکتور او نور عصري زراعتي وسایل نه شو اخیستلای.

دې ډیالوګونو مو په ذهن کې کومې پوښتنې را ولاړې کړې؟

بېرته به د ډاکټر خبرې ته راوګرځو:

ــ ولې له نوې زراعتي تګنالوژۍ څخه استفاده نه کوې؟

جلات خان ډاکټر دی، په ښار کې یې پوهنتو ن ویلی او ډېر کم کلي ته راځي. د ده له خولې د ټکنالوژۍ ټکی بد نه ښکاري، له منطقي اړخه هم کومه ستونزه نه لري، ځکه دی لوستی دی او په داسې محیط کې یې زده کړه کړې چې هلته یې د ( ټکنالوژۍ ) په څېر نور ډېر پیچلي کلمات او لغتونه اوریدلي او د ده په ذهن کې ناست دي.

اوس به د دهقان خبره راواخلو:

ــ ډاکټر صاحب ! نوې زراعتي ټکنالوژي پیسو ته ضرورت لري، زموږ اقتصاد ډېر کمزوری دی. تراکتور او نور عصري زراعتي وسایل نه شو اخیستلای.

دا ډیالوګ د مانا او ګرامر له اړخه کومه ستونزه نه لري، خو زموږ ډېره برخه دهقانان نالوستي دي، ټول عمر یې د پټیو په اړولو او زراعتي کارونو کې تېرېږي، نه یې د ټکنالوژۍ نوم اورېدلی او نه یې هم په مانا پوهیږي. نو د یوه دهقان له خولې د دارنګه کلماتو راوتل له منطقي پلوه د باور وړ نه دي. که یو لوستی کس له دهقان څخه وپوښتي:
ـ ولې له نوې زراعتي ټکنالوژۍ څخه استفاده نه کوې؟
د دهقان لومړی پوښتنه به دا وي؟
ـ څه؟
لوستی کس اړ دی چې د نوې زراعتي تکنالوژۍ په اړه لنډ توضیحات ورکړي.
ـ یعني، تراکتور، ټرېشر، د غنمو د ریبلو ماشینونه....
دهقان په ساده ژبه ځواب ورکوي:
ـ ډاکټر صیب! دا شیان پیسې غواړي، موږ د بیګاه نه لرو، ټریکټر او نور ماشینونه نه شو اخیستلای.
له دې مثال څخه هدف دا دی چې په کیسه کې باید هر څوک له خپلې پوهې او ټولنیز موقف سره سم وغږوو. ان د دوی له ډیالوګونو څخه هم باید د دوی سویه مالومه شي او خپل کرکټر داسي وغږوو چې خبرې او مالومات یې د دوی له پوهې او ټولنیز ژوند سره سم وي.

۲ـ په ډیالوګونو کې باید د تکراري خبرو مخه ونیسو.
احمد:
ـ په کور کې څه خبرې وې؟

محمود:
ـ په کور کې کراره کراري وه.
دوهم ډيالوک "په کور کې "د لومړي ډيالوګ تکرار دی.
لیکو:
ـ کراره کراري وه.
لوستونکی پوهيږي چې هدف "کور " دی، ځکه په لومړي ډيالوګ کې ياد شوی، نو له تکرار څخه يې بايد ډډه وکړو.

۳ـ یو مثال:
احمد: څنګه! زموږ سيمه دې خوښه شوه؟
محمود: هو والله! سيبانو يې ډېر خوند راکو.
احمد: ګرمي نه ده؟
محمود. يه!
فکر وکړئ! محمود به د کوم ځای وي؟
د کندهار د ځينو سيمو اوسيدونکي "منې "د " سيبانو " په نوم پېژني او د "نه "پر ځای "يه" وايي.
دلته د دې يادونه ونه شوه چې محمود د کوم ځای اوسيدونکی دی، خو د هغه له لهجې څخه پوه شوو چې په کندهار پورې اړه لري.
په ډيالوګونو کې د هرې سيمې اوسيدونکي بايد د هغوی په خپله ژبه وغږوو. دا کار کيسې ته خوند ور بخښي او د کيسې منطق پياوړی کوي.
شايد پوښتنه پيدا شي چې ډېر کلمات او اصطلاحات عام فهمه نه دي، يوازې په يوې سيمې پورې اړه لري او ټول لوستونکي نه پرې پوهيږي.

که موږ کومه مقاله ، د مکتب کتابونه او یا هم تحقیقي رپوټ لیکو ، نو د سیمه ییزو کلماتو او اصطلاحاتو راوړل به مناسب نه وي، خو ادبې لیکنې داسې نه دي، ادبې لیکنې هغه وخت خوندورې راځي چې نوي کلمات او اصطلاحات ولري، نویو سیمو ته مو ورولې او له نویو لهجو ، تصویرونو او رواجونو سره مو اشنا کړي.
خو شرط یې دا دی چې د نویو نومونو ، کلماتو او اصطلاحاتو تر څنګ باید په قوسونو کې د دغو کلماتو او اصطلاحاتو هغه نومونه هم ولیکو چې د هرې سیمې لوستونکو ته د پوهاوي وړ وي.
۴: د شخړو او جدي موضوعاتو په بیانولو کې مقابل کس په طبیعي توګه زموږ په خبرو کې رالویږي، دی دومره صبر نه کوي چې زموږ خبرې خلاصې شي او دی د خبرو وار ونیسي. نو کله کله په کیسه کې د ډیالوګونو قطع کول او په خبرو کې د مقابل لورې ورلوېدل طبیعي ده او باید په ډیالوګونو کې په پام کې ونیول شي.
مثلا:
احمد غواړي ښار ته لاړ شي، دی د کرایي موټر د مخې په سیټ کې ناست دی، محمود راځي او ورته وایي چې د مخې سیټ ده نیولی.
محمود : وه وروره، دا ځادر نه وینې ! دا مې ځکه د مخې په سیټ کې ایښی چې دا ځای زما دی.
احمد: ته تر اوسه چېرته وې، ما دا ځای تر تا مخکې نیولی، زه خو څه مفت نه ځم، کرایه ورکوم، د شا سیټونه خالي دي، ځه با با خپل کار دې کوه ! والله که مې د تا پلار له دې ځایه جګ کې....

لیکوال: نصیراحمد احمدي

په طبیعي توګه محمود د مقابل لوري اوږدې خبرې نه اوري، ځکه دی د احمد په لومړنۍ جدي خبره عکس العمل ښکاره کوي، لکچر ته یې نه پرېږدي او د هغه په خبره کې ورلوېږي.
محمود : وه وروره، دا څادر نه وینې! دا مې ځکه د مخې په سیټ کې ایښی چې دا ځای زما دی.
احمد: د شا سیټونه خالي دي، ته کولی شې چې هلته کینې
محمود: ولې! ته تر ما ښه ځوان یې!
احمد: ته تر اوسه چېرته وې، ما دا ځای تر تا مخکې نیولی
محمود: نو ته ړوند یې، څادر نه وینې!
احمد: زه خو څه مفت نه ځم، کرایه ورکوم...
محمود: په خبره نه پوهېږې!
احمد: والله که مې د تا پلار له دې ځایه جګ کې.
محمود: پلار ته مه تېرېږه، اوس به مالومه شي چې سیټ د چا دی.
خو کله کله د ضرورت له مخې یو څوک باید اوږدې خبرې وکړې. د بېلګې په توګه که یو په خبره پوه سپین ږیری یا عالم نصیحت کوي او یا هم کوم استاد درس تشریح کوي، له منطقي پلوه د هغوی په خبرو کې ورلوېدل طبیعي نه ده، خو دا ډیالوګ هم د ماتولو لارې لري. دا ډول ډیالوګونه باید په یوه عمل مات شي.
لکه:
استاد وتوخل، د مېز پر سر ایښی ګیلاس یې ورپورته کړ، دوه درې غوړپه او به یې تر ستوني تیرې کړې او خپلې خبرې یې پسې وغځولې:

**۵**: ډیالوګونه باید لنډ وي، ځکه په عادي ژوند کې څوک اوږدې خبرې نه کوي، له بلې خوا اوږده ډیالوګونه، لوستونکی ستړی کوی، طبیعي نه ښکاري، د کرکټر د پیل جمله یې له یاده وځي او د کیسې خوند له منځه وړي.

**احمد**: د ټکسي کرایه لرې؟

**محمود**: خپل موټر راسره دی.

**احمد**: لاره خامه ده؟

**احمد**: هو ! خو ټوله نه.

**۶**: هیڅکله د ډېرو کرکټرونو خبرې یو ځای مه راوړی،په دې مانا چې ډیالوګونه د لیست په بڼه مه لیکی، ځکه دا کار له لوستونکو لاره ورکوي، دوی نه پوهیږي چې دا خبره د کوم کرکټر له خولې را ووته. خو که د مجبوریت له مخې په کیسه کې تر دوو زیات کرکټرونه غږوو، باید څه وکړو؟

بېلګه:

په یوه کیسه کې څلور کرکټره لرو، دوی ټول پر پوله ناست دي او د وچکالۍ غم ورسره دی..

_ یاره لکه چې سږ کال وچکالي راغله.

_ هو ! د کاریزه او به هم کمې دي.

_ څه به کوو ! فصلونه وچ شول.

_ مه وار خطاه کیږه. ما یې فکر کړی دی.

دا سمه ده چې دا ډیالوګونه هوایي نه راځې، بلکې مخکې له مخکې ویل کیږي چې څوک سره ناست دي او د څه په اړه خبرې کوي، خو له دې سره

سره، بیا هم له لوستونکي لاره ورکوي او په دې نه پوهیږي چې کومه خبره د کوم کرکتړ ده.
د دې ستونزې د هوارې یوه لاره داده چې کرکټرونه په خپلو خبرو کې د یوبل نومونه واخلي.
ـ یاره لکه چې سږ کال وچکالي راغله.
ـ احمد رښتیا وایې، د کاریزه اوبه هم کمې دي.
ـمحموده ! څه به کوو ، فصلونه وچ شول !
ـ شریفه ! مه وارخطا کیږه ! ما یې فکر کړی.
که څه هم چې په هر ډیالوګ کې د نومونو یادول ښه نه راځې ، خو بیا هم تر دې غوره ده چې د ډیالوګونو اوږد لیست ولرو او ویونکي مالوم نه وي.
بله لاره:
د ډیالوګونو په مینځ کې د تصویرونو ورکول، کرکتړونه راپېژني.
ـ یاره لکه چې سږ کال وچکالي راغله.
محمود وټوخل، سر یې وخوځاوه، ورو یې وویل:
ـاحمد رښتیا وایې، د کاریزه اوبه هم کمې دي.
شریف مخامخ ولاړې رشقې ته وکتل، ژېړه ورته وا ښسېده، محمود ته یې مخ وروا ړاوه:
ـ څه به کوو؟ فصلونه وچ شول..
ـ مه وارخطا کېږه، ما یې فکر کړی.
او یا هم نورې لارې.

# تصویر

بیا به د بېنوایان د ناول مثال راوړم.
بېنوایان د فرانسوي لیکوال ویکتور هوګو مشهور ناول دی. کتاب اوه ـ اته سوه مخه لري. ما دوه ځله لوستی ، دواړه ځله مې خوند ترې اخیستی، ورته خندلي مې دي، ژړولی یې یم او د اتلسمې پېړۍ فرانسه یې سترګو ته راته درولې ده. خو کله مې چې له همدې ناول څخه جوړ شوی فلم وکوت، نه یې وژړولم، نه یې خندا راوسته او نه مې هم هغه خوند پکې وموند چې د کتاب له لوستلو مې اخیستی و.
د ناول او لنډې کیسې د لوستلو پر مهال هر څوک له خپل دید او تصور سره سم تصویر جوړوي. خو فلم داسې نه دی. د فلم تصویر د فلم جوړوونکو له تصور سره سم جوړیږي. په بله مانا ، د فلم تصویر د یوه یا څومحدودو کسانو د ذهن محصول دی. دوی له خپله دیده ناول او یا هم لنډه کیسه تصویري کوي او د فلم په بڼه یې په نورو وینې. خو لوستل داسې نه دي. لوستونکی له هرې جملې څخه خپل تصویر اخلي، د کرکټرونو څېره له خپل دیده جوړوي. دوی هغه تصویرونه په خپل ذهن کې ژوندي کوي، چې لیکوال اشاره ورته کړې وي.

# راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

د بېنوایان د کتاب مرکزي کرکټر " ژان والژان" نومیږي. ژان والژان یو بېوزله انسان دی. بد رنګه څېره لري. په ځوانۍ کې یې له نانوايي څخه یوه ډوډۍ غلا کړې ده. پولیس یې نیسي او څلور کاله قید پرې خیژي، خود بند له مودې تر پوره کېدو مخکې تښتي. دوهم ځل نیول کیږي. قاضي د اتو کلونو بند ورته اوروي. په شپږم کال بیا له زندان څخه د تېښتې هڅه کوي. داځل محکمه شل کاله قید ورته لیکي.

شل کاله بند ، یوه وچه ډوډۍ.

له شل کلن بند وروسته یوه ښار ګوټي ته ځي. ټولنه یې نه مني. غل ورته وايي، هرڅوک کرکه ورنه کوي. نه په مساپرخانه کې ځای ورته پیدا کیږي او نه هم څوک ډوډۍ ورکوي.

له ښاره وځي. شپه پرې راځي. باران په شدت اوري. یخنې یې اخلي. د شپې د تېرولو لپاره د یوې غونډۍ په ډډه کې یوه غار ته ننوځي، خو شېبه وروسته د یوه سپي غرېدا اوري. د سپي غتېه ککرۍ یې سترګو ته دریږي. سپی یې له هغه ځایه پسې اخلي. بله چاره نه لري. یوې کلیسا ته پناه وروړي. پادري(کشیش) مهربانه انسان وي، عزت یې کوي، ډوډی ورته ږدي او د خوب پر مهال تر ټولو نوې روجايي ورباندې اچوي. خو ژان والژان له کلیسا څخه هم غلا کوي. تښتي، د پولیسو شک پرې راځي، نیسي یې او د غلا په تور یې بېرته کلیسا ته راولي. خو پادري په حیرانۍ سره پولیسو ته وايي چې سړي غلا نه ده کړې، بلکې ده په خپله څلور نقره یي شمعدانونه مرسته ورسره کړې، چې ویې پلورې او له بېوزلۍ څخه خلاص شي.

ژان والژان ځنګله ته ځي. ژاړي او توبه وباسي. دی په یوه داسې انسان بدلیږي چې د ژوند تر پایه له نورو سره مرسته کوي.
د ناول د لوستلو پر مهال مې له ژان والژان څخه د یوه جسور، بېباکه، زړور، ارام او مهربان انسان تصویر واخیست. دی مې د کتاب د تصویر په مرسته، په خپل ذهن کې انځور کړ، خو کله چې مې فلم وکوت، ژان والژان هغه څوک نه و چې تر دې دمه مې په ذهن کې ناست و. څېره او ظاهري جوړښت یې زما د فکر خلاف وخوت. دی له ونې ټیټ او کمزوری ښکارېده. نه یې هغه څېره درلوده او نه هم جسارت او بېباکي چې ما یې له کتاب څخه تصویر اخیستی و.
زه د فلم تر پایه له هغه سره ملګری نه شوم. نه مې ورسره وژړل او نه هم مهربانه راته واېسېد.
بېنوایان هغه مهال لیکل شوی چې نه تلویزیون و او نه هم سینما. خو اوس یې هم خلک لولي. بیا بیا یې لولي او خوند ترې اخلي. دا ځکه چې د کتاب هره جمله په خپل ذهن کې سره اړوي، له خپله دیده ورته ګوري او خپل تصویر ترې اخلي. د ښو کیسو او ناولونو جادو همدا دی چې تر اوسه لا په میلیونونو لوستونکي لري، هر کال په نړۍ کې په ملیونونو ټوکه ناولونه او د لنډو کیسو ټولګې چاپېږي، ښه بازار لري او خلک یې په مینه لولي.
په ناول او یا هم لنډه کیسه کې د نورو اړخونو تر څنګ، تصویر ضروري دی. په جملو کې باید دومره زور وي چې د لوستونکي په ذهن کې حرکت پیدا کړي. هر څه ژوندي شي او د سترګو مخې ته یې ودروي.

لیکوال: نصیراحمد احمدي

که لیکنه خام او بېرنګه تصویرونه ولري، څه چې مو لیکلي ، په لوستونکو یې نه شو لېدلی. کله چې مو وربانديې ونه لېدل، نه یې لولي. زړه یې نیسي، لیکلې کیسه یوې خوانته ږدي او دوهم ځل نه ورته ګوري.
نو که غواړې چې کیسه مو لوستونکي ولري، د کیسه لیکنې د نورو اړخونو تر څنګ، تصویر ته هم ډېر پام وکړئ، خو کیسې او ناولونه څنګه تصویري کولای شو؟
زموږ د ډېرو کیسو تصویرونه تشریحي بڼه لري.
مثلا ، که په کیسه کې د یوې کوټې تصویر ورکوو ، شاید داسې ولیکو:
وړه کوټه وه. سپین دیوالونه یې لرل. پر غولي سره غالۍ هواره وه. د کوټې په مینځ کې یو وړوکی مېز ترسترګو کېده. د مېز پر سر له اوبو ډک جګ او یو ګیلاس ایښي ول. په مخامخ دېوال یو لوی ساعت راځوړند و. د ساعت تر څنګ کړکۍ ښکارېده چې خړه پرده پرې ځوړنده وه. کړکۍ ته مخامخ پر یوه کټ یو سړی پروت و...
دې ته مړ تصویر ویلای شو. حرکت نه لري، لوستونکی ژوندی تصویر نه شي ترې اخیستلای. دا بې حرکته تصویر په ذهن کې تر ډېره نه شي پاتې کیدای او لوستونکی د کیسې له لوستلو خوند نه اخلي.
په کوټه کې هر څه دي. ساعت، کړکۍ، پرده، غالۍ، مېز، له اوبو ډک جګ، ګیلاس، کټ، انسان...
که په کیسه کې دا ټول د ضرورت له مخې راوړو او استفاده ترې وکړو، کیسه پخپله تصویري کوي.
د کوټې همدا تصویر له سره ورکوو او هر څه په حرکت راولو.

د ساعت زنګ وشرنګېد ، سرې سترګې رنې کړې، وښورېد ، د کټ له سپرنګونو څخه غنجا پورته شوه. سرې کېناست، کړپ شو. د کړکۍ پله له دیوال سره ولګېده، باد په خړه پرده کې سره راټول شو. سرې د مېز له سره جګ ور پورته کړ، ګیلاس له رڼو اوبو ډک شو...
په دې مثال کې مو د کوټې او په کوټه کې د موجوده شیانو په اړه تشریح ور نه کړه، هر څه مو په حرکت راوستل، غږ مو ورکړ او ژوندي مو کړل. دا مو ونه ویل چې د مېز پر سر جګ او ګیلاس ایښی و. نه، سړی مو تږی کړ، جګ او ګیلاس ته په خپله ضرورت پیدا شو ، په حرکت راغلل.
حرکت په خپله تصویر پیدا کوي، ژوندی تصویر. دې ته د ژوندي تصویر نوم ورکولای شو.
که غواړئ چې کیسه تصویري شي، په هر څه کې حرکت پیدا کړئ او هر څه ته د ضرورت په سترګه وګورئ. ان که غره ته حرکت نه شئ ورکولای، د غره پر سر ورېځې راټیټې کړئ. له سپینو ورېځو د غره تورې څوکې راوباسئ، وریځو ته حرکت ورکړئ، غر په‌خپله حرکت پیدا کوی او ژوندی ښکاري.
د تصویر په اړه بله خبره !
زمور په ډېرو کیسو کې ښایسته نجلۍ تورې، غټې بادامي سترګې لري. پزه یې د قلم په څېر نرۍ وي. وړه خوله لري او سپین مخ.
دا ، له ښایست څخه زمور خپل تصویر نه دی.د چا چې په لومړي ځل دې تشبیه او تصویر ته پام شوی، توره یې کړې. دا تصویر یې د خپل فکر په مرسته پیدا کړې او خپل کمال یې دی، خو ځیني نور لیکوالان همدا تصویر کاپي کوي، ځکه دوی د ښایست په اړه په لومړی ځل همدا

## راځئ کیسه ولیکو

ليکوال: نصیراحمد احمدي

تصویر لوستلی ، پرته له دې چې فکر وکړي او خپل ذهن په کار واچوي، تیاره ګوله یې پیدا کړې او بیا بیا په خپلو لیکنو کې همدا بادامي سترګې او د قلم په څېر نرۍ پزه ترسیموي.
سمه ده چې تورې بادامي سترګې او نرۍ پزه د ښایست تصویر دی، خو یوازې یو تصویر، نه دا چې د فورمول په سترګه ورته وګورو او د کیسې هره ښایسته نجلۍ همدا یو تصویر ولري.
ښایست تعریف نه لري. چا ته به توري بادامي سترګې خوند ورکوي، چا ته هم شنې او بل ته خړې.
د ځینو په سترګو به سپینه څیره ښه لګیږي او نورو ته به غنم رنګې مخ خوند ورکوي.
خو زموږ ځینو لیکوالانو چې په لومړۍ ځل په کومه کیسه کې بادامي سترګې او سپین مخ لیدلی ، په ذهن کې یې حک شوی او د ښایست سمبول یې ګڼلي، خو که یې په واقعي ژوند کې په کومه نجلۍ مینه راغلې وي، شاید نه تورې بادامي سترګې ولري او نه هم د قلم غوندې نرۍ پزه.
انسانان مختلف دي، ذوقونه توپیر لري، هر څوک ښایست ته له خپله دیده ګوري. له همدې امله باید له ښایست څخه خپل تصویر ولرو او که چیرې په کیسه کې د کومې نجلۍ له ښایست څخه تصویر ورکوو ، هغه تصویر باید ورکړو چې لیکوال یې په خپله له ښایست څخه لري.
په دې توګه به تصویر نوی شي او د کرکټرونو څیرې به مو له خپله دیده انځور کړې وي. کیسه به مو نوی رنګ او نوي تصویرونه ولري، تکرار به نه وي او زموږ د خپل ذهن محصول به ښکاري.

زموږ په ډېرو کیسو کې ظالم کرکټر بدرنګه څېره لري. خیټه یې غټه وي او شونډې یې پلنې. برعکس د کیسې قهرمان مو بیا په ښایست کې بې جوړې ،د مهربانه شخصیت څښتن او د دنیا ټوله ښکلا یې په وجود کې راټوله وي.
خو په واقعي ژوند کې ډېر داسې کسان شته چې په ظاهره ښکلی جوړښت لري، خو باطن یې له کرکې ډک وي.
زموږ زیاترو لیکوالانو چې په لومړي ځل په کومه کیسه کې ظالم انسان بدرنګه لیدلی ، ښایست نه شي ورکولی، حال دا چې واقعي ژوند بل څه دی. ډېری بدرنګې څیرې مهربانه زړونه لري او ډېر ښایسته خلک په ظلم او جنایت کې د مثال په توګه یادېږي.
که واقعیتونه درک کړو او په لیکنه کې د خپل ذهن په مټ تصویرونه جوړ کړو، نو لیکلې کیسه به مو د نورو لیکوالانو له کیسو څخه توپیر ولري او خپل نوښت به مو وي.
ټول انسانان دوې سترګې لري، دربیمه نه شو ورکولای، خو په یوه سترګه کې یې ګل پیداکولای شو. همدا ګل نوی تصویر دی. که زموږ د یوه کرکټر له پزې څخه ویښته راوتلي وي او یا یې پر تندي د کالدانی داغ وي، نو څه خبره ده !ایا په واقعي ژوند کې دارنګه څېرې نه وینو؟
فکر وکړئ، سخته نه ده. انسانان رنګارنګ دي، بېلابېلې څېرې لري، هماغه څېرې تصویر کړئ چې تاسو یې په ورځني ژوند کې وینئ.
په پټي کې باید د دهقان پر تندي د خولو څاڅکي وي، همدا څاڅکي له هغه چا سره ښه نه ښکاري چې په معتدله هوا کې سیوري ته ناست دی.

راځئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

په ونه کې د مرغۍ ځاله ده. مرغۍ راځي، په خوله کې يې چينجی نیولی. په ځاله کې د مرغۍ بچي چونيږي، خوله ورته خلاصوي، مرغۍ د خپل بچي په خوله کې چینجی ور اچوي.

دا تصویر دی، خو ژور تصویر نه شو ورته ویلی، په لوستونکي هغه څه نه وینو چې دوی ته نوی وي، شاید ډېرو لوستونکو په واقعي ژوند کې دا صحنه لیدلې وې چې مرغۍ څنګه خپل بچی مړوي، خو دې ته به د ډېرو کسانو نه وي پام شوی چې د مرغی د بچې د خولې شاوخوا ژېړه پرده ښکارې.

ولیکئ:

کله چې د مرغۍ بچي خوله پرانیسته، تر خولې يې راګرځېدلې ژېړه پرده ښکاره شوه.

دا ډول باریکیو ته پام، د کیسې د تصویري کېدو لامل ګرځي او په لوستونکو نوي او په زړه پورې تصویرونه لیدلی شو.، داسې تصویرونه چې تر دې دمه يې پام نه وي ور اوښتی.

د ګلاب د ګل پاڼه به ډېرو لیدلې وي، خو کم کسان به دې ته متوجه شوې وي چې په پاڼه کې واړه واړه رګونه تېر دي، همدا واړه رګونه، نوی تصویر دی.

یو بل مثال:

په لويوالي کې مې یوه مردکۍ وموندله، نوې وه، کله چې مې لمر ته پکې وکتل، دنیا مې پکې ولېده. احساس راولوېد لکه په رڼو اوبو کې مې چې سترګه لوڅه کړې وي. وا مې رول، شین اسمان مې ولید ، غرونه جوړ شول، لاندې شنه دښته ځلېدله...

په وړکتوب کې مې ډېرې مرد کۍ په خاورو رغړولې وې، خو دې ټکي ته مې پام نه و شوی، هیڅکله مې لمر ته نه وې نیولې.
دا د نیا د مرد کۍ غوندې ده، نوي تصویرونه پکې موندلی شو، خو یو څه پام غواړي.
تر دې دمه مو د کیسه لیکنې په ځینو اړخونو : " د کیسې د موضوع، هدف، نوم، د کیسې پیل، مینځ ، پای، تلوسې ، کرکټرونو ، ژبې، ډیالوګ او تصویر " په اړه خبرې وکړې. د دې لپاره چې یاد شوي موضوعات مو لا هم په ذهن کې ښه پاخه شي، دا ټول به په یوه کیسه کې په عملي توګه و ښیو.
انتخاب شوې کیسه مې دوه کاله مخکې لیکلې وه. دا کیسه شاید ځینې نیمګړتیاوې ولري، خو زموږ هدف دا دی چې د کیسه لیکنې په اړه وپوهیږو او د کیسې ځینې اړخونه د نمونې په توګه راواخلو په ځینو هغو برخو به یې لنډې خبرې وکړو چې تر دې دمه پرې غږېدلي یو. په پای کې به ټوله کیسه په بشپړه توګه ولولو.
لومړی به د کیسې د نوم په اړه وغږیږو.

## جنایت

کیسه جنایت نومیږي، هوایي نوم مو نه دی ټاکلی، کله چې ټوله کیسه ولولئ پوه به شئ چې په کیسې پورې تړلی نوم دی. بل دا چې نوم مخکې له مخکې د کیسې محتوا نه راسپړي، یوائې دومره پوهیدای شو چې په کیسه کې به یو جنایت پیښیږي، خو معلومه نه ده چې څنګه جنایت؟ ولې، د څه لپاره او چېرته؟

راڅئ کیسه ولیکو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

---

دا نوم په خپله د تجارتي اعلان غوندې دی. تلوسه لري او لوستونکی دې ته هڅوي چې کیسه ولولي او په موضوع پوه شي.
خو په دې نوم کې یوه ستونزه شته. یو څه عمومي دی.

## د کیسې پیل او تلوسه:

د کیسې لومړی برخه را اخلو:
دسهار په خړه کې د پولیسو یو موټر لنډ راتاو شو، وښوېد او ودرېد. دروازې خلاصې شوې، عسکري بوټونه تر ښنګرو واورو پټ کړل، ولاړو خلکو لار ورکړه او عسکر تر یوه څوارلس کلن هلک را تاو شول. هلک یوه پوخ دیوال ته ولي لګولې وو، سر یې کینې لور ته ځوړند و او پر تورو ګاړګوتي ویښتو یې نری، پرخه پرته وه.
یو عسکر پر ملا کړوپ شو، د هلک پر سپینه غاړه یې ګوتې کېښودې، خپلو ملګرو ته یې وکتل او دوه درې ځله یې په منفي بڼه سر وخوځاوه.
چوپه چوپتیا وه، ولاړو خلکو پنډ کوټونه اغوستي وو، څېرې یې نېولې ښکارېدلې او له خولو څخه یې مړه تاوونه پورته کېدل.
یوه عسکر وپوښتل:
ــڅوک یې پېژني؟
د خلکو ځواب منفي و.
عسکر خپلو ملګرو ته اشاره وکړه، دوی ټوپکونه غاړو ته واچول، وچ کلک جسد یې له واورې پورته کړ او د موټر په باډۍ کې یې ترپال پرې وغوړاوه.

شپږه وروسته موټر پاخه سړک ته وخوت، خلک هم په خپلو کارونو پسې لاړل، خو په واوره کې د یوچا د ناستې ځای ، نږدې ګڼ پلونه او د موټر لنډه راتاو شوې لیکه لا ښکارېدله.

* * *

دې خو کرښو مو په ذهن کې کومې پوښتنې راوګرځولې؟
هلک څوک و؟
ولې په ساړه ژمي کې د باندې پاتې شوی و؟
په رښتیا ! یخنۍ وژلای و؟
کورنۍ یې درلوده؟
د سیمې خلکو ولې نه پېژاند ؟
دلته یې څه کول؟
موراو پلار به یې څنګه پیدا کړي؟
هغوی ته به د مړه زوی په لیدو څه ډول احساس پیدا شي؟
او نورې پوښتنې.
لوستونکی غواړي چې د دغو پوښتنو ځوابونه تر لاسه کړي. دی هغه وخت پوهیدای شي چې کیسه تر پایه ولولي.
ددې هدف دترلاسه کولو لپاره کیسه له داسې ځایه پیل کړئ، چې د لوستونکي په ذهن کې پوښتنې را ولاړې کړي.
دلته کیسه له وو نه وو څخه نه ده پیل شوې. دا نه دي ویل شوي چې څوارلس کاله مخکې همدې ماشوم نړۍ ته سترګې وغړولې. څنګه را لوی شو او څنګه تر څوارلس کلنۍ پورې را ورسېد. کیسه په یوه خواشینونکي تصویر پیل شوېده. څوارلس کلن هلک مړ دی. لوستونکی

لیکوال: نصیراحمد احمدي

په طبیعي توګه غواړې پدې پوه شي چې ولې؟ په بله مانا ، هر هغه څه چې لوستونکي ته ټکان ورکوي، د هغه په ذهن کې پوښتنې را ولاړوي او له کشمکش سره یې مخامخ کوي، هغه د کیسې په پیل کې راوړل شویدي. همدې کشمکش او پوښتنو د کیسې لوستلو ته لاره هواره کړېده. لوستونکی اړ دی چې د دې هلک د تېر ژوند په اړه مالومات ترلاسه کړي او د راتلونکي په اړه یې پوه شي. دی به ضرور کیسه لولي.

## د کیسې مینځ او تلوسه:

کیسه اوږده ده، که په دې مثال کې ټوله کیسه را واخلو، له یوې خوا به اصلي موضوع ( د کیسې مینځ او تلوسه ) رانه پاتې شي، له بل لوري به په پای کې د ټولې کیسې لوستل بېخونده کړي، نو ځکه د کیسې په پیل پسې د کیسې د دوهمی برخې لنډه برخه د مثال په توګه راوړو:

د پولیسو څارنوال ( ب ) یوه دوسیه راپورته کړه، پاڼه یې واړوله، عدلي طب د هلک مړینه طبیعي ښودلې وه، لیکلي یې و چې د یخنی له لاسه مړ شوی دی، د جرم او جنایت کومه نښه یې نه ده موندلې او د خپلوانو د نه پیداکېدو په خاطر د ښار په عمومي هدیره کې خاورې پرې واړول شوې. څارنوال ولاړ شو، دوسیه یې په الماری کې کېښوده، بېرته پرڅوکۍ کېناست، د مېز پر سر ایښې بټن یې ټینګه کړه، له زنګ سره یو وچ، کلک سړی په وره کې ودرېد، به بیړه یې وویل:

صاحب!

څارنوال چای وغوښت، سړی په منډه له دفتره ووت. څارنوال د مېز له سره یوه بله دوسیه راپورته کړه، څو پاڼې یې واړولې، خو ډېر ژر یې بېرته پر مېز کېښوده، یو اوږد اررږمی یې وېست، خپله پکه ککرۍ یې وګروله، ریموټ ته یې لاس کړ، د تلویزیون چاینلونه یې واړول، په یوه کې کارتون و، په بل کې څو مستو نجونو ګډا کوله او دریم چاینل هم یو تود سیاسي بحث خپراوه. څارنوال بېرته دوهمه بټنه ټینګه کړه، د تلویزیون پر پرده د نجونو ګډا راغله.

دا وخت یې موبایل وشرنګېد، څارنوال د خپلې کورتۍ جېب ته لاس کړ، مبایل یې غوږ ته ونیو، ورو یې وویل:

_مهرباني وکړئ، څارنوال (ب)

له مقابل لوري لړزانده غږ واورېدل شو:

_یوه مهمه خبره درته لرم.

_امر کوئ.

_یوه اوونۍ مخکې سینما ته نږدې یو لیسو یو مړی وموند.

څارنوال په بېړه وویل:

_هو! یو هلک یخنی وژلای و.

په تیلفون کې ټوخی واورېدل شو، وروسته مقابل لوري وویل:

_په ظاهره یخنۍ وواژه، خو تر شا یې یو لوی جنایت پټ دی.

څارنوال په بېړه وپوښتل:

_تاسو څوک یاست؟ له کوم ځایه خبرې کوی؟

تلیفون قطع شو.

دا برخه نوره هم پسې غزیدلې ده، خو فکر کوم چې د بحث لپاره به همدومره بس وي. دوهمه صحنه د یوه څارنوال له ورځني عادي ژوند ه پیل شوېده. څارنوال په دفتر کې دی. دوسیه را اخلي، په بې تفاوتی سره د عدلي طب له خوا د هلک د مړيني رپوټ لولي او دوسیه په سړه سینه ببرته په الماری کې ږدي. خو د لوستونکي د پوښتنو ځوابونه لا پاتې دي. دی غواړی چې پوښتنې یې ځواب شي، ځکه اړ دی چې د کیسې لوستلو ته دوام ورکړي.
ناڅاپه څارنوال ته تلیفون راځي. دا تلیفون هم څارنوال او هم په خپله لوستونکي ته ټکان ورکوي. دوی له مقابل لوري څخه هغه څه اوري چې تر دې دمه یې په اړه فکر نه و کړی.
که څه هم مقابل لوري یوه خبره روښانه کړه. هغه دا چې د هلک د مړينې علت به څه و. خو پوښتنه دا ده، چې هغه کوم جنایت دی چې هلک یې له امله شپه په واورو کې تېره کړې؟
دلته تلوسه نوره هم پیاوړې شوه. که لوستونکي د خپلې یوې پوښتنې ځواب وموند او په دې پوه شو چې د ماشوم د مړينې علت بل څه دی، خو په مقابل کې همدې ځواب، د هغه په ذهن کې نورې پوښتنې راولاړې کړې.
دا کوم جنایت دی؟
د چا لخوا او څنګه تر سره شوی؟
د جنایت یې له دې سره څه چې ماشوم له واورو ډکه سړه شپه کې پاتې شي.
او نورې پوښتنې.

په بله مانا ! په تلوسه کې تلوسه رامینځته شوه. په دې توګه لوستونکی تر پخوا ډېر د کیسې له لوستلو سره زړه تړي، د هغه یوه پوښتنه ځوابیږي خو ځای یې ځونوې پوښتني نیسي. دی اړ دی چې کیسه تر پایه ولولي. د کیسې مینځ نورې پوښتنې هم پیدا کوي چې د ټولې کیسې په لوستلو کې به روښانه شي.

## د کیسې پای

څارنوال ( ب ) په خشکه وویل:
_اقرار وکه، تا هغه هلک ته لاس وراچولی و.
هوټلي سرې لاړې تو کړې، څارنوال ته یې وکتل، شونډې یې وخوځېدې:
_نه، ما هیڅ نه دي کړي.
څارنوال تر ګرین ونیو، ورو یې وویل:
_تا زه نه یم پېژندلای، ما د ډېرو مجرمینو ژبه خلاصه کړېده، ته به اقرار کوې، ضرور.
هوټلي څه ونه ویل. څارنوال ولاړ شو، د بند په سرړه او نمجنه کوټه کې یې ځو ګامه واخیستل، ودرېد، سرړي ته یې وکتل او په کاوړ یې وویل:
_ته د بخښلو نه یې، تا جرم کړی، یو نه بخښونکی جرم، ته د لوند سپي غونډې د کرکې وړ یې، پوهېږې، ته به پانسي شې.
هوټلي ولړزېد. سړه ساه یې واخیسته، ورو یې ویل:
_راځه، یوجوړ جاړی سره وکړو.
څارنوال په حیرانی ورته وکتل.

د هوټلي شونډې وخوځېدې:
ــزه یې پانسی، ته به کومه ګټه وکړې؟
ځارنوال وویل:
ــد مقصد خبره کوه!
ــګوره، د هلک دوسیه تړل شوېده، ټول په دې قانع دي چې هغه یخنۍ وژلی، ته دوه لکه اوغانۍ واخله او ما خوشی که.
د ځارنوال سترګې رډې راوختې، ټیټ شو، هوټلي یې تر ګرېن ونیو، په خشکه یې وویل:
ــته ماته رشوت راکوې؟
هوټلي وارخطا شو.
ځارنوال یوه شېبه غلی و، بیا یې شاوخوا وکتل، د بند د کوټې ور پوري و، وروسته یې هو ټلي ته مخ ور واړاوه، دهغه غوږ ته یې خوله ورنږدې کړه، ورو یې وویل:
ــزه دومره احمق نه یم، پنځه لکه.
د کیسې پای ګنګ نه و. که یو څه ګنګ هم درته مالوم شوی وي علت یې دا دی چې تر دې دمه مو ټوله کیسه نه ده لوستې او په دې نه پوهېږو چې کیسه څنګه تر دې ځایه راورسېده.
د کیسې په پای کې خبره خلاصه شوه. د لوستونکې ټولې پوښتنې ځواب شوې، نه غوټه پاتې شوه، او نه هم تلوسه. خو له دې سره سره به دا کیسه د لوستونکي په ذهن کې تر ډېره پاتې شي، شاید فکر وکړئ چې وروسته به څه کیږي؟ ایا هوټلي به ځارنوال ته پنځه لکه افغانۍ ورکړې که نه؟ د ځارنوال او هوټلي راتلونکې به څه وي او...

بله دا چې کیسه د لوستونکي د تصور پرخلاف پای ته رسېدلې ده.
موږ په پاتې خبرو پسې نه ګرځو، ځکه پاتې خبرې د کیسې په هدف پورې نه دي تړلې.

## د کیسې هدف:

مخکې تر دې چې کیسه ولیکم، په ذهن کې مې یوائې د کیسې هدف پوخ کړ:
د دې کیسې له لیکلو څخه مې هدف دا دی څو لوستونکي وپوهېږي چې ولې په ځینو بې سرپرسته هلکانو جنسي تیری کیږي او په دې برخه کې ولې قضایي اداري عدالت نه شي پر ځای کولی.
جنایت یوه پولیسي اوږده کیسه ده. خو ما د کیسې د لیکلو پر مهال هڅه کوله چې په هره کرښه کې یوائې یو هدف تعقیب کړم او بلې خواته لاړ نه شم.

## ډیالوګ !

د کیسې یوه برخه:
څارنوال ژر د مېز پر سراینبې ګوشکۍ ورپورته کړه، یوه لنډه نومره یې ووهله، ویې ویل:
ـزما دفتر ته راشئ !
لنډه شېبه وروسته په دفتر کې یو په ونه لوړ سړی ولاړ و، څارنوال دوه ــ درې ځله د خپل موبایل سکرین ته وکتل، په کاغذ یې یوه نومره ولیکله، کاغذ یې ولاړ سړي ته ونیو، ویې ویل:

ـغواړم پوه شم چې د تلیفون دا نومره د چا ده، له مخابراتو پوښتنه وکړئ، ژر!
سړي کاغذ ور واخیست، په بیړه له دفتره ووت او تر غرمې ورک و. کله چې بېرته دفتر ته راغی څارنوال (ب) ډوډۍ خوړله. څارنوال سړي ته د کېنا ستلو بلنه ورکړه، وروسته یې په ډکه خوله وویل:
ـڅه درک دې ولګاوه!!!
سړي ځواب ورکړ:
ـهو صاحب! تلیفون له یوې پي سي او څخه شوی و، تیلیفونچي ویل چې د نهو بجو په شاوخوا کې درې تنه دوکان ته ورغلي وو، لومړۍ یوه پېغله وه چې پوره لس دقیقې یې خبرې کړي، بیا یو ځوان په خارج کې له چا سره غږېدلی و او وروسته له هغه یوه بوډا ته وار ور رسېدلی و.
څارنوال له مستو ډکه کاشوغه ورپورته کړه، سړي ور وکتل، د برېتونو لاندني تور ویښته یې په مستو سپین وو، څارنوال وویل:
ـد بوډا په اړه یې نور څه مالومات درلود؟
ـصاحب! ویې ویل چې دورځې لسګونه تنه ورځي، دی د هر یوه څېره ذهن ته نه شي سپارلی، خو دومره یې په زړه و چې بوډا کڅوړنۍ سترګې درلودې، پوزه یې غټه وه او کله چې یې د تیلیفون پیسې ورنه اخیستلې، نو تیلیفونچي د کباب بوی احساس کړی و.
څارنوال وویل:
ـپیدا به یې کړو؟
ـصاحب! ګرانه خبره ده، دا ښار دی، دلته په لسګونه زره انسانان ژوند کوي.

څارنوال یوه شېبه غلی و، ورو سته یې د مېز پر سر لوېدلې یوه یوه وربجه ور ټوله کړه، په غاب کې یې و اچوله او ویې ویل:
ـ رښتیا وایې، موندل یې ګران کار دی، باید صبر وکړم، شاید بیا تلفون وکړي، ته تلی شې.
دلته دوه کرکټره لرو. څارنوال او د څارنوال تر لاس لاندې یو مامور. خو په کیسه کې دا یادونه نه ده شوې چې څارنوال تر مامور لوړ موقف لري، بلکې لوستونکی د څارنوال له هماغه لومړي ډیالوګ ځخه پوهیږي چې څارنوال لوړه کاري رتبه لري او دوهم تن باید د ده اوامر ومني.
ـ زما دفتر ته راشئ!
یاد څارنوال دا خبره:
ـ غواړم پوه شم چې د تلیفون دا نومره د چا ده، له مخابراتو پوښتنه وکړئ، ژر!
بله دا چې که څوک دولتي او یا هم ځینو غیر دولتي دفترونو ته تللي وي، نو د صاحب ټکی به یې ډېر اورېدلی وي. دلته مامور د هرې خبرې په سر کې د (صاحب) ټکی کاروي.
ـ هو صاحب! تلیفون له یوې پې سي او ځخه شوی و، تیلیفونچي ویل چې د نهو بجو په شاوخوا کې درې تنه دوکان ته ورغلي وو، لومړی یوه پېغله وه چې پوره لس دقیقې یې خبرې کړي، بیا یو ځوان په خارج کې له چا سره غږیدلی و او وروسته له هغه یوه بوډا ته وار ور رسېدلی و.
له دې ډیالوګونو ځخه مو هدف دادی چې په کیسه کې دواړه (څارنوال او مامور) له خپل اجتماعي موقف سره سم غږیدلي دي. (البته زموږ په ټولنه کې همداسې ده.)

بل دا چې له ځینو ډیالوګونو څخه تصویر هم اخیستلای شو:

ـصاحب! ویې ویل چې دورځې لسګونه تنه ورځې، دی د هر یوه څېره ذهن ته نشي سپارلی، خو دومره یې په زړه وو چې بوډا کځوړنې سترګې درلودې، پوزه یې غټه وه او کله چې یې د تیلیفون پیسې ورنه اخیستلې، نو تیلیفونچي د کباب بوی احساس کړی و.

څارنوال او مامور دواړه لوستي خلک دي ، دې ته ضرورت نه پېښیږي چې د یوبل د خبرو په پوهېدو کې ستونزه ولري. که مامور د پي سي او نوم اخیستی، له منطقي پلوه څارنوال پرې پوهیدلی، خو که د څارنوال په ځای کوم بزګر وای، نو شاید پوښتنه ورته پیدا شوې وای چې ( پي سي او ) یعنې څه؟

پرله پسې ډیالوګونه هم لوستونکی ستړی کوي. له همدې امله په خبرو کې وقفه راوستل ضروري دی او خبرې طبیعي ښکاري.

څارنوال وویل:

ــــد بوډا په اړه یې نور څه مالومات درلود؟

ـصاحب! ویې ویل چې دورځې لسګونه تنه ورځې، دی د هر یوه څیره ذهن ته نه شي سپارلی، خو دومره یې په زړه و چې بوډا کځوړنې سترګې درلودې، پوزه یې غټه وه او کله چې یې د تیلیفون پیسې ورنه اخیستلې، نو تیلیفونچي د کباب بوی احساس کړی و.

څارنوال وویل:

ـپیدا به یې کړو؟

ـصاحب ! ګرانه خبره ده، دا ښار دی، دلته په لسګونه زره انسانان ژوند کوي.
څارنوال یوه شېبه غلی و، ورو ستهٔ یې د مېز پر سر لوېدلې یوه یوه وربجه ور ټوله کړه، په غاب کې یې وا چوله او ویې ویل:
ـ رښتیا وایې، موندل یې ګران کار دی، باید صبر وکړم، شاید بیا تلفون وکړي، ته تلی شې.
که څارنوال وریجې نه وای ور ټولې کړې او په غاب کې یې نه وای اچولې ، او دې ته اشاره نه وای شوې چې دا خبره د چا ده؟ پنځه پرله پسې ډیالوګونه راتلل:
ـــد بوډا په اړه یې نور څه مالومات درلود؟
ـصاحب ! ویې ویل چې دورځې لسګونه تنه ورځي، دی د هر یوه څېره ذهن ته نه شي سپارلی، خو دومره یې په زړه و چې بوډا کځوړنې سترګې درلودې، پوزه یې غټه وه او کله چې یې د تیلیفون پیسې ورنه اخیستلې، نو تیلیفونچي د کباب بوی احساس کړی و.
ـپیدا به یې کړو؟
ـصاحب ! ګرانه خبره ده، دا ښار دی، دلته په لسګونه زره انسانان ژوند کوي.
ـ رښتیا وایې، موندل یې ګران کار دی، باید صبر وکړم، شاید بیا تلفون وکړي، ته تلی شې.
پرله پسې ډیالوګونه سترې کوونکي دي، ډېر وخت له لوستونکي لاره ورکوي چې دا د کوم کرکټر خبره ده؟ دا ستونزه هغه وخت ډېره پیدا کیږي چې تر دوو ډېر کرکټرونه ولرو. دلته مو د یوه عمل پواسطه وقفه

راوسته، هغه دا چې څارنوال وریجې ټولې کړې ، په غاب کې یې واچولې او له هغه وروسته یې بله پوښتنه وکړه. د ډیالوګونو تر مینځ دا ډول وقفې هم کیسه تصویري کوي اد هم د اوږدو خبرو مخه نیسي.
بله خبره دا چې په ډیالوګونو کې تکراري کلمات نشته. هر ډیالوګ راتلونکي ډیالوګ ته لاره هواروي. که ساده ووایو ! هر ډیالوګ د زینې د یوې پلې مثال لري. زینه سره تړلې وي.
د ډیالوګ په برخه کې مو ولوستل چې ډیالوګونه باید لنډ وي، خو دلته مامور اوږدې خبرې کړي. دا طبیعي ده، ځکه څارنوال له هغه څخه تشریح غوښتې او مامور مجبور دی چې تشریحي خبرې وکړي.
خو بیا هم تشریح اوږده نه ده راغلې. کله کله د مجبوریت له مخې اوږدو خبرو ته هم ضرورت پیدا کیږي.
( په دې اړه د ډیالوګ په برخه کې خبرې شوې )

تصویر:
د کیسې د پیل لنډه برخه:
د سهار په خړه کې د پولیسو موټر لنډ راتاو شو، وښوېد او ودرېد. دروازې خلاصې شوې، عسکري بوټونه تر ښنګرو واورو پټ کړل، ولاړو خلکو لار ورکړه او عسکر تر یوه ځوارلس کلن هلک را تاو شول. هلک یوه پوخ دیوال ته ولې لګولې وو، سر یې کښې لور ته ځوړند و او پر تورو ګاړګوتې ویښتو یې نرۍ پرخه پرته وه.

ټولې جملې حرکت لري. ان بوټونه هم په حرکت راغلي. واورې هم حرکت پیدا کړی. د هلک په تورو ګاړګوتي ویښتو پرتې پرخې ته هم پام شوی.
بل تصویر:
شېبه وروسته موټر پاخه سړک ته وخوت، خلک هم په خپلو کارونو پسې لاړل، خو په واوره کې د یوچا د ناستې ځای ، نږدې ګڼ پلونه او د موټر لنډه راتاو شوې لیکه لا ښکارېدله.
که یوائې همدا یوه جمله هم ولولو، دا تصویر ترې اخیستی شو چې مخکې څه تېر شوي دي.
بل تصویر
څارنوال (ب ) لس کمې اته بجې په پارک کې و، له خولې څخه یې سپین تاوونه پورته کېدل او لاسونه یې د اوږده تور بالاپوښ په جېبونو کې پټ کړي وو.
دلته دا یادونه نه ده شوې چې یخني ده. خو د څارنوال (ب ) له خولې څخه سپین تاوونه راوتل او لاسونه د بالاپوښ په جېب کې پټول په خپله د یخنې نښې ګڼل کېږي.
بل تصویر:
شېبه وروسته په پارک کې هیڅوک نه و، د ونې پر یوه لوڅ ښاخ یو کارغه ښکارېده او د سپینو واورو پر سر څو وچې پاڼې باد رغړولې.

کیسه لیکنه ډېر اړخونه لري. یوائې په څو ټکو کې نه خلاصه کېږي، که ژوند و په نورو برخو به یې بل وخت خبرې وکړو.

په پای کې مو د دوو کیسو لوستلو ته رابولم. لومړی همدا د (جنایت) په نوم بشپړه کیسه ده چې ځینې برخې مو د بحث له پاره ترې را واخیستې او خبرې مو پرې وکړې. بله کیسه (بدمرغي) نومیږي چې د (جنایت) له کیسې وروسته به یې ولولئ. د (بدمرغي) په نوم کیسه مې ځکه راوړه چې تاسو له خپل دیده ورته وګورئ. هغه څه پکې وموموئ چې تر اوسه مو خبرې پرې وکړې. په دې فکر وکړئ چې کومې برخې یې ښې دي، کومې برخې یې ستونزې لري او کوم ټکي باید په پام کې نیول شوي وای چې ستونزې حل او کیسه لا ښه شوې وای.
دوهمه کیسه ستاسو د نقد لپاره ده. چاڼ او ټوک، ټوک یې کړئ. هغه ټکي ترې راوباسی چې تر دې دمه پرې غږیدلي یو.
دا تمرین به مو په عملي توګه ځینو ټکو ته متوجه کړي.
خو لومړی به د جنایت کیسه ولولو.

## جنایت

دسهار په خړه کې د پولیسو یو موټر لنډ راتاو شو، وښوېد او ودرېد. دروازې خلاصې شوې، عسکري بوټونه تر ښنګرو واورو پټ کړل، ولاړو خلکو لار ورکړه او عسکر تر یوه څوارلس کلن هلک را تاو شول. هلک یوه پوخ دیوال ته ولي لګولې وو، سر یې کیڼ لور ته ځوړند و او پر تورو ګاړګوتې ویښتو یې نرۍ پرخه پرته وه.

یو عسکر پر ملا کړوپ شو ، د هلک پر سپینه غاړه یې ګوتې کېښودې، خپلو ملګرو ته یې وکتل او دوه درې ځله یې په منفي بڼه سر وخوځاوه.
چوپه چوپتیا وه، ولاړو خلکو پنډ کوټونه اغوستي وو ، څېرې یې نیولې ښکارېدلې او له خولو څخه یې مړه تاوونه پورته کېدل.
یوه عسکر وپوښتل:
_څوک یې پیژني؟
د خلکو ځواب منفي و.
عسکر خپلو ملګرو ته اشاره وکړه، دوی ټوپکونه غاړو ته واچول، وچ کلک جسد یې له واورې پورته کړ او د موټر په باډۍ کې یې ترپال پرې وغوړاوه.
شېبه وروسته موټر پاخه سړک ته وخوت، خلک هم په خپلو کارونو پسې لاړل، خو په واوره کې د یوچا د ناستې ځای ، نږدې ګڼ پلونه او د موټر لنډه راتاو شوې لیکه لا ښکارېدله.

❋ ❋ ❋

د پولیسو څارنوال ( ب ) یوه دوسیه راپورته کړه، پاڼه یې واړوله، عدلي طب د هلک مړینه طبیعي ښودلې وه، لیکلي یې وو چې د یخنۍ له لاسه مړ شوی دی، د جرم او جنایت کومه نښه یې نه ده موندلې او د خپلوانو د نه پیداکېدو په خاطر د ښار په عمومي هدیره کې خاورې پرې واړول شوې.

څارنوال ولاړ شو، دوسیه یې په الماری کېښوده، بېرته پرڅوکۍ کېناست، د مېز پر سر ایښې بټن یې تینګه کړه، له زنګ سره یو وچ، کلک سړی په وره کې ودرېد، به بیړه یې وویل:
صاحب!
څارنوال چای وغوښت، سړی په منډه له دفتره ووت. څارنوال د مېز له سره یوه بله دوسیه ورپورته کړه، څو پاڼې یې واړولې، خو ډېر ژر یې بېرته پر مېز کېښوده، یو اوږد اږږمی یې ویست، خپله پکه ککرۍ یې وګروله، ریموټ ته یې لاس کړ، د تلویزیون چاینلونه یې واړول، په یوه کې کارتون و، په بل کې څو مستو نجونو ګډا کوله او دریم چاینل هم یو تود سیاسي بحث خپراوه. څارنوال بېرته دوهمه بټڼه ټینګه کړه او د تلویزیون پر پرده د نجونو ګډا راغله.
دا وخت یې موبایل وشرنګېد، څارنوال د خپلې کورتۍ جېب ته لاس کړ، مبایل یې غوږ ته ونیو، ورو یې وویل:
ــ مهرباني وکړئ، څارنوال (ب)
له مقابل لوري لړزانده غږ واورېدل شو:
ــ یوه مهمه خبره درته لرم.
ــ امر کوئ.
ــ یوه اوونۍ مخکې سینما ته نږدې یو لیسو یو مړی وموند.
څارنوال په بیړه وویل:
ــ هو! یو هلک یخنۍ وژلی و.
په تلیفون کې ټوخی واورېدل شو، وروسته مقابل لوري وویل:
ــ په ظاهره یخنۍ وواژه، خو تر شا یې یو لوی جنایت پټ دی.

څارنوال په بیړه وپوښتل:
_تاسو څوک یاست؟ له کوم ځایه خبرې کوی؟
تلیفون قطع شو.
څارنوال ژر د مېز پر سرا پښې ګوشکۍ ورپورته کړه، یوه لنډه نومره یې ووهله، ویې ویل:
_زما دفتر ته راشئ!
لنډه شېبه وروسته په دفتر کې یو په ونه لوړ سړی ولاړ و، څارنوال دوه د رې ځله د خپل مبایل سکرین ته وکتل، په کاغذ یې یوه نومره ولیکله، کاغذ یې ولاړ سړي ته ونیو، ویې ویل:
_غواړم پوه شم چې د تلیفون دا نومره د چا ده، له مخابراتو پوښتنه وکړئ، ژر!
سړي کاغذ ور واخیست، په بیړه له دفتره ووت او تر غرمې ورک و. کله چې بېرته دفتر ته راغی څارنوال (ب ) ډوډۍ خوړله. څارنوال سړي ته د کېناستو بلنه ورکړه، وروسته یې په ډکه خوله وویل:
_څه درک دې ولګاوه؟
سړي ځواب ورکړ:
_هو صاحب! تلیفون له یوې پې سي او څخه شوی و، تیلیفونچي ویل چې د نهو بجو په شاوخوا کې درې تنه دوکان ته ورغلي وو، لومړی یوه پېغله وه چې پوره لس دقیقې یې خبرې کړې، بیا یو ځوان په خارج کې له چا سره غږېدلی و او وروسته له هغه یوه بوډا ته وار ور رسیدلی و.
څارنوال له مستو ډکه کاشوغه ورپورته کړه، سړي ور وکتل، د برېتونو لاندني تور وېښته یې په مستو سپین وو، څارنوال وویل:

ـد بوډا په اړه یې نور څه مالومات درلودل؟
ـصاحب ! ویې ویل چې دورځې لسګونه تنه ورځې، دی د هر یوه څېره ذهن ته نه شي سپارلی، خو دومره یې په زړه وو چې بوډا کڅوړنې سترګې درلودې، پوزه یې غټه وه او کله چې یې د تلیفون پیسې ورنه اخیستلې، نو تیلیفونچي د کباب بوی احساس کړی و.
څارنوال وویل:
ـپیدا به یې کړو؟
ـصاحب ! ګرانه خبره ده، دا ښار دی، دلته په لسګونه زره انسانان ژوند کوي.
څارنوال یوه شېبه غلی و، ورو سته یې د مېز پر سر لوېدلې یوه یوه وربجه ور ټوله کړه، په غاب کې یې وا چوله، ویې ویل:
ـرښتیا وایې، موندل یې ګران کار دی، باید صبر وکړم، شاید بیا تلیفون وکړي، ته تلی شې !
د څارنوال وړاندوینه سمه وختله، ماسپښین یې موبایل وشرنګید، مقابل لوري وویل:
ـزما خبره مو زړه ته ولوېده؟
څارنوال وویل:
ـخو موږ ثبوت غواړو.
ـکیسه اوږده ده، په تلیفون کې نه ویل کیږي.
ـنو چېرته سره ووینو؟
مقابل لوری یوه شېبه غلی و، په تلیفون کې یوائې د موټرو هارنونه اورېدل کیدل، وروسته یې وویل:

_خو په یوه شرط !
_څه؟
_زه غریب سړی یم، ماته به کوم جنجال نه پیدا کوې.
_سمه ده، ژمنه کوم.
مقابل لوري وټوخل، بیا یې وویل:
ښاروالۍ ته نږدې یو کوچینی پارک دی، سباسهار نهه بجې هلته راشئ، په دې واورو کې پارک تش وي، ما په اسانۍ سره موندلی شئ.
تلیفون قطع شو.
څارنوال فکر یووړ، بیا یې د اطمینان لپاره عدلي طب ته تلیفون وکړ، هغوی خپل استول شوی رپوټ سم وګاڼه، ویې ویل چې په څېړنه کې کومه تېروتنه نده شوې، د هلک مرګ طبیعي دی او کوم جنایي اړخ نه لري.

❋ ❋ ❋

څارنوال (ب) لس کمې اته بجې په پارک کې و، له خولې څخه یې سپین تاوونه پورته کېدل او لاسونه یې د اوږده تور بالاپوښ په جېبونو کې پټ کړي وو.
په کوچني پارک کې څوک نه ښکارېدل، د هسکو ونو تور، نري او اوږده سیوري پر سپینو واورو پراته وواو تر پارک له راګرځېدلو کټارو ور هاخوا پر تور سړک یو یو موټر تېرېده.

پینځه دقیقې نورې هم ووتې، بیا د پارک په شمالي دروازه کې یو سړی ودربد، دی بوډا و، له پطلون سره یې شنه لونګۍ تړلې وه او یو پنډ زوړ جمپر یې په تن و.
شېبه وروسته یې څارنوال ته لاس ورکړ، دواړه پر یوه اوږده څوکۍ کېناستل، یوه لحظه غلي وو، وروسته څارنوال وویل:
ـ چرتي دې کړم.
بوډا هغه ته وکتل، برېتو یې سپینه پرخه نیولې وه او د اوږدې پزې تېره څوکه یې سره ښکارېده.
بوډا لنډ ځواب ورکړ:
ـ باید چرتي شي.
څارنوال مخ ور واړاوه:
ـ خبرې وکه، ما ژمنه درسره کړې، له ستونزو به لرې یې.
بوډا یو سوړ اسویلی ویست، لاندي یې پرخپل بوټ واوره تخته کړه، ورو یې وویل:
زه کسبګرسړی یم، دېرش کاله کېږي چې اشپزي کوم، ما په بېلابېلو هوټلونو کې کار کړی، لاس مې ښه دی، خو تر ټولو د کباب په پخولو کې ډېرتکړه یم، تېره میاشت مې په یوه هوټل کې کار ونیو، دا هوټل د موټرو په اډه کې دی، هلته ډېره ګڼه ګوڼه وي، ولایاتو ته بسونه ځې او ښه چلیږي. دا یو کوچینی هوټل دی، د شپې تیرولو ځای نه لري، خو مشتریان یې ډېر دي او خاوند یې په مزو کې دی.
بوډا غلی شو، یو سوړ اسویلی یې ویست او ویې ویل:

دا د اتو ورخو مخکې کیسه ده، ما کباب پخاوه، وروسته مې یوه دیارلس یا څوارلس کلن هلک ته پام شو، له نانوای نه یې ډوډۍ غوښته، خو نانوای په غوسه شو، هلک ته یې بد رد وویل او له هغه ځایه یې وشاړه. زه حیران شوم، هلک ته مې وکتل، نه یې جامې د سوالګرو وې او نه هم څېره او نور ظاهري جوړښت. ورغږ مې کړ، راغی او زما تر څنګ ودرېد. پوه شوم چې وږی دی، ما د کباب دوه سیخه ورته ونیول، ده مننه وکړه او په بیړه د کباب په خوړلو بوخت شو.
دی له رنګه ښایسته و، سپین پوست یې درلود او داسې نه ښکارېده چې تر دې مخکې دې کومه سخته پرې ورغلې وي. وروسته مې وپوښت:
ــ ولې سوال کوې؟
هلک راته وکتل، غټې تورې سترګې یې له اوښکو ډکې شوې ،ویې ویل:
ــ وږی یم، پیسې نه لرم.
ــ کور دې چېرته دی؟
هلک یوه شېبه غلی و، بیا یې سر پورته کړ، شونډې یې وخوځېدې:
ــ په ایران کې.
حیران شوم:
ــ نو دلته څه کوې؟
هلک په خواشینۍ وویل:
موږ لس کاله مخکې ایران ته مهاجر شوو، په کور کې پنځه تنه یو، زه، پلار، مور او زما دوه وړې خویندې، پلار مې په یوه ساختماني شرکت کې کار کاوه، زه هم په یوه مغازه کې مزدور وم، خلکو ته به مې سودا ورکوله، کارتنونه به مې له یوه ځایه بل ځای ته وړل، ستړی به وم، خو بیا

هم ښه و، مازدیګر به ټول سره یوځای شوو او د ورځې سترړیا به مې هېره شوه، یو سهار مغازې ته تلم، پولیسو ودرولم، د مهاجرت کارت یې رانه وغوښت، خو موږ د زرګونو نورو افغانانو غوندې غیر قانوني مهاجر و، اسناد مو نه درلودل، هماغه و چې لومړی یې د سنګ سفید په نوم یوې بندیخانې ته ولېږلم، یوه اوونۍ مې هلته تېره کړه او بیا یې له مرزه ( سرحده ) را واړولم. اوس دا دی شپږمه ورځ ده چې سرګردانه ګرځم، له کوره هم احوال نه لرم، نه پوهېږم چې څه وکړم، قاچاقبر پیسې غواړي، خو زه په ګېډه نه یم موړ، ایران ته د تګ لپاره پیسې په کار دي، ډېرې پیسې.

ما ور نه وپوښتل:

ــ ولې دلته، په افغانستان کې څوک نه لرې؟

هلک وویل:

ــ نه، ترونه مې پخوا لا پاکستان ته مهاجر شوي دي، دومره پوهېږ م چې په پېښور کې اوسي، نور یې درک نه را مالومېږي.

ــ نو دا شپږ ورځې دې چیرې تیرې کړې؟

تر پرونه یو څه پیسې راسره وې، په یوه مساپر خانه کې به مې ډوډۍ خوړه، د شپې د تېرېدو پیسې یې نه رانه غوښتې، همالته به پر تخت وېدېدم، پرون مې ټوله ورځ څه ونه خوړل، بانه مې داوه چې په نس مې درد دي، خو نن سهار د مساپرخانې خاوند راباندې پوه شو او زه یې له هغه ځایه وشړلم، ما په ژوند کې خواست نه دی کړی، خو وږی وم، تېکه نه راتله، ځکه مې له نانوایه یوه ډوډۍ وغوښته.

بوډا د ماشومانو په شور او زوږ غلی شو ، له جنوبي دروازې څخه یوه ډله ماشومان پارک ته ور ننوتل، دوی منډې وهلې، یو بل یې دواورو په غونډوسکو ویشتل، وروسته پرته له دې چې په پارک کې ماتله شي، په بیره د پارک له شمالي دروازې څخه ووتل.

د بوډا سر وځړېد ، یوه شېبه غلی و ، بیا یې ورو وویل:

_هلک یوه لحظه له ماسره ودرېد ، فکر کوم چې د کباب بوی ښه پرې لګېدلی و ، خو زه پردی مزدور وم، نوره لوربېینه مې نه شوای وربانديکولای، داوخت د هوټل خاوند راغږ کړ !

_څلور خوراکه کباب

ما نور سیخونه د انګار له پاسه کېښودل، کباب ته مې پکه وهله چې د هوټل خاوند راغی، ده د یو بل خوراک فرمایش راکړ، ویې ویل چې یو نږدې دوست یې راغلی، غوښې ته څه مثاله هم ورګډه کړه او په سیخونو کې سپین بڅرکي مه پېیه ! وروسته یې هلک ته پام شو، ما ته یې په پوښتونکي نظر وکتل، ومې ویل چې مساپر دی، له ایرانه یې را اړولی، دلته څوک نه لري.

د هوټل خاوند په ځیر ورته وکتل، مخ یې را واړاوه، ویې ویل:

_وبال لري، ډوډۍ ورکړه، بیا به نوره مرسته هم ورسره وکم.

له دې سره بېرته هوټل ته ننوت.

د هوټل خاوند په ظاهره بد سړی نه و ، په غریبانو یې پام کاوه، هر سهار به یې د سلو روپو نوټ د سوالګرو لپاره ماتاوه، هوټل ته به ډېر ګدایګر راتلل، یو یې هم نا امېده نه پرېښوده، یو دوه اوغانۍ به یې ورته نېولې،

لیکوال: نصیراحمد احمدي

دی به پر دخل ناست و او کله کله به یې له مساپرو پاتې ډوډۍ پر غریبانو ویشله.
هلک ته مې ډوډۍ ورکړه، دی تر ماسپښینه ماتل شو، ما لمونځ وکړ، په هوټل کې هیڅوک نه
و، هلک پر تخت ناست و، دی چرتي ښکارېده، زه پخلنځي ته لاړم، غوړ لوښې مې پریمینځل او د ماخستن لپاره مې غوښه پر سیخونو وپېیله، کله چې بېرته ورغلم، د هوټل خاوند مې د هلک تر څنګ ولید، دوی خبرې کولې، ښه شېبه وغږېدل، د هوټل خاوند ډاډ ورکړ چې دی ځینې قاچاقبران پطړني،هر څه به سم شي.
هلک په هوټل کې پاتې شو، د ماخستن له خوا خلک کم وو، ډوډۍ مو ژر ورکړه، وروسته د هوټل شاګردان هم خپلو کورونو ته لاړل او په هوټل کې دري تنه پاتې شوو، زه، د هوټل خاوند او کوچینی مساپر.
مور تر ناوخته ویښ وو، د هوټل خاوند دورځې حساب کاوه، هلک د بخارۍ تر څنګ غلی ناست و او ما هم د سبا لپاره غوښه وړوله، ښه شېبه نوره هم ووته، هلک ته مې وکتل، سترګې یې له خوبه ډکې وې، ولاړ شوم او د بخارۍ تر څنګ مې ځای ورته جوړ کړ. د هوټل خاوند هم څو ګامه لرې د تخت په بل سر کې پرېووت، ما ته هم خوب راته، خپله بستره مې هوا ره کړه، د ګروپ ساکټ ته مې لاس ور وغځاوه او سترګې مې پټې کړې.
زه هم دلته مساپر یم. کورنۍ مې په کلي کې ده، یوه میاشت کېده چې کور ته نه وم تللی، په هغه شپه مې خپله کوچینی لور تر ډېره په ذهن کې راګرځېده، خو وروسته خوب وړی وم.

بوډا غلی شو.
څارنوال په بیړه وویل:
بیا؟
د بوډا شونډې و خوځېدې:
ـ یوه شورماشور مې سترګې رڼې کړې، د بخارۍ د سره انګار په تته رڼا کې مې هوټلي ولید چې د هلک تر څنګ ناست و، هلک سرې ته سوکان نیولي وو، سپکې سپورې یې ور ته ویلې، خو هوټلي غلی و، هیڅ یې هم نه ویل او سر یې ځړېدلی ښکارېده، وروسته هلک په بیړه ولاړ شو، بوټونه یې په پښو کړل، خو کله چې یې د دروازې دستګیر ته لاس ور وغځاوه، ور کولپ و، بیا یو کړ نګ شو، لویه شیشه دړې وړې شوه، هلک په توره شپه کې د باندې لاړ او هوټل ته سړه هوا راننوته.
بوډا غلی شو.
څارنوال وویل:
ـدا یو لوی جنایت دی، دا پست هوټلي باید سزا وویني، باید.
بوډا وویل:
ـما بل څه نه شو کولای، کار مې پرېښود او قانون مې خبر کړ، نور نو تاسو ښه پوهیږئ.
څارنوال وپوښتل:
ـغواړې چې چېرته لاړ شې؟
ـ نپوهیږم، بل ځای به په کار پسې ګرځم، ما درته وویل، زه یو تکړه اشپز یم، روپۍ کمه یا ډېره، کار پیدا کولای شم.
څارنوال وویل:

ـ خو که تا ته ضرورت پېښ شو بیا به دې چېرې پیدا کوم؟
د بوډا شونډې وخوځیدې:
ـ تا ژمنه کړې وه چې ما ته به کوم جنجال نه پیدا کوې.
څارنوال وخندل:
ـ زه په خپله خبره ولاړ یم، خو دا زما وظیفه ده، باید د شاهد ادرس ولرم.
بوډا وویل:
ـ دلته څوک نه پېژنم، خو د کلي ادرس مې درسره ولیکه، قول ده، که مې کار وموند، په تیلیفون کې دې خبروم.
څارنوال د سړي د کلي او هوټل دواړو ادرسونه واخیستل.
شېبه وروسته په پارک کې هیڅوک نه و، د ونې پر یوه لوڅ ښاخ یو کارغه ښکارېده او د سپینو واورو پر سر څو وچې پاڼې باد رغړولې.

❋ ❋ ❋

ماسپښین دوه بجې وې، څا رنوال پر یوه خیرنه څوکۍ ناست و، پر غوړ مېز ایښې له تورو چایو ډک ګیلاس یې ورپورته کړ، هوټلي ته یې وکتل، ده د ټایپ د یوې جړ شوې کسټې راوتلې کولمې خلاصولې.
وروسته یې ورمېږ کوږ کړ، د تخت پر سر ناستو دوو تنو خبرې سره کولې او دوی ته نږدې یوه ځوانکي پر تېرو سیخانو غوښه پېیله. نور هوټل تش و.
څارنوال هوټلي ته اشاره وکړه، هغه راغی، څارنوال ته مخامخ ودرېد.
ورو یې وویل:
ـ څه شی غواړئ؟

څارنوال د لا س په اشاره هوټلي وپوهاوه چې مخامخ ورته کینې.
هوټلي حیران شو.
څارنوال جېب ته لاس کړ، یو کارټ یې راویست، د هوټلي سترګو ته یې ونیو، ویې ویل:
ـڅارنوال (ب )
د هوټلي رنګ والوت، پر څوکۍ کېناست او څارنوال ته یې په وېره وکتل.
څارنوال ورو وویل:
ـکاروبار دې څنګه دی؟
هوټلي وارخطا شو:
ـصیب ! ښه ده، ګذاره کوي.
څارنوال له چایو غوړپ وکړ، شونډې یې و خوځېدې:
ـیو څو پوښتنې درنه کوم.
ـامر کوئ ، صیب !
ـتا څو ورځې مخکې یو میلمه درلود.
هوټلي په ماته ګوډه ژبه وویل:
ـصیب، زه، زه خو ډېر میلمانه لرم، ته، ته کوم یو یادوې؟
د څارنوال شونډې وخوځېدې:
ـخو ته د شپې میلمه نه لرې.
د هوټلي رنګ سور شو.
دا وخت د مېز ترڅنګ دوه تنه ودرېدل، یوه یې وویل:
ـدوه چایه، څو روپۍ شوې؟

ـ پنځلس اوغانۍ
هغه د مېز پر سر پيسې کېښودې او دوا ړه له هوټله ووتل.
ځارنوال پسې وکتل، هوټلي ته يې مخ ورواړاوه، په ملنډو يې وويل:
ـ په زړو شيشو کې دا يوه شيشه نوې ښکارې، دا دې ولې بدله کړېده؟
هوټلي پر تخت ناست ځوانکي ته وکتل، له هغه نه يې وغوښتل چې پاتې کار په اشپز خا نه کې وکړي، وروسته يې ځارنوال ته مخ ور واړاوه، شونډې ورپېړدې او په لړزانده غږ يې وويل:
ـ ماته شوه.
ـ څنګه؟
هوټلي چيغه کړه !
ـ له ما څه غواړې؟
ځارنوال ور مخته شو، د دواړو سترګې سره وجنګېدې، ځارنوال وويل:
ـ ته ډېر پست سړی يې، تا هغه هلک ته لاس ور اچولی و، د شپې يې په بړستن ور ننوتی وې، ته پوهېږې ! هغه مړ دی، يخني وژلای.
ـ دا دروغ دي.
ـ زه شاهد لرم. زوړ کبابي.
هوټلي په بيړه ولاړ شو، منډه يې کړه، خو ځارنوال تر لمنې ونيو، سړی پړمخې ولوېد، سر يې پر يوې څوکۍ ولګيد او له تندي يې وينه روانه شوه.

❋ ❋ ❋

ځارنوال (ب) په خشکه وويل:

ـاقرار وکه، تا هغه هلک ته لاس ور اچولی و.
هوټلي سرې لاړې تو کړې، څارنوال ته یې وکتل، شونډې یې وخوځېدې:
ـنه، ما هیڅ نه دي کړي.
څارنوال تر ګرین ونیو، ورو یې وویل:
ـتا زه نه یم پیژندلی، ما د ډېرو مجرمینو ژبه خلاصه کړېده، ته به اقرار کوې، ضرور.
هوټلي څه ونه ویل. څارنوال ولاړ شو، د بند په سړه او نمجنه کوټه کې یې څو ګامه واخیستل، ودرېد، سړي ته یې وکتل، په کاوړ یې وویل:
ـته د بښلو نه یې، تا جرم کړی، یو نه بښونکی جرم، ته د لوند سپي غوندې د کرکې وړ یې، پوهېږې، ته به پانسی شې.
هوټلي ولړزېد. سړه سا یې واخیسته، ورو یې ویل:
ـراځه، یو جوړجاړی سره وکړو.
څارنوال په حیرانۍ ورته وکتل.
د هوټلي شونډې وخوځېدې:
ـزه یې پانسی، ته به کومه ګټه وکړې؟
څارنوال وویل:
ـد مقصد خبره کوه!
ـګوره، د هلک دوسیه تړل شوېده، ټول په دې قانع دي چې هغه یخنې وژلی، ته دوه لکه اوغانۍ واخله او ما خوشې که.
د څارنوال سترګې رډې راوختې، ټیټ شو، هوټلي یې تر ګرین ونیو، په خشکه یې وویل:
ـته ما ته رشوت راکوې؟

هوټلي وارخطا شو.
څارنوال يوه شېبه غلی و، بيا يې شاوخوا وکتل، د بند د کوټې ور پوري و، وروسته يې هو ټلي ته مخ ور واړاوه، دهغه غوږ ته يې خوله ورنږدې کړه، ورو يې وويل:
ـزه دومره احمق نه يم، پنځه لکه.

( پای )

## بدمرغي

ليکوال: نصير احمد احمدي

نجلۍ پر کټ ستوني ستغ پرته وه، کله کله به يې چيغه کړه، لاسونو ته ور لوېدلي ځنځيرونه به يې وشرنګېدل، سر به يې پورته کړ او بدن به يې ټکان وخوړ. تر هغې راګرځېدلي کسان خواشيني وو، دوئ په راوتلو رډو سترګو ځواني نجلۍ ته کتل... په څېرو کې يې ګونځې ښکارېدلې.
په ولاړو کسانو کې يوه چيغه کړه !

ـ تور کوډګر ناوخته شو !
تر څنګ ولاړ سړي په عاجزۍ وویل:
ـ د پاچا عمر دې ډېر وي، په تور کوډګر پسې مو عسکر لېږلي دي، دوئ د سهار په خړه کې حرکت وکړ،اوس باید را ورسېږي، سپېره غره ته تګ، یوه ورځ مزل غواړي.
پاچا خپله اوږده چپنه ورټوله کړه، روان شو، پر تخت کېناست، ځلېدونکی ژېړ تاج یې له سره لیرې کړ، په خپلو اوږدو سپینو څڼو کې یې ګوتې تېرې کړې. یوه شېبه غلی و، وروسته یې ډډ غږ د ماڼۍ په لوی او هسک سالون کې انعکاس خپور کړ:
ـ که زما په لور څه وشول، تاسو به تر تېغ تېر کم.
دولاړو درباریانو سرونه وځړېدل، په څېرو کې یې وېره ښکارېدله... وزیرانو خپل ژوند په خطر کې لېد.
یو ساعت نور هم ووت، له اوږدو شیشو څخه ماڼۍ ته ژېړه رڼا رالوېدلې وه، د درباریانو اوږدې زرینې چپنې ځلېدلې.
د پاچا غوسه ورو ورو ډېرېدله، خولې یې ځګونه پیدا کړي وو او د خپلې اوږدې تورې تر طلایي موټ یې د ښي لاس ګوتې تاوې وې.
چوپه چوپتیا وه، کله کله به د نجلۍ لاسونو او پښو ته ور لوېدلي ځنځیرونه وشرنګېدل، چیغه به یې کړه او بېرته به بېسده پرېوته.
لمر په لوېدو و چې د ماڼۍ یوه عسکر د تور کوډګر د رارسېدو خبر ورکړ، پاچا ودرېد، وزیرانو د سالون لویې دروازې ته وچې سترګې نېولې وې، ټولو د تور کوډګر د راتلو انتظار ایست. شېبه وروسته یو

زوړ سړی راښکاره شو ، دی تک تور و ، ګڼه ږیره یې درلوده ، پر نری غاړه پورې یې په خړسپینسي پیبلو وړو هډوکو ټال خوړ.
پاچا او درباریانو د احترام په ښه خپل سرونه ټیټ کړل، خو تور کوډګر مخ ور وا نه ړاوه، لاړ او د نجلۍ تر څنګ پر کټ کېناست. ښه شېبه یې هغې ته وکتل، د نجلۍ اوږده بانه نېغ ولاړ وو، تر سترګو یې یوه توره حلقه راګرځېدلې وه او پر سرو شونډو یې سپین ښکارېده. تور کوډګر خپلې زړې خورجینې ته لاس کړ، د انسان ککرۍ، د پښو دوه اوږده هډوکي او یو خیرن جام یې راویستل، وروسته ودرېد ، له ځان سره یې څه وویل او ترکټ څو ځله را تاو شو.
پاچا په خواره خوله وویل:
ــزه په تور کوډګر باور لرم.
تور کوډګر هغه ته وکتل، خو څه یې ونه ویل، هماغسې یې شونډې خوځېدلې ... دا سې کلمات یې تر خولې راوتل چې ولاړ خلک نه پرې پوهېدل.
د کوډګر شونډې تر ډېره خوځېدلې، بیا د نجلۍ تر څنګ کېناست، خورجینې ته یې لاس ور وغځاوه، یو سپین بوتل یې راویست. کله چې یې د بوتل اوبه په نقره یي جام کې واچولې، له جام څخه تور لوګی پورته شو، له دې سره د نجلۍ سترګې رڼې شوې، ځنځیرونه وشرنګېدل ...تور کوډګر چیغه کړه !
ــاې شیطانې اروا ! ته څه غواړې؟

د نجلۍ خوله له ځګونو ډکه شوه، تورو سترګو یې سوروالی پیدا کړ او شېبه وروسته یې سترګې سرو وینو ونیولې. نا څاپه یې له شونډو ډډ نارینه غږ راووت، دې غږ په سالون کې د ولاړو کسانو زړونه ولړزول.
غږ وویل:
ـ تر ټولو بدمرغه انسان!
له دې سره د ځنځیرونو شرنګا پورته شوه، تور کوډګر په چټکۍ سره تر نجلۍ راوګرځید، په لاس کې نیولې ککرۍ یې کښته پورته کړه، نامفهومه کلمات یې له خولې را ووتل. د نجلۍ رنګ ورو ورو خپل عادي حالت ته راوګرځېد، سترګو یې تور والی پیدا کړ، شېبه وروسته بېسده پریوته.
پاچا ور مخته شو، د چینې لستوڼي یې د خپلې لور پر خوله تېر کړ. بېرته په خپل ځای ودرېد
تور کوډګر وویل:
ـ د پاچا پر لور جادو شوی، نجلۍ هغه وخت رغېدی شي چې د نړۍ تر ټولو بدمرغه انسان ووینې.
پاچا یوه شېبه غلی و، بیا یې وزیرانو ته مخ ور واړاوه او امر یې وکړ چې ترټولو بدمرغه انسان ور ته پیدا کړي.
له لمر ختو سره ډولونه ودرېبدل، جارچې په ښار کې کوڅه په کوڅه وګرځېد، ده یو لوی ښکر خولې ته نیولی و او چیغې یې وهلې چې ترتولو بدمرغه انسان دې په دربار کې حاضر شي.

لیکوال: نصیر احمد احمدي


په مانۍ کې پاچا او وزیران بې خوبه او خواشیني ښکارېدل، په ټولو سرونه ځړېدلي وو او د تور کوډګر له خولې څخه نامفهومه کلمات را وتل...
د هوا له تودېدو سره عسکرو احوال راووړ چې تر ټولو بدمرغه انسان یې موندلی دی. پاچا امر وکړ چې دا بدمرغه انسان دربار ته حاضر کړي.
شېبه وروسته په یوه کټ کې داسې سړی راوړل شو چې لاسونه او پښې یې نه وو، پر مخ یې یو لوی پرهر (ټپ) ښکارېده او تر ډېره د غوښې یوې لوټې بوټۍ ته ورته و.
سړي وویل چې دی یو پوځي و، له دښمن سره په جګړه کې یې لاس او پښې غوځې شوې دي او د مخ لوی پرهر یې هم د تورې نښه ده.
د هغه د خبرو له ختمېدو سره ځنځیرونه وشرنګیدل، د نجلۍ سترګې سرې شوې او له خولې یې ځګونه وبهیدل. تور کوډګر د سړي د ایستلو امر وکړ او ویې ویل چې ده د ازادۍ په جګړه کې برخه اخیستې او تر ټولو نیکمرغه انسان دی. وروسته یې څه نامفهومه کلمات تر خولې را ووتل او نجلۍ ارامه پرېوته.
نیم سات نور هم ووت، بیا د یوې ښځې ژړا او کوکې واورېدل شوې، په سالون کې یوه ځوانه ښځه او درې خوار او ډنګر ماشومان ودرېدل، ماشومان ناروغه ښکارېدل ، دوئ د خپلې مور لمن ټینګه نیولې وه او وارخطا وو.
ښځې په ژړا کې وویل چې خاوند یې له غره څخه د خرڅلاو لپاره بوټي راوړل چې ځناورو وخوړ، اوس دوئ څه نه لري، دوه ماشومان یې له لوږې مړه شول، نورو ته یې یو مړ سپی موندلی دی، د هغه غوښه ور ته

پخوي او ژوندي يې ساتلي دي. دوئ په يو ه وېرانه کې اوسي، يواځې څلور ديوالونه دي، نه چت لري او نه هم دروازه، خو بيا هم څوک کوم غرض نه ورباندې لري.
ځنځيرونه وشرنګېدل او د پاچا په امر ښځه او ماشومان له ماڼۍ ووتل.
تور کوډګر وويل:
ـژوند يې تريخ دی، خو بدمرغه نه شو ورته ويلای، ځکه ځوانه جانه ده، تر ستورو لاندې شپه تېروي او د پاچا له وېرې څوک په سپکه نه شي ورته کتلای.
پاو وروسته يو په ونه لوړ بنيادم په سالون کې ودرېد، ده ښکلې جامې اغوستې وې، له رنګه هم سپين و او په ظاهره د بدمرغۍ کومه نښه نه پکې ښکارېدله. دده په لېدو د پاچا او درباريانو په څېرو کې ګونځې پيدا شوې، خو تور کوډګر د خبرو اجازه ورکړه !.
د سړي سر وځړېد او له خولې څخه يې يواځې يوه جمله را ووته !
ـزموږ خاوره پرديو لاندې کړېده او خپلواکي نه لرو.
ناڅاپه د ماڼۍ لويې شيشې ولړځيدې، دړې، وړې لاندې راولوېدې، له کټ څخه يو تور لوګی پورته شو، يوې ويروونکې چيغې په سالون کې انعکاس خپور کړ !
ـوسوځيدم !
لوګی په لمبه بدل شو او له لمبې څخه هم د ځناورو شکلونه جوړ شول، کله به يې د پړانګ کله د لېوه او کله هم د زمري بڼه خپله کړه، شېبه وروسته يوه وحشتناکه انګولا پورته شوه، يوې سپېڅې رڼا ولاړ خلک اړ

ايستل چې خپلو سترګو ته لاسونه ونيسي، چوپه چوپتيا شوه. د نجلۍ حيرانه غږ واورېدل شو !
ـ پلاره ! زه مو ولې تړلې يم؟
تور کوډګر چيغه کړه:
ـ تر ټولو لويه بدمرغي، د خپلواکۍ نه درلودل دي.

پای

لیکوال: نصیراحمد احمدي




## ( ۱ )

تیاره وه. سړي ګړندي ګامونه اخیستل. له کلي ووت. شمال لور ته پراخه دښته په مخه ورغله. دښته او اسمان، دواړه یولاس تک تور وو، یوازې رڼو ستورو سره جلا کول.
سړي یوه شېبه مزل وکړ، ځای ځای به په واوره وخوت، له بوټونو به یې کرښنده اواز پورته شو، نور هیڅ هم نه اورېدل کېدل. کله کله به یې د شغالانو انګولا په زړه ننوته.
پاو ووت. ستورو دومره رڼا کوله چې سړی د کارېز د سپرغې ( ځاه ) پر سر د لرګي لوی څرخ ته ودروي.

# يوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

سړي څرخ تاو کړ. غنجا شوه. ده څه نه ليدل، خو په دې پوهېده چې پر څرخ د تاو شوي پړي سر، لاندې سپرغي ته کښته کيږي.
شېبه وروسته يې پړي ته ټکان ورکړ. لاندې د اوبو چړپا شوه، پړی د کاريز تل ته رسيدلی و.
سړي بوټونه وايستل. د پړي پورتنۍ برخه يې پر څرخ تاو کړه. پړی يې ونيو، پر لاسونو يې زور راووست. پښې يې سپرغې ته ور وغزولې، په هوا کې ځوړند پاتې شو.
سړي موټ ـ موټ پړی خوشی کاوه. دی لاندې روان و، شېبه وروسته يې پر لوڅو پښو سړې اوبه ور واوښتې.
سړي د خپل پنډ کوټ جيب ته لاس کړ. لاس يې راويست، د لاسي بټۍ سپينه رڼا په رڼو، روانو اوبو ولګېده.
کړوپ شو. په اوبو کې مخ پورته لاړ. خولۍ يې د کاريز د تونل له پاسنۍ برخې وړې لوټې رابېلې کړې. ورمېږ يې لندو خاور ونيو.
ده په احتياط ګامونه اخيستل، ځای ځای به اوبه ژورې شوې. پر ځنګنو به يې راواوښتې. بيرته به ببډيو ته ټيټې شوې. دی ورو ورو مخکې ته. کله کله به سپينه رڼا د اوبو ځاځکو ته سيخه شوه. ځاځکي د کارېزه د تونل له پورتنيو لندو ختوڅخه را څڅېدل.
يو ځای ودرېد. د مور خبرې لړزه پرې راوسته.
(( شېرمامده زويه ! پام کوه ! کارېزونه درانه دي، پټې بلاوې دي خدای پټې لري. ))
ناڅاپه يې چيغه کړه ! ښی پښې ته يې ټکان ورکړ، اوبه وچړپېدې، د بټۍ په رڼا کې يو غټ ماهی پورته روان و.

یوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

---

سړي وخندل، زړه يې سره راټول کړ، په زوته ( زوره ) يې وويل:
ـهيڅ هم نه شته ! هيڅ هم نشته، هيڅ...
د ې خبرې د کاريز په تونل کې انګازې خپرې کړې، خو دی پوهېده چې پر تندي يې مړې خولې راماتې دي.
يو دم يې خوسا بوی پر سپږمو ننوت. بوی ډېر شو، په کاريزه کې د خرابې شوې غوښې بوی ته.
دوه ـ درې ګامه ليرې، په اوبو کې چړپا شوه. رڼا پر هماغه ځای ولوېده، له رڼو اوبو د غوټه ماهيانو شاهپرونه راوتلي وو، اوبه يې خيرلې، مخ پورته روان ول.
سړي پزې ته لاس ونيو، ور مخته شو. يو ځوان ځوړند سر ناست و. اوبه يې پر غزيدلو ورنو روانې وې، ملا يې د کاريزه پر دېوال پورې نښتې وه، تر غاړې يې نری نايلوني پړی تاو و.
سړي ورو د هغه کينْ لاس له اوبو راپورته کړ، پر ګوتو يې دوې غټې ګوتمۍ ښکارېدلې، ګوتميو ژېړه رڼا کوله.
سړي په بېړه ګوتمی راويستلې، لاس يې پرېښود. جسد ړنګ شو، له اوبو چرمي بټوه راووته، بوی تېز شو، تونل د کانګو او استفراق غږ ونيو، سړي وګرځول، بټوه يې د اوبو له سره ورپورته کړه. اوبه پاش شوې، ده مخ کښته ګړندي ګامونه واخيستل.

## ( ۲ )

په عمر پخې ښځې وویل:
ـشېر مامده زویه ! سره غرمه دې کړه !
کوم غږ یې وانهورېد
ښځې د برېستن پیټکه وښویوله، ورې کځوړنې سترګې یې رډې راوختې.
د پراته سړي سترګې پټې وې، په پکه ککرۍ پورې نښتې تار تار وېښته یې لانده ښکارېدل. پر لمر وهلي تور تندي یې ځاځکې ـځاځکې خوله پرته وه. ده په تیزۍ سره ساه اخیسته، ارتې، غټې سپږمې یې کښته پورته کېدې
ښځې په بېړه د هغه پلنې اوږې ته ټکان ورکړ، د سړي زګېروی شو، پر اړخ راواوښت، د ورمېږ له لندو پیچلو ویښتو یې د خولو تروش بوی پورته شو.
ښځې د سړي پر غاړه ګوتې کېښودې، ګوتو یې لوند تودوالی احساس کړ.

## یوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ښځه په بېړه ولاړه شوه. په دالان کې يې خړ ديوال ته ولاړ ګړی کوږ کړ، پر نکلي جام اوبه را واوښتې.

بېرته راغله، شېبه وروسته د سړي پر تندي لنده ټوټه پرته وه. سړي تېزه تېزه ساه وهله.

ښځې ورو وويل:

ـشېرمامده زويه ! څنګه يې؟

کړپ شو. لس ـ يولس کلن هلک د کوټې په وره کې ودرېد ، په خوشالی يې وويل:

ـلا لا ! په ډب کې هيلۍ ناستې دي.

يو دم يې شونډې وځړېدې، ورغی، د ښځې تر څنګ خواشينی کېناست، سړي ته يې وکتل، ورو يې وويل:

ـتبه يې ده؟

ښځه ولاړه شوه، په کونج کې د ايښې زاړه لرګين صندوق پله يې پورته کړه. هلک ته يې د لسو روپو نوټ ونيو ، ورو يې وويل:

ـد کلي له دوکانه د تبې ګولۍ راوړه.

د هلک په جيب کې پرتې مردکۍ وټکېدې، په منډه له کوټې ووت.

ښځې د سړي د تندي ټوټه بدله کړه، سړي خپلې وړې سترګې رڼې کړې، پترې نيولې خړې شونډې يې وخوځېدې، په زګيروي يې وويل:

ـڅه وخت ده؟

ښځې د وړې کړکۍ خيرنه پرده پورې وهله، سړي خپلو سترګو ته لاس ونيو ، په غوسه يې وويل:

ـلمر د سرای ( حويلۍ ) مينځ ته رارسيدلی.

یوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ښځې په خواره خوله وويل:
ـ تبه دې وه، نه مې شوای راپورته کولی.
د سړي تندي ګونځې پيدا کړې:
ـ ادې ! زه بايد کاريز وکېندم.
ښځه په خبره کې ورولوېده:
ـ نور کليوال هم شته !
سړي سړه سا ويسته، ورو يې وويل:
ـ دوه نيم سوه اوغانۍ ( افغانۍ ) مې له ګوتو ووتې !
څنګ ته ايښې بدنۍ يې ورپورته کړه. دوه ـ درې غوړپه اوبه يې تر ستوني تېرې کړې، ناڅاپه يې وټوخل، کانګو واخيست. مور يې په بيړه ولاړه شوه. چلمچي يې راووړ. سړي خپله خوله پکې ونيوله. ويې نه ګرځول. بېرته ستوني ستغ پرېووت. ورو يې وويل:
ـ دا اوبه مو له کوم ځايه راوړې؟
مور يې په حيرانۍ ورته وکتل شونډې يې وخوځېدې:
ـ له کاريزه !
سړي ورمېږ کوږ کړ، په چلمچي کې يې خوړ وهل.
ښځې چلمچي د باندې ويست.
سړي په خپله خوله د بړستن پېڅکه تېره کړه. تر بالښت لاندې يې لاس ننه ايست. سترګو ته يې دوې د سرو زرو ګوتمۍ ودرېدې. شنه غمي پکې ټومبلې ول.
د دروازې کړپ شو. سړي په بيړه ګوتمۍ تر بالښت لاندې کړې. ښځه راغله، پر پلاستيکي فرش يې توره چايجوشه کېښوده.

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیر احمد احمدي

سړي چایجوشې ته وکتل، له ځوښکي یې مړ تاو راووت. ویې ویل:

_له کاریزه اوبه مه راوړی !

ښځې په حیرانی ورته وکتل.

سړی وارخطا شو:

_ما ، ما ویل چې کاریز پاکیږي. اوبه به یې خړې وي.

ښځې وخندل، د خپل خیرن ټکري پیڅکه یې د پیالې پر ژی تېره کړه. ورو یې وویل:

_کاریز ته مازدیګر ناوخته لاړم، خړه ناسته وه. پاکې، سوتره، رڼې اوبه دي.

هلک کوټې ته ورننوت، ورور ته یې وکتل، تندی یې ورین شو. په خوشالي یې وویل:

_لالا ! تبه دې ښه شوه ! ! !

سړی غلی و..

هلک وویل:

_وېرېدلی یې، شونډه دې وتلې ده.

ښځه په خبره کې ورولوېده:

_ګولی دې راوړې؟

هلک یو پاکټ ګولی په غولي کېښودې. بېرته یې سړي ته وکتل، په خوند یې وویل:

_لالا ! په ډب کې هیلی ناستې دي.

د ښځې شونډې وخوځېدې:

_باز مامده ! ورور دې ناروغه دی ! مه یې پاذابوه.

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

هلک غلی شو ، شېبه وروسته یې د خواست په ژبه وویل:
_زه به یې وولم.
سړي مړاوي وخندل:
_نه ! په ټوپک به ژوبل شي.
_نه ژوبلېږم. زده مې ده ، غټې هیلې دي.
ښځه په خبره کې ورولوېده:
_غوا تږې ده.
هلک د بسترې پر سر پراته ښکاري ټوپک ته وکتل، ولاړ شو ، وره ته لا نه و رسیدلی چې سړي پسې ورغږ کړ:
_کارېزه ته یې مه بیایه !
ښځې په حیرانۍ ورته وکتل.
سړي وویل:
_اوبه د جومات له بمبې ورته راوړه !
ښځې له تورو چایو ډکه پیاله د سړي تر څنګ کېښوده. ورو یې وویل:
_دا پسې وخوره !
سړي هغې ته وکتل، په تور غروي کې یې سپینه ګولۍ ښکارېدله.
سړي ګولۍ ور واخیسته، خولې ته یې واچوله، ویې ټوخل ګولۍ یې په ستونې کې وچه ودرېده..
ښځې وویل:
د چایو غوړپ پسې وکه !
_نه !نه یې څښم.

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ښځې دسترخوان پرانیست، څو نري پاستي پکې پراته وو. سړي د پاستي څنډه ور پرې کړه، وېې ژدویله، ګولۍ له ډوډۍ سره یو ځای له ستوني تېره شوه.

ښځې بله پیاله ډکه کړه. سړي په بیړه وویل:

ـدا چای د ښځلو نه دی.

ښځې په حیرانۍ ورته وکتل. پیاله یې شونډو ته ور وړه.

د سړي تندي ګونځې پیدا کړې:

ـاوف! څنګه درته ووایم، د کاریزه اوبه مرداري دي.

د دروازې کړپ شو. هلک په سټړي غږ وویل:

په کاریز کې یې مړی وموند.

پیاله کږه شوه، ښځې ټوپ کړل، اوږه یې وسوځېده، په بیړه له کوټې ووته.

سړی نېغ کېناست، بالښت یې لیرې کړ، دوې ګوتمۍ او چرمې بټوه یې ور واخیستل، بټوه یې پرانیسته، څو خړ نوټونه پکې ښکارېدل، ویې نه پیژاندل، نوټونه لانده وو. سړی په منډه له کوټې ووت، ګوتمۍ یې جیب ته واچولې، بټوه یې هم دیوال ته نږدې لمر ته تر اېښودل شویو وچو وښو لاندې کړه. په بېړه له انګړه ووت.

( ۳ )

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

شېرمحمد ساه نیولی سپرغي ته ورسېد ، ډله کلیوال راټول ول، لویانو سپرغې ته کتل، ماشومان هم د لویانو تر مینځ په داسې چولو پسې ګرځېدل چې له هغه ځایه سپرغه ور مالومه شي. شېبه وروسته د ځرخ د تاوېدو غږ شو ، مخکې ولاړو خلکو خپلو پزو ته ځادرونه ونیول، ډله شا ته شوه، دوو پیاوړو کلیوالو پړي ته لاس ور وغځاوه، سلامت جسد یې راویست.

له بویه ټېکه نه کېده. جسد یې سپرغي ته نږدې پر خړه ځمکه پریېست، غاړي ته ورلوېدلی پړی یې خلاص کړ، د مړي ځنګنونه شخ پاتې وو.

شېرمحمد په خړه ځمکه کېناست، کلي ته یې وکتل، د خړو کورونو بامونه تور، شنه او زرغونه ښکارېدل، له ښځو ډک ول، د دیوالونو سیورو ته واوره پرته وه.

تر څنګ یې یو ځادر ولوېد. یو ډنګر سړی پر ځادر کېناست. ورو یې وویل:

ـ موږ له همدې کاربزه اوبه څښلې !

شېرمحمد غلی و.

سړي وویل:

ـ ماته خو دا مړی د ډېر وخت ښکاري. بوی یې کړی، د پښو ګوتې یې شړېدلې دي، داسې لکه ماهیانو چې خوړلې وي.

سړی غلی شو ، شېرمحمد ته یې وکتل، په حیرانۍ یې وویل:

ـ وه هلکه ! روغ نه ښکارې !

شېرمحمد د خپل پټکي شمله په خپله لنده، توره ټنډه تېره کړه. وچې شونډې یې وخوځېدې:

_تبه مې ده.
یو غږ واورېدل شو:
_څه نشته !
دواړو جسد ته وکتل، یو کلیوال د مړي جیبونه لټول.
بل وویل:
_جیبونه یې خالي دي، کوم کاغذ ماغذ نشته، پیژندلای یې نه شو.
یو بل کلیوال راغی، پایڅې یې لندې وې، له لاسونو څخه یې سوړ بوی لتېده.
پر ځادر ناست کلیوال وویل:
_څنګه مو پیدا کړ؟
نوي راغلي سړي وټوخل، شونډې یې وخوځېدې:
_نن زما وار و ،ساعت مخکې کاریز ته ورکښته شوم، خوسا بوی و، پورته لاړم ، مړی مې ولید.
نوی راغلی سړی غلی شو ، شېرمحمد ته یې وکتل، ورو یې وویل:
_تېر مازدیګر خو ته کاریزه ته ورکښته شوې، پام دې نه شو ؟
شېرمحمد د ( نه ) په بڼه سر وخوځاوه.
هماغه سړي وویل:
_سپېرمې خو دې غټې دې ، بوی یې نه درته؟
شېرمحمد په غوسه ورته وکتل. دواړه کلیوال موسک ول.

**( ۴ )**

شېرمحمد په چوتره کې لمر ته ناست و، ګوتمۍ يې سره اړولې، بټوه يې په لمن کې پرته وه. د مور غږ يې واورېد:
ـ بالښت دروړم.
شېرمحمد څه ونه ويل. هماغسې يې ګوتميو ته کتل.
درب شو، بالښت ولوېد، له پلاستيکي فرشه مړې خاورې پورته شوې.
سړي په بېړه د لاس ګوتې سره وروستې.
ښځې وويل:
ـ کوم درک يې ونه لګېد؟
ځواب يې وانه ورېد.
ښځې په حيرانۍ خپل زوی ته وکتل. په زوته يې وويل:
ـ تبه دې څنګه شوه؟
شېرمحمد ټکان وخوړ:
ـ څه؟
ـ تبه دې څنګه شوه؟
ـ بد نه يم، پېتاوی ښه راباندې ولګېد.
ښځه د هغه تر څنګ کېناسته، شېرمحمد پښې ور ټولې کړې، پر بټوه د اوږدې لمنې پېڅکه پرېوته.
ښځې په خواشينۍ وويل:
ـ کوم درک يې ونه لګېد؟
ـ نه! هيڅ هم نه پېژانده، خراب شوی و، د کلي په هديره کې مو امانت خاورو ته وسپاره.
ښځې وويل:

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ـله سهاره دې څه نه دي خوړلي، چای درته راوړم، د څاه اوبه دي، له جوماته مې راوړې

شېرمحمد د ( هو ) په ننبه سر وخوځاوه.

ښځه ولاړه شوه، د خړو کتار کوټو خواته یې ګام واخیست، یودم ودرېده، زوی ته یې وکتل، په حیرانۍ یې وویل:

ـته پوهېدې چې په کاریزه کې مړی دی.

د سړي ژبه بنده شوه:

ـنه، زه، زه

ښځې وویل:

ـسهار دې د اوبو په څښلو زړه راډکېده، د چایو پیالې ته دې هم خوله ور نه وړه، ویل دې چې د کارېزه اوبه مرداري دي. له کومه پوه شوې؟

شېرمحمد ته غوسه ورغله:

ـچای راوړې که نه؟

ښځه دالان ته ننوته.

شېرمحمد بټوه پرانیسته، یوخړ نوټ یې راویست، پردی و، نه یې پیژانده، په بیړه یې په بټوه کې پراته نور نمجن نوټونه وشمیرل، لس داني ول.

د پیالو کړپ شو، نوټونه یې ژر په بټوه کې کېښودل، د دالانه وره ته یې سترګې ور واړولې، څوک نه و. بیرته یې بټوه پرانیسته، د بټوې یوې خانې ځنځیر درلود، کش یې کړ، په پلاستیک کې بنده سپینه، نمجنه پاڼه راوختنه.

د دالان د وره غنجې شو، بټوه او پاڼه، دواړه یې تر ورانه لاندې کړل.

## يوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ښځې دوې پيالې له چايو ډکې کړې. د انګړ لرګينه دروازه خلاصه شوه. مور او زوی دواړو ورته وکتل، يوه پيغله وه، سره او سپينه ښکارېدله، ټکری يې پر مخ ور کش کړ، ليرې ودرېده، په زوټه يې وويل:
ــ ترورې ! ميلمانه لرو ، يوه ــ دوې چکۍ ګوړه پور راکه !
ښځه دالان ته ننوته. شېرمحمد غولي ته کتل، نجلۍ دروازې ته نږدې ولاړه وه. شېبه وروسته له دوو چکيو ګوړې سره له انګړه ووته.
ښځه بيرته د خپل زوی تر څنګ کېناسته، په خوند يې وويل:
ــ ودې پېژانده، سينځله وه، د ګاونډي لور.
شېرمحمد غلی و.
ښځې سوړ اسويلی ويست، له شنو چايو ډکې پيالې ته يې وکتل، وچې شونډې يې وخوځېدې:
ــ هی، هی، تشه لاسه، ته مې دښمن يې. که مې ولور په وس پوره وای، همدا اوس مې دا نجلۍ درته غوښته. کم نه يې، د خلقيانو د پاچاهۍ په اول کال پيدا شوې، تر دېرشو اوړې !.
شېرمحمد د چايو غوړپ وکړ، ورو يې وويل:
ــ باز مامد چيرې دی؟
ښځې پيالې ته وچې سترګې نيولې وې.
سړي خپله خبره تکرار کړه !
ــ باز مامد چيرې دی؟
ښځې له ځان سره وويل:
ــ ښه نجلۍ ده. روپۍ نشته، خدايکه يې نه هم راته کړي وای.

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

سړي جیب ته لاس کړ، د نصوارو ډبلی یې راویست، مخ ته یې ونیو، په ګرده اینه کې پلنه اوږده پزه، ارته سپږمې، وړې، ننوتې سترګې او اوږدې سپېرې شونډې ښکارېدلې.
یوه چونډۍ نصوار یې تر ژبې لاندې کړل، ورو یې وویل:
ـنن د کاربزه کار پاتې شو.
ښځې هماغسې پیالې ته کتل...
سړي بټوه او کاغذ په جیب کې واچول، په زوټه یې وویل:
ـادې ! ګوتمۍ مو په څو خرڅه کړه؟
ښځې په حیرانۍ ورته وکتل.
شېرمحمد وویل:
ـپه یاد دې دي؟...
غلی شو، نصوار یې تر چوترې لاندې تو کړل.
ښځې وویل:
ـکومه ګوتمۍ؟
هماغه چې د بازمامد د علاج له پاره مو خرڅه کړه.
ښځې وخندل:
ـهغه خو پخوانۍ خبره ده، باز مامد ورور دې خاپوړې کولې، نه مې په زړه کېږي. خدای دې وبخښې، پلار دې خرڅه کړه.
غوا رمباړه کړه، شېرمحمد ور وکتل، اخوره ته د ولاړې ژیړې غوا مخکینی پښې په پړې کې بندې وې. ورغی، د غوا په پښو کې تاو شوی پړی یې خلاص کړ، د اخوره په وچو وښو کې سره چرګه ګرځېدله، لوټه

يې پسې وويشته، چرګې منډه کړه، سړی ببرته پر چوتره کېناست. ښځې
په حيراني وويل:
ـولې دې ګوتمې ياده کړه؟
ـهيڅ، هسې په زړه کې راتېره شوه. بازمامد چيرې دی؟
ـخدای خبر ! بيا به د کلي له ماشومانو سره مردکۍ کوي.
شېرمحمد ولاړ شو، کوټې ته لاړ، کله چې ببرته په چوتره کې ودرېد،
لونګۍ يې تړلې وه، پر اوږه يې خړ، خيرن څادر پروت و.
ښځې وويل:
ـچېرته ځې ؟
ـد ولسوالي بازار ته. کار لرم، سودا خو به نه وي په کار؟
ښځې څه ونه ويل، سړی په بيړه له انګړه ووت.

## ( ۵ )

د ماسپښين سيوري رنګ ول، شېرمحمد ستړی ستومانه د يوې ويالې
تر څنګ کېناست. پټکی يې ليرې کړ، سپينه پکه ککری او تور تندی يې
نری، کمرنګه خړې ليکې سره بېل کړي ول.

# یوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

شېرمحمد مخ ته دوه ـ درې لپې سړې اوبه ور واچولې، اوبه وڅڅېدې، راښه څاڅکې يې په تار تار مونډۍ توره ږيره کې ننوتل.

د اوبو چړپا شوه، شېرمحمد ورمېږ کوږ کړ. ژيړه غوا په لغړو نيالګيو کې ولاړه وه. تور اوربوز يې د لښتې په روانو رڼو اوبو کې پټ و.

سړي شاوخوا وکتل، په زوټه يې وويل:

ـ بازمامده !

مخامخ د چنار له ګڼو بې پاڼو ونو غبږ را ووت:

ـ دا دی، درغلم.

شېرمحمد د لښتې پر ژی پر يوه هواره ډبره کېناست، کلي ته يې وکتل. د څو کورونو له دود کشونو څخه تورې لوخړې پورته کېدلې. لوګي د ليرې پراته غره تر سپينو څوکو هسک ول.

باز محمد وويل:

ـ لالا ! څه وايې؟

شېرمحمد ور وکتل. هلک د وياله بلې خواته ولاړ و، واوره يې خوړه، په غاړه پورې يې سره لينده ځوړنده وه.

سړي وويل:

ـ غوا دې ولې راوستې؟

د هلک وړې تورې سترګې وځلېدې:

ـ لالا، تر ونو لاندې نوي واښه رابوټېدلې دي، ما وليدل، غوا يې ډېر ښه خوري.

شېرمحمد په خبره کې ورولوېد:

ـ سيورو ته واورې پرتې دي. د مالونو د پيايلو وخت لا پاتې دی.

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

باز محمد هماغسې په خوند وویل:
ـلالا، چتکې راغلې، په یوه مې وار وکه، لینده خرابه ده، خدایکه روغ رانه تللی وای.
شېرمحمد وخندل، ورو یې وویل:
ـ ځپلۍ مې درته راوړې.
هلک ټوپ کړل، د ښی پښې زړه، شکېدلې کلوشه یې د ویالې په ژۍ ولګېده، خړې اوبه باد شوې، په بیړه یې پر ځمکه پروت څادر پرانیست، پلاستیکي ځپلۍ یې په پښو کړې، په خوند یې وویل:
ـ بندونه هم لري، ګرانه وې؟
شېرمحمد وخندل:
ـسل او غانۍ مې دربانديې مصرف کړې.
هلک په خبره کې ورولوېد:
ـتر اوسه لا ختې دي، و به یې ساتم.
شېرمحمد تړل شوی پټکی پر سر کېښود، څادر یې ور واخیست، ولاړ شو، ورو یې وویل:
ـکورته ځم، له بازاره پیاده راغلم، ستړی یم.
هلک په بیړه ځپلۍ وایستلې. ویې ویل:
ـلالا ! دا ځپلۍ هم درسره یوسه، په ختو نه شي.
سړی بیرته کېناست. ویې پوښتل:
ـلس وارې، څلور نیم زره څو کیږي؟
ـولې؟
ـپه ولې پسې یې مه ګرځه ! څو کیږي؟

هلک خپلې چاودې ګوتې وشمیرلې، یو، دوه، درې..فکر یووړ، یو دم بیې وویل:

ـدیرش زره.

د شېرمحمد د تندي ګونځې ژورې شوې:

ـڅه چتیاټ وایې، ځو ورځې وروسته به پنځم ته ځې.

هلک ځمکې ته کتل.

شېرمحمد وویل:

ـما مکتب نه دی ویلی، خو دومره پوهیږم چې لس وارې څلورنیم زره، تر دېرشو زرو اوړي، خو ته..

هلک یوځل لوڅې پښې منډه کړه، شېرمحمد پسې وکتل، غوا په نویو راختلو غنمو کې ولاړه وه. سړي خپلې په ځادر کې واچولې، زړو په ختو لړلو کلوشو وازې خولې نیولې وې.

## ( ۲ )

شېرمحمد په خوند ګوتې وڅټلې، باز محمد ته یې وکتل، څراغ ته نږدې ناست و، خپلې یې په لاس کې وې.

سړي وویل:

ـژر موړ شوې؟

هلک هماغسې خپلو څپلیو ته کتل.

زړې ښځې وویل:

ــ له شکنې ( پياوې ) سره يې نه ده جوړه.
شېرمحمد له کاسې لنده ډوډۍ ورپورته کړه. په ډکه خوله يې وويل:
ــ خوند يې ښه دی، الوګان هم لري، نور څه غواړې؟
کوم ځواب يې وانه وربېد.
ښځې وپوښتل:
ــ تبه دې ده؟
ــ نه !
ــ تندی دې خولې دی.
شېرمحمد وخندل:
ــ ادې ! اوس هوا توده شوې، په تاوخانه پسې دومره اور مه بلوه !
ښځې وويل:
ــ کاسه ليرې کم.
شېرمحمد بالښت ته ور وښوېد. ښځې کاسه او دسترخوان دالان ته ويستل، کله چې بېرته راغله، باز محمد د خپل ورور په لاسونو اوبه ور اچولې. چليمچي تر نيمايي ډک و.
شېبه وروسته د ټولو مخې ته له چايو ډکې پيالې ايښې وې، د څراغ رڼا لړزېدله، خړ ديوالونه تورو سيورو نيولي ول.
باز محمد وويل:
ــ لالا ! له خانګل سره مې وخوړل.
شېرمحمد مخ ور واړاوه.
هلک وويل:
ــ د خانجان کاکا زوی يادوم.

مور یې په خبره کې ورولوېده:
ـجنګ مه کوه !
باز محمد ته غوسه ورغله:
ـلا لا یې په بد نوم یاداوه.
شېرمحمد وخندل:
ـ څه یې ویل؟
هلک وارخطا شو، سر یې وځړېد.
سړي خپله خبره تکرار کړه !
ـڅه یې ویل؟
هلک غلی و.
مور یې وویل:
ـخبره تر پایه کوه !
باز محمد هماغسې ځمکې ته کتل، ورو یې وویل:
ـغوا یې په ډېره وویشته، ویل یې چې د شېرمامد غوندې مخ یې دی، هماغسې سپږمې لري.
د شېرمحمد خندا زوره ونیو.
مور ته یې غوسه ورغله:
ـ مرداري سترګې یې دي، نور مه ورسره ګرځه !
ښځې په غولي پراته پنډ کوت ته وکتل، بېځایه ورته ښکاره شو، ور وایې خیست.
شېرمحمد په بیړه وویل:
ـڅه کوې؟

ـهيخ ! پورته، پرميخ يې راځړوم.
يودم. شنه نوټونه لاندې ولوېدل.
شېرمحمد په بيړه ولاړ شو، نوټونه يې له ځمکې راپورته کړل، کوټ يې
وراخيست، نوټونه يې د کوټ په جيب کې کېښودل.
ښځې په حيرانۍ وويل:
ـ دومره ډېرې روپۍ؟
د سړي ژبه بنده شوه:
ـدا، دا ، دا مې
د هلک غږ يې واورېد:
ـدا هم له کوټه را ولوېده.
مور او زوی دواړو ورته وکتل، د هلک د لاس پر غروي ژېړه ګوتمۍ پرته
وه، د ګوتمۍ په شنه غمي کې د څراغ رڼا ښکارېدله.
ښځې ګوتمۍ ور واخيسته.
شېرمحمد په بيړه وويل:
ـپيدا مې کړه.
ښځه په خبره کې ور ولوېده:
ـکوچينۍ نه يم.
ـباور وکه، پيدا مې کړه !
ـپيسې دې هم پيدا کړې؟
شېرمحمد غلی شو.
ښځې وويل:
ـسپين راته ووايه !

یوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

سړي خپل ورور ته سترګې ور واړولې، بازمحمد په حيرانۍ ورته کتل.
شېرمحمد یوه شېبه غلی و، بیا یې ورو وويل:
ــګوتمۍ مې په کارېز کې د مړي له ګوتو راويستې، پيسې هم د هغه دي.
د مور او کوچيني سترګې رډې راوختې.
شېرمحمد ځمکې ته وکتل:
ــدا پرونۍ خبره ده. د کارېزه د کيندلو وروستی نوبت زما و، ډېر وخت مې خټه په بوکو کې واچوله، هماغسې په اوبو کې مخکې تلم. ، بد بوی راغی، نږدې ورغلم، یو مړی و، غوښتل مې چې نور کارېز کن هم خبر کړم، خو د مړي په ګوتو کې مې دوې ګوتمۍ ولېدې، ځان مې غلی ونيو، وخت نه و، هماغسې مې پرېښود، ماخستن ناوخته له کوره ووتم. کارېز ته ورکښته شوم، له ګوتميو سره مې بټوه هم راواخيسته.
شېرمحمد غلی شو. د مور او ورور سترګې يې رډې راختلې وې...
سړي وويل:
ــټول لس نوټه دي، نن مې يو نوټ په بازار کې مات کړ، څلورنيم زره اوغانۍ شوې. دوکاندار ويل چې ډالر دي.
د ښځې سر وځړېد. سلګۍ يې شوې، په غريو کې يې وويل:
ــتر اوسه دي مردار خوړلي دي؟
شېرمحمد ته غوسه ورغله!
ــ بل يوه ور اخيستې.
بازمحمد په وېره وويل:
ملا صيب ويل چې حرام
شېرمحمد چيغه کړه!

يوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ـچپ !

د هلک له لاسه څپلۍ ولوېدې.

ښځې په غريو کې وويل:

ـغريب به يو ، خو دومره بې غيرته نه يو چې د مړو مال ته تمه ولرو.

شېرمحمد هماغسې ځمکې ته کتل.

ښځې وويل:

ـد مړي کور پيدا که !

بازمحمد په خبره کې ورولوېد:

ـادې ! هيڅا هم نه پېژانده.

شېرمحمد کوټ ته لاس ور وغزاوه، بټوه يې راويسته، په پلاستيک کې اېښې کاغذ يې هلک ته ونيو.

باز محمد په حيرانۍ ورته کتل...

شېرمحمد وويل:

ـتذکره يې ده، ويې لوله. ځای به يې ليکلی وي.

هلک ځراغ ته ورنږدې شو. کاغذ يې پرانيست، کوچيني عکس ته يې وکتل. ښکلی ځوان و، ږيره يې نه وه، اوږدې تورې څڼې يې درلودې.

هلک توري سره وجنګول:

ن، و، م نوم : ګل، ګلاب

د پلا ، ر ، د پلار نوم: تواب، تواب شاه

د نيکه نوم

هلک په ماته، ګوډه ژبه په پاڼه کې ليکلي تورې ولوستل. د زېږيدو نېټه، کلی، ولسوالي... هر څه ليکلي ول.

یوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ښځې سوړ اسويلی ويست، شېرمحمد ته یې وکتل، ورو یې وويل:

ـکور به یې پیدا کړي؟

د سړي شونډې وخوځېدې:

ـهو، کلی یې رامالوم دی، یوه ورځ پیاده مزل غواړي، خو کليوال به څه وايي چې له مړي یې غلا وکړه!

ښځه په خبره کې ورولوېده!

ـکه په خپله ډول ونه وهې، هغوی نه خبرېږي! سهار لاړ شه، امانت ور ورسپاره، بله ورځ بېرته رارسيدی شی.

د سړي سر وخوځېد.

ښځې هلک ته وکتل. په غوسه یې وويل:

ـچا ته دي تر خولې ونه وځي!

شېرمحمد وويل:

ـسل اوغانۍ کمې دي.

هلک ځپليو ته وکتل.

د ښځې شونډې وخوځېدې:

ـ په صندوق کې به دومره څه وي چې بېرته یې پوره کړې.

## ( ۷ )

شېرمحمد په سپېدو کې له کوره ووت، له دښتې تېر شو، پرغونډ یو واوښت، مازدیګر قضا سترې ستومانه یوه کوچیني کلي ته ورسېد. کلی په یوه خړه دره کې پروت و، شاوخوا یې هسکې غونډۍ ولاړې وې. لاندې خړ کورو نه ښکارېدل، څنډې ته څپانده سیند روان و، له سپینو ځګونو تورې غټې تیږې راوتلې وې.

شېرمحمد له یوه ماشوم سره ودرېد. هلک د غونډۍ په لمنه کې ګوښې ولاړې کلا ته ګوته ونیوله.

شېرمحمد په نرۍ لار روان شو، د لارې دواړو غاړو ته پټې ول، غنم تر لویشتې ټیټ ښکارېدل، پر پولو د چنار سپېرې ونې ولاړې وې.

شېرمحمد کلا ته ورسېد، د لرګیني لویې دروازې یوه پله خلاصه وه، د کلا په مینځ کې ډېران ښکارېده، سرې او تورې چرګې په وچو خوشایو کې ګرځېدې، څو غواوې کتار، اخورونو ته ولاړې وې.

شېرمحمد یوه وړه تیږه له ځمکې ور پورته کړه. دروازې ته ورننېږدې شو، یودم له دروازې یو برګ کوچیني سخوندر راووت، سرې لار ورکړه، سخوندر مخامخ شنو غنمو ته منډه ور واخیسته.

## يوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

په وره کې یوه پیغله ودرېده، شېرمحمد ورته وکتل، غټې شنې سترګې یې وې، له ونې هسکه ښکارېده. په لاس کې یې سپین دیګی نیولی و.
نجلۍ یودم ټکری په مخ ور کش کړ، شا ته شوه.
شېرمحمد له دروازې لیرې ودرېد. لمر تر لوېدیځې غونډۍ پټ و، ژیړې وړانګې یې د ختیځو غونډیو پر سرونو لګېدلې.
چا وټوخل.
شېرمحمد ورمیږ کوږ کړ، په دروازه کې په عمر پوخ، چاغ سړی ولاړ و. سترګې یې پړسیدلې وې، پنډ اوږده بریتونه یې لرل، ژېړه وربښمینه لونګۍ یې تړلې وه.
شېرمحمد ور نږدې شو. سړي د هغه زړو جامو او په لاس کې نیولې تبر ته وکتل، ورو یې وویل:
_د کلي جومات ته لاړ شه. مزدور به ډوډۍ در پسې دروړي.
درب شو، د دروازې دواړه پلې سره ورغلې.
شېرمحمد یوه شېبه ودرېد، بیا یې لویه دروازه وټکوله. جیب ته یې لاس کړ، هماغه سړی په وره کې ودرېد، په خشکه یې وویل:
_دریاده مې کړه چې جومات
ناڅاپه یې سترګې رډې راوختې، په بیړه یې د شېرمحمد له لاسه سپینه پرانیستې پاڼه ور واخیسته، شاوخوا یې وکتل، سړی یې تر مټ ونیو.
شېرمحمد په وارخطایي وویل:
_جومات ته ځم.
سړي د هغه په مټ زور راووست، کش یې کړ، دواړه کلا ته ننوتل.
په چوتره کې ناستو ښځو منډه واخیسته. ټولې په یوه وره ننوتې.

يوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

سړي يودم وخندل، د شېرمحمد لاس يې پرېښود، په زوته ( زوره ) يې وويل:

ـراځه، خپل کور دې دی.

شېرمحمد حيران شو، شاوخوا يې وکتل، ارته چهار ديوالي وه، په هر کونج کې هسک برج ښکارېده، يوه ديوال ته خړې کوټې ولاړې وې. تر چوترې لاندې په يوه سره رنګه تراکټور پورې اوږده ټېله تړلې وه.

دواړه پر چوتره وختل. سړي د يوې کوټې ور خلاص کړ، شېرمحمد يې پر يوه توشکه کېناوه، په خپله د باندې ووت.

شېرمحمد شاوخوا وکتل، کوټه وړه وه. خړ دېوالونه يې لرل، په مخامخ ديوال کې لويه اورسۍ ښکارېدله.

له باندې نه د سړي خندا راغله:

ـچای دم کړی ! د ګلاب خان احوال يې راوړی.

د شېرمحمد زړه ولړزېد.

چاغ سړی کوټې ته راغی. ټنډه يې تروه وه، په بيړه يې وپوښتل:

ـپه کلي کې دې له چا سره خبرې وکړې؟

شېرمحمد په حيرانی ورته کتل.

سړي په خشکه وويل:

ـکوڼ يې !!!

شېرمحمد وارخطا شو:

ـهيڅ، هيڅ، يواځې مې له يوه هلکه ستاسو د کور پوښتنه وکړه.

ـدلته څوک پېژنې؟

ـنه

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

سړي سره سا واخیسته، یوې خواته کېناست. څیره یې نیولې وه، داسې ښکارېده لکه ژورو فکرونو چې په مخه کړی وي.
شېرمحمد جیب ته لاس کړ، ګوتې یې لړزېدې، پټوه او دوې ګوتمۍ یې پر خیرنه سره غالۍ کېښودې، ورو یې وویل:
ـدا هم ورسره و.
سړي بټوې او ګوتمیو ته وکتل، بېرته یې سر وځړېد..
شېرمحمد په ویره وویل:
ـپه بټوه کې پیسې دي.
سړی غلی و.
شېرمحمد خپل زړه سره راټول کړ، لړزانده خړې شونډې یې وخوځېدې:
ـګلاب دې خدای وبخښې، په کاربزه کې مو پیدا کړ، کلیوالو امانت خاورو ته وسپاره.
سړي هماغسې ځمکې ته کتل.
د شېرمحمد زړه ولوېد.
دواړه غلي ول.
شېرمحمد وویل:
ـجومات ته ځم.
سړي غولي ته کتل.
شېرمحمد، تبر ور واخیست، ولاړ شو.
سړی یې یودم مخې ته ودرېد، په خندا یې وویل:
ـچېرته!
ـجومات ته!

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

سړي وخندل، دوه مخکینۍ غاښونه یې د سرو زرو ول، په خندا کې یې وویل:

ــ کېنه زوروره ! پښتانه یو. په دې ماښام کې خو څوک د دښمن له کوره هم نه ځي.

شېرمحمد بله چاره نه لېده، کېناست.

د کوټې دروازه وټکېده.

سړی ولاړ شو. ور یې چوله کړ، په پټناسه کې پیالې ولړزېدې. شېبه وروسته د شېرمحمد تر مخ له چایو ډکه پیاله ایښې وه.

د موټر سایکل غږ شو، چوترې ته نږدې ودرېد، سړی بټوه او ګوتمۍ ور واخیستې، په بیړه له کوټې ووت.

شېرمحمد مخامخ اورسۍ ته ور وښوېد، خیرنه پرده یې چوله کړه، موټر سایکل ته نږدې یو هلهور ځوان ولاړ و، د موټر سایکل په کنجغه پورې تړلې غوټه یې خلاصوله.

چاغ سړی ور نږدې شو، څه یې وویل، ځوان غوټه پرېښوده، دواړه په یوه کوټه ننوتل.

شېرمحمد بیرته په خپل ځای کېناست، پیاله یې ورپورته کړه، ډډ نارینه غږ یې واورېد، پیاله یې بېرته کېښوده، ورسۍ ته ور نږدې شو. یو بل ګردی ځوان یې ولید چې وچ اوږد لرګی یې پر اوږه و. درب شو، چرګو منډه واخیستله، لرګي له ډېرانه مړه دوړه پورته کړه.

یو کوچینی ورغی، ګردي ځوان ته یې څه وویل، هغه هم په کوټه ننوت.

د ځاه د څرخ د تاوېدو غږ راغی. شېرمحمد ور وکتل، هماغه شین سترګې نجلۍ ولاړه وه. ټکرۍ یې مازې په ککرۍ تم و، تک تور، پېچلې وېښته یې لرل، له رنګه سپینه ښکارېده.
کړپ شو. شېرمحمد په بیړه پر توشکه کېناست.
د کوټې دروازه خلاصه شوه، دوه ماشومان په وره کې ودرېدل، دواړه خیرن ول، مخونه یې له چاودو ډک ښکارېدل.
یوه یې وویل:
ـای سړې ! ته څوک یې؟
شېرمحمد غلی و.
هماغه هلک وویل:
ـنینې دې راوړې.
شېرمحمد په حیرانۍ ورته کتل.
دوهم هلک خوله جینګه کړه !
ـیو لسګون خو راکه.
شېرمحمد څه ونه ویل.
لومړني هلک تو کړل، لاړې پیالې ته نږدې ولګېدې.
شېرمحمد په حیرانۍ ورته کتل.
هلک وویل:
ـښه مخ دې دی، پزې ته دې ګوره ! د سخوندر غوندې ده.
شېرمحمد تبر ته لاس ور وغځاوه، هلکانو منډه کړه.
د باندې ډډ نارینه غږ واورېدل شو.
ـدلته څه کوې ! هه !

درب شو ، د یوه ماشوم چیغې پورته شوې.
شېبه وروسته کوټې ته درې تنه ورننوتل. برېتور پنډ سړی بره پلتۍ ووهله، دوو نورو ځوانانو شېرمحمد ته لاسونه ور وغځول، دواړه وره ته نږدې کېناستل.
برېتور سړي وویل:
_زامن مې دي.
یوه شېبه ټول غلي ول، وروسته برېتور سړي چوپتیا ماته کړه :
_د کوم ځای یې؟
د شېرمحمد شونډې وخوځېدې:
_د ګودر د کلي.
نوم دې څه دی؟
_شېرمحمد.
_څه کاروبار؟
شېرمحمد په لړزانده غږ وویل:
_غریبي ده ! اوړی دهقاني کوم، ژمی هم کاربزونه کېندم.
سړی غلی شو. شېرمحمد ورو خپل څنګ ته وکتل، تبر ته یې لاس ور رسېده.
برېتور سړي وویل:
_کلی مو خبر دی؟
شېرمحمد په حیرانۍ ورته وکتل.
سړي وویل:
_کلیوال مو په دې پوهیږې چې ته دلته راغلی یې؟

ـنه ! صيب.
ـدا ور مالومه وه چې ګلاب د کوم ځای دی؟
ـنه ! که خبر وای ، نو تاسو ته يې احوال راليږه، مړې يې په خپل کلي کې امانت نه ايښوده.
برېتور سړي سړه ساه واخيسته، ويې ټوخل. ورو يې وويل:
ـ بټوه او ګوتمۍ دې له کومه کړل؟
ـصيب ! کارېز مې کېنده، مړی مې ولېد.
برېتور سړي وخندل:
ـاو ځان دې غلی ونيو.
د شېرمحمد سر وځړېد.
سړي وويل:
ـډېرې پيسې وې ! ولې دې راوړې؟
ـصيب ! مور مې مجبوره کړم، ويل يې چې حرام ښه نه دي.
د ماښام د اذان غږ شو.
ټولو خپل څادرونه هوار کړل، شېرمحمد شاته ودرېد. په لمانځه کې يې سترګې يوې بلې خواته رغړولې. ده تر نورو ژر څادر ور ټول کړ.
له لمانځه وروسته دوه ځوانان له کوټې ووتل، په عمر پوخ برېتور سړی توشکې ته ور وښوېد ، غلی کېناست، وروسته يې وويل:
ـښه تبر دی.
شېرمحمد وخندل:
ـصيب ! د احتياط له پاره مې راوخيست، لېوان ډېر دي.
سړي د ( هو ) په نښه سر وخوځاوه.

یوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

شيبه وروسته ګردی ځوان کوټې ته راغی، د ګاز بله ډبه يې په غولي کېښوده، بېرته د باندې ووت. برېتور سړي د خپل لاس ژېړې ګړۍ ته وکتل، په تاخچه کې ايښې راډيو يې ور واخيسته، ستن يې تاو کړه، نطاق د خارجي قواوو د وتو په اړه غږېده.

د برېتور سړي پلنې شونډې وخوځېدې:

ـ پکر ( فکر ) نه کوم. دا کوپار اډې غواړې.

شېرمحمد غلی و.

سړي وويل:

ـ ته څه پکې وايې؟

شېرمحمد وخندل:

ـ صيب ! نه پوهيږم.

سړی غلی شو.

راډيو چالانه وه. د ګاز له سورۍ سپينې جالۍ شنه، تېره لمبه راوتله.

له تياري سره ډوډۍ راوړل شوه، ښوروا وه، په پلاستيکي غاب کې ګرد اخيستل شوې پياز پراته ول، په پيازو کې د چاړې تورې خيرې له ورايه ښکارېدلې.

له ډوډۍ وروسته، پلار او دوه زامن ولاړ شول، چای يوه ماشوم راووړ، شېرمحمد ګوښی و.

ناوخته د کوټې دروازه خلاصه شوه، په ونه لوړ ځوان يوه زړه برستن پر توشکه واچوله، د ګاز ډبه يې ور واخيسته، چوپه خوله، له کوټې ووت.

شېرمحمد څادر هوار کړ، په توره شپه کې ودرېد، له لمانځه وروسته يې بالښت ور واخيست. په برستن کې ننوت، د برستنې سوړ بوی ته، ساه يې

بنده شوه، ببرته یې سر لوڅ کړ، غوږ یې ونیو، د سیند د څپو نرۍ شنهاری اورېدل کېده، کله کله به د شغالانو انګولا ورسره ګډه شوه.
بیا یې یو غږ واورېد، په چوتره کې یو څوک ګرځېدل، شېرمحمد ورو ولاړ شو، تر اورسۍ یې د باندې وکتل، تیاره وه، د کلا تر هسک تور دیوال پورته رانه ستوري ځلېدل. د پښو د ګوتو پر سرونو د کوټې دروازې ته ورغی، زولفۍ یې کړه، ببرته په خپل ځای پرېووت، تبر یې په بړستن کې ننه ایست.
یودم د کوټې په پرده ژېړه رڼا ولګېده، شېرمحمد ورو ورسۍ ته ورنږدې شو، په کلا کې بل څراغ ګرځېده. شېرمحمد په ځیر ورته کتل، د څراغ پلېته ټیټه وه، مازې د یوه بنیادم په خړو پایڅو او لمنې لګېدله. جامې د نارینه وې، څراغ یوه شېبه تاوېده، وروسته په یوه کوټه ننوت.
شېرمحمد ته وېره ور لوېدلې وه، په زړه کې یې پوښتنې ورګرځېدې.
ځان یې په خطر کې لید، خو نه پوهېده چې ولې؟
د ی تر ډېره ویښ و، وروسته خوب پرې زورور شو.

## ( ۸ )

شېرمحمد سترګې رڼې کړې، شور او زوږ و، د باندې یې وکتل، سپیدې چاودلې وې، په یوه کوټه کې د څراغ تته رڼا ښکارېدله، غږ له هماغه کوټې راووت.
یودم کوکه شوه، یو څوک له کوټې راووتل، نجلۍ وه، د کلا د لوېې دروازې خواته یې منډه کړه، ټکرۍ یې له سره ولوېد. له کلا ووته.

د کوټو ورونه خلاص شول، واړه ، زاړه د باندې راووتل، ډېر نارينه غږ يې واورېد:
ـمه يې پرېږدی !
دوو ځوانانو د کلا د لويې دروازې خواته منډه کړه.
شېرمحمد په بيړه د کوټې په لستوڼو کې لاسونه ننه ايستل، لونګۍ يې وتړله، تبر يې ور واخيست.
ښځينه وارخطا غږ يې واورېد:
ـڅه ټکه راپرېوته !
شېرمحمد ورسی ته ورغی، تورسرې او ماشومان تر برېتور سړي را تاو ول، سړي ښکاري ټوپک ته کارتوس ور اچاوه.
شېرمحمد هماغسې ولاړ و ، لينګې يې لړزېدل، لاره ورنه ورکه وه.
د وره درب شو ، د سړي له غوسې ډک غږ يې په زړه لړزه راوسته:
ـدروازه خلاصه که !
شېرمحمد تر اورسی ووت، پلاستيکي بوټونه يې ور واخيستل، ښځو چيغې کړې، شېرمحمد په منډه کې شاته وکتل، ټوپک ته لاسونه ور لوېدلي ول، په هوا کې تاوېده، برېتور سړي زورونه وهل..
شېرمحمد له کلا ووت. په شنو غنمو کې يې منډه واخيسته، تر چنارونو تېر شو ، مخامخ پر يوه ټيټه پخڅه ورغی، تر دېوال واوښت، باغ و ، په کتار لوڅو ټيټو ونو کې يې منډه کړه، په ورانه کې يې نری درد تير شو ، ولوېد ، څنګ ته له ځمکی راوتلی ولاړ لرګی کوږ شو ، ورانه ته يې وکتل، د ازغن سيم تېره ميخ پکې ننوتی و.

## يوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

بيرته ولاړ شو ، لاندې لوېې، هسکې ډبرې وې، ور هاخوا د سيند څپې پر کمره لګېدې، شنهارى يې خوت، د اوبو پر سر سپين ځګونه روان ول.
شېرمحمد د سيند څنډې ته ور کښېنسته شو ، د دوو لويو تيږو تر مينځ غلی کېناست، د کلا خواته يې وکتل، څوک نه و.
سړه سا يې واخيسته، لپه يې جوړه کړه، رنې اوبه يې پر مخ وڅڅيدې.
بېرته يې يوې لويې تيږې ته ولي ولګول، سيند ته يې وکتل، سپين ځګونه سره اوښتل...
شېرمحمد ولاړ شو ، د سيند په څنډه کې مخ پورته لاړ. يو ځای ودرېد ، له ځمکې يې يوه ښځينه پلاستيکي چوټه ( څپلکه ) ور پورته کړه، نوې وه، تلی يې په ختو ککړ و. شاوخوا يې وکتل ، سترګې يې رډې راوختې، د مخامخ کمره پر سر يوه ځوانه نجلۍ ولاړه وه، ټکرى يې نه و، ټټر يې راوتلی ښکارېده، اسمان ته يې کتل، تور اوږده ويښته يې له ملا بيل ول.

شېرمحمد منډه ور واخيسته، نجلۍ ټوپ کړل، لاندې په سپينو ځګونو کې ننوته. سرې خپل څادر، پټکی او تبر پر ځمکه واچول، کوټ يې وښست، په يوه هسکه ډبره وخوت. روانو ځګنو اوبو تور غونچه ويښته ورسره وړل.
ټوپ يې کړل، پر سر يې سرې اوبه ور واوښتې، غوږونه يې ډب شول، پښې يې ووهلې، د بوټونو تلي ځمکې ته نه رسېدل.
اوږه يې له يوې لويې تيږې سره ولګېده، د اوبو زوروره څپه يې تر ټټر لاندې شوه، سر يې له تاوېدونکو سپينو ځګونو راويست، شاوخوا يې وکتل، نجلۍ يې تر څنګ روانه وه.

## يوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

لاس يې ور وغځاوه، څپې يو ګز شا ته يووړې، ډوب شو، اوبه يې تېرې شوې، يوځای يې پښه له ځمکې سره ولګېده، د بوټونو پر تليو يې زور راووست، سرته راوخوت، ويې ټوخل، نجلۍ دوه ګامه ليرې، ځګنو څپو اخيستې وه.

شېرمحمد په بېړه پښې ووهلې، يوه توره ډبره په مخه ورغله، ځان يې څنګ ته کړ، ښی لاس يې ډبرې ته برابر شو، ټېل يې وهله، کيڼ لاس يې د نجلۍ مټ ته ورسېد، د هغې سر يې له اوبو پورته ونيو.

پشهاری ډېر شو، سرې مخامخ وکتل، لاندې سيند سره راټول و، تکې تورې لويې ډبرې ښکارېدلې، په مينځ کې يې سپين ځګونه روان ول، غړمبهاری يې خوت.

شېرمحمد د اوبو څنډې ته ور نږدې شو، څپه راغله، پښې يې ووهلې، له ځمکې پورته شو، يوې تېرې تيږې ته يې لاس ور واچاوه، ګوتې يې د تيږې يوې راوتلې برخې ته سيخې شوې، هماغه ځای يې ټينګ ونيو، په کيڼ لاس يې زور راووست، نجلۍ يې له اوبو راپورته کړه، د هغې سر وځړېد، لانده پيچلي وېښتان د سرې پر مخ او غاړه راپرېوتل.

ځای ښه و، اوبه د تيږې دواړو غاړو ته وتلې، وچه څلور ـ پينځه ګزه ليرې وه.

شېرمحمد څو ځله ژوره ساه واخېسته.. د نجلۍ ټټر يې خپلې کيڼې اوږې ته برابر کړ، پر ښي لاس يې زور راووست، تر نامه له اوبو پورته شو، تاوېدونکې څپه يې ورنو ته سيخه شوه، هسک شو، تر مخامخ راوتلې تېرې تيږې يې لاس راوګرځاوه، پښې يې پر ځمکه ولګېدې، مخکې لاړ، د څنډې اوبه مړې وې، وچې ته وخوت.

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

نجلۍ یې پر یوه هوار ځای پرېیسته، په بیړه یې ورته وکتل، سترګې یې پټې وې، پر سپین تندي یې له اوبو سره ګډه، نرۍ وینه روانه وه.
تر ولیو یې ونیوله، کش یې کړه، پر یوه هواره شیب داره ډبره یې پړمخې پرېیسته، د نجلۍ له خولې رنې اوبه وڅڅېدې، زګیروی یې شو، بېسده پرېوته.
شېرمحمد کلي ته وکتل، څوک نه و، منډه یې کړه، د سیند پر ژۍ مخ پورته لاړ، کوټ، تبر، څادر او خلاصه ول ول لونګۍ لیرې پراته ول.
سړي خولۍ پر سر کړه، تبر، کوټ او لونګۍ یې په څادر کې واچول، بېرته مخ کښته روان شو. نجلۍ له ډبرې رغړېدلې وه، د ټټر تنې یې خلاصې وې، تور اوږده بانه یې سره سرېښ ول.
شېرمحمد څادر پرې هوار کړ، یخني وه، ژامې یې ولړځېدې، شاوخوا یې وکتل، زړه یې ولوېد، پورته په پټې کې یو څوک ولاړ و.
شېرمحمد پړمخې پرېووت، یوې ډبرې ته ور وښوېد، کېناست، تر څنګ یې وکتل، سړي د اغزن سیم رنګې پایې ته وچې سترګې نیولې وې. یودم لاندې ډبرو ته راکښته شو.
شېرمحمد په بیړه نجلۍ ته وکتل، له ورایه ښکارېدله. ورور ور وښوېد، نجلۍ یې د هسکو تیږو مینځ ته ور کش کړه، غلی کېناست. سر یې پورته کړ. د زړه دربا یې ډېره شوه، سړی څلور پنځه ګامه لیرې و، ژېړه وربښمینه لونګۍ یې تړلې وه، د سهار په خړه کې یې پنډ برېتونه له ورایه ښکارېدل، په لاس کې یې ښکاري ټوپک نیولی و.
له پورته دوه تنه راغلل، یو یې ټیټ شو، د اوبو له ژۍ یې یوه چوټه (څپلکه) ورپورته کړه، دواړه ودرېدل، برېتور سړی هم ورغی، له ونې

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

تېیتې ځوان کمره ته ګوته ونیوله، دوی خبرې کولې، غږ یې نه راته، د ځپو غږمبهاري خوت.

درې سره مخ کښته را روان شول، شېرمحمد تېیتې شو، د دوو تیږو تر مینځ په یوه چوله کې ننوت، نجلۍ وتوخل، سرې یې پر خولې لاس کېښود، ساه یې تر پزې راوخته.

غوږ یې ونیو، د ځپو له غږ سره خبرې ګډې وې، خبرې ورو ورو رانږدې کېدې. شېبه وروسته له غوسې ډک غږونه تر څنګ تېر شول.

شېرمحمد سر پورته کړ، درې تنه د سیند پر ژۍ مخ کښته روان وو. تولو اوبو ته کتل.

یودم خرهاری شو، شېرمحمد په بیړه لاندې وکتل، د نجلۍ شنې، غټې سترګې رډې راختلې وې، لغتې یې وهلې.

سړي د هغې له ډکو سرو شونډو لاس لیرې کړ، نجلۍ ژوره ساه واخیسته، چیغه یې کړه، شېرمحمد یې پر خوله لاس کېښود، سر یې هسک کړ، درې تنه مخ کښته روان ول.

ناڅاپه یې ګرېوان وشلېد، لاندې یې وکتل، د نجلۍ ګوتې یې په ګرېوانه کې بندې وې.

شېرمحمد په غوسه وویل:

ــ وژنې مې !

د نجلۍ سترګې رډې راختلې وې.

شېرمحمد وویل:

ــ خوشې کوم دې، خو په یوه شرط، چیغې به نه وهې؟

د نجلۍ تور اوږده بانه سره ورغلل.

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

شېرمحمد د هغې له خولې لاس لیرې کړ. نجلۍ په بیړه ولاړه شوه، سړي تر مټ ونیوله، په شدت یې لاندې کش کړه، نجلۍ کېناسته، شېرمحمد وویل:

ـد خدای له پاره، مه مې پرېوژنه!

نجلۍ شاته شوه، ولې یې ډبرې ته ولګول.

شېرمحمد څادر وراچاوه، نجلۍ ځان پکې وپیچه، غلې کېناسته.

سړي وویل:

ـد کور وال دې در پسې ګرځي.

نجلۍ غلې وه.

سړي غړۍاوږده کړه، لیرې د لویو ډبرو په مینځ کې درې تنه هماغسې مخ کښته روان ول.

سړي وویل:

ـته لیونۍ یې؟

نجلۍ په راوتلو رډو سترګو ورته کتل. یودم یې کوکه کړه، د سیند د څپو خواته یې منډه واخیسته.

شېرمحمد په بیړه ولاړ شو، د نجلۍ ګرده لنده لمن په ګوتو ورغله، دواړه پړمخې پرېوتل، د سړي خوله او پزه پر ځمکه ولګېدل، نرۍ درد یې په سر کې تیر شو.

نجلۍ چیغه کړه!

ـخوشې مې که!

سړي تر مټ ټینګه نیولې وه. نجلۍ ژړل.. د سیند خواته یې زورونه وهل...

## يوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ژړا يودم غلې شوه، سرې ورته وکتل، د نجلۍ خوله سپينو ځګونو نيولې وه، سترګې يې پټې وې.

شېرمحمد سړه ساه ويسته، د نجلۍ مټ يې پرېښود، ستوني ستغ اوړېد وغزېد، لمرد ليرې غره د څوکو سپينې واورې ځلولې.

سړی يخنۍ واخيست، ولاړ شو، د کوټې په لستونو کې يې لاسونه ننه ايستل، ځنځير يې کش کړ. پزې ته يې لاس ور ووړ، وينې وه.

شېرمحمد حيران و، نه پوهېده چې څه وکړي، لاره ورنه ورکه وه.

نجلۍ ته نږدې کېناست، نجلۍ وخوځېده، سترګې يې رڼې کړې، سړي ته يې وکتل، کېناسته، سر يې پر ځنګانه کېښود، د تورو پيچلو وېښتو څوکې يې پر ځمکه ولګېدې، يودم يې په چيغو چيغو وژړل.

شېرمحمد په حيرانۍ ورته کتل.

د لمر وړانګې د غزېدلې غونډۍ په پاسنيو برخو لګېدلې، لاندې سيند په سيوري کې روان و. نجلۍ هماغسې ژړل...

شېرمحمد کلي ته وکتل، د کورونو لمر خاته خوا دېوالونه روښانه ول، له ځينو بامونو تور لوګي پورته کېدل، ليرې يو ماشوم په رمې پسې روان و، تور سيرلي د غونډۍ په لمنه کې مخ پورته ختل.

بېرته يې نجلۍ ته سترګې وروا ړولې، هغې ژړل...

شېرمحمد وويل:

ـبس که نور !

نجلۍ سر پورته کړ، د شنو غټو سترګو سپين يې سرو رګونو نيولي وو، ګلابي بغور ( غومبري ) يې لانده ښکارېدل، د نرۍ پزې څوکه يې سره وه.

شېرمحمد وويل:

ـ ګوره ! زه ملا نه يم، خو له ملايانو مې اورېدلي چې ځان وژونکی به په دوزخ کې وي.
نجلۍ يودم کوکه کړه:
ـ هغوی مې ورور وژلی.
د سړي لينګې ولړزېدل.
نجلۍ په چيغو چيغو ژړل...
ښه شېبه ووته، ډېرو تک تور اورېده سيوري پيدا کړل، د سيند په څپو کې د لمر ژېړه رڼا ګډه وه.
شېرمحمد لونګۍ تر سر تاو کړه، تبر يې ور واخيست، ويې ويل:
ـ زه نو ځم.
نجلۍ په بيړه ورته وکتل، سلګۍ يې شوې، ورمېږ يې کوږ کړ، څپې په تورو ښويو تيږو لګېدلې.
سړي وويل:
ـ ليونتوب مه کوه !
نجلۍ سيند ته کتل... يودم ولاړه شوه. سړی يې تر مخ ودرېد. د هغې ژړا زوره ونيوه، چيغه يې کړه !
ـ ته مې هرات ته بيايې؟
د سړي ځنګنونو پړک واخيست.
نجلۍ په بيړه د کيڼ لاس لستونی ور ټول کړ، څلور ژيړ بنګړي ښکاره شول، په غريو کې يې وويل:
ـ سره زر دي، ټول يې ستا، خو د خدای روی ومنه ! ما تر هراته ورسوه !
شېرمحمد په حيرانۍ ورته کتل....

د نجلۍ په سترګو کې نا امیدي راټوله شوه، ګام یې واخیست، شېرمحمد څنګ ته شو، نجلۍ پر یوه هواره ډبره ودرېده، اوبو ته یې وکتل، سترګې یې پټې کړې.
شېرمحمد تر مټ ونیوله. نجلۍ چیغه کړهَ
_لاس مې پرېږده !
څنګنونه یې پر هواره تیږه ولګېدل، په چیغو_چیغو یې وژړل.
شېرمحمد وویل:
_زه غریب سړی یم، بدنامې ده، بدي نه شم کولای.
نجلۍ هماغسې ژړل...
شېرمحمد یودم تر لاس ونیوله، کش یې کړه، دواړه په ولاړو تیږو کې کېناستل، نجلۍ په حیرانۍ ورته کتل، څادر یې په غاړه کې پروت و.
شېرمحمد د کلي خواته ګوته ونیوله، لیرې پر پوله کتار کلیوال روان ول.
له یوه سره د موټر له هوا ډک ټوپ ښکارېده، ډله دسیند خواته راتله، تر مخې یې پنډ برېتور سړي ګامونه اخیستل.
شېرمحمد په وارخطایي وویل:
_له دې ځایه باید لاړ شو.
نجلۍ چیغه کړه:
_څم، ټولو کلیوالو ته وایم چې ورور یې راوژلی.
ولاړه شوه.
شېرمحمد تر لاس ونیوله، په غوسه یې وویل:
_ ته به له ژونده سترې یې، خو زه مور او ورور لرم، که دواړه سره ووینې، خدایکه مو وینه ځمکې ته پرېږدي.

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

---

**نجلۍ وويل:**

ـته مې هرات ته بيايې؟

ـهو !

**نجلۍ** کېناسته، ډکې سرې شونډې يې وخوځېدې:

ـتا قول راسره وکړ !

**شېرمحمد** روانو کليوالو ته کتل... يودم يې په وارخطايي وويل:

ـ له دې ځايه بايد لاړ شو.

**نجلۍ وويل:**

ـهلته تلی شو ؟

**شېرمحمد** ور ته وکتل، هغې پورته په پټې کې خړې ولاړې کوټې ته ګوته نيولې وه.

**نجلۍ وويل:**

ـد اوبو پخوانۍ ژرنده ده.

سړي په ځير کوټې ته وکتل، ژور لښتی د لرګي تر ناوې پورې غزيدلی و. دواړه په لويو ډبرو کې کړوپه ملا روان شول. لښتی وچ و، مازې ځنډو ته يې کمه واوره پرته وه. مخ پورته لاړل، د اوږدې لرګينې ناوې لاندې تېر شول، شېرمحمد غړۍ اوږده کړه، کليوال تر دېوال پټ ول، په بيړه يې ځانونه کوټې ته ورسول.

کوټې ور نه درلود، دېوالونه يې سوري ول، له بامه هم څو ځايه رڼا رالوېدله.

## یوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

نجلۍ کونج ته غلې کېناسته، سرې ورته وکتل، له خيرن څادره سپين مخ، تر شنو غټو سترګو راګرځېدلي تور اوږده بانه او پر تندي پراته پيچلي لانده ويښته راوتلي ول.

شېرمحمد ديوال ته مخ ور نږدې کړ، له يوه سوري څخه يې د باندې وکتل ، کليوال د سيند پر ژۍ مخ کښته روان ول، ټولو اوبو ته کتل، د پنډ برېتور سړي چپلکه په لاس کې وه.

شېرمحمد وويل:

ـ هغوی فکر کوي چې ته مړه يې.

نجلۍ غريو واخيسته، سلګۍ يې شوې، يودم يې وژړل.

دوې توتکۍ کوټې ته ور ننوتې ، يوې يې په چت کې تر تور لرګي ځان ورساوه، غچا يې شوه، بېرته له وره ووتې.

نجلۍ په ژړا کې وويل:

ـ کاشکې مړه وای.

سړي هماغسې کليوالو ته کتل...

د نجلۍ شونډې وخوځېدې:

ـ تا قول راسره کړی، تر هراته به مې بيايې !

شېرمحمد ورته وکتل، تندی يې تريو شو ، په نيولي غږ يې وويل:

ـ زه کور لرم، خلک به څه وايي چې پردی نجلۍ يې راتښتولې ده .

د نجلۍ ژړا زور ونيو:

ـ د خدای روی ومنه ! تا قول راسره کړی .

شېرمحمد په خبره کې ورولوېد:

ـ نه !

نجلۍ چيغه کړه !
ـ غيرت لرې !
ولاړه شوه.
شېرمحمد په وره کې ودرېد.
نجلۍ په غريو کې وويل:
ـ لار راکه !
سړی په خبره کې ورولوېد:
ـ سمه ده، بيايم دې.
ـ ته دوروا غ وايې !
د سړي په تندي کې ګونځې پيدا شوې:
ـ د غزني په اولياوو لو (قسم) درته خورم.
نجلۍ ببرته کونج ته غلې کېناسته.
شېرمحمد دېوال ته ور نږدې شو، ليرې، تر هسکو تيږو ور هاخوا د کليوالو سرونه مالومېدل.
د سړي شونډې وخوځېدې:
ـ د غزني تر ښاره دې بيايم، د هرات موټر ته دې ور خيژوم. نور به په خپله ځې.
نجلۍ ولاړه شوه.
شېرمحمد چيغه کړه !
ـ تر هراته درسره ځم. سمه ده؟
نجلۍ کېناسته.

## يوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

شېرمحمد پټکی پورته کړ، پر پکه ککری یې له خیرو ډک نوکان تېر کړل، له ځان سره یې وویل:

_ اجب جنجال راته پیدا شو.

نجلۍ ورو ورو ژړل...

شېرمحمد په غوسه وویل:

_هرات ته څه بلا غواړې؟

نجلۍ غریو واخیسته.

_هلته مې خور ده.

سړي ورته وکتل، په ملنډو یې وویل:

_په لوڅو پښو هرات ته ځې.

نجلۍ پر خپلو سپینو پښو د څادر پیڅکه ورکش کړه.

شېرمحمد وره ته ورنږدې شو، مخامخ یې وکتل، ورو یې وویل:

_ موږ باید په ډبرو کې مخ پورته لاړ شو، که تر هغې مخامخ تېټې غونډۍ واوړو، خبره خلاصه ده.

ورو له کوټې ووت، لښتي ته کښته شو، شاته یې وکتل، نجلۍ ورپسې وه، شېبه وروسته دواړه د سیند پر غاړه لویو ډبرو ته ورسېدل. مخکې لاړل. اوبه په ټېټه کې رواني وې، پورته تر تیږو ور هاخوا یوائې د کلي د هدیرې، شنې، زرغونې شناختې ښکارېدلې.

دوی ګړندي ګامونه اخیستل، تر غونډۍ پورې څوک نه ول، یوځای یوه بوډا د سیند پر غاړه غواوې اوبه کولې، دوی یوه شېبه د ډبرو په مینځ کې کېناستل، بوډا له غواوو سره پورته پټیو ته وخوت، شېرمحمد او نجلۍ د غونډۍ تر څنګ شیلې ته منډه کړه.

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

پورته لاړل، تر غونډۍ راتاو شول، مخامخ یې منډه واخیسته، د سیند د څپو غږ ورو ورو لیرې کېده.

شېرمحمد مخکې و، شا ته په څادر کې تاو شوې نجلۍ لوڅې پښې منډې پسې وهلې... سرې تر یوې ټیټې غونډۍ واوښت، په یوه لویه ډبره کېناست، شاته یې وکتل، نجلۍ لیرې وه.

شېرمحمد ژوره ساه واخیسته، تر څنګ یې وکتل، د کلي څنډه ښکارېدله، کورونه په ټیټه کې پراته ول، د شنو څلور کونجه پټیو په غاړو د چنارونو بې پاڼو څانګې بربښیدلې، سیند کوږ، ووږ روان و.

مخ یې وګرځاوه، نجلۍ په یوه هواره ډبره ناسته وه، سر یې ځوړند و، تېزه تېزه سا ه یې وهله...

شېرمحمد ولاړ شو. نجلۍ په بیړه ورته وکتل، په خواره خوله یې وویل:

_د خدای له پاره، یوه شېبه دمه کوم.

سړي حرکت وکړ، د غونډۍ په پیڅکه کې مخ کښېنته لاړ. شاته د نجلۍ د ساه ایستلو غږ اورېدل کېده.

نجلۍ اخ کړل، شېرمحمد ور وکتل، ناسته وه. د کیڼې پښې غټ نوک یې پورته ولاړ و، له بټې (غټې) ګوتې یې وینې روانې وې.

سړی په یوه تیږه کېناست، تندی یې تریو شو، په غوسه یې وویل:

_کمه لاره نه ده، په لوڅو پښو نه شې تلی.

نجلۍ خپله پښه ټینګه نیولې وه.

شېرمحمد ولاړ شو، نجلۍ نا امېده ورته وکتل، د سړي لمر سوځولي تور تندی ګونځو ونیو، په خشکه یې وویل:

_یوه ورځ مزل لرو.

حرکت يې وکړ، نجلۍ ګوډه_ ګوډه پسې روانه شوه.
دواړو د اوږدې غزېدلې غونډۍ په پيڅکه کې ګامونه اخيستل، سيورو ته ځای ځای واوره پرته وه، خو لمر ته غونډۍ توري وې، کله کله به نوی رابوټيدلي ژېړ ګلان په مخه ورغلل، ترخو او اغزو وړې پاڼې کړې وې، ځای ځای به سپين پتنګان له بوټو پورته شول.
پاو وروسته سړی د غونډۍ سر ته وخوت، خو نجلۍ لا د غونډۍ په نيمايي کې وه. کله کله به ودرېده، پورته به يې وکتل، په لويو ډبرو پسې به يې لاس ونيو، بېرته به يې ګام واخيست. شېرمحمد تر ډېره د غونډۍ پر سر ناست و، سوړ باد چلېده، لمر ته سپينې وريځې ور روانې وې.
ښه شېبه ووته، نجلۍ د غونډۍ سر ته ورسېده، دې تېزه تېزه ساه وهله، د کينې پښې ټولې ګوتې يې په وينو سرې وې.
نجلۍ څنګ ته کېناسته، سړي ورته وکتل، هغې له پوندې ازغی ايست، پر سپين تندي يې مړه خوله پرته وه.
شېرمحمد د خپل کوټ ځنځير کش کړ، ويې ايست، د تبر تېره څوکه يې د کوټ د لستوڼي د اوږې برخې ته سيخه کړه، لستوڼی بېل شو.
نجلۍ په حيرانۍ ورته کتل...
سړي لستوڼی په مينځ کې نيم کړ، بوټونه يې وابستل، پرته له دې چې سر پورته کړي، ورو يې وويل:
_ څادر.
نجلۍ څادر ور وغورځاوه، لوخ سر د يوې تيږې شاته کېناسته.
سړي له څادر څخه څو نرۍ تراڼې وايستې.
شېبه وروسته ولاړ شو، ورو يې وويل:

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ـ تلی شم.

نجلۍ غرۍ اوږده کړه، سرې خپلو پښو ته د کوټ لستوڼي ور اغوستې وو، د څادر نرۍ تراډې ترې تاوې وې.

نجلۍ وخندل، شېرمحمد په بېړه ورته وکتل، د هغې سپین غاښونه ښکارېدل، یودم یې سرې ډکې شونډې سره ورغلې، په شنو سترګو کې یې اوښکې راټولې شوې، غلی کېناسته.

شېرمحمد پر ځمکه پر اته بوټونه په پښه ووهل، ورو یې وویل:

ـ دا په پښو که.

روان شو.

نجلۍ یوه پاتې شوې ټوټه ور پورته کړه، د کینې پښې بټه ګوته یې پرې وترله، پلاستیکي ازاد بوټونه یې په پښو کړل، په څادر کې یې ځان وپیچه، ګام یې واخیست، تر لوڅو پښو ښه ول.

دوۍ ښه شېبه مزل وکړ، اسمان وریځو نیولی و، سوړ باد چلېده.

پاو ووت، اسمان وغړمبېد، پر ځمکه د باران څاڅکي را پرېوتل. باران تېز شو. غونډۍ هواره وه، د پټېدو ځای نه ښکارېده.

دواړه روان ول، د شېرمحمد په پښو پسې په ختو لړلې اوږدې تراډې کرښېدې. یو ځای هسکې تیږې په مخه ورغلې، ورننږدې شول، یوه پلنه تیږه د دېوال غوندې ولاړه وه، ولي یې ورته ولګول، د باران څاڅکي یې تر پښو پورې رسېدل.

شېرمحمد ځړېدلې ټوټې ور پورته کړې، کلکې غوټې یې ور واچولې، نجلۍ ته یې وکتل، په لانده ، لنډ څادر کې سره راټوله ناسته وه. ژامې یې لړزېدې...

شېرمحمد ځمکې ته وکتل ، ورو یې وویل:
ـنوم دې څه دی؟
ـتورپیکۍ.
ـخور دې په هرات کې واده ده؟
ځواب یې وانه ورېد.
شېرمحمد سر پورته کړ، د نجلۍ په سترګو کې اوښکې راټولې وې.
سړي ببرته ځمکې ته وکتل.
تورپیکۍ وویل:
ـهو.
یو دم غریو واخیسته، سلګۍ یې شوې، په ژړغوني غږ یې وویل:
ـزما وروړکی دې څنګه پیدا کړ؟
شېرمحمد په بېړه ورته وکتل، نجلۍ پورته وریځو ته شنې سترګې نیولې وې، په سپینه زنه پورې یې رڼه اوښکه ځړېدله.
سړي ببرته ځمکې ته وکتل:
ـپه کارېز کې !
ـخراب شوی و؟
شېرمحمد وویل:
ـوږې یې؟
ـنه.
ـځو؟
تورپیکۍ هماغسې وریځو ته کتل.
شېرمحمد وټوخل:

ـ ناوخته دی.
نجلۍ په غريو وويل:
ـ اخر يې په بلا وخوړ.
غلې شوه، بېرته يې شونډې وخوځېدې:
ـ ډېر مې ورته وويل چې له تره لیرې ګرځه، نه يې منله، خپل حق يې غوښت.
شېرمحمد په خبره کې ورولوېد:
ـ د څه شي حق؟
د تورپیکۍ سلګۍ شوې:
ـ ورور مې د پلار يو زوی و، د نیکه ډېر جايداد ور رسېده، ځمکه، باغ، کلا ، په هرڅه کې بايد سم نيمايي پرې اچول شوی وای.
ـ پلار دې مړ دی؟
نجلۍ سړه ساه وابسته:
ـ هو ! دا څلور کاله مخکې خبره ده، په کوټه کې سره ناست وو، تره مې ښکاري ټوپک پاکاوه، ډز شو، پلار مې په زړه ولګېد ، ځای په ځای يې ساه ورکړه، تره مې ژړل، ځان يې له ځمکې ځمکې ويشت، خو زه اوس وپوهېدم چې له قصده يې د توپک خوله ور اړولې وه.
تورپیکۍ غلې شوه.
شېرمحمد وويل:
هماغه برېتور سړی دې تره دی؟
ـ هو.
او هغه دوه نور هم د تره زامن؟

یوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

تورپيکۍ اوږده بانه سره وروستل.
شېرمحمد وويل:
ـ ورور دې واده درلود ؟
ـ نه ! تر پينځه ويشت کلنۍ اوښتی و ، خو تره مې ويل چې تر اوسه لا سره خوله هلک دی، وخت شته. يوه ورځ يې د تره له زامنو سره د ځمکې په سر وخوړل، دوی دوه وو ، ښه يې تر ډبو ويست، ورور مې سرې وينې کورته راغی، ټوپک يې پسې غوښت، کوران شريف مې ورته ونيو ، په سبا مې ورياده کړه چې د يوڅه وخت له پاره يوې خواته لاړ شي، نه يې منله، پښو ته ور ولوېدم، راضي شو ، ويې ويل چې ايران ته ځې. د لارې د خرڅ له پاره مې له موره راپاتې شوې غاړه ګۍ ورکړه، په هماغه ورځ ښار ته لاړ، کله چې بېرته راغی، څو نوټونه يې راوښودل، ويل يې، ډالر دي، ډېر ځای نه نيسي، له غلو نه يې په اسانۍ پټولی شي.
تورپيکۍ سړه ساه واخيسته، غلی شوه.
شېرمحمد وويل:
ـ له کومه پوه شوې چې ورور دې دوی وژلی؟
نجلۍ يودم ټکان وخوړ، چيغه يې کړه، څادر يې وغورځاوه، غاړې ته يې لاس کړ، خړه، وړه څرمنګۍ په ځمکه ولوېده.
شېرمحمد وخندل:
ـ بې ازاره ده، ته ورته وګوره ! د يخنۍ له لاسه منډه نه شي اخيستی.
تورپيکۍ ځمکې ته کتل، څرمنګۍ په يوه لويشت لوړ ځای نه شوای ختلی، وړې ژېړې پښې يې خوځولې...
نجلۍ بېرته په څادر کې ځان ونغاړه، غلې کېناسته.

## يوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیر احمد احمدي

شېرمحمد وویل:

ـ له کومه پوه شوې چې ورور دې دوی وژلی؟

تورپیکۍ سره ساه واخیسته، ورو یې وویل:

ـ د سهار اور زه بلوم، هر وخت د ملا تر اذان مخکې راوېښېږم، اول به تناره ته تلم، تره ته به مې د اوداسه له پاره تودې اوبه په بدنۍ کې اچولې، وروسته به مې د اور غم خوړ. نن وختې خوب نه راته، دالان ته لاړم، په تناره کې مې له بېګانیو تودو اوبو بدنۍ ډکه کړه، کله چې د تره کوټې ته ورننېدې شوم، له کاوړه ( غوسې ) ډک غږ مې واورېد، په دروازه کې ودرېدم. تره مې په غوسه و، ویل یې چې ګلاب یې باید تر خاورو لاندې کړی وای، ولې یې په کارېزه کې اچاوه.

تورپیکۍ غلی شوه.

شېرمحمد په بیړه وویل:

ـ بیا؟

نجلۍ غریو واخیسته:

ـ زړه مې تر خولې راووت، دروازه مې خلاصه کړه، تره او د تره دواړه زامن یې ناست ول، په غولي زما د ورور خلاصه تذکره پرته وه.

شېرمحمد وویل:

ـ باران ودرېد، نه ځو؟

نجلۍ څرمښکۍ ته وچې سترګې نیولې وې، شونډې یې وخوځېدې:

ـ د تګ په وخت یې له پلاره پاتې دوې ګوتمۍ هم ورسره واخیستې، ویل یې چې نابلده دی، په بده ورځ به په کار ورشي. کله چې له کوره ته، تر ډېره یې په غېږ کې نیولې وم، ژړل یې، مساپري ته یې زړه نه کېده.

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

---

د ورور له تګه وروسته مې د تره زامن هم په ټپ ټپ ( موټرسایکل ) سپاره شول، تر مابښامه ورک ول.

شېرمحمد ولاړ شو، د کوټې په لستوڼو کې تړلې پښې یې په خټه کې ننوتې. ورو یې وویل:

_ځو !

## ( ۹ )

شپه وه، پورته رانه ستوري ځلېدل..شېرمحمد لړګینې زړې دروازې ته ډبره ونېوله، شېبه وروسته یې د ورور خوبولی غږ واورېد:

_څوک یې؟

_زه یم، شېرمامد !

ځنځیر وشرنګېد، دروازه خلاصه شوه.

باز محمد وویل:

_لالا ! ناوخته شوې، د ادې مې اند ېښنه وه.

شېرمحمد په خبره کې ور ولوېد:

_ځه ! څراغ بل که !

د هلک حیران غږ یې واورېد:

_ته څه کوې؟

هیڅ ! اودس ماتي ته تېرېږم.

هلک منډه کړه، پر چوتره وخوت.

شېرمحمد ورو وویل:

_راځه !

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

تورپیکۍ انګړ ته ورغله، په مخامخ کوټه کې څراغ ولګېد، دواړه په بیړه دالان ته ننوتل.

شېرمحمد لاسي بتۍ تاو کړه، سپینه رڼا په تورو لوښو او کاسو ولګېده، د تناره پر سر تېغنه پرته وه، یو ګړۍ دېوال ته ولاړ و، څنګ ته څو ناولې پیالې ایښې وې. په غاب کې پاتې، یخ وهلي کچالو ښکارېدل.

شېرمحمد وویل:

ــ یوې خوا ته پرېوزه، سهار په خړه کې به ځو، هیڅوک هم نه خبرېږي.

په بیړه له دالانه ووت، په چوتره کې یې له پښو تاو شوې ټوټې خلاصې کړې، بام ته یې واچولې، کوټې ته ورغی.

مور یې په بړستنه کې ناسته وه، د ککرۍ په برخه کې یې ټکری څیرې و، راوتلي خیرن، ببر وېښته یې پورته ولاړ ول.

ښځې په وارخطایي وویل:

ــ اند ېښنه مو شوه.

شېرمحمد وخندل:

ــ باران و، لاره هم ډېره وه.

د باز محمد حیرانه غږ یې واورېد:

ــ لالا! لستوڼی دې نشته.

سړي په بیړه کوټ ویست، کونج ته یې واچاوه. په خندا یې وویل:

ــ هسې! وشکېد.

ښځه په خبره کې ورولوېده:

ــ جنګ دې کړی؟

ــ نه.

هلک وويل:
ـڅادر دې چېرته دی؟
شېرمحمد وارخطا شو:
ـپه، په چوتره کې مې واچاوه، لوند و.
ښځې وويل:
ـامانت دې ورو سپاره؟
شېرمحمد وخندل:
ـهو.
ـڅه يې ويل، د مړي د وړلو له پاره څه وخت راځي؟
ـخدای خبر ! ژر.
ښځې بړستن ليرې کړه، ورو يې وويل:
ـ زه به ډوډۍ درته راوړم.
د سړي رنګ والوت:
ـنه ! وږی نه يم.
ـزويه ! الوګان تيار دي، په تناره کې به يې ټيټ کم، ژر تود بېږي.
شېرمحمد وخندل:
ـمور يم، زړه ته مې نه کيږي، د مړي خپلوان ښه خلک وو، ويې نازولم، سهار يې په پاستي کې لږ کوچ هم راته ونغاړل، ويل يې چې ستړې لاره ده، وږی به شې.
ښځه ولاړه شوه.
د شېرمحمد تندی تريو شو:
ـوږی نه يم.

## يوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ښځې يوه زړه برستنه پر توشکه هواره کړه.
شېرمحمد اوږد وغزېد، ځراغ ته يې ور پوکړل، ورو يې وويل:
ـادې! سهار وختي يو چېرې ځم.
د ښځې حيرانه غږ يې واورېد:
ـچېرته؟
سړي وخندل:
ـيو پخوانی ملګری مې وليد، د مالونو سوداګر دی، له هزاره جاته غواوي او پسونه راولي، ويل يې چې دا ځل د ډېرو مالونو د راوستلو نيت لرم، راسره لاړ شه، ښه مزدوري به درکم.
ښځې په خواره خوله وويل:
ـوی زويه! وخت خراب دی، همدا کارېز کني دې ښه دی، وچه، لنده رارسيږي.
شېرمحمد وخندل:
ـزړه مه خوره، درې، څلور ورځې وروسته بېرته راځم.
د ښځې خوبولی غږ يې واورېد:
ـخدای دې له سختيو وساته.
شېرمحمد پر اړخ راواوښت، ورو يې وويل:
ـادې! په کور کې څو روپۍ دي؟
غوږ يې ونيو، خرهاری اورېدل کېده.
پاو ووت، سړي د کوټې له کونجه برستن ورواخيسته، ورو يې دروازه خلاصه کړه، دباندې سوړ باد چلېده، دالان ته لاړ، د تناره سر لوڅ و، لاندې انګار سره رڼا کوله، تورپيکی تناره ته پښې ورغځولې وې.

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

شېرمحمد برېستنه په غولي کېښوده، ورو یې وویل:

ـ هرات ته تګ پیسې غواړي.

د نجلۍ سترۍ غږ یې واورېد:

ـ یو بنګړی به خرڅ کو.

شېرمحمد په بیړه له دالانه ووت.

# (۱۰)

یو دم چیغه شوه:
ــبلا !
درب شو، ور له دېوال سره ولګېد، کوټه سرې هوا ونیوله.
شېرمحمد لاس په غولي وتپاوه، لاسي بټۍ په ګوتو ورغله، رڼا شوه، د کوټې دروازه خلاصه وه، باز محمد غلی په کونج کې ناست و، سترګې یې رډې راختلې وې.
شېرمحمد په خوبولي غږ وویل:
ــڅه خبره ده؟
یو دم یې زړه ولړزېد.
د اورلګېد دانه بله شوه، څراغ ولګېد، زړې ښځې په وارخطایي وویل:
ــڅه ټکه را پرېوته؟
د هلک ژبه بنده شوه:
ــبه، به، بلا !
چیغه یې کړه !
ــپه دالان کې بلا ده.
شېرمحمد په بیړه ولاړ شو، د کوټې ور یې پورې کړ، په خشکه یې وویل:
ــلوی سړی یې ! بلا له کومه شوه !
ښځې وویل:
ــدا نیمه شپه ګوره ! په دالان کې دې څه کول؟
ــتږی وم، له ګړي مې اوبه را اخیستې.

شېرمحمد په خبره کې ور ولوېد:
_ماغزه مې مه راخوره، ويده شه !
هلک په وېره وويل:
_لالا ! په کوران که درواغ درته وايم، په دالان کې بلا ده، پښه مې ورسره ولګېده، زګيروی يې شو.
د ښځې شونډې وخوځېدې:
_ورور دې سترې دی، له خوبه يې مه باسه.
_ادې ! بلا ده.
شېرمحمد چيغه کړه !
_چوپ !
هلک په بړستن کې ننوت.
ښځې څراغ ته ور پو کړل.
ښه شېبه ووته، بازمحمد ورو وويل:
_ادې ! تږی يم.
څراغ ولګېد.
شېرمحمد په بيړه ور وکتل، ښځې ټکری په ويښتو ورکش کړ، ولاړه شوه.
شېرمحمد کېناست، وارخطا يې وويل:
_اوبه زه ورته راوړم.
ولاړ شو، د ښځې له لاسه يې څراغ ور واخيست، له کوټې ووت.
تورپيکی پرته وه، د څراغ ژېړه رڼا يې له خيرنې بړستنې په راوتلې سپين مخ لګېدله، سترګې يې پټې وې.

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

شېرمحمد ګړی کوږ کړ، پلاستیکي بدنې تر نیمایي له اوبو ډکه شوه، ولاړ شو، زړه یې تر خولې راووت.

زړه ښځه د دالان په وره کې ولاړه وه، سترګې یې رډې راختلې وې، نجلۍ ته یې کتل...یودم یې له خولې ځګونه راووتل، ړنګه شوه، سر یې د وره له چوکاټ سره ولګېد.

شېرمحمد منډه ور واخیسته، غبرګ لاسونه یې ترې تاو کړل. تورپیکۍ چیغه کړه، کېناسته، په بیړه یې څادر ته لاس وروغځاوه.

شېرمحمد زړه ښځه په غېږ کې واخیسته، ورو یې وویل:

ـڅراغ درسره راواخله.

تورپیکۍ په حیرانۍ ورته کتل...

سړی له دالانه ووت. نجلۍ څراغ پسې واخیست.

شېرمحمد خپله مور په توشکه پرېیسته، هلک دېوال ته ولاړ و، په راوتلیو رډو سترګو یې په ګونځې ګونځې څادر کې پیچلې نجلۍ ته کتل...

د ښځې خرهاری شو، چیغه یې کړه، لاس یې په شدت له دېوال سره ولګېد.

شېرمحمد په بیړه تر دواړو متو ونیوله. وېې ویل:

ـپښې یې ټینګې ونیسه !

تورپیکۍ د ښځې په دواړو پښو لاسونه کېښودل. ښځه یوه شېبه پورته پورته غورځېده، وروسته ارامه پرېوته. تورپیکۍ په وارخطایي وویل:

ـپیریان یې دي؟

کوم ځواب یې وانهورېد.

د نجلۍ شونډې وخوځېدې:
ـ تندی يې وينې دی.
شېرمحمد څراغ ور نږدې کړ، ورو يې وويل:
ـ صندوق وګوره، يوه ټوټه پيدا که!
تورپيکۍ لرګين صندوق ته ور وښوېده، دړه يې پورته کړه، بازمحمد په منډه ورغی، نجلۍ يې په څنګ ووهله، هغې پر غولي لاس کېښود.
هلک په بيړه يوه ټوټه ور پورته کړه، شېرمحمد ته يې ونيوله، سړي په خشکه وويل:
ـ دا خو پرتوګ دی.
تورپيکۍ په صندوق کې زړې جامې سره وتوشپلې، يو لوی دسمال يې راواخيست، د دسمال يوې څنډې ته غوټه ور لوېدلې وه، خلاصه يې کړه، څو چړموړلې شلګون نوټونه لاندې ولوېدل. دسمال يې سړي ته ونيو، له غولي يې نوټونه ور پورته کړل.
بازمحمد لاس ور وغځاوه، نوټونه يې د نجلۍ له ګوتو ويستل، په صندوق کې يې واچول.
سړي د خپلې مور تر تندي دسمال تاو کړ، شا ته يې غوټه ور واچوله، غلی کېناست.
تور پيکۍ وره ته نږدې، خړ دېوال ته ولي ولګول، هلک هم پر صندوق سر ايښی و، نجلۍ ته يې په کرکه کتل.
ښه شېبه ووته، هلک په ناستو وېده و، نجلۍ غولي ته کتل، سړي هم خپلې مور ته وچې سترګې نيولې وې.
وخت ووت، چرګانو نارې وهلې، ملا اذان وکړ.

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

تورپیکی ورو ولاړه شوه، لاسي بتی یې له غولي ورپورته کړه، له کوټې ووته..

پاو ووت، د ښځی زګیروی شو، سترګې یې رنې کړې، شېرمحمد ته یې وکتل، مخ یې د یوال ته ور وګرځاوه.

سړي وویل:

_ادې ! ته سمه نه یې پوه شوې.

ښځې پزه پورته کش کړه، غریو واخیسته.

د سړي شونډې وخوځېدې:

_زه به ټوله کیسه درته وکم.

ښځې په نیولې غږ وویل:

_دا مرداره دې له کومه کړه؟

ویې ژړل، دیوال ته ور نږدې شوه.

د شېرمحمد تندی تریو شو:

_خبره خو واوره !

ښځې ژړل...

سړی غلی و.

ښځې په ژړا کې وویل:

_ پزه دې را پرې کړه !

د شېرمحمد شونډې وخوځېدې:

_تورپیکی نومېږي.

ښځه په خبره کې ور ولوېده:

_زار ( زهر ) دې تر خوله سه، شرمېږې نه، نوم یې هم اخلی.

## يوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

سړي چيغه کړه:

ـدا دهغه مړي خور ده، ورور يې تربرونو ور وژلی، دې هم ځان سيند ته واچاوه، له اوبو مې راويسته، بله چاره نه وه، دا بايد تر هراته ورسوم، هلته يې خور او سيږي. پوه شوې ! ! !

ښځې خپل سر ته لاس ور وووړ، په نيولي غږ يې وويل:

ـ د خلکو خولې به څنګه بندې کړې، ځوانه نجلۍ دې کورته راوستې، کوم يوه ته به لووې ( قسمونه ) خورې چې راتښتولې دي نه ده.

شېرمحمد غولي ته کتل.

ښځې وويل:

ـهمدا اوس يې له کوره وباسه !

سړي چيغه کړه !

ـچېرته لاړه شي !

ـبلا مې ورپسې، موږ خو يې ذمه نه ده اخيستې.

شېرمحمد وويل:

ـګوره ادې ! له خدايه ډار په کاردی ! اوس خو رڼا شوه، نه يې له کوره ايستی شم او نه هم چېرته ورسره تلی شم، نن ورځ به ورته وګورو، که خدای کول، سبا به يې د ملا تر اذان مخکې له کوره وباسم، تر هراته به ورسره لاړ شم، ثواب دی، څوک خبريږي؟

ښځه په خبره کې ور ولوېده:

ـولې ! له لوتې خو نه ده پيدا ! پلار ګنې لري، ته يې بدي کولای شې؟

ـهغوی فکر کوي چې مړه ده، نه خبريږي.

ښځه وورو ورو سونګېدله...

یوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

---

بازمحمد وټوخل.

شېرمحمد وويل:

ــوه هلکه ! پام چې چا ته دې تر خولې ونه وځي !

هلک وارخطا سترګې ورواړولې.

شېرمحمد چوترې ته لاړ، رڼا وه، په اسمان کې سرخې ښکارېده. سړي په يخو اوبو اودس وکړ، بېرته کوټې ته ننوت.

ښه شېبه ووته، د لمر ژېړې، بېسېکه وړانګې د پردې پر پاسنۍ برخه لګېدلې. زړه ښځه هماغسې پرته وه، سړی په بړستن کې ناست و، هلک هم لرګين صندوق ته ولي لګولي ول، غولي ته يې کتل...

د وره کړپ شو، باز محمد ورته وکتل، تورپيکۍ ګليمي دسترخوان هوار کړ، پيالې وکړنګېدې، سړي په بيړه له سره بړستن ليرې کړه، پر دسترخوان څو پاستې، پيالې او توره چايجوشه ايښې ول.

تورپيکۍ په ريږدېدلي غږ وويل:

ــبوره مې پيدا نه کړه !

ښځې ور وکتل، چيغه يې کړه:

ــووزه بېشرمې نجلۍ، په کور هم راګډه شوې !

تورپيکۍ وژړل، په منډه له کوټې ووته.

ښځې بېرته مخ دېوال ته ور وګرځاوه.

شېرمحمد ورو وويل:

ــبوره را واخله.

باز محمد له تاخچې زنګنه قوطۍ ور واخيسته، پر دسترخوان يې کېښوده، بېرته په خپل ځای کېناست.

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

سړي پاستي ته لاس ور وغځاوه، تود و، یو سوځیدلی ځای هم نه پکې لیدل کېده.
وخت ووت، په دسترخوان درې پیالې ایښې وې، یو اځې په یوې کې د چایو شمه ښکارېدله.
شېرمحمد ولاړشو، دالان ته لاړ. هرڅه منظم وو، غابونه پرېمینځل شوي ول، پلاستیکي فرش جارو ښکارېده، په تناره کې اور بل و.
شېرمحمد د دالانه په وره کې په جګو پښو کېناست، تورپیکی ته یې وکتل، پزه یې د تناره په اېرو توره وه، ورو یې وویل:
_لمر راوخوت، نن تګ نه کیږي.
نجلۍ غلې د بوال ته ناسته وه.
شېرمحمد سوړ اسویلی ویست.
نجلۍ وویل:
_تاسو ته مې غم جوړ کړ.
شېرمحمد له دالانه ووت، کوټې ته لاړ، باز محمد نه و، مور یې هماغسې پرته وه.
سړی کېناست، پیاله یې له چایو ډکه کړه، ورو یې وویل:
_ادې ! ضد مه کوه، چای وخوره !
ښځې حرکت ونه کړ.
د کوټې دروازه خلاصه شوه، بازمحمد په وره کې ودرېد، په سترې ساه یې وویل:
_لالا ! ګلمیر خبر دی.

د سړي زړه ولړزېد، زړه ښځه په ځای کې کېناسته، سترګې يې رډې راختلې وې.
شېرمحمد وويل:
_له کومه؟
_ويل يې چې کوچيني ورور يې د شپې بولي کړې وې، سهار يې مور توشکه بام ته خېژوله چې زموږ په سرای کې يې نجلۍ ليدلې وه.
زړې ښځې په غريو کې وويل:
_اوس مو مخ تور شو.
د باز محمد شونډې وخوځېدې:
_ګلمير پوښتنه کوله چې هغه نجلۍ څوک ده؟
شېرمحمد وويل:
_تا څه ځواب ورکړ؟
_هيڅ! منډه مې راواخيسته.
زړه ښځه اوږده وغزېده، سونګی يې شو، بړستن يې پر سر ور کش کړه.
دروازه وټکېده، د شېرمحمد رنګ والوت، هلک له کوټې ووت، سړی اورسۍ ته ور نږدې شو، د انګړ دروازه نيمکښه وه، باز محمد په دروازه کې ودرېد، بيا يې د کوټې خواته منډه راواخيسته، ويې ويل:
_د ګلمير وره خور ده، وايي چې يو اورلګيت پور راکه!
د انګړ د دروازې غنجا شوه، شېرمحمد په بيړه له ورسۍ ور وکتل، وړه نجلۍ په انګړ کې ولاړه وه، ببر، سره نښتي ژيړ ويښته يې ول، شاوخوايې سترګې اړولې.

سړي د اورسۍ پله خلاصه کړه، سر یې د باندې ویست، زوروه چیغه یې تر خولې راووته:
ــووزه له کوره !
نجلۍ په بیړه مخ واړاوه، منډه یې کړه، تندی یې ددروازې له پلې سره ولګېد ، شا په تخته ولوېده، په ژړا له انګړه ووته.
شېرمحمد په غوسه وویل:
ــد سپي لور یې د جاسوسی له پاره رالیږلې وه.
د ښځې ژړغونی غږ یې واورېد:
ــخپله لمن مو په خپله په سر راواړوله.
شېرمحمد چیغه کړه !
ــبس که نور ! اوس څه وکم، ځان ووژنم که دا !
ښځې ژړل، باز محمد لړزې اخیستی و.
شېرمحمد په خشکه وویل:
ــولې داسې راته ولاړ یې، سره غرمه دې کړه، بلا وهلی یې، غوا له لوږې مړه شوه.
هلک په بېړه له کوټې ووت.
سړی په خپل ځای کېناست، سر یې پر زنګنو ولګاوه.
ښځینه غږ یې واورېد:
ــد بازمامد موري !
زړه ښځه په بیړه کېناسته، ټکری یې په سر سم کړ، په منډه د باندې ووته.
شېرمحمد ورسۍ ته ورنږدې شو ، په انګړ کې چاغې ښځې د وړې نجلۍ لاس نیولی و.

د شېرمحمد مور ورمخته شوه، چاغې ښځې په ګيله من انداز وويل:
ـد خداى پار دى، دا نجلۍ نو د وهلو ده؟
د شېرمحمد مور په خواره خوله وويل:
ـد ګل مير مورې ! خدايكه يې لاس وروړى وي.
چاغې ښځې د وړې نجلۍ پر تندي لاس كېښود:
ـوى ترورې ! دا نجلۍ خو دورواغ نه وايي، تندي ته يې وګوره، څومره پړسيدلى دى.
زړه ښځه ور مخته شوه، نجلۍ يې پر تندي ښكل كړه.
چاغې ښځې يودم وخندل:
ـهغه نجلۍ څوك ده؟
زړې ښځې په بيړه وويل:
ـكومه نجلۍ؟
ـوى ترورې ! ځان ولې ناګاره اچوې، په خپله مې له بامه وليده، تكه سپينه، نرۍ نجلۍ وه، په چوتره كې يې پيالې پريوللې.
زړه ښځه وارخطا شوه:
ـهغه، هغه
شېرمحمد په منډه له كوټې ووت، په چوتره كې ودرېد، چيغه يې كړه !
ـته يې څه كوې؟
چاغې ښځې په خپل مخ ټكرى وركش كړ، په وېرېدلي غږ يې وويل:
ـوى وروره ! پوښتنه خو بد كار نه دى.
شېرمحمد چيغه كړه !
ـپه تا پورې اړه نه لري، ووځه له كوره !

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ښځې وره نجلۍ له لاسه ونیوله، په منډه له دروازې ووته.
زره ښځه د چوترې پر ژۍ کېناسته، سر یې وځړېد، یو دم یې وژړل.
شېرمحمد ورمېږ کوږ کړ. تورپیکۍ د دالان په وره کې ولاړه وه، ځان یې په څادر کې پیچلۍ و، وارخطا ښکارېده.
شېرمحمد د انګړ دروازې ته وکتل، دوه تنکي ځوانان په کوڅه کې ولاړول، نجلۍ ته یې وچې سترګې نیولې وې.
شېرمحمد تر چوترې کښته شو، ځوانانو منډه واخیسته، سرې ورغی، دروازه یې پورې کړه. نیغ کوټې ته لاړ، شېبه وروسته بېرته راووت، د دالان خوا ته یې ګام واخیست، زرې ښځې ورته وکتل، یودم ولاړه شوه، د سړي له ګوتو یې تور خیرن ټیکری ویست، په غوسه یې وویل:
_دا زما ټیکری دی.
شېرمحمد یوه شېبه ولاړو، بیا د چوترې پر ژۍ کېناست، ورو یې وویل:
_ادې ! تر اوسه کومې نجلۍ زما صفت درته کړی دی؟
زرې ښځې په حیرانۍ ورته وکتل.
د سړي سر وځړېد:
_ته وو ایه ! دا نجلۍ به ولې په ما پسې راتله؟
ښځه غلې وه.
شېرمحمد سوړ اسویلی ویست، ورو یې وویل:
تر دېرشو اوښتی یم، خو تر اوسه یوې نجلۍ هم نه دي راته خندلي، که خندا هم ورغلې وې، زما په پزه پورې یې خندلي دي، ان تا به هم تر اوسه له زړه نه یم ښکل کړی. ته وو ایه ! کوم رنګ، کوم کمال، کوم مال، کوم دولت، دا نجلۍ به ولي په ما پسې راتله؟

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

شېرمحمد غلی شو، ترخه موسکا یې پر خړو شونډو وغځېده، ورو یې وویل:

دا نه چې زه زړه نه لرم، څوک مې نه خوښیږي، خو زه په خپله هم کومې نجلۍ ته نه شم کتلای، فکر رالویږي چې ټوله دنیا راپورې خاندي، ان په وړکتوب کې به مېږو او اوزو هم راپورې خندل، له ما به یې بد راتلل، لیرې به رانه ګرځېدې، اوس هم په کلي کې یوائې ټوکو ته جوړ یم، که په جومات کې د بدرنګۍ خبره رامینځته شي، ما مثال ورکوي، ان په انسانانو کې مې نه شمیرې، نو دا نجلۍ به ولې راپسې راتله؟ ته ووایه!

په یوه شپه کې بیا بل نارینه ورباندې ورور شو او راسره جوړه شوه.

د انګړ دروازه وټکېده، شېرمحمد ولاړ شو، د ښځې په سترګو کې اوښکې راټولې وې. نجلۍ د دالان په وره کې ناسته وه، ژړل یې!

سړي دروازه خلاصه کړه، زړه یې ولړزېد، درې تنه ولاړ ول.

شېرمحمد شاته وکتل، زړې ښځې ته یې اشاره وکړه، هغه په کوټه ننوته.

شېرمحمد په لوړ غږ وویل:

ــ راځئ!

بوډا تر مخ و، لکړه یې لګوله، دوو نورو له عمره پخو سړو ټیټ سرونه نیولي ول.

بوډا چوترې ته ودرېد، شېرمحمد تر ولیو ونیو، سړی پر چوتره وخوت.

په رېږدیدلي غږ یې وویل:

ــ شېرمامده زویه، دا ځای ښه دی، پېتاوی لري.

شېرمحمد په منډه له کوټې دوه بالښته راویستل، بوډا لکړه دیوال ته ودروله، بالښت ته کېناست، دوو نورو کلیوالو مخامخ پلتۍ ووهلې.

شېرمحمد په ولاړو وویل:
ـڅه رنګه چای، تور که شین؟
بوډا وټوخل، په رېږدېدلي غږ يې وويل:
ـهمدا اوس له چایو را ولاړ شوم، خوله مې لا توده ده، کېنه زویه! یو څو خبرې به سره وکو.
شېرمحمد پر هوار پلاستیکي فرش کېناست.
ټول غلي ول.
بوډا وخندل، په خندا کې ټوخي واخیست، ورو يې وويل:
ـپه جومات کې مې سبق (تلاوت) وایه چې غلام مامد راغی، ویل يې چې کډې يې له بامه کومه نجلۍ لیدلې وه.
د شېرمحمد سر وځړېد.
بوډا په رېږدېدلي غږ وويل:
ـزویه! دا رښتیا ده؟
شېرمحمد ځمکې ته کتل...
مخامخ ناست ډنګر سړي وويل:
ـد بازمیر زوی هم همدا خبره کوله، ویل يې چې د انګړ له خلاصې دروازې يې کومه پېغله لیدلې وه. نښه يې دا چې څادر يې اغوستی و.
شېرمحمد په غوسه ور وکتل.
بوډا وويل:
ـزویه! دا کوچینی کلی دی، ټول خپل سره پراته یو، یو بل پېژنو، د یو بل کورونه را مالوم دي، پردی سړی له لیرې راکې ښکاري. دا نجلۍ څوک ده او دلته څه کوي؟

د شېرمحمد شونډې وخوځېدې:
ـدا د هغه مړي خور ده چې له كارېزه مو راويست.
د كليوال سترګې رډې راوختې.
بوډا په بيړه وويل:
ـنو دلته څه كوي؟
ـزه هلته ورغلی وم.
كليوالو په حيرانۍ ورته كتل...
بوډا وويل:
ـتا هلته څه كول؟ كور دې يې له كومه پيدا كړ؟
د شېرمحمد سر وځړېد:
ـكيسه اوږده ده، ټولې خبرې نه شم درته كولی، دومره درته وايم چې تره يې د هغې ورور ور وژلی، نجلۍ هم ځان سيند ته واچاوه، له اوبو مې راويسته، قول مې ورسره وكړ چې تر هراته به يې رسوم، هلته يې خور واده ده.
شېرمحمد غلی شو، كليوالو وازې خولې نيولې وې.
بوډا په ترېو تندي وويل:
ـښه دې نه دي كړي، كلي ته دې بدې راوړه.
شېرمحمد غلی و.
يوه كليوال وويل:
ـاوس هم ناوخته نه دی، احوال به ور ولېږو، ورته وبه وايو چې ته نه وې خبر، نجلۍ په پټه درپسې راغلې وه.
شېرمحمد په خبره كې ور ولوېد:

ـ وژنې يې.
هماغه سړي وويل:
ـ دا دهغوی کار دی. سپکه يې ور اړولې، بايد چې ويې وژني.
شېرمحمد ځمکې ته کتل.
بوډا وويل:
ـ نظام الدين په حقه دی، وړه خبره نه ده، وينې به تويې شي.
شېرمحمد غلی و.
بل کليوال وويل:
ـ ارام کلی دی، بدي مه ورته راوړه !
شېرمحمد په بيړه سر پورته کړ، په غوسه يې وويل:
ـ بدي ته يې زه ولاړ يم، که مرم، نوزه به مرم، تاسو يې له غمه خلاص ياست.
بوډا لکړې ته لاس ور وغځاوه، په زحمت ولاړ شو، په رېږديدلي غږ يې وويل:
ـ موږ غاړې درباندې خلاصې کړې، نور دې خپله خوښه، خو يوه خبره مې واوره، دا خلک اخر خبريږي، بيا به اوبه له ورخه تېرې وي.
شېرمحمد غلی و.
کليوال له انګړه ووتل.
زړه ښځه راغله، په چوتره کې کېناسته، په چيغو چيغو يې وژړل.
شېرمحمد ځوړند سر ناست و.
تورپيکی له دالانه راووته، ژړل يې، کوټې ته لاړه.

يوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

باز محمد له اوبو ډک سطل غواته کېښود.، سړي ور وکتل، ورو یې وویل:

ـزما پټکی راواخله.

هلک کوټې ته لاړ، یودم یې چیغه کړه !

ـلالا !

شېرمحمد په منډه ورغی، نجلۍ پر تړلې بستره ناسته وه، سترګې یې پټې وې، د ښکاري ټوپک توره خوله یې، خپلې سپینې زنې ته نیولې وه. سړي پرې ور ټوپ کړل، درز شو، کوټه تور لوګي ونیوله.

شېرمحمد ورو نجلۍ ته وکتل، هغه پرته وه ، یوه خوا مخ یې تک تور ښکارېده.

سړي په بیړه د هغې پرسر ګوتې وتپولې، وینه نه وه، د سوځېدلو ویښتو بوی ته.

زړه ښځه پر نجلۍ ور پرېوته، پر اړخ یې راواړوله، د هغې په تورو پیچلو ویښتو کې یې ګوتې ننه ایستې، نجلۍ سترګې رڼې کړې، وارخطا یې یوې بلې خواته وکتل، یودم یې کوکه کړه، په چیغو چیغو یې وژړل.

ښځې د هغې سر پر خپل ټټر پورې ونیو.

انګړ ته دوه کلیوال ور ننوتل، د یوه په لاس کې ببلچه وه. شېرمحمد له ورسۍ سر ور ویست، ویې ویل:

ـله بازمامده خطایي ټک وشو.

یوه کلیوال ور غږ کړ:

ـ ځوک خو به ژوبل نه وي.

ـنه.

دواړه له انګړه ووتل.
شېرمحمد خپل ورور ته وکتل، هغه لړزېده.
سړي وویل:
ـد انګړ دروازه و تړه.
هلک له کوټې ووت.
شېرمحمد غولي ته وکتل، پلاستیکي فرش وړو لوټو نیولی و. چت ته یې سترګې وراړولې، له ټوټې تړلې مسطح یوه لویشت سوری وه.
تورپیکۍ خپل تندی د ښځې پر ټټر ایښی و، په چیغو چیغو یې ژړل....
ښه شېبه ووته، نجلۍ په ژړا کې وویل:
ـزه ځم.
ټول غلي ول.
تورپیکۍ ولاړه شوه، خړ ځادر یې په غاړه کې پروت و.
شېرمحمد وویل:
ـته به هېچیرې هم نه ځې.
نجلۍ له کوټې ووته، شېرمحمد پسې ولاړ شو، په چوتره کې یې مخې ته ودرېد، ورو یې وویل:
ـلېونتوب مه کوه.
څنګ ته یې وکتل، چاغه ښځه د انګړ تر دېوال ور هاخوا، پر بام ولاړه وه.
شېرمحمد، نجلۍ تر مټ ونیوله، دواړه کوټې ته لاړل.
تورپیکې د دېوال کونج ته کېناسته، سر یې وځړېد، په چیغو چیغو یې وژړل..

سړی پر تړلې بستر ه کېناست، د زړې ښځې په سترګو کې اوښکې راټولې وې.
تورپیکۍ په ژړا کې وويل:
_تاسو ته مې غم راووړ.
ښځه غلې وه.
شېرمحمد وويل:
_اوس په دې خبرو پسې مه ګرځه ! سبا به ځو.
ښځه د باندې ووته، شپه وروسته د نجلۍ په لوڅو اوږو تور، خيرن ټکری ولوېد.

## ( ۱۱ )

سهار وختي و، د ولسوالی په بازار کې د سړک دواړو غاړو ته خړ دوکانونه ولاړ ول، د کورونو غوندې لرګينې دروازې يې لرلې، دروازې پورې وې، يواځې يوځای په چنګکونو پورې غوښن ورنونه راځړېدل،

## يوه خبره د رته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

څو ګامه ليرې څلور ــ پينځه خيرن سپي پراته ول، سرو ځړېدلو غوږنو ته يې مړې سترګې نيولې وې.
شېرمحمد د سړک پر غاړه ولاړ و، ليرې په يوه موټر پسې سپېرې دوړې روانې وې، دوړې د بازار خواته راتلې، شېبه وروسته د سړي تر څنګ په خاورو لړلی سراچه موټر ودرېد. موټروان د څنګ ښېښه کښته کړه، ورو يې وويل:
ــښار ته ځې؟
شېرمحمد ور وکتل، د موټر د مخې سيټ خالي و، شا ته درې تنه ناست ول.
شېرمحمد وويل:
ــله ما سره سياه سره ده.
ــموټروان وخندل:
ــوروره! د مخې په سيټ کې دوه تنه کېنوو.
ــنه! ځای تنګ دی.
د شا دروازه خلاصه شوه، له موټره دوه تنکي ځوانان را کښته شول، يوه يې وويل:
ــموږ به مخته لاړ شو.
شېرمحمد شاته وکتل، تورپيکۍ ځړ دېوال ته ناسته وه، په تور خيرن ټکري کې يې ځان تاو کړې و، پلاستيکي چوټې ( څپلکې ) يې په پښو وې.
شېرمحمد ور غږ کړ، نجلۍ راغله، لومړی شېرمحمد موټر ته ننوت، بيا نجلۍ کېناسته.

يوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

موټر يو پاو په خامه لاره مزل وکړ، نجلۍ په دروازې پورې نښتې وه، کله کله به موټر جمپ وخوړ، ورون به يې د سړي له ورانه سره ولګېد.
موټر پاخه سړک ته وخوت، په هواره کې د دواړو تر مينځ څلور ګوتې فاصله وه.
له نيم ساعت مزل وروسته د غزني ښار ته ورسېدل. نېغ زرګرۍ ته لاړل او د سرو زرو يو بنګړی يې خرڅ کړ.
د کندهار تر اډې يې پلې مزل وکړ، په اډه کې لوی- واړه موټر ولاړ وو، خلک يو بلې خواته ګرځېدل، يوه موټروان چيغې وهلې.
-کندار، کندار...
شېرمحمد ورمخته شو. له موټروانه يې د هرات د موټرو پوښتنه وکړه، د موټروان نظر دا و چې هرات ته مستقيما موټر نه ځي، دوی دې اول کندهار ته لاړ شي او هلته دې د هرات موټر ته ور وخېژي.
موټروان نارې کړې!
-کندار، کندار....
يو چا وټوخل، شېرمحمد ور وکتل، د تخت پر سر ناست بوډا سترګه ورته ټينګه کړه. دی ورغی، بوډا وويل:
-پيسې دې ډېرې دي؟
شېرمحمد په حيرانۍ ورته کتل.
سړي پياله له چايو ورډکه کړه، د لاس ګړۍ ته يې وکتل، ورو يې وويل:
-اوو بجو ته له کابله بسونه رارسيږي، سيده هرات ته ځي، هم يې کرايه کمه ده او هم يې سيټونه هوسا دي.

بوډا په پلاستیکي خیرن غاب کې د اېښې ډوډۍ ځنډه ور پرې کړه، ورو یې وویل:
ـزه هم هرات ته ځم. سره ملګري به یو.
شېرمحمد نجلۍ ته اشاره وکړه، دواړه د تخت پر سر، کونج ته کېناستل.
شېرمحمد وویل:
ـوږې یې؟
کوم ځواب یې وانهورېد.
سرې سر هسک کړ، تورپیکۍ د لرګین تخت تر څنګ تورو بوریناکه اوبو ته کتل.
شېرمحمد وویل:
ـوخت ډېر دی، چای به راوغواړو.
نجلۍ ټکان وخوړ:
ـڅه؟
ـله بیګا راهیسې مو څه نه دي خوړلي، چای به راوغواړو.
نجلۍ د (هو ) په نښه سر وخوځاوه.
شېرمحمد یوه واړه هلک ته اشاره وکړه، هلک ورغی، په لوړ غږ یې وویل:
ـکباب، قابلي، کړايي، څه شی درته راوړم؟
سړي چای او وچه ډوډۍ وغوښتل.
هلک له هماغه ځایه ناره کړه !
ـدوه چایه !

## يوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

شېرمحمد د تخت په څنډه کې د لرګې ولاړې تمبې ته ور وښوېد. ملا يې پرې ولګوله، تر څنګ يې تورپيکۍ ته وکتل، يوه خوا غاړه يې ښکاريدله، غوږ يې سور و، د غوږ د پاسنۍ برخې د پېچلو ويښتو څوکې يې سوځېدلې وې.

شېرمحمد مخ واړاوه، مخامخ د تخت پر ژۍ يو ځوان ناست و، تر غاړې يې برګ دسمال تاو و، نجلۍ ته يې وچې سترګې نيولې وې.

شېرمحمد، تورپيکۍ ته وکتل، ورو يې وويل:

ـټکرۍ دې سم که!

نجلۍ په بيړه غاړه پټه کړه، شېرمحمد ته يې شنې سترګې ورواړولې، غلې کېناسته.

هلک پر غولې دوه واړه ګيلاسونه کېښودل، بيا يې په منډه غبرګې چاينکې او په پلاستيکې غاب کې وچه ډوډۍ راوړه.

شېرمحمد دواړه ګيلاسونه له چايو ډک کړل، ويې ويل:

ـد خدای فضل دربانديې وشو. مړه وې.

نجلۍ ګېلاس له ځمکې ور پورته کړ، شونډې يې وخوځېدې:

ـتاته مې بدې پرېښوده.

شېرمحمد وخندل:

ـبدۍ ته پلمه نه پيداکيږي، ما خو نه يې راتښتولې، زه خو دې يوازې تر هراته رسوم.

د تورپيکۍ سر وځړېد.

د يوه هلک ږغ يې واورېد:

ـژاولې اخلې؟

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

---

شېرمحمد مخ ور واړاوه، ډنګر هلک په لاس کې ژاولې نیولې وې.
شېرمحمد وویل:
ـ ژاولې درته واخلم.
تورپیکۍ سر پورته کړ، نرۍ موسکا یې په ډکو شونډو تېره شوه، بېرته یې سر وځړېد:
شېرمحمد وخندل:
ـ احسان نه درباندې اچوم، خپلې پیسې دې دي.
تورپیکۍ څه ونه ویل، شېرمحمد ، هلک ته د لسو روپو نوټ ونیو ، یو پاکټ ژاولې یې نجلۍ ته نږدې پر غولي کېښودې.
نجلۍ لاس ور وغځاوه، پاکټ یې په موټ کې ټینګ ونیو.
شېرمحمد وویل:
ـ د خور کور دې د هرات په کوم ځای کې دی؟
تورپیکۍ ورته وکتل:
ـ نه پوهېږم.
سړي په حیرانۍ وویل:
ـ نوله کومه به یې پیدا کو ؟
نجلۍ وویل:
ـ تېرکال مې خور راغلې وه، ویل یې چې کور ته نږدې یې څو هسک منارونه دي.
د بوډا غږ یې واورېد:
ـ ها منارونه ټولو ته مالوم دي، له لیرې ښکاري.
شېرمحمد ور وکتل، بوډا په وړه کتابچه کې څه لیکل.

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

تورپیکۍ په ټیټ غږ وویل:

ـ ته هرات ته تللی یې؟

ـ نه.

دواړه غلي شول.

بوډا په بیړه بوټونه په پښو کړل، په زوږه ( زوره ) یې وویل:

ـ بس راغی.

شېرمحمد د هوټلي شاګرد ته پیسې ورکړې، دواړه له تخته کښته شول. بس پر پاخه سړک ولاړ و. درې سره ور وختل، موټرډک و، یوا ځې شاتنۍ اوږده څوکۍ تشه ښکارېدله. دوی شاتني سیټ ته ځانونه ور ورسول، تورپیکۍ ښیښې ته ور وښوېده، بیا شېرمحمد کېناست، ورپسې بوډا ځای ونیو.

بس یوه شېبه ولاړ و، وروسته یې حرکت وکړ.

شېرمحمد مخامخ وکتل، بس د اوږده تنګ دهلېز غوندې و، دواړو غاړو ته د ناستو مساپرو سرونه ځنګېدل، له پټکو او سر تورو سرونو سره، ځای ځای شنې چادرۍ او رنګه ټکري هم ښکارېدل.

تورپیکۍ تر ښیښې د باندې کتل، بس لمر لوېدو خواته ګړندی روان و، خړ کورونه، شنه باغونه، سپېرې پخځې او ځای ځای سوځېدلي ټانکرونه په تېزۍ سره تېرېدل...

وروسته سپېره دښته راغله، کله کله به د اوښانو کتار تېر شو، کوچیاني به چابکې ورسره روانې وې، د ګڼو کمیسونو ګردې لمنې به یې خوځېدلې.

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

یو ساعت وروسته، موټر په یوه خړ بازار کې ودرېد ، کلینر په لوړ غږ وویل چې د بس د ماشین د خولۍ تر پاکېدو پورې مسافر کولای شي چې هوا بدله کړي.

څو تنه له څوکیو پورته شول، شېرمحمد تورپیکۍ ته سترګې ور واړولې، ورو یې وویل:

_ځو؟

دواړه له موټره کښته شول. یو کوچینۍ بازار و، دواړو غاړو ته یې خړ دوکانونه ښکارېدل، کله کله به د موټرسایکل غږهاری شو.

شېرمحمد یوه دوکان ته ور وګرځېد ، څو مالټې یې په پلاستیکي خلطه کې واچولې، راغی، دواړه د یوه پلچک پر راوتلي هوار سیمیټ کېناستل. سرې یوه مالټه سپینه کړه. تورپیکۍ ته یې وکتل، د سپینې ښکې غوندې ښکلې او نازکه ورته ښکاره شوه. هغې مخامخ اوږد غځېدلي غره ته کتل.

شېرمحمد وویل:

_دا د قره باغ د ولسوالۍ علاقه ده. غر ناور نومیږي. څوکې یې کال دوولس میاشتې سپینې وي.

له دې سره یې نجلۍ ته د مالټو کڅوړه ونیوله. تورپیکۍ یوه مالټه ور واخیستله.

شېرمحمد وویل:

_په قره باغ کې کارېزونه ډېر دي. زه د مزدورۍ له پاره ورته راغلی یم. له ډېرو کارېزونو مې ختې را ایستلې دي.

تورپیکۍ ته یې وکتل، هغې مالټه خوړه. موټروان هارنونه وهل...

# ( ۱۲ )

هوټلي وويل:
ـ يواځې يوه تشه کوټه لرو، يوولس سوه اوغانۍ کرايه درباندې راځي.
شېرمحمد، نجلۍ ته وکتل، هغه غلې ولاړه وه، مخامخ پر مېز ايښي لوی تلويزيون ته يې وچې سترګې نيولې وې. د تلويزيون پر پرده ځو نجونې ځرخېدلې...
هوټلي وويل:
ـ څه وايې؟
شېرمحمد وارخطا شو:
ـ څه؟
ـ کوټه نيسې؟
ـ هو صيب!
هوټلي د ميز له سره قلم ور واخيست. ورو يې وويل:
ـ نوم دي؟

شېرمحمد
ـولد؟
ـڅه
ـد پلار نوم؟
ـګل محمد
ـدا نجلۍ څه نومېږي؟
د شېرمحمد تندي ګونځې پيدا کړې:
ـڅه يې کوې؟
هوټلي وخندل:
ـموږ بايد د هر مساپر نوم او ادرس وليکو، پوليس يې رانه غواړي، وايي چې د امنيت له پاره ښه دي.
شېرمحمد وويل:
ـتورپيکۍ.
د پلار نوم؟
ـنه پوهېږم.
هوټلي په حيرانۍ ورته وکتل.
شېرمحمد وويل:
ـد ښځو له پاره الايده (بيل) ځای نه لرئ؟
د هوټلي حيراني ډېره شوه، ويې پوښتل:
ـدا نجلۍ دې څه ده؟
شېرمحمد وارخطا شو:
ـهيڅ، نه، نه، ښځه.

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

تورپیکۍ په بیړه مخ ور واړاوه، د ګروپ په ژېړه رڼا کې یې بغور ( اننګي ) سره ول، سر یې وخوځېد.

هوټلي د مېز پر سر د ایښي تلیفون ګوشۍ ورپورته کړه. ورو یې وویل:

_لاندې راشه !

شېرمحمد او نجلۍ په حیرانۍ ورته کتل...

لنډ وخت ووت، په توره دریشۍ کې له ونې ټیټ سړی پر زینو راکښته شو، هوټلي د هغه غوږ ته خوله ور نږدې کړه، نوي راغلي سړي شېرمحمد ته وکتل، ورو یې وویل:

_تذکره لرې؟

شېرمحمد په حیرانۍ ورته کتل...

سړي بله پوښتنه وکړه:

_دا نجلۍ دې څه کېږي؟

د شېرمحمد سترګې رډې راوختې، تورپیکۍ یې تر مټ ونیوله، دواړه د لوېې ښېښه یي دروازې خواته روان شول.

سړي پسې غږ کړ !

_هی ! چېرې ځې؟

شېرمحمد مخ ور وانه ړاوه، ده هماغسې د تورپیکۍ مټ ټینګ نیولی و، دواړه د کتار څوکیو تر مخې تېر شول.

هماغه سړي چیغه کړه !

_ودرېږه ! نجلۍ دې راتښتولې ده !

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

شېرمحمد پښو ته زور ورکړ، تورپیکۍ تېزه پسې روانه وه، د خیرن ټکري پیڅکه یې د یوه مېز پر سر تېره شوه، نمکدانۍ ورغړېده، لاندې پر سپینو کاشیو ولګېده، مالګه باد باد شوه.
دواړه تر ښښښه یې دروازې ووتل، مخامخ یې پر عمومي سړک منډه ور واخیسته، د یوه موټر له ټایرونو کرښنده اواز پورته شو، ودرېد، د څنګ ښښښه ټیټه شوه، یوه ځوان سر راویست، په خشکه یې وویل:
_هی، لوده، دهاتي.
شېرمحمد ور ونه کتل، یواځې ارته سپړمې یې د سوځېدلې ربړ له بویه ډکې شوې. دواړه تر سړک پورې وتل. په پیاده رو کې یې منډه کړه، شېرمحمد په بیړه شاته وکتل، د بندو دوکانونو پر سرونو د ګروپونو ژېړې او سپینې رڼا وې ښکارېدلې، لیرې د هوټل تر مخ په سپینه رڼا کې د تورې دریشۍ والا ولاړ و، یو لاس یې غوږ ته نیولی و، بل لاس یې خوځېده، داسې لکه له چا سره چې په مبایل خبرې کوي.
شېرمحمد یوې کوڅې ته ورتاو شو، نجلۍ وارخطا وه، په سږي پسې یې ګړندي ګامونه اخیستل....
دواړو د کوڅې تر پایه په یوه ساه ځانونه ورسول. پوخ سړک په مخه ورغی، سږي د نجلۍ مټ پرېښود، لنډ راتاو شول، د موټر تېزه رڼا یې پر سترګو ولګېده، ګامونه یې ورو کړل، یو کوچینی موټر، په چټکۍ تر څنګ تېر شو.
شېرمحمد سره ساه واخیسته، دواړه د سړک پر غاړه غلي روان شول. چوپه چوپتیا وه، دوی یواځې د خپلو بوټونو او څپلکو د تلیو ټکا

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

اوربېدله، کله کله به له لیرې د یوه موټر ژېړه رڼا د تړلو دوکانونو پر سپینو اهن چادرو ولګېده. نور داسې څه نه وو چې حرکت ولري.
ځای ځای به درې، څلور منزله تامیرونه په مخه ورغلل، په ځینو کې به د ګروپونو ژیړې او سپینې رڼاوې ښکاربدلې.
دوی ښه شېبه مزل وکړ، وروسته تورپیکۍ ودرېده، په نیولې غږ یې وویل:
ـچېرې ځو؟
د شېرمحمد سر وځړېد.
نجلۍ تر پاخه لښتي ټوپ کړ، د دوکان پر سیمیټي زینه کېناسته.
شېرمحمد یوه شېبه غلی و، بیا ور مخته شو، نجلۍ ته مخامخ ودرېد، د هغې ټکری په غاړه کې پروت و، تورو ویښتو یې د ګروپ ژېړې رڼا ته سره لمبه کوله.
شېرمحمد د نجلۍ تر څنګ کېناست، ورو یې وویل:
ـزه نه وم ملامت، هوټلي شکي شو، له مجبورۍ مې د( ښځې ) نوم واخیست.
تورپیکۍ په غریو کې وویل:
ـکاشکې له هغه سپین ږیري سره تللي وای، څومره ټینګ شو، ویل یې چې خپل کور یې دی. اوس به په دې نیمه شپه کې څه کوو؟
شېرمحمد غلی و.
له مخامخ کوڅې څو کوڅه ډب سپي راووتل، مخکینی سپی ودرېد، نورو سپیو هم پښه ونیوله، یوه شېبه یې په پیاده رو کې ناستو بنیادمانو

یوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ته وکتل، بیا د یوه موټر تېزه رڼا پرې ولګېده. سپیو حرکت وکړ، د سړک په مینځ کې مخ کښته لیکه روان شول، سرونه یې ځړېدلي وو.
یو موټر ښویه تېر شو، خو یودم یې بریک ونیو، بېرته په شا راغی، د موټر په رڼو ښېښو کې څو ځوانان ښکارېدل، دوی یوه شېبه پر سیمیټي زینه دوو ناستو کسانو ته وکتل، یودم یې وخندل، د موټر ټایرونه ځای پر ځای تاو شول، له سلنسر څخه غوټه تور لوګی راووت.
بېرته چوپه چوپتیا شوه. یوائې د تورپیکی د ژامو کړپا اورېدل کېدله...
شېرمحمد له خپل ځانه تاو شوی څادر خلاص کړ، د نجلۍ پر اوږو یې واچاوه. تورپیکی پورته وکتل، د ګروپ په ژېړه رڼا کې یې شنې غټې سترګې وځلېدې. بېرته یې سر ټیټ شو.
شېرمحمد وویل:
_شپه دلته نه شو تېرولی، ساړه دي. باید یو ځای پیدا کو.
نجلۍ ولاړه شوه، دواړو په پیاده رو کې حرکت وکړ، مخکی لاړل، لیرې ، د دوکانونو په مینځ کې ژېړه لویه ښیښه ښکارېدله، دوی هماغه لور ته ور وګرځېدل. غټ ګروپ راځوړند و، ژېړه رڼا، لاندې پر تور سړک پرته وه.
شېرمحمد ور مخته شو، پر خوله شوې ښیښه یې لاس تېر کړ، خوله د مینځ له خوا وه، نه پاکېده، تندی یې پر ښیښه ولګاوه، د اوبو څاڅکی ورغړېد. په رڼه لېکه کې پر هواره قالینچه څو سوځېدلي وچې ډوډۍ ښکارېدلې،. ور هاخوا د لرګي کوچینی صندوق خلاصه خوله پروت و.
یو ټیټ خوبولی ږغ یې واورېد:
_نان نیست.

شېرمحمد ښیښې ته نوک ونیو، ورو یې وټکوله.
دا ځل له دننه پر ښیښه یو لاس تېر شو، په پاک شوي ځای کې ډنګره پکه ککرۍ، وړې چوخنې سترګې او سپینه اوږده ږیره ښکاره شول.
بوډا خپلې سترګې وموښلې، په غوسه یې وویل:
_ګپه نمیفامي، نان نیست!
یودم غلی شو، په خړ څادر کې پېچلې نجلۍ ته یې وکتل.
بوډا لویه ښېښه کش کړه، د شېرمحمد او تورپیکۍ پر مخونو توده هوا ولګېده.
بوډا وویل:
_مسافر استین؟
شېرمحمد د (هو) په نښه سر وخوځاوه.
بوډا ولاړ شو، د څنګ دروازه یې خلاصه کړه، ورو یې وویل:
_بیاین، هوا سرد است.
دواړه نانوایي ته ورننوتل.
بوډا په بیړه زړه برستنه تر کونجه ونیوله، توشکه یې ور واخیسته، د تناره تر څنګ یې ویړه کړه، ورو یې وویل:
_بشینین.
دوی کېناستل.
بوډا د بالښت تر څنګ ایښې خولۍ ور پورته کړه، پر سر یې کېښوده، و یې ویل:
_از کجا آمدین؟
کوم ځواب یې وانهورېد.

ويې خندل:
ـپشتون استي؟
شېرمحمد لنډ ځواب ورکړ.
ـهو.
بوډا هماغسې په خندا کې وويل:
ـفارسي میفامي؟
ځواب يې وانه ورېد.
ـد کوم وطنه راغلې يې؟
ـله غزني.
د بوډا خندا زور ونيو، په خوند يې وويل:
ـشه، شه، شه، د زيارتونو وطن راغلی يې.
يو دم يې خپل ښی لاس د سلامۍ په بڼه خپل تندي ته ورنږدې کړ.
ـسلام، سلام، زيارتونو ته سلام.
لاس يې کښته کړ، په ماته، ګوډه پښتو يې وويل:
ـمسافر خانه ته چرا نه يې تلی؟
شېرمحمد وويل:
ـپيدا مو نه کړه، نابلده يو.
تورپيکۍ ورو کتل، د شېرمحمد سر وځړېد.
بوډا وخندل:
ـډوډۍ مو خوړلئ دئ؟
ـنه!
ـنن له غزني راغلی يې؟

شېرمحمد وویل:
ـهو، سهار لمانځه مال له کوره راووتو، ټوله ورځ مو مزل وکړ، هرات ته د شپې په دولسو راورسېدو.
بوډا مخامخ پر دېوال را ځړېدلې خيرن ساعت ته وکتل، پاو باندې يوه بجه وه. ورو ولاړ شو، ځنګ ته ايښې ترموز يې راواخيست، خيرنو پيالو ته يې لاس ور وغځاوه، دواړه پيالې يې له چايو ډکې کړې، دوې، درې وچې سرې ډوډۍ يې پر اخبار کېښودې. ورو يې وويل:
ـبخور!
شېرمحمد وچې ډوډۍ ته لاس ور ټيټ کړ.
تورپيکی ورو وويل:
ـورته ووايه، آغا نه پېژني؟
شېرمحمد ور وکتل، د نجلۍ په سپينو بغورو کې سرخې ښکارېده.
شېرمحمد وخندل:
ـاصلي نوم يې څه دی؟
ـمامد حنيف، انجنير دی!
بوډا وخندل:
ـپه څوک پسې ګرځې؟
شېرمحمد وويل:
ـخور يې ورته ناسته ده، نا بلده يو، درک يې نه شو مالومولی.
د بوډا خندا زور ونيو.
ـهرات لوی شار است، اګه ادرس نه وي درسره، نه شې پيدا کولای.
تورپيکی يې په خبرو کې ور ولوېده:

يوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ـ د کور تر څنګ يې هسک منارونه دي.
بوډا هماغسې په خندا کې وويل:
ـ هلته خو زياد کورونه وجود شته. خير، منارونه پيدا کول اسان است، هر ټکسي وان ته ووايي، رسوي.
دواړه غلي شول. د دېوالي ساعت ټکا اوربدل کېدله، کله کله به د چايو د سورولو (څښلو) غږ هم پورته شو.

# ( ۱۳ )

شېرمحمد جټکه وخوړه، د لاوډ سپیکر تېز غږ یې په غوږو ننوت، اذان و. شاوخوا یې وکتل، تورپیکۍ تناره ته نږدې پرته وه، خړ څادر پرې هوار و. بوډا هم له ډک تشت لندو وړو څخه کوچینۍ ذغالې ( پېړې ) بېلولې.
شېرمحمد کېناست، لونګۍ یې تر سر تاو کړه.
د بوډا خوبولی غږ یې واورېد:
_خوب وکړ؟
شېرمحمد سترګې وموښکلې:
_هو
بوډا وویل:
_اوس شاګردان به راځي، شپه تېر شو، نور به لاړه شې.
شېرمحمد ساعت ته وکتل، پاو کمې پنځه بجې وې. پر ښیښه یې لاس تېر کړ، د باندې لا تیاره وه. ورو یې وویل:
_تورپیکۍ !
نجلۍ ویده وه.
سړي خپل غږ په زوته کړ !
_تورپیکۍ !
څادر وښورېد.
شېرمحمد وویل:
_سهار دی، څو به، نانوایي ته خلک راځي.
نجلۍ کېناسته، ټکری یې پر سر سم کړ.

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

بوډا وویل:

ـ ټکسي موتروان منارونه مالوم دي.

شېرمحمد بوډا ته لاس ورکړ او له نجلۍ سره یو ځای له نانوايي ووت. د باندې تیاره وه، پورته ستوري ځلېدل، سوړ باد چلېده.

دواړه د سړک پر غاړه ورو روان ول، چوپه چوتیا وه، کله کله به د جارو کرښنده اواز پورته شو. دوی تر سړک واوښتل، ځلور لارې په مخه ورغله، یوه تن یوه اوږده جارو سړک ته نیولی وه، خاورې یې جارو کولې.

دواړه ورمختته شول، سړی له سنه پوخ ښکارېده، د جامو له پاسه یې نارنجي رنګ ارت جمپر اغوستی و، هماغسې یې سړک جارو کاوه.

شېرمحمد ورو وویل:

ـ منارونو ته کومه لاره تللې ده.

سړي هماغسې جارو وهله، پرته له دې چې سر پورته کړي، په لاس یې لوېدیځ لورته اشاره وکړه.

دوی تر سړک واوښتل. دوه سړکونه ول، په مینځ کې یې تر یوه ځایه بې پاڼې بوټې او لغړ نیالګي ښکارېدل. ور هاخوا د ګروپونو رڼا دومره زوروره نه وه چې څه دي ښکاره شي.

دوی ښه شېبه مزل وکړ، ختیځ لور ته اسمان روڼ ښکارېده، ځای ځای به د دوکانونو د اهن چادرونو د پورته کېدو کرښنده اوازونه پورته شول.

یو ځای له یوې کوڅې څو تنه راووتل، ځینې په پټو ګانو کې پټ ول، نورو یې د خپلو جمپرونو او کورتیو په جیبونو کې لاسونه ننه ایستي وو. ټول ځوړند سرونه تېر شول.

شېرمحمد پښه ونیوله، تورپیکۍ ته یې وکتل، ورو یې وویل:

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ــجومات دی، زه به خدای یاد کم.

نجلۍ د دوکان مخې ته ودرېده. شېرمحمد څو ګامه واخیستل، کړپ شو، شاته یې وکتل، تورپیکۍ ته نږدې، یوه ځوان د دوکان دروازه خلاصوله، نجلۍ ته یې وچې سترګې نیولې وې.

بېرته ورغی. تورپیکۍ ته یې اشاره وکړه، دواړه د سړک پر ژۍ روان شول.

د یوه موټر غږ یې واورېد، شېرمحمد ور وکتل، ژېړ او سپین رنګ یې درلود. لاس یې ورته وخوځاوه. موټر بریک ونیو، پاو ورسته د هسکو منارونو تر څنګ کښته شول.

منارونه تر غاړې پورته ژېړبخون ښکارېدل. خو لاندې کورونه لا په سیوري کې پراته ول، پر پراخ پاخه سړک یو یو موټر تېرېده.

ځینې خلک په کارونو پسې روان ول، تر خولو یې سپین تاوونه پورته کېدل. شېرمحمد یوه دوکان ته ور وګرځېد، له دوکانداره یې د انجنیر محمد حنیف د کور پوښتنه وکړه، هغه نه پېژاند. بیا یې پر بایسکل سپور ځوان ودراوه، ځوان هم د (نه) ځواب ورکړ.

وروسته له تورپیکۍ سره یو ځای تر پاخه سړک واوښت، بلې کوڅې ته داخل شول، یوه ماشوم له نل څخه اوبه وړې. ورغی، په ژبه نه شو ورسره پوه.

دوې، درې، څلور کوڅې وکتې، څوک چې به په مخه ورتلل، دراوه به یې، خو یوه ته هم د انجنیر حنیف کور نه و مالوم.

د سهار نهه بجې شوې، دواړه وږي ول، تودې ډوډۍ یې راواخیستې، په کوڅه کې د یوه بند دوکان مخې ته د لرګي پر تخت کېناستل.

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

غلي ول، د دواړو ژامې خوځېدلې، وچه ډوډۍ يې خوړه.

شېرمحمد نجلی ته وکتل، پزه او بغوري يې سره ول، ورو يې وويل:

_يخني دې کيږي؟

تورپيکۍ د (نه) په اشاره سر وخوځاوه. بېرته يې له ډوډۍ څخه وړه ګوله وربېله کړه.

نږدې ناره شوه!

_نان خشک، اهن های کهنه... دارين، ميخريم!

دواړو ور وکتل، يو بوډا په لاسي کراچۍ پسې روان و. کراچۍ له زړو اوسپنو او شلېدلو پلاستيکي چوټو (څپلکو) ډکه وه.

شېرمحمد ولاړ شو، له بوډا يې د انجنير حنيف د کور پوښتنه وکړه. بوډا دربيمې دروازې ته ګوته ونيوله.

تورپيکۍ په چټکۍ ور مخته شوه. په بيړه يې وويل:

_د غزني دی، دلته په کومه موسسه کې کار کوي.

بوډا وخندل:

_ها! پشتون است.

تورپيکۍ په لاس کې نېولې ډوډۍ پر اوسپنو کېښوده. منډه يې واخيسته.

شېرمحمد پسې وکتل. د نجلۍ ټکرى په غاړه کې پروت و، تور پيچلې ويښته يې پورته غورځېدل.

کړپ شو، په لرګيني دروازه ننوته.

بوډا ناره کړه.

_نان خشک، اهن های کهنه... دارين، ميخريم!

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

کراچۍ حرکت وکړ، شېرمحمد لاس ور وغځاوه، توده ډوډۍ یې ورپورته کړه، خپله برخه یې پر اوسپنو کېښوده.
یوه شېبه ودرېد، لینګي یې لړزېدل، زړه یې سستي ورکوله، د ورکې احساس ور لوېدلی و.
تخت ته ورغی، څادر یې ورپورته کړ، سترګې یې له اوښکو ډکې وې، دروازې ته یې وکتل، ځنځیر لا ټال خوړ.
یو دم تیرې چیغې شوې، دورازه په تېزۍ خلاصه شوه، تورپیکۍ په منډه کوټې ته راووته.
په دروازه کې دوه تنه ودرېدل، چاغه په عمر پخه ښځه او د هغې په عمر ډنګر نارینه.
شېرمحمد منډه ور واخیسته، ښځه په غوسه وه، له خولې یې لاړې بادېدلې، په خشکه یې وویل:
ـ د غله لورې، په رڼا ورځ د خلکو کورونو ته ورځې.
تورپیکۍ، ټیټ سر، غلې ولاړه وه، له خیرن تور ټیکري نه راوتلي سپین لاسونه یې لړزېدل.
شېرمحمد په وارخطایي وویل:
ـ پام، پام یې نه و، دې وېل چې د خور کور یې دی.
ډنګر سړی په خبره کې ور ولوېد:
ـ چوپ ! د انسان به هم دومره پلنه پزه وه ! دروازه مو نه شوای ټکولای؟
دواړه کور ته ننول، دروازه په شدت له چوکاټ سره ولګېده.
تورپیکۍ وارخطا وه، ټکری او لمن یې لړزېدل.
شېرمحمد وویل:

_راځه!
نجلۍ ځوړند سر پسې روانه شوه. دوی د کوڅې تر پايه پټه خوله ول.
شېرمحمد وويل:
_خوا مه بدوه.
ځواب يې وانه ورېد.
شاته يې وکتل، تورپيکۍ ځوړند سر ولاړه وه.
شېرمحمد ورغی، نجلۍ ژړل....
سړي وويل:
_زړه دي مه خوره، قول دی، د خور کور به دې پيدا کوم.
تورپيکۍ شنې سترګې وراړولې، بغور يې لانده ول.
شېرمحمد وخندل:
_زړه ته مې نه لوېده چې ته به دومره کمزورې يې.
د نجلۍ سر وځړېد.
شېرمحمد وويل:
_هه! واخله.
تورپيکۍ ور وکتل. سړي توده ډوډۍ ورته نيولې وه.
نجلۍ په غريو کې وويل:
_ زړه ته مې نه کيږي.
د شېرمحمد لاس هماغسې غځېدلی پاتې شو. نجلۍ ډوډۍ ور واخيستله.
ورو يې وويل:
_زما له لاسه سپک شوې.

یوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

شېرمحمد وخندل:

ـ دا خبرې راځي.

حرکت يې وکړ، ځو ګامه يې واخيستل، غوږ يې ونيو، د سړک پر وړو تيږو د چوټو د لګېدو اوازونه ورپسې ول.

دوی تر يوولسو بجو په کوڅو کې وګرځېدل، خو درک مالوم نه شو، اخر يو چا مشوره ورکړه چې نوې ښار ته لاړ شي، هلته موسسې ډېرې دي. کېدای شي کوم چاته مالوم وي.

دواړه په ټکسي کې کېناستل، شل دقيقې وروسته په نوي ښار کې ول. ښکلې سيمه وه، پراخې او پاکې کوڅې يې درلودې، پاخه، عصري کورونه ډېر ول. د ځينو کورونو مخې ته د لرګي غرفې ښکارېدلې، ځای ځای مسلح کسان ولاړ وو.

شېرمحمد يوې غرفې ته ور وګرځېد، د انجنير حنيف پوښتنه يې وکړه، منفي ځواب يې واورېد.

بلې کوڅې ته لاړل، له يوه ښکلې درې پوړيزې ودانۍ د تورو ښيښو موټر راووت، شېرمحمد لاس ورته وخوځاوه، مخکينۍ ښيښه کښته شوه، دوه ځوانان ناست ول، شېرمحمد د انجنير حنيف نوم واخيست، ويې ويل چې په کومه موسسه کې کار کوي، خو مقابل لوري د موسسې د نوم پوښتنه کوله.

دوی د غرمې تر يوې بجې سرګردانه ول، ځو کوڅې يې وکتې، نتيجه يې مالومه نه شوه.

دواړه ستړي ستومانه يوه پوخ دېوال ته کېناستل، يو وسلوال راغی، له هغه ځايه يې ولاړ کړل.

## یوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

په بله کوڅه کې ډله نجوني په مخه ورغلې، ټولې يو رنګ ښکارېدلې، تورې جامې يې په تن وې، پر ويښتو يې سپين لنډ ټکري پراته ول. له هرې يوې سره بکس ښکارېده.

تورپيکۍ په بيړه له يوې نجلۍ وپوښتل:

ـمامد حنيف پيژنې؟ انجنير دی.

نجلۍ په حيرانۍ ورته وکتل، غلې ترې تېره شوه.

نورې نجوني په مخه ورغلې، هماغسې جامې يې اغوستې وې، خبرې يې کولې، خندل يې...

دوی د کوڅې سر ته ورسېدل، نجوني ډېرې شوې، ټولې د يوه دوه منزله لوی تامير له عمومي دروازې راوتلې. مختلفې ونې يې درلودې، وړې، منځنۍ او لوړې، خو ټولو يو رنګه جامې اغوستې وې.

تورپيکۍ سپين ديوال ته ولي ولګول، شېرمحمد هغې ته نږدې کېناست. ورو يې وويل:

ـمکتبۍ دي.

تورپيکۍ سوړ اسويلی ويست:

ـزما د خور لور هم مکتب ته ځي.

غلې شوه، دې به هرې تېرېدونکې نجلۍ ته په ځير ځير کتل....

مخامخ دوه له عمره پاخه نارينه را روان ول.

شېرمحمد وويل:

ـزه به د انجنير حنيف پوښته وکم.

ولاړ شو.

تورپيکۍ غلې وه، شېبه وروسته ، درې نجوني ورته ودرېدې.

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

تورپیکۍ مخ ور واړاوه، یوې نجلۍ چې تر دوو نورو په ونه لوړه ښکارېده، وویل:

ـڅوک غواړې؟

تورپیکۍ په بیړه ځواب ورکړ؛

ـانجنیر حنیف پیژنی؟ دلته په یوه موسسه کې کار کوي، اصل د غزني دی.

نجونو یوبل ته وکتل..

تورپیکۍ وویل:

ـخور مې ورته ناسته ده.

له ونې لوړې نجلۍ د (نه) ځواب ورکړ.

دوهمې نجلۍ چې مخ یې د نوې ځوانۍ په دانو ډک وو، وویل:

ـویښته دې تونې کړېدې؟

تورپیکۍ په حیرانۍ ورته کتل....

له ونې لوړې نجلۍ وخندل:

ـکلیوال خلک تونې نه پیژني، ویښته یې خدایې همداسې ښکلي او زیږه دي.

دریمه نجلۍ په خبره کې ورولوېده:

ـدا طبیعي ښایست لري، ته ورته وګوره، تکې شنې سترګې یې دي، نری پزه او وړه خوله. ما په تلویزیون کې کتې مټ ددې په څېر نجلۍ لیدلې ده، په انګلستان کې د ښکلا ملکه شوه.

تورپیکۍ په حیرانۍ ورته کتل...

له ونې لوړې نجلۍ وخندل:

ـبس ! یوائې تود حمام او پاکې جامې غواړي، خدایکه یې په ټول هرات کې جوړه پیدا کې.
نارینه دروند غږ یې واورېد:
ـنه یې پیژانده.
نجونو ور وکتل، د شېرمحمد سر وځړېد.
خندا په ستونو کې راټوله شوه، وړې نجلۍ پخ وهل، په زوټه یې وخندل، نورو دوو ، خپلو خولو ته ټکري ونیول.
تورپیکۍ په بیړه ولاړه شوه، شنې، غټې سترګې یې رډې راوختې، په غوسه یې وویل:
ـولې خاندئ؟ خپلو مخونو ته مو نه دي کتلې، تر تاسې خو اوس هم ښایسته دی.
ټیټه شوه، وړه ډبره په ګوتو ورغله، نجونو منډه کړه.
شاوخوا یې وکتل، څو نجوني ولاړې وې، په حیرانۍ یې ورته کتل...
شېرمحمد ته یې سترګې ور واړولې، ځمکې ته یې کتل، حرکت یې نه درلود.
د تورپیکۍ شونډې وخوځېدې:
ـد سپي لورانو.
یودم یې سرې تر لاس ونیو ، په زوټه یې وویل:
ـځه ! له دې ځایه ځو.
حرکت یې وکړ، شېرمحمد د ماشوم غوندې پسې روان و.
تورپیکۍ له ځان سره ډونګېدله....
یودم ودرېده، لاس ته یې وکتل، ګوتې یې سستې شوې. سر یې وځړېد.

شېرمحمد مخ ور واړاوه، د نجلۍ اوږدو ښو پر سپینو غومبرو تېره سیوري جوړ کړي ول.
د سرې ورې سترګې له اوښکو ډکې شوې، ورو یې وویل:
_خو زه له دې خبرو سره عادت یم.
تورپیکۍ نیغ ورته وکتل، شنې، زیږې سترګې یې له غوسې ډکې وې، په خشکه یې وویل:
_خپلو ځانونو ته یې پام نه و، سمې شیشکې وې.
شېرمحمد وخندل:
_راځه، نورې کوځې لا پاتې دي.
روان شو، مخکې لاړ، تر ځنګ یې وکتل، تورپیکۍ په ټیټ سر ګامونه پسې اخیستل، له خړ ټکري راوتلیو پېچلو ویښتو یې لمر ته سره بخونه رڼا کوله.

(۱۴)

یوه تنکۍ ځوان د کوټې دروازه خلاصه کړه، په کیلي بند کې ټومبلې لویه کیلي یې د خیرن میز پر سر کېښوده، پخپله له کوټې ووت.
تورپیکۍ د وره له لیخکي پښه واړوله، کوټه وړه وه، پر سره خیرن فرش یو دوه نفره کټ ایښی و. پر توشکه کات شوي کمپله ښکارېدله.
شېرمحمد ورغی، په کوټه کې بله وړه دروازه یې ټېله کړه، تشناب و، په یوه زاړه کوچیني سطل کې اوبه ښکارېدلې، د اوبو پر سر سره ډولچه ګرځېدله...
ور یې پورې کړ، تورپیکۍ ته یې وکتل، پر کټ څوړند سر ناسته وه.

شېرمحمد وويل:
ـبله چاره نه وه.
کوم غږ يې وانهورېد.
شېرمحمد لوېې اورسۍ ته ودرېد ، لاندې ګڼه ګونه وه، خلک یوې بلې خوا ته روان ول، پر پراخ پاخه سړک د روانو موټرو اوږدې لیکې ښکارېدلې. پرته له دې چې تورپیکۍ ته وګورې ، ویې ویل:
ـدا ځای لا ښه دی، نه يې تذکره غوښته او نه يې هم د پلار، نیکه پوښتنه کوله.
نجلۍ هماغسې غلې ناسته وه.
د سړي شونډې وخوځېدې:
ـزه د باندې ځم، ماښام دی، ورځ مو په لوږې تېره کړه، د خوړو له پاره باید یو څه راوړم.
تورپیکۍ په بیړه ورته وکتل.
شېرمحمد وويل:
ـدروازه به د باندې له خوا درپسې بنده کم.
کیلي يې ور واخیسته، په وره کې يې نوک ونیو، ورو يې وويل:
ـپه ما باور ولره.
د باندې ووت، یو ځل يې بیا مساپرخانې ته وکتل، ده په شنه رنګه لوحه کې د کټ رسم په ښښه کړ.
په پیاده رو کې مخکې لاړ، اذان يې واورېد، جومات و، ور وګرځېد، د ماښام فرض يې په ملا پسې ادا کړل.

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

یوه لحظه کېناست، کونج ته ناست تنکي ځوانان زنګېدل، تلاوت یې کاوه.
سړک ته ووت، ګروپونه بل ول، غوږ بوی یې په سپړمو ننوت، چپلي کباب پخېده، ورغی، دوه خوراکه یې په اخبار کې ورته تاو کړل.
درې پاوه وروسته چې یې کله د کوټې د وره په کولپ کې کونجي (کیلي) تاوه کړه، ګروپ بل و، تورپیکۍ ورسی ته نږدې ناسته وه.
نجلۍ د وره له کړپ سره په بیړه ولاړه شوه، دوه ګامه مخکې راغله، په غریو کې یې وویل:
_څه شوي؟
شېرمحمد په حیرانۍ ورته کتل، د نجلۍ سترګې له اوښکو ډکې وې، وارخطا ښکارېده.
شېرمحمد وویل:
_څه خبره ده؟
د تورپیکۍ سر وځړېد:
_اندېښنه مې شوه.
د شېرمحمد پښې مړې شوې، پر تندي یې نرۍ خوله راغله، لاړ او پر کټ کېناست.
باور یې نه راته، اخر داسې نجلۍ پیدا شوه چې دده په اړه اندېښنه وکړي، دا اندېښنه څومره خوږه وه، ډېره خوږه، له خونده ډکه.
ده په دې شنو سترګو کې څو ځله اوښکې لیدلې وې، خو اوسنیو اوښکو توپیر درلود، ډېر توپیر، دا شنې سترګې دده له پاره له اوښکو ډکې وې.
د داسې چا له پاره چې ټولې دنیا ملنډې پرې وهلې، هیڅ یوې نجلۍ په

مينه نه و ورته کتلي، يوه هم نه وه پسې خپه شوې، خو په لومړي ځل يوه نجلۍ په ده پسې اندېښمنه وه.
د سړي په سترګو کې اوښکې راټولې شوې، د کلي نجوني يې سترګو ته ودرېدې، هغوی هم اوښکې تويې کړې وې، خو له خندا، ډېرې خندا، بېواکه خندا، دومره خندا چې پای يې اوښکې وې. خو د تورپيکۍ اوښکو توپير درلود، دا اوښکې د اندېښنې علامه وه، په ده پسې اندېښنه، داسې اندېښنه چې د زړه له تله وه، يوه ښکلې، له حيا ډکه اندېښنه.
دا له خونده ډکه اندېښنه ډېره ونه غځېده. د کوټې ور ټکېدلی و. شېرمحمد ولاړ شو، هماغه تنکی ځوان و. دی نيغ تشناب ته لاړ، سوځېدلې ګروپ يې بدل کړ، بېرته له کوټې ووت.
شېرمحمد پر لاسونو سړې اوبه توېې کړې، پر کټ کېناست، مېز يې ور وښوياوه. ورو يې وويل:
_راځه.
تورپيکۍ ور وکتل، سړي ګوله جوړوله.
نجلۍ وويل:
_زړه ته مې نه کيږي.
شېرمحمد په ډکه خوله وويل:
_ام م م ، خوند يې بد نه دی. راځه، ټوله ورځ مو په ګرځېدو تېره شوه. د سهار له وچې ډوډۍ پرته مو څه خوړلي دي؟
ځواب يې وانه ورېد.
نجلۍ ته يې وکتل، په تندي يې ډومبک خوله پرته وه.

ورو یې وویل:
ـتبه دې ده؟
د تورپیکۍ ډکې شونډې وخوځېدې.
ـهو، مړه تبه.
شېرمحمد ولاړ شو.
نجلۍ په حیرانۍ ورته وکتل.
سړي وویل:
ـګولۍ درته راوړم.
تورپیکۍ په خبره کې ور ولوېده:
ـنه، ښه یم.
شېرمحمد وویل:
که دې تبه ډېره شوه، بیا؟
ځواب یې وانه ورېد.
نجلۍ له اورسۍ د باندې کتل، د ګروپونو ژېړه رڼا، لاندې پر روانو، سرتورو سرونو او خولیو لګېدله.
سړی کېناست، بله ګوله یې شونډو ته ورنږدې کړه، بېرته یې کېښوده، چټک ولاړ شو او له کوټې ووت. لنډه شېبه وروسته بېرته راغی، دوه پاکټه ګولۍ او یو کوچینۍ بوتل اوبه یې پر میز کېښودل. نجلۍ ته یې وکتل، هماغسې اورسۍ ته نږدې ناسته وه.
شېرمحمد وویل:
ـد ډاکټر خبره درته کوم. مخکې تر ګولیو باید یو څه وخورې.

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

تورپیکۍ ولاړه شوه، یوه ټوټه چپلي کباب یې په لږه ډوډۍ کې ونغاړه، بوتل او ګولۍ یې ور واخیستې، بېرته اورسۍ ته ور وګرځېده.
ښه شېبه ووته، شېرمحمد ور وکتل، تورپیکۍ د بوتل سر نه شوای خلاصولی. ورغی، د بوتل له سره یې زیږې ګوتې راتاوې کړې، کړپ شو، پلاستیکي سرپوښ لاندې ولوېد.
ولاړ شو، څادر یې هوار کړ، نهه رکاته وروسته چې یې کله دعا کوله، د غاښونو ټکا یې واورېده. مخ یې واړاوه، نجلۍ لړزې اخیستې وه.
ورو یې وویل:
_ته باید پرېوزې؟
_خو ما لمونځ نه دی کړی.
سرې څادر ور پرېښود.
کله چې تورپیکۍ د وروستیو دریو رکاتو سلام وګرځاوه. کټ ته یې سترګې ور واوښتې، لویه، کمپله ورباندې هواره وه، یو بالښت کم و.
شېرمحمد ته یې وکتل، اورسۍ ته نږدې یې پلتۍ وهلې وې، بالښت یې پر څنګنو پروت و، غټ، زیږه لاسونه یې پر بالښت ایښي ول.
تورپیکۍ وویل:
_ته پر کټ ویده شه.
شېرمحمد وخندل:
_نه، ځمکه ښه ده.
_ نو کمپله در واخله.
شېرمحمد وویل:
_یوه کمپله ده، ته تبه لرې. سړه تبه.

نجلۍ وويل:
ـخو يخني ده. لاندې لاړ شه او له هوټلي بله کمپله راواخله.
سړي وخندل:
ـنه غواړم چې بيا کوم چا ته شک ور ولوېږي، زه عادت يم، يو وخت مې د مالونو سوداګري کوله، ډېرې سړې شپې مې په سارا کې له کمپلې پرته ستورو ته تېرې کړېدي، بس، په دې يوه څادر کې ګوزاره کولی شم. کوټ مې هم تود دی.
تورپيکۍ څه ونه ويل، لاړه او په کمپله کې ننوته.
شېرمحمد د کوټ ځنځير کش کړ، څادر ته يې لاس ور وغځاوه، اوږد پرېوت.
ښه شېبه ووته.
ورو يې وويل:
سهار به بيا منارونو ته ځو، دا وار به د سړک بله غاړه پسې ګورو.
ځواب يې وانه ورېد.
غوږ يې ونيو. د يوه، نيم موټر له تېرېدو وروسته به ، د نجلۍ د ساه ايستلو يو رنګه منظم اوازونه اورېدل کېدل.
ولاړ شو، ګروپ يې مړ کړ، بېرته په خپل ځای پرېووت. د مخامخ تامير د ګروپونو رڼا د کوټې پر دېوالونو لګېدله.

غرمه وه، نری نری باران اورېده، شېرمحمد او تورپيکۍ ځوړند سرونه په يوه کوڅه کې روان ول. ګامونو يې له ځمکې ختېه جلا کوله...دواړه غلي ول.
يوې بندې غرفې ته ور وګرځېدل، لاندې ځمکه وچه وه، د باران څاڅکي پورته له اهن چادره په جوړ شوي سايبان لګېدل.
دواړه ودرېدل.
شېرمحمد په سترې غږ وويل:
_ښه ! اوس؟
ځواب يې وانه ورېد.
سرې کينې لورته وکتل، کوڅه پاخه سړک ته وتلې وه. هيڅوک هم نه و، ليرې يو يو موټر تېرېده.
شېرمحمد وويل:
_سهار اوه بجې راوتلي يو، غرمه شوه.
تورپيکۍ ځمکې ته کتل...
سړي مخ ور واړاوه، د نجلۍ له سپينې زنې، رانه څاڅکي څڅېدل...کېناست، د لرګي غرفې ته يې ملا ولګوله، له ځمکې يې يو خلی ور پورته کړ، په خاورو کې يې کږې ليکې وايستلې.
چوپه چوپتيا وه، په اهن چادر د باران يو لاس څاڅکي لګېدل، د لندو خاورو بوی ته.
تورپيکۍ سوړ اسويلی ويست، ورو يې وويل:
_هماغه سيند ښه و، اوس به بېغمه وم.

یوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

شېرمحمد سر پورته کړ، نجلۍ د مخامخ بام له ناوې څخه راتوېدونکو اوبو ته کتل، څو پېچلي نري ویښته یې پر سپینه غاړه سرېښ ول.

شېر محمد ولاړ شو، د نجلۍ تر مخ ودرېد، ورو یې وویل:

ـزړه دې مه خوره، زه خو یم، پیدا به شي.

نجلۍ هماغسې ناوې ته کتل... ورو یې وویل:

ـته مهربانه یې.

د سړي سر وځړېد. سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، یوه شېبه غلی و، وروسته یې شونډې وخوځېدې:

ـراځه! سړک ته به وخېژو، چېرې به ډوډۍ وخورو، کېدای شي باران ودرېږي، نورې کوڅې لا پاتې دي.

روان شو، شاته یې مخ واړاوه، تورپیکۍ په خپل ځای ولاړه وه، ده ته یې کتل.

شېرمحمد وخندل:

ـراځه!

نجلۍ حرکت وکړ، دواړه غلي روان ول، د سړي په زړه کې د نجلۍ وروستۍ خبره په تکرار ډول راګرځېده:

ته مهربانه یې، ته مهربانه یې، ته...

شېرمحمد پر پاخه سړک بوټونه ټکوهل، مړې ختې ترې تويې شوې، خو لا یې هم ذهن د نجلۍ وروستۍ جملې نیولی و.

ته مهربانه یې، ته مهربانه یې، ته...

د موټر تېز هارن یې په غوږو ننوت، ټوپ یې کړل، یوه سره رنګه کرولا یې تر څنګ تېره شوه، خړې اوبه باد شوې، د سړي پر پایڅو ولګېدې.

يوه خبره درته وکم؟

ليکوال: نصيراحمد احمدي

---

شېرمحمد په خشکه وويل:

ـد غوا زويه.

تورپيکۍ ته يې وکتل، سترګې يې رډې راختلې وې، په هماغه موټر پسې يې کتل...

نجلۍ ناڅاپه چيغه کړه !

ـاوښی مې.

په موټر پسې يې منډه واخيسته، بل موټر برېک ونيو، شيرمحمد تر لاس ونيوله، په بېړه يې وويل:

ـکومه دی؟

ـپه ها، هاغه موټر کې.

ـکوم موټر؟

ـهاغه سور موټر، هماغه چې تاته يې اوبه درو پاشلې.

شېرمحمد يودم منډه واخيسته، تېزه منډه، تورپيکۍ پسې کتل، دی ګړندۍ روان و، يو ځل د سړک مينځ ته ورغی، د موټرو هارنونه پورته شول، بېرته يې د سړک ژۍ په مخه ورکړه، له پښو څخه يې خړې اوبه بادېدلې، پټکی ورنه ولوېد، ده د لېونيانو په څېر منډې وهلې...

تورپيکۍ ګړندۍ پسې روانه وه، مخکی لاړه، لوند پټکی يې له خړو اوبو ورپورته کړ، په خپله سينه پورې يې ونيو. موټر په يوه کوڅه ننوت، خو سړي لا په پاخه سړک منډې وهلې.....شېبه وروسته دی هم تر راوتلې دېواله پټ شو.

وخت ووت، تورپيکۍ د کوڅې خولې ته ورسېده. شېرمحمد را روان و، خوله يې له خندا نه سره نښتې وه، له خوشالۍ يې چيغه کړه !

ـما نه درته ویل چې پیدا کوو یې؟
تورپیکۍ ورته وکتل، د سړي ټول بدن په ختهو لړلی و، له ښي لستوڼي څخه یې خړې اوبه څڅېدلې...
شېرمحمد په ببړه پټکی ور واخیست، پر خولې یې ړنګ پنګ تاو کړ، په خندا یې وویل:
ـپیدا شو، اخیر پیدا شو.
تورپیکۍ غلې ولاړه وه، سړي ته یې کتل...
شېرمحمد وویل:
ـراځه!
نجلۍ پسې روانه شوه.
شېرمحمد یو دم ودرېد، تورپیکۍ ته یې وویل:
ـډاډه یې چې انجنیر حنیف و؟
نجلۍ د (هو) په نښه سر وخوځاوه.
سړي یو دم وخندل:
ـبس! ستړیا دې ختمه شوه، ته به خپلې خور ته ورشې او زه...
ناڅاپه غلی شو، په سترګو کې یې اوښکې راټولې شوې، ترخه موسکا یې پر خړو شونډو وغځېده، خپله خبره یې بشپړه کړه:
ـاو زه به غزني ته.
تورپیکۍ ورته کتل....
شېرمحمد یو دم وخندل:
ـاوس نو خوشاله اوسه، خوشاله
مخ یې واړاوه، روان شو. د یوې کوڅې په خوله کې ودرېد، ویې ویل:

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

_موټر دلته راتاو شو.

تورپیکۍ مخامخ وکتل، کوڅه لنډه وه، دواړو خواوو ته لس _دولس کورونه ښکارېدل. پای ته یې زراعتي ځمکې پرتې وې.

شېرمحمد وویل:

_موټر لېږې و، خو غلط نه یم، په همدې کوڅه کې راتاو شو. بس، په دې لسو، دولسو کورونو کې یو کور ستا د اوښي دی.

تورپیکۍ غلې ولاړه وه، شېر محمد ته یې کتل...

له یوه کوره یو تنکی ځوان راووت، پر سر یې شکرۍ اېښې وه.

شېرمحمد ور مخته شو، په بېړه یې وویل:

_د انجنیر حنیف کور کوم یو دی؟

هلک مخامخ ګوته ونیوله:

_هاغه! سپینه لویه دروازه چې لري. هاغه دوه منزله نخودي رنګه کور.

سړي په خبره کې ور ولوېد:

_د غزني دی.

هلک وویل:

_هو، زامن یې له ما سره یوځای مکتب ته ځي، مشر یې شفیق نومیږي، بل یې عتیق، وړه خور هم لري، وحیده ورته وایي.

شېرمحمد تورپیکۍ ته مخ ور واړاوه، هغې ځمکې ته کتل.

هلک وویل:

_زه نانوایي ته ځم، زغالې لنډېږي.

شېرمحمد ورغی، د نجلۍ تر مخ ودرېد، ورو یې وویل:

_بیا خو غلط نه یو راغلي؟

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

تورپیکۍ غریو واخیسته:

_نه.

شېرمحمد وخندل:

_نو بیا ولې ژاړې؟

نجلۍ غلې وه.

شېرمحمد ځمکې ته وکتل، سړه ساه یې وایسته، ورو یې وویل:

_ښه نو، ما په خپل قول وفا وکړه، ستا د خور کور پیدا شو، زه باید لاړ شم.

تورپیکۍ په غریو کې وویل:

_دا درواخله.

شېرمحمد سر هسک کړ، نجلۍ درې د سرو زرو بنګړي ورته نیولي وو.

سړي ترخه وخندل:

_ملنډې وهې؟

د تورپیکۍ سلګۍ شوې:

_ما درته ویلي و چې تر هراته مې ورسوه، بنګړي یې ستا.

د شېر محمد د تندي ګونځې سره ورغلې:

_خو ما د پیسو له پاره نه یې راوستې.

یودم یې وخندل، جیب ته یې لاس کړ، نمجن نوټونه یې راویستل. ورو یې وویل:

_ما حساب هم درسره ونه کړ، خو خدای شته، ستا یوه روپۍ مې هم بېځایه نه ده لګولې. بس، یواځې یو زرګون راوبخښه، د ببرته تګ کرایه نه لرم.

تورپيکی په غريو کې وويل:
ـپه جېب کې يې واچوه.
ـخو
نجلۍ په خبره کې ورولوېده:
ـمه مې شرموه.
سړي پيسې جېب ته کړې، کله چې يې لاس راويست، په ګوتو کې يې يوه آينه نيولې وه.
ورو يې وويل:
ـبده يې مه ګڼه، دا درسره وساته، ښکلې جوړه شوې، ته ورته وګوره، په زرتارو کې يې نيولې ده، کله کله پکې ګوره، نه به دې هېرېږم.
نجلۍ لاس ور وغځاوه، آينه يې په ټټر پورې وينوله. ورو يې وويل:
ـڅوک وايي چې ته بدرنګه يې؟
شېرمحمد وخندل:
ـملنډې وهې؟
نجلۍ پورته وکتل، له شنو سترګو څخه يې اوښکو منډه واخيسته، په لندو سپينو بغورو کې د باران له ځاځکو سره ګډې شوې، شونډې يې وخوځېدې:
ـله زړه وايم.
د شېرمحمد سر وځړېد، ورو يې وويل:
ـيوه خبره درته وکم؟
د نجلۍ سلګيو زور واخيست.
ـهو

## یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

سړي په غریو کې وویل:

ـهیڅ

تورپیکۍ هماغسې ور ته کتل...

شېرمحمد مخ واړاوه، په ژړغوني غږ یې وویل:

ـځه.

نجلۍ روانه شوه. سړي پسې وکتل، هغه ورو ورو لیرې کېدله، شېبه وروسته سپینې دروازې ته ورسېده، د دروازې پر دستګیر یې لاس کېښود. همالته ځوړند سر ودرېده. شېرمحمد مخ واړاوه، لینګې یې لړځېدل، پښو یې سستي ورکوله ، سترګې یې له اوښکو ډکې وې. دی د زړه په زور څو ګامه مخکې لاړ، خو یودم یې تر شا د اوبو چړپا واورېده، په بېړه یې ور وکتل، تورپیکۍ منډې ور وهلې، ټکرۍ یې په غاړه کې پروت و، پلاستیکي چوټې یې له پښو ختلې وې، راغله او د شېرمحمد تر مخ ځوړند سر ودرېده.

شېرمحمد په حیرانۍ ورته کتل، د تورپیکۍ د اوږدو ویښتو له تاو شویو څوکو څخه رانه څاڅکي تویېدل. نجلۍ یوه شېبه غلې وه، دې په تیزې ساه وهله ، وروسته یې په غریو کې وویل:

ـیوه خبره درته وکم؟

د سړي ستونی ډک شو:

ـهو

د نجلۍ سرې شونډې ورپېدې:

ـته راباندې ګران یې.

یودم یې د شېرمحمد پر ټټر سر کېښود ، په چیغو چیغو یې وژړل...

یوه خبره درته وکم؟

لیکوال: نصیراحمد احمدي

د سرې په سترګو کې راټولو اوښکو لار وکړه، لړزانده ګوتې یې د تورپیکۍ په لندو ویښتو کې ننوتې، د هغې سر یې په خپل ټټر پورې ټینګ کړ.

نجلۍ ژړل او په ژړا کې یې همدا یوه خبره کوله.

ـ ته راباندې ګران یې، ته راباندې ګران یې، ته...

شېرمحمد خپله زنه د هغې د ککرۍ په پستو، لندو ویښتو ایښې وه. ده ځو ګامه لیرې، په خړو اوبو کې دوو پرتو پلاستیکي چوټو ته کتل، د چوټو پوندې د سپینې لوېې دروازې خواته وې.

( پای )

۱۳۹۰ ل کال د دلوې شلمه ـ کابل